د لوړو زده‌کړو وزارت
التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسه
د څېړنې، تالیف او ژباړې معاونیت
د علمي څېړنو آمریت
د ملي ژورنال مدیریت

# التقوی ملي علمي - څېړنیز ژورنال

التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

## په دې ګڼه کې لولئ!

- په نړۍوالو سیمه‌ییزو سازمانونو کې د غړیتوب حقوقي ورتیاوې او ننګونې
- د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین اړتیا، دلایل او شرطونه
- د اسلامي فقهې او مروجو حقوقي نظامونو له نظره د سوداګریزې ...
- د ملي او بین‌المللي حقوقو له نظره د سوداګریزو برېښنايي قراردادونو...
- په حقوقي سیستمونو باندې د حاکمو اصولو څېړنه
- په اسلامي شریعت او حقوقي اسنادو کې د تجارتي حکمیت ...
- او داسې...

د تاسیس کال: ۱۴۰۱ ل
ننګرهار-افغانستان

شپږ میاشتنۍ خپرونه- د ۱۴۰۲ ل کال دویمه ګڼه، پرله‌پسې څلورمه ګڼه

التقوی ملي علمي - څېړنیز ژورنال
التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه
د ۱۴۰۲ ل کال دویمه ګڼه
پرله‌پسې څلورمه ګڼه

Ministry of Higher Education
Al-Taqwa Institute of Higher Education
Research, Compilation, and Translation Division

# National Scientific - Research Journal

## In this issue:

- Enhancing and Standardizing Industrial Zones in Afghanistan
- Jurisprudence of the courts in terms of Islamic Law and...
- Research on the Abolition of Punishment Based on Amnesty
- Competition for Energy in the World and Increasing Tensions ...
- Illa from the Perspective of Islamic Jurisprudence and the ...
- Different Models of Decision Making in Foreign Policy
- and etc

Year of Establishment: 2022
Nangarhar - Afghanistan

Biannual Publication, Volume 02, Issue 04 -2023

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوړو زده‌کړو وزارت

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

د څېړنې، تالیف او ژباړې معاونیت

د څېړنو امریت

د ملي ژونال مدیریت

# التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال

## التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي او څېړنیز ه شپږ میاشتنۍ خپرونه

د ۱۴۰۲ ل کال دویمه گنه، پرله‌پسې (۴) گنه

# التقوی ملي علمي - څېړنيز ژونال

التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي او څېړنيزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

**د امتیاز خاوند**

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

**مسؤل مدیر**

پوهنوال منگل شېرزاد

**د تصحیح مدیر**

حبیب‌الله لوراند

**د توزیع مدیر**

شکرالله شینواری



**تحریر هییت**

- دکتور عبدالوهاب حسام
- دکتور حمدالله کاکړ
- دکتور هلمند بختانی
- دکتور اظهارالحق عزیز
- پوهاند فرمان الله هیله مند
- پوهاند شاه ولي خان
- پوهنوال منگل شېرزاد



**د چاپ تیراژ: ۵۰۰ ټوکه**

**چاپ ځای: زکریا گرافیکس، جلال آباد**



**کتنپلاوی**

- پوهنوال معروف شاه شینواری
- پوهنوال محمد ایمل حقمل
- عرفان الله ستانکزی



**کلنی گډون:**

- **ننگرهار : ۳۰۰ افغانۍ**
- **ولایات: ۶۰۰ افغانۍ**
- **بهرني هېوادونه: ۱۰۰ امریکایي ډالر**

**د یوې گڼې بیه: ۱۲۰ افغانۍ**

**استادانو لپاره : ۸۰ افغانۍ**

**محصلینو لپاره: ۵۰ افغانۍ**

**همکارو ادارو لپاره: ۱۰۰ افغانۍ**



اړیکو شمېرې: 077323368/0783287788

ایمیل ادرس: magazine@altaqwa.edu.af

پته: عربانو گولايي، دويمه ناحيه، جلال اباد ښار، ننگرهار- افغانستان.

# لیکلړ


| مخګڼه | سرلیکونه |
|---|---|
| ۱ | **سریزه** |
| ۳ | **په نړیوالو او سیمه سازمانونو کې د غړیتوب حقوقي وړتیاوې او ننګونې**<br>رشید الله شینواری او حبیب الله لوراند |
| ۲۳ | **د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین اړتیا، دلایل او شرطونه**<br>پوهنیار خوشحال جواد |
| ۵۱ | **د اسلامي فقهې او مروجو حقوقي نظامونو له نظره د سوداګریزې...**<br>پوهنمل نور انور فاروقي |
| ۷۹ | **د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د سوداګریزو برېښنایي قراردادونو...**<br>حبیب الرحمن سربلند او عرفان الله ستانکزی |
| ۱۰۵ | **په حقوقي سیستمونو باندې د حاکمو اصولو څېړنه**<br>محمد ابراهیم سکندري |
| ۱۲۵ | **په اسلامي شریعت او حقوقي اسنادو کې د تجارتي حکمیت پرتلیزه څېړنه**<br>سیف الرحمن راهي |
| ۱۶۳ | **په بهرني سیاست کې د تصمیم نیولو مختلف ماډلونه**<br>نوراني وفا او محمد ابراهیم سکندري |
| ۱۸۹ | **د اسلامي فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د ایلاء حکم**<br>هبة الله عابد |
| ۲۳۷ | **رقابت بر سر انرژی در دنیا و افزایش تنش در خاورمیانه**<br>عبدالباسط الهام |

| | |
|---|---|
| **د عفوې پر بنسټ د مجازاتو له منځه تګ څېړنه**<br>محمد ابراهيم سکندري | ۲٦۱ |
| **د اسلامي شريعت او افغانستان د قوانينو له نظره د محاکمو صلاحيتونه**<br>ولي الله حنفي | ۲۸۷ |
| **Abstracts** | ۳۱۹ |
| **Enhancing and Standardizing Industrial Zones in Afghanistan**<br>Teaching Assistant Wasiqullah Hamdard | ۳۳۳ |

## سریزه

الحمدالله رب العالمین والعاقبة اللمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین الذی بعث بالحق فارقا بین الحق والباطل وعلی اله وصحبه والتابعین وعلی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین.

د ساینس، ټکنالوژۍ، طبابت، زارعت او صنعت په برخو کې چې نړۍ نن ورځ ځومره پرمختګ کړی ټول د علمي څېړنو له برکته دي، علمي څېړنې د علم لپاره د غذا او روح حیثیت لري او له دې پرته علم منجمد کېږي او بالاخره له منځه ځي.

که څه هم په دې وروستیو درې کلونو کې د افغانستان پوهنتونونو د علمي څېړنو برخې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، ولې په څېړنیزو فعالیتونو کې لا هم پراخه ستونزې او پر وړاندې یې ډېر زیات خنډونه وجود لري. د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د اړینو او لازمو موضوعاتو د تشخیص عدم وړتیا، د علمي څېړنو د کیفیت ټیټوالی، د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د علمي کادر غړو د مسلکي او تخنیکي وړتیاوو او مهارتونو ضعف، د علمي څېړنو د تر سره کولو لپاره د منابعو او امکاناتو ضعف او یا نشتون، د ذیربطه ادارو له لورې د طرحو، پالېسیو او ستراتېژیو په تدوین کې د علمي څېړنو له پایلو څخه ګټه نه اخیستل او دې ته ورته نورو ستونزو او خنډونو څېړنیزې چارې اغېزمنې کړي دي.

پر همدې بنسټ د هېواد په کچه د څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت د تامین او اغېزناکتوب لپاره لازمه بریښي، چې د علمي کادر غړو او څېړونکو د وړتیاوو او مهارتونو د

لوړولو لپاره په دوامداره توګه اوږد مهاله او لنډ مهاله روزنیز پروګرامونه تنظیم او مجهز کتابتونونه، څېړنیز مرکزونه او لابراتوارونه ورته جوړ شي او پوهنتونونو ته د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره په کافي اندازه بودیجه په واک کې ورکړل شي او ذیربطه اداري مکلف وګرځي، چې خپلې اړونده طرحې، پالیسۍ او ستراتیژۍ د علمي څېړنو د پایلو پر بنسټ تدوین کړي.

التقوی د لوړو زده کړو موسسه د هېواد د یو معتبر تحصیلي بنسټ په توګه ویاړي، چې (التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال) څلورمه ګڼه د ۱۲ علمي ـ څېړنیزو مقالو په لرلو سره چاپ ته سپاري هیله لرو، چې په دې ژورنال کې چاپ شوې مقالې ولولئ او د هېواد د علمي، څېړنېزو، حقوقي، تقنیني، سیاسي، تجارتي او اقتصادي چارو د پرمختګ او بهبود لپاره ترې ګټه واخلئ.

درنښت

**پوهنیار خوشحال جواد**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې رییس

**رشیدالله شینواری او حبیب الله لوراند**
سیاسي علوم او نړیوالو اړیکو څانگه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی د لوړو زده موسسه
تقریظ ورکوونکی: پوهنیار خوشحال جواد

# په نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو کې د غړیتوب حقوقي وړتیاوې او ننگونې

## لنډیز

نړیوال سازمانونه د دولتونو هغه ټولگه ده چې د یو بنسټ لیک ( اساسنامې) په اساس رامینځته کېږي او غړي دولتونه یې خپلې گډې موخې او فعالیتونو د څانگړو اداري جوړښتونو په چوکاټ کې په دوام داره توگه پرمخ وړي، سیمه ییز سازمانونه هم د نړیوالو سازمانونو له جملې څخه گڼل کېږي، خو په دومره توپیر سره، چې په نړیوالو سازمانونو کې د نړۍ ټول هېوادونه د شرایطو په پوره کولو سره کولی شي، چې د سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، خو په سیمه ییزو سازمانونو کې د یوې مشخصې سیمې او یا لویې وچې هېوادونه کولی شي چې د اړونده سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب لپاره یولړ حقوقي شرایط وضع شوي او د دې ترڅنگ په دې ډول سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې یوه اندازه حقوقي ننگونې هم شتون لري.

د دې څېړنې اهمیت دا دی چې په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب په حقوقي شرایطو او ننگونو باندې ویپوهیږو.

د دې څېړنې څخه موخه داده هغه هېوادونه چې په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب علاقه ولري، نو باید د غړیتوب حقوقي شرایط پوره او هغه حقوقي

ننګونې چې په راتلوونکي کې ورسره مخامخ کېږي باید د لمینځه وړلو لپاره یې لازم تدابیر ونیسي.

په دې څېړنه کې د کتابتوني او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوې.

د دې څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسېږو چې په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب لپاره یو شمېر حقوقي شرایط وضع شوي او هغه هېوادونه چې غواړي په دې ډول سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي باید د سازمان اړونده اړین شرایط پوره کړي، خو د دې ترڅنګ په دغه ډول سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې یو شمېر حقوقي ننګونې هم شتون لري.

**کلیدي کلمې:** حقوقي شرایط، حقوقي ننګونې، سیمه‌ییز سازمانونه، نړیوال سازمانونه

## سریزه

په دې وروستیو کلنو کې نړۍ د بېلابېلو لویو سازمانونو د ودې او تکامل شاهده ده، چې دغه سازمانونه د غړیو هېوادونو لخوا د خپلو ګټو خوندیتوب په موخه په بېلابېلو برخو کې رامنځته شوي دي، په اوسنیو وختونو کې په نړۍ کې دوه ډوله سازمانونه شتون لري، چې یو یې سیمه ییز او بل یې نړیوال سازمانونه دي چې دواړو ترمنځ کوم لوی توپیر وجود نه لري. په حقیقت کې سیمه ییز سازمانونه هم د نړیوالو سازمانونو له ډلې څخه دي، خو په دومره توپیر چې په نړیوالو سازمانونوکې د غړیتوب لپاره جغرافیوي محدویت په پام کې نه نیول کېږي، خو په سیمه ییزو سازمانونو کې بیا د غړیتوب لپاره جغرافیوي محدودیت په پام کې نیول کېږي، چې په ډېرى مواردو کې سیمه ییز سازمانونه د یوې مشخصې جغرافیې د هېوادونو ترمنځ د سیاسي همکاریو پراختیا او اقتصادي ادغام لپاره رامنځته کېږي.

له پورته وېشنې علاوه نړیوال سازمانونو غړیو موقف له پلوه په دوو برخو ویشل شوي، چې یو یې دولتي او بل یې غیر دولتي نړیوال سازمانونه دي، چې دلته موږ په دولتي سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب په حقوقي شرایطو او ننګونو باندې بحث کوو.

## د لیکنې یا څېړنې اړتیا

دا چې نن ورځ په بېلابېلو برخو کې د هېوادونو لخوا په سیمه ییزه او نړیواله کچه سازمانونه رامنځته شوي دي او د سیمې او نړۍ هېوادونه علاقه لري چې په دې ډول سازمانونه کې غړیتوب ترلاسه کړي. هو په دې ډول سازمانونو کې غړیتوب لپاره سازمان موخو او اهدافو ته په کتلو سره مختلف شرایط وضع کوي او یو هېواد چې غواړي په دې سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي باید اړین شرایط یې پوره کړي ،د غړیتوب ترلاسه کولو وروسته غړي هېوادونه د هېواد به داخل کې یو شمېر حقوقي ننګونو او چیلنجونو سره مخامخ کېږي چې غړي هېوادونه باید دې دول مواردو ته له غړیتوب وړاندې متوجه واوسي او داسې مواردو ته باید له وړاندې چمتو واوسي.

دلته د څېړنې اړتیا داده هر کله چې یو هېواد غواړي په سیمه ییزو او یا نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي، نو باید د سازمان اړونده حقوقي شرایط پوره کړي، ترڅو په سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړي، خو کله کله په سازمان کې د غړیتوب پر وړاندې غړي هېواد یو شمېر حقوقي ننګونو سره هم مخامخ کېږي، چې غړی هېواد باید دغه ډول حقوقي ننګونو سره د مبارزې لپاره هم چمتو واوسي ترڅو سازمان د حقوقي چوکاټ سره د داخلي قوانینو همغږي کولو او د حکومتولۍ سیستم معیارونه پوره کړي، چې اکثره هېوادونه په سازمان کې د غړیتوب شرایط نشي پوره کولی او که غړیتوب واخلي نو بیا د سازمان د حقوقي چوکاټونو سره داخلي قوانینو

همغږي کولو او حکومتي سیستم د سازمان ذکر شوو معیارونو سره نه شي برابرولی، چې غړی هېواد یا په داخلي سطحه له شورش سره مخامخ کیږي او یا په نړیواله سطحه مسؤلیت ورته راجع کیږي.

پورتنۍ ستونزې ته په کتو مې (په نړیوالو او سیمه سازمانونو کې د غړیتوب حقوقي وړتیاوې او ننګونې) ترسر لیک لاندې موضوع وخېړله.

## د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې اهمیت عبارت دی له:

۱. په نړیوالو مسایلو کې د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو په رول پوهېدل.

۲. په نړیوالو او سیمه ییزوسازمانونو کې د غړیتوب په حقوقو او مکلفیتونو باندې پوهېدل.

۳. د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو ترمینځ په توپیر باندې پوهېدل.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې عبارت دي له :

۱. په دې اړه معلومات ترلاسه کول، چې په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب شرایط به څه وي؟

۲. په دې اړه پوهېدل، چې په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې به غړیتوب ساده او اسانه وي او که په وړاندې به یې ننګونې وجود ولري؟

## د څېړنې مواد او کړنلاره

دا یوه کتابتوني څېړنه د ه چې د کتابتوني سرچینو څخه په کې کار اخیستل شوی دی، نو ځینو ټکو ته یې په لاندې توگه گوته نیسم:

۱. د دې له پاره چې ټولې موضوعگانې روښانه شي دغه څېړنه په ډول ډول، مبحثونو، مطلبونو او نورو کوچنیو سرلیکونو باندې داسې ویشلې چې تر منځ یې منطقي پرله پسې والی شته.

۲. د څېړنې د کتابتوني اړخ په اړه مو د موادو په راټولونه کې د امکان تر پولې کوښښ کړی چې د اصلي او تخصصي سرچینو څخه کار واخلم او که په اصلي سرچینو کې مې مواد نه دي پیدا کړي نو بیا مې د فرعي سرچینو لکه مجلې، مقالې او انټرنیټ څخه هم پکې کار اخیستی.

## تېرو لیکنو ته کتنه

(په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې حقوقي وړتیاوې او ننگونې) د موضوع په اړه داسې کومه څېړنه یا کتاب په پښتو ژبه کې نه شته چې په ځانگړي ډول یې نوم واخلو او د دې موضوع یادونه په کې شوې وي او په دې هکله چې کومې سرچینې شته ډېری یې په پاړسي او انگلیسي دي، چې د دې چارو له ډلې څخه لاندې کتابونو او هغو نیمگړتیاوو ته گوته نیسو او د خپلې لیکنې دلیلونه هم وایو.

۱. **نړیوال سازمانونه:** دا کتاب رضا موسی زاده په پاړسي ژبه لیکلی او محمد نظیم سمون پښتو ژبې ته ژباړلی دی، چې په کې یې د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو توپیر نه دی کړی، خو په نړیوالو سازمانو کې د غړیتوب حقوقي شرایطو ته په لنډ ډول اشاره کړې ده.

۲. **سازمانهای بین المللي:** دا کتاب محمد اکبر زاهد لیکلی، چې په دې کتاب کې هم په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب په حقوقي شرایطو بحث شوی، خو په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې د ننګونو په اړه یې هیڅ هم نه دي ویلي، په دې کتاب کې په ځانګړي ډول زما موضوع په اړه روښانه څه نه شته او دوی یوازې په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب شرایط ذکر کړي، خو په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې حقوقي ننګونو په اړه یې هیڅ نه دي ویلي، چې زما په څېړنه کې بیا د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب په حقوقي شرایطو سربیره په حقوقي ننګونو باندې هم بحث شوی دی، چې دا څېړنه د ذکر شوو کتابونو او اثارو سره توپیر را په ګوته کوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ایا نړیوال او سیمه ییز سازمانونه فرق لري او که نه ؟

۲. ایا په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب لپاره حقوقي شرایط وجود لري او که نه؟

۳. ایا په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې حقوقي ننګونې شتون لري او که نه ؟

## لومړی مبحث: د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو پېژندنه او ځانګړتیاوې

په دې مبحث کې به د دوو بېلا بېلو مطالبو په لړ کې د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو پېژندنه ترسره شي.

**لومړی مطلب: د نړیوالو سازمانونو پېژندنه**

نړیوال سازمانونه د دولتونو هغه ټولګه ده، چې د یو بنسټ لیک (اساسنامې) پر اساس رامینځته کېږي او غړي دولتونه یې خپلې ګډې موخې او فعالیتونو د ځانګړو اداري جوړښتونو په چوکاټ کې په دوامداره توګه پرمخ وړي.

**دویم مطلب: د نړیوالو سازمانونو ځانګړتیاوې**

نړیوال سازمانونه باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱. د نړیوالو سازمانونو غړي باید دولتونه وي.

۲. نړیوال سازمانونه باید د یو بنسټ لیک (constituent treaty) په اساس رامینځته شي.

۳. د سازمان غړي دولتونه باید ګډې موخې لري.

۴. د سازمان فعالیت باید د ځانګړو ارګانونو یا واحدونو په چوکاټ کې ترسره شي.

۵. د سازمان فعالیت باید دوامداره او مستمر وي.

۶. سازمان باید د نړیوالو حقوقو تابع وي.

۷. او فعالیتونه یې باید د دولتونو څخه جلا او مستقل وي.(۴:۱۰)

**درېیم مطلب: د سیمه ییزو سازمانونو پېژندنه**

سیمه ییز سازمانونه هغو سازمانونو ته ویل کېږي، چې د صلاحیت ساحه یې یوې سیمې او یا یوې لویې وچې پورې محدوده وي او د هماغې سیمې یا لویې وچې ټول دولتونه کولی شي چې د نوموړي سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، چې د نوموړي سازمان صلاحیت همدې سیمې یا لویې وچې پورې محدود دی، خو د نوموړې سیمې یا لویې وچې ټول دولتونه په دې مکلف نه دي، چې الزاماً دې د سازمان غړیتوب ولري، خو که هر کله د نوموړې سیمې یو دولت وغواړي، چې د یو سیمه ییز سازمان غړیتوب ترلاسه کړي باید د سازمان اړونده شرایط پوره کړي. د بېلګې په توګه د جنوبي افریقا دولت سره له دې چې د افریقا لویې وچې یو دولت دی، خو د

نژادي تبعیضي سیاست د تطبیق له کبله نه ده توانېدلي چې افریقا د وحدت په سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړي، خو له دې علاوه د دې ډول سازمانونو د فعالیت ساحه هم مشخصه وي، لکه د افریقا اقتصادي کمېسیون چې افریقا لویې وچې لپاره په اقتصادي برخه کې فعالیت کوي. (۲۴۷:۲)

## څلورم مطلب: د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو ترمنځ توپیر

د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو ترمنځ توپیر دادی چې نړیوال سازمانونه کومې مشخصې جغرافیوي محدودې پورې تړلي نه وي او د شرایطو په پوره کیدلو سره د نړۍ ټول هېوادونه کولی شي چې غړیتوب یې ترلاسه کړی لکه د ملګرو ملتونو سازمان چې شرایطو په پوره کیدلو سره د نړۍ ټول هېوادونه پکښې عضویت اخیستلې شي خو ددې برعکس په سیمه ییزو سازمانونو کې هغه هېوادونه کولی شي چې د نورو شرایطو پوره کولو علاوه د هماغه سیمې یا لویې وچې جغرافیوي محدودې پورې تړلي وي او یا یوې مشخصې موضوع له کبله رامینځته شوې وي، لکه د سارک سازمان چې د جنوبي اسیا هېوادونو ترمینځ په اقتصادي برخه کې فعالیت کوي او یوازې د جنوبي اسیا هېوادونه یې غړیتوب لري. (۲۴۸:۲)

## دویم مبحث: د نړیوالو سازمانونو حقوقي شخصیت

د نړیوالو سازمانونو د حقوقي شخصیت په اړه د ملتونو ټولنې او سویس هېواد ترمینځ د شخړو حل تړون (Modus Vivand) په لومړۍ ماده کې راغلي وو(د ملتونو ټولنه له نړیوال شخصیت او حقوقي اهلیت څخه برخمنه ده او د نړیوالو حقوقو پر بنسټ د سویس داخلي محاکم حق نه لري، چې د سازمان له خوښې پرته دغه سازمان تر عدلي او قضایي څار لاندې راولي). (۱۶:۴)

همدارنګه د نړیوالو سازمانونو د حقوقي شخصیت په اړه د ملګرو ملتونو سازمان منشور ۱۰۴ ماده په لاندې ډول صراحت لري:

(سازمان د خپلو غړو هېوادونو په خاوره کې له حقوقي اهلیت څخه برخمن دی، ترڅو د اړتیا پر مهال وکولی شي خپلې دندې ترسره او موخې ترلاسه کړي). (۱۰۴:۵ماده)

د یاد سازمان منشور ۱۰۵ ماده د سازمان د امتیازاتو او مصؤنیتونو څخه یادونه کړې، چې د دې مادې لومړۍ فقره په دې ډول ده: (سازمان د خپلو غړو هېوادونو په خاوره کې له هغو امتیازاتو او مصؤنیتونو څخه برخمن دی چې موخو ته د رسیدو لپاره اړین ګڼل کېږي). (۱۰۵:۵ماده)

له دې علاوه د نړیوالو سازمانونو حقوقي شخصیت په اړه د عدالت نړیوالې محکمې مشورتي دیوان داسې صراحت لري:( سازمانونو ته نړیوال حقوقي شخصیت د غړیو هېوادونو په وجه نه، بلکې د دوی د اعمالو او فعالیتونو پر اساس چې په نړیواله کچه یې اجراء کوي ورکول کېږي). (۲۴:۱)

داچې نړیوال سازمانونه په نړیواله کچه د حقوقو او مکلفیتونو درلودونکي دي، نو په همدې اساس نړیوال حقوقي شخصیت ا و اهلیت درلودونکي هم دي.

**درېیم مبحث: د نړیوالو سازمانونو واک او صلاحیت**

واک یا صلاحیت هغه اختیار ته ویل کېږي، چې د یوې اساسنامې له مخې یو سازمان ته ورکول کېږي، تر څو وکولی شي د هغې په چوکاټ کې خپل فعالیتونه ترسره کړي. که څه هم د یو سازمان واک د اساسنامې له مخې ټاکل کېږي خو بیا هم په عملي ډګر کې کله ناکله له پامه غورځول کېږي او په داسې اقداماتو لاس پورې کوي، چې سازمان له اساسنامې سره په ښکاره ډول په تضاد کې وي. (۱۹:۴)

اوس دلته داسې پوښتنه مطرح کېږي، چې ایا د سازمان صلاحیتونه د هغې اساسنامې مواردو پورې محدود دي او که له اساسنامې بهر هم صلاحیت لري؟

دې پوښتنې ته ځواب ویلو لپاره په عمومي ډول تر اوسه دوه نظریې وړاندې شوي، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

**لومړی مطلب: د تصریح شوي صلاحیت نظریه**

د دې نظریې پر اساس یو شمېر حقوق دانان په دې باور دي، چې د سازمان صلاحیتونه یوازې د سازمان په اساسنامه کې ذکر شوو مواردو پورې محدود دي او له اساسنامې بهر صلاحیت نه لري. (۳۰:۳)

**دویم مطلب: د ضمني صلاحیت نظریه**

د دې نظریې پلویان په دې باور دي، چې یو نړیوال سازمان د خپلو ټاکلو موخو ترلاسه کولو لپاره د ټولو اړینو اقداماتو صلاحیت لري، نو په همدې اساس یوازې په اساسنامه کې د راغلیو مواردو پورې یې صلاحیت محدود نه دی. (۳۰:۳)

د ضمني صلاحیت د نظریې پلویان د نړیوالې محکمې پر هغې مشورتي پرېکړې استناد کوي، چې په ۱۹۴۹ م کال کې د سازمان پر کارکوونکو د واردې شوې خسارې د جبران په اړه کړې وه په یاده پرېکړه کې راغلي وو: (د ملګرو ملتونو سازمان د نړیوالو سازمانونو تر ټولو غوره مثال دی او که حقوقي شخصیت ونه لري، د غړو هېوادونو موخې او اهداف به تامین نه شي کړای). د عدالت د نړیوالې محکمې پرېکړې پر بنسټ، د ملګرو ملتونو سازمان خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د لازمو واکونو څخه برخمن دی او زیاتوي، چې دغه سازمان د یو نړیوال حقوقي شخصیت په توګه کولی شي، د خپلو حقوقو لاسته راوړلو په موخه په مستقیم ډول دعوې اقامه کړي. محکمه وړاندې زیاتوي، (د نړیوالو حقوقو پر بنسټ، هر سازمان

باید خپلو موخو ته د رسېدو لپاره باید لازم واکونه ولري، که په منشور کې پیشبیني شوي هم نه وي).

که څه هم د نړیوالې محکمې یاده پرېکړه د ملګرو ملتونو سازمان په اړه شوې وه، خو ځیني حقوق پوهان لکه میرمن بېستایډ(Bastide) او پروفیسور شمېرس(Schemers) په دې باور دي چې د نړیوالې محکمې دغه پرېکړه باید د ټولو نړیوالو سازمانونو په برخه کې یو شان پلی شي. دلته به د ملګرو ملتونو د سازمان هغه اقداماتو بېلګې را واخلو چې د ضمني صلاحیت له مخې یې کړي دي، لکه د نمیبیا په اړه د ملګروملتونو او سویلي افریقا ناندرۍ، د عدالت نړیوالې محکمې په ۱۹۵۰ م کال کې پرېکړه وکړه، چې د ملګرو ملتونو سازمان د ملتونو ټولنې د ځایناستي په توګه حق لري، چې تر قیمومیت لاندې سیمو د چارو مسؤلیت په غاړه واخلي. له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د ملتونو ټولنې پرېکړه وکړه چې د افریقا نمیبیا هېواد دې د قیمومیت لاندې سیموکې په ډله کې شامل شي، ترڅو قیمومیت د مقرراتو پر بنسټ په تدریجي توګه د خپلواکۍ تر لاسه کولو ته چمتو شي، خو سویلي افریقا تر دویمې نړیوالې جګړې پورې نمیبیا ته ازادي ور نه کړه، که څه هم دا د ملتونو ټولنې دنده او مسؤلیت وو چې د قیمومیت مقررات پلي او وڅاري، خو د ملتونو ټولنه له وړاندې ړنګه شوې وه او د ملګرو ملتونو سازمان د سویلي افریقا له موافقې پرته د نمیبیا هېواد د قیمومیت په سیستم پورې وتړل شو.(۲۱:۴)

## څلورم مبحث: په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې دغړیتوب حقوقي شرایط

په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب ترلاسه کول د سازمان اوصافو ته په کتو فرق کوي، لکه نړیوال سازمانونه، سیمه ییزسازمانونه، نظامي، سیاسي، اقتصادي او داسې نور. په هر

حال په ټولونړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب ترلاسه کول د دوه ډوله شرایطو تابع دي، چې دا شرایط له موضوعي او اجرائیوي شرایطو څخه عبارت دي. (۳۵:۲)

**لومړی مطلب: موضوعي شرایط (متني شرایط)**

په ټولو نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب موضوعي شرایط یو شان نه وي، مګر په ټولو بین المللي سازمانونو کې د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره د لاندې دوه شرایطو موجودیت اړین دی.

**لومړی جز: د آزادۍ اصل**

په دې معنی چې هر دولت په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره بشپړه ازادي لري او په خپله خوښه په سازمان کې عړیتوب اخلي، مګر ذکر شوي اصل په نظر کې نیولو سره یو دولت چې هر وخت وغواړي کولی شي سازمان مکلفیتونو څخه ځان وباسي او یا د سازمان ځینو برخو کې د فعالیت ترسره کولو څخه ډډه وکړي.

**دویم جز: د دولت والي اصل**

دا په دې معنی ده، چې اصولاً یوازې دولتونه کولی شي د نړیوالو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړي، خو دا په دې معنی نه ده چې یو دولت پرته له دې چې د غړیتوب شرایط یې نه وي پوره کړي یوازې د دولت والي اصل سره د نړیوالو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړي، بلکې اړینه ده چې د دولت والي اصل سره سره اړونده سازمان د غړیتوب شرایط هم پوره کړي. خو داسې سازمانونه هم وجود لري چې د غړیتوب قلمرو یې محدود دی او یوازې دولتونه یې اصلي غړي کېدلی شي او نور غیر دولتي حقوقي اشخاص، لکه اتحادیې، شرکتونه، غیر دولتي سازمانونه او داسې نور کولی شي چې د محدود غړیتوب(ناظر غړیتوب) څخه برخمن شي.

په یو نړیوال سازمان کې ناظر غړي یوازې په مذاکراتو کې د ګډون حق لري، په رایه اچونه کې برخه نشي اخیستلی او په سازمان کې د نورو حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن نه دي، چې په اوسني وخت کې ناظر غړیتوب د ملګرو ملتونو سازمان او د هغه تخصصي ارګانونو لخوا پېژندل شوي دي.(۳۶:۲)

د ملګرو ملتونو سازمان منشور په څلورمه ماده کې د نویو غړیو غړیتوب لپاره څلور شرایط ذکر کړي دي.

۱. **دولت والی:** په دې معنی چې یوازې دولتونه د ملګرو ملتونو سازمان غړي کېدلی شي.

۲. **سولې غوښتنه:** دا په دې معنی ده، چې هغه هېوادونه چې غواړي د ملګرو ملتونو سازمان غړیتوب ترلاسه کړي باید په نورو هېوادونو د یرغل انګیزه او هوډ ونه لري.

۳. **منشور د پرېکړو منل:** دا په دې معنی ده، چې نوي غړي د ملګرو ملتونو منشور مني او پرېکړو ته یې احترام کوي.

۴. **منشور پلي کول:** دا په دې معنی ده، چې غړي هېوادونه منشور د پلي کولو وړتیا لري.(۸۲:۴)

**دویم مطلب: اجرایوي شرایط (شکلي شرایط)**

د پورته ذکر شویو موضوعي شرایطو سربېره په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کول د اجرایوي شرایطو هم تابع دي، خو یو دولت کولی شي د پیشبیني شویو اجرایوي شرایطو پرته بیدون د قید او شرطه د نړیوالو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړي.

عموماً د نړیوالو سازمانونو په اساسنامو کې د نوو غړو د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره اجرائیوي شرایط په لاندې دریو طریقو سره پیشبیني کېږي.

۱. **د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره د بلنې لېږل:** یعني د مؤسسو غړو دولتونو څخه پرته نور دولتونه نشي کولی چې په دې شکل په سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړي، پرته له دې چې د غړو دولتونو څخه کوم یو یې ورته بلنه ولیږي، چې اکثره د سیاسي او نظامي سازمانونو په اساسنامو کې د دې ډول روشونو څخه استفاده کیږي، دبېلګې په توګه د شمالي انتلانتیک سازمان(ناټو) په اساسنامه کې هم دغه روش پیشبیني شوی دی. (۲۵:۶)

۲. **د متقاضي دولت غړیتوب لپاره رایه اچونه:** دې روش څخه د ملګرو ملتونو سازمان کې استفاده کیږي یعني هر کله چې یو دولت د غړیتوب لپارهِ غوښتنلیک وړاندې کړي، چې د دې غوښتنلیک په اړه د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمعه کې رایه اچونه کیږي، چې ایا د غړیتوب شرایط یې پوره کړي او که نه؟ یاد روش د ملګرو ملتونو په سازمان کې د یوې لویې ستونزې باعث وګرځېد، د سړې جګړې په جریان کې د پخواني شوروي اتحاد او د امریکا متحده ایالاتو لخوا ځو وارې د دولتونو غړیتوب ترلاسه کولو غوښتنلیکونه ویټوکړی شو، ځکه فکر به یې کاوه چې د مقابل لوري طرفدار دی. (۸۳:۴)

۳. **غړیتوب ترلاسه کولو لپاره هیله او رغبت څرګندول:** د ډېرو سازمانونو اساسنامو ذکر شوی روش پیشبیني کړی دی د یادولو وړ ده، چې ذکر شوی روش په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب ترلاسه کولو تر ټولو اسانه طریقه ده. (۳۷:۲)

## پینځم مبحث: په نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې حقوقي ننګونې

په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې ځینې حقوقي ننګونې شتون لري، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

## لومړی مطلب: حقوقي چوکاټونو ته غاړه ایښودل

هغه هېوادونه چې غواړي په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونه کې غړیتوب واخلي باید د اړونده سازمان حقوقي چوکاټونو ته غاړه کېږدي. (۴۲:۷)

چې دغه حقوقي چوکاټونو ته په لاندې ډول اشاره کوو.

### لومړی جز: د قوانینو همغږي کول

غړي هېوادونه باید خپل داخلي قوانین د سازمان حقوقي چوکاټ سره همغږي کړي، چې دا کېدای شي په هېواد کې د قوانینو د بدلون سبب وګرځي دا په حقوقي لحاظ د سازمان غړو هېوادونو ته یوه لویه ننګونه ده، ځکه که چېرې په سازمان کې د غړیتوب په سبب د یو هېواد داخلي قوانینو کې تعدیل رامینځته کېږي، ترڅو د نړیوالو او یا سیمه ییزو سازمانونو حقوقي چوکاټ سره همغږي شي کېدای شي د دغو قوانینو تعدیل هېوادونو په داخل کې له عکس العمل سره مخامخ شي، ځکه د هر هېواد قوانین د هغه هېواد خلکو د دین، مذهب، کلتور، اقتصاد، سیاست، جغرافیې، ایډیالوژۍ او داسې نورو عواملو ته په کتو سره جوړېږي چې د سازمان حقوقي چوکاټ سره یې همغږي رامنځته کول د یو هېواد پر وړاندې ستره ننګونه ده. (۱۷:۸)

### دویم جز: د قانون حاکمیت او حکومتولي

د اروپایي اتحادیې په څېر ځینې نړیوال او سیمه ییز سازمانونو کې غړیتوب لپاره د قانون حاکمیت او ښې حکومتولۍ معیارونه په جدي توګه په پام کې نیول کېږي، چې په نوماندو هېوادونو کې بنیادي اصلاحاتو ته اړتیا لیدل کېږي او هغه هېوادونه چې په دغه ډول سازمانونو کې غړیتوب اخلي باید ذکر شوي معیارونه پوره کړي، چې دې ډول معیارونو پوره کول امکان لري هېوادونو ته ستونزمن وي چې دا په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې یوه ننګونه ده. (۶۰:۹)

**دویم مطلب: د تړون اړوند مکلفیتونه**

د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانو د تړون په مکلفیتونو کې د یو تړون لاسلیک او د هغه تصویبول دي. په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب ممکن ډېرو تړونونو لاسلیک او تصویب ته اړتیا ولري کومه چې یوه پېچلې او وخت ضایع کوونکې پروسه ده. (۳۰:۱۰)

**پایله**

د دې علمي څېړنې (په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې د غړیتوب حقوقي شرایط او ننګونې) په پای کې لاندې پایلو ته رسېږو:

۱. نړیوال او سیمه ییز سازمانونه په نړۍ کې د هېوادونو لخوا د ګډو اهدافو ترلاسه کولو لپاره رامنځته شوي دي، څو د سیمې او نړۍ هېوادونه وکولی شي چې هغه اهداف چې په پام کې یې لري ترلاسه کړي چې دا اهداف سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، نظامي او داسې نورو برخو کې کېدلی شي.

۲. هغه هېوادونه چې غواړي په نړیوالو او یا سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي باید په سازمان کې د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره حقوقي شرایط پوره کړي، که چیرې د غړیتوب لپاره شرایط پوره نه کړي بیا نشي کولی چې د اړونده سازمان غړیتوب ترلاسه کړي.

۳. په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب پر وړاندې یو لړ ننګونې وجود لري، چې غړي هېوادونه ورسره لاس او ګرېوان وي سره له دې چې یو هېواد به په نړیوالو او یا سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب ولري، خو بیا هم یو لړ حقوقي ننګونو سره مخامخ وي، چې دا حقوقي ننګونې د قوانینو همغږي کولو، د قانون حاکمیت، د حکومتولۍ او د یاد تړون اړوند مکلفیتونه په برخه کې دي، چې غړي هېوادونه باید ورته اماده واوسي ترڅو وکولی شي د دا ډول ننګونو پر وړاندې اغېزناکه مبارزه وکړي.

۴. د دې څېړنې څخه یوه پایله دا هم ترلاسه کېږي چې سیمه ییز سازمانونه هم د نړیوالو سازمانونو له جملې څخه دی خو په دومره توپیر چې نړیوال سازمانونه

جغرافیوي محدودیت نه لري او د نړۍ ټول هېوادونه شرایطو په پوره کولو سره کولی شي چې یو نړیوال سازمان کې غړیتوب واخلي، خو برعکس سیمه ییزو سازمانونه جغرافیوي محدودیت لري او یوازې یوې مشخصې جغرافیې او یا لویې وچې هېوادونه په کښې د غړیتوب ترلاسه کولو حق لري.

**مناقشه**

دا چې نړیوال او سیمه ییز سازمانونه د نړۍ د دولتونو لخوا په بېلابېلو برخو کې د بېلابېلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره رامنځته شوي، ترڅو وکولی شي چې ټاکل شوي اهداف ترلاسه کړي. هر کله چې یو دولت غواړي چې په نړیوالو او یا سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي باید د سازمان لخوا وړاندې شوي د غړیتوب شرایط پوره کړي، ترڅو د سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، د دې ترڅنګ هر کله چې یو دولت په نړیوالو یا سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي د غړیتوب ترلاسه کولو وروسته غړي هېوادونه د یو لړ حقوقي ننګونو سره مخامخ کېږي چې د دې ډول حقوقي ننګونو سره باید مبارزه وشي، څو غړي هېوادونه د غړیتوب د ترلاسه کولو وړاندې باید د خپلو اړونده هېوادونو داخلي شرایط وګوري، چې وکولی شي د دا ډول ننګونو سره اغیزناکه مبارزه وکړي، څو د دې ډول ننګونو د لمنځه وړلو لپاره اقدام وکړي ترڅو داخلي نظم ته صدمه ونه رسیږي.

**پایله اخیستنه**

د دې څېړنې په پایله کې څرګنده شوه چې په نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو کې د غړیتوب لپاره مشخص حقوقي شرایط په پام کې نیول کېږي، چې سازمان د منشور او یا اساسنامې له مخې تنظیم شوي وي چې معمولاً دا ډول شرایط د دولتونو د خپلواکۍ، سولې، د نړیوالو اصولومنلو، نړیوالو حقوقي نورمونو او سازمان موخو سره د همغږۍ غوښتنه کوي.

سربیره پر دې په سیمه‌ییزو سازمانونو کې د غړیتوب لپاره جغرافیایي، فرهنګي او سیاسي ځانګړنې هم په پام کې نیول کېږي.

خو له بل پلوه په نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو کې د غړیتوب پر وړاندې یو شمېر حقوقي ننګونې هم شتون لري، چې دا حقوقي ننګونې حقوقي چوکاټونو ته غاړه اېښودل، د قانون حاکمیت او بنې حکومتولۍ د معیارونو پلي کولو څخه عبارت دي چې لېوال هېوادونه مکلف ګرځوي څو په پام کې یې ونیسي.

په پای کې ویلی شو چې د نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو غړیتوب، هېوادونو ته ستر فرصتونه برابروي خو د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره هېوادونه باید له زیات پاملرنې کار واخلي او تعامل ته هم لاره هواره کړي.

**وړاندیزونه**

د دې لیکنې په پایله کې اړین بولم چې لاندې وړاندیزونه وکړم:

۱. هر هېواد چې غواړي په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي باید د اړونده سازمان اساسنامه مطالعه او هڅه وکړي چې په دې ډول سازمانونو کې د غړیتوب حقوقي شرایط پوره کړي، ترڅو د نړیوال سازمان یو مسؤل غړي په توګه د سازمان پر وړاندې خپل ټول مکلفیتونه اداء کړي.

۲. هغه هېوادونه چې په نړیوالو او یا سیمه ییزو سازمانو کې غړیتوب ترلاسه کړي باید خپل هېواد د خلکو دین، مذهب، کلتور، سیاسي، اقتصادي او نورو شرایطو په پام کې نیولو سره په اړونده سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړي.

۳. ذیعلاقه هېوادونه باید وګوري چې سازمان غړیتوب شرایطو پوره کولو پر وړاندې کوم ډول حقوقي ننګونو سره مخامخ کېږو او د حل لارې به یې څه وي.

۴. په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب باید د هېواد داخلي نظم د اخلال سبب ونه ګرځي.

**اخځلیکونه**

۱. شینواری، محمد جمال.(۱۳۹۸ ه ش).نړیوال سازمانونه، جلال اباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

۲. زاهد، محمد اکبر.(۱۳۹۵ ه ش). سازمانهای بین المللي،چاپ سوم، انتشارات مستقبل:کابل.
۳. سباوون،عبد البصیر.(۱۴۰۰ ه ش). نړیوال سازمانونه، دویم چاپ، جلال اباد: سلام خپرندویه ټولنه.
۴. موسی زاده، رضا.(۱۳۹۹ ه ش). نړیوال سازمانونه، ژباړن: محمد نظیم سمون، اتم چاپ، جلال اباد: مومندخپرندویه ټولنه.
5. UN Charter,june 26,1945.
6. Hix,Simon and Bjorn Hoyland.”The Political System of the European Union .”Palgrave Macmillan,2011.[1]
7. Dinan,Desmond.”Ever Closer Union:An introduction to European Integration.”Palgrave Maccmillan.2010.
8. Acharya,Amitav.”Constructing a security Community in Southeast Asia:ASEAN and the problem of Regional Order”Roultedge,2009.
9. Riennner Narine,shaun.”explaining ASEAN:Regionalism in southeast Asia.”Lynne Pubisher ,2002.
10 .Severino,Rodolfo C.”ASEAN:The Way Forward.”Institute of Southeast Asian Studies,2008.

**پوهنیار خوشحال جواد**
حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی د لوړو زده کړو موسسه
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال منګل شېرزاد

# د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین اړتیا، دلایل او شرطونه

## لنډیز

د ټولنو تدریجي بدلون، د نویو دولتونو رامنځته کېدل، د دولتونو خپلواکي او د انقلابونو، کودتاګانو او داخلي جګړو له امله، چې موجوده رژیم سقوط وکړي او نوی رژیم رامنځته شي، نو په دې ډول حالاتو کې د اساسي قانون تدوین ته اړتیا پیدا کېږي.

د دولت د سیاسي واک د حدوداتو د تعین، د اتباعو د بنسټیزو حقوقو او ازادیو څخه د ملاتړ، د سیاسي ګډوډۍ او له دولتي واک څخه د سوئ استفادو د مخنیوي او د نړیوالې ټولنې سره د اړیکو د تنظیم او اجرا لپاره د اساسي قانون تدوین یو لازمي امر دی.

د دې موضوع د څېړنې لپاره له کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې او موخه یې دا ده، چې د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین دلایل، اړتیا او شرایط روښانه شي.

په قرانکریم کې د دولت د چارو د سمبالښت لپاره یوازې ثابت، عمومي او کلي اصول ذکر شوي، دا هغه بنسټونه او قواعد دي، چې په هر زمان او مکان کې د تطبیق وړ وي، مګر هغه تفصیلي او جزوي حکمونه، چې د زمان او مکان په بدلون سره د تغیر ایجاب کوي، په دې موجب قرانکریم ترې سکوت اختیار کړی، چې د هر وخت وګړي یې د خپلو شرایطو، حالاتو او مصالحو پر بنسټ تنظیم کړي، لکه قرانکریم د حکومت بڼه نه ده وړاندې کړې او نه یې د دولت د رئیس او اهل الحل

والعقد د ټاکلو طریقه ښودلې، مګر د هغو ثابتو او کلي اصولو یادونه یې کړې، چې باید هر اسلامي نظام یې په نظر کې ونیسي او د هرې زمانې له خلکو سره جوړ راشي. پر همدې بنسټ د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د اسلامي نظام د چارو د تنظیم او مخ ته وړلو لپاره د هغې زمانې د عیني شرایطو او اوضاع په نظر کې نیولو سره د اساسي قانون تدوین یوه مهمه او مبرمه اړتیا ګڼل کیږي.

**کلیدي کلمې**: اساسي قانون، تدوین، ټولنه، شرایط او شریعت

**سریزه**

"بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین"

لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ (سورت الحدید، ایت: ۲۵).

**ژباړه:** خامخا په تحقیق لیږلي وو موږ پیغمبران خپل سره له ښکاره دلایلو او نازل کړی وو موږ له هغوی سره کتاب او میزان تله (قواعد د عدل) لپاره د دې، چې ودریږي خلک په انصاف باندې (۲: ۱۳۵۵-۱۳۵٦).

بالعموم په هر هېواد کې داسې یوه ملي وثیقه باید وجود ولري، چې د هغه هېواد د سیاسي سیستم (دولت اصولو، تشکیلاتو، سلسله مراتبو، درې ګوونو قواوو او د هغوی ترمنځ اړیکو، د اتباعو بنسټیزو حقوقو، ازادیو او مکلفیتونو) په اړه اصول او قواعد په کې وضع شوي وي او ځرنګوالی په کې روښانه وي. د مدینې منورې میثاق د لومړني اسلامي دولت لپاره د اساسي قانون حیثیت درلود؛ ځکه په نوموړي میثاق(تړون) کې د اسلامي دولت ټولې دندې او واکوونه، داخلي او بهرنی سیاست، د وګړو بنسټیز حقوق، ازادي او مکلفیتونه او دې ته ورته نور اصول پکې تصریح شوي ول.

د سیاسي فلسفې له نظره اساسي قانون په دې معنی دی، چې قدرت نامحدود نه دی او د سیاسي چارواکو او مسولینو واکوونه او مسولیتونه تعریف شوي دي، د دې تر څنګ اساسي قانون د قانون حاکمیت په معنی دی، یعنې ټولې دولتي چارې باید د قانون تابع اوسي دا قانون د یوې سیاسي ټولنې ټولې برخې په بر کې نیسي، د دولت او وګړو ترمنځ د حقوقي اړیکو بنسټ ټاکي.

د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین په اړتیا، دلایلو او شرایطو باندې بحث په خپل ذات کې یوه مهمه موضوع ده؛ ځکه ځینې اشخاص په دې اند دي، چې د قرانکریم په موجودیت کې اسلامي ټولنې د وضعي اساسي قانون تدوین ته اړتیا نه لري، چې دغه بنسټیزه پوښتنه په دې مقاله کې په بشپړ، مستدلل او دقیق ډول ځواب شوې.

د دې موضوع د ښې څېړنې لپاره په لومړي مبحث کې د اساسي قانون پېژندنې، د تدوین دلایلو، شرایطو او ګټو او په دویم مبحث کې د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوین اړتیا، دلایلو او شرایطو باندې بحث شوی دی.

## د موضوع مساله

د قرانکریم په موجودیت کې، چې د یوه اسلامي نظام د ټولو چارو د سمبالښت لپاره بنسټ ګڼل کېږي، د وضعي اساسي قانون تدوین ته څه اړتیا ده؟ او د دې اقدام د توجیې لپاره کوم دلایل وجود لري؟ او دویم دا چې په دې صورت کې د کومو شرایطو په نظر کې نیولو سره اساسي قانون تدوینولای شو؟

## د څېړنې اهمیت

اساسي قانون په یوې ټولنه کې د سیاسي نظم او ملي یووالي د تامین، استبداد د مخنیوي او له نورو سیاسي ټولنو او بنسټونو سره د دې ټولنې د اړیکو د کرښو د ټاکلو لپاره مهم

ګڼل کیږي، نو دا چې د دې څېړنې له مخې د اساسي قانون د تدوين اړتیا، دلایلو او شرایطو باندې بحث شوی، نو په خپل ذات کې دا یوه مهمه موضوع ګڼل کیږي.

دغه علمي څېړنه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو، محصلینو، حقوقپوهانو او مقننینو لپاره هم مهمه ګڼل کیږي، ځکه له مسلکي، تخنیکي او وظیفوي پلوه دوی د یادې موضوع سره په مستقیم او غیر مستقیم شکل تړاو لري او اړ دي، چې په دقیق او هر اړخیز شکل ورباندې پوه اوسي.

دا چې اساسي قانون د اساسي حقوقو د بحث یوه مهمه او اساسي موضوع تشکیلوي، نو د دې علمي څېړنې په تر سره کولو سره د حقوقو یاده څانګه لا زیاته غني شوه او د اساسي حقوقو او مسلک استادانو او محصلینو چې په دې اړه کومې ستونزې او پوښتنې درلودې، هغه په ښه شکل حل شوې.

همدارنګه د دې مقالې په بشپړېدو سره (د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوين اړتیا، دلایل او شرایط) بحث دقیقاً روښانه شو.

## د موضوع د اختیار سببونه

(د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوين اړتیا، دلایل او شرایط) څېړنه نظر لاندې دلایلو ته ما د خپلې علمي ـ څېړنیزې مقالې لپاره غوره کړه.

۱. د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوين اړتیا، دلایل او شرایطو موضوع باندې تر اوسه کومه مستقله علمي څېړنه، نه ده ترسره شوې، نو ځکه ما د خپل بحث لپاره غوره کړه.

۲. د دې څېړنې تر سره کول د حقوقي علومو استادانو، محصلینو، مقننینو او حقوقپوهانو علمي سویې د لوړولو لپاره هم ګټوره واقع کیږي، نو ځکه ما د خپلې څېړنې لپاره غوره کړه.

۳. له بلې خوا زه د اساسي حقوقو د مسایلو سره ځانګړې علاقه لرم، چې د حقوقو د یادې څانګې یو مهم بحث (اساسي قانون) تشکیلوي، چې له لسو کلونو راپدېخوا په پوهنتون کې دا موضوع تدریسوم، نو د دې موضوع د غوره کولو یو سبب دا هم کېدای شي، چې زه په اړونده موضوع کې کافي معلوماتو او موادو ته لاس رسی لرم.

## د موضوع د څېړنې موخې

دغه علمي څېړنه چې (د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوین اړتیا، دلایلو او شرایطو) سرلیک لاندې څېړل شوې، اساسي موخې په لاندې ډول دي.

۱. د اساسي قانون د تدوین دلایل، شرایط او ګټې پېژندل.

۲. د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین اړتیا باندې پوهېدل.

۳. د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین دلایلو باندې پوهېدل.

۴. د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین شرایطو باندې پوهیدل.

## پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه

(د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوین اړتیا، دلایلو او شرایطو) موضوع باندې کومه مستقله علمي څېړنه، نه ده تر سره شوې، که څه هم د اسلامي او شرعي سیاست او اساسي حقوقو کتابونو کې په دې اړه بحثونه وجود لري، ولې ډېر عمومي او محدودې بڼې لري، لکه د عبدالوهاب خلاف د شرعي سیاست کتاب، چې روح الله نجم پښتو ژبې ته ژباړلی، د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوین اړتیا، دلایلو او شرایطو باندې تیت وپرک بحث شوی؛ همدارنګه د یوسف قرضاوي د سیاسي فقهې کتاب، چې شیراغا کریمي پښتو ژبې ته ژباړلی، د دې موضوع په اړه ډېر محدود بحث کړی؛ د دې تر څنګ د ګوهر رحمن د اسلامي سیاست کتاب، چې قریب

الرحمن سعید پښتو ژبې ته ژباړلی، د یادې موضوع په اړه ډېر محدود بحث کړی؛ همدارنگه د عبدالقادر عوده د اسلام جنایي تشریح او وضعي قوانینو کتاب ، چې عبدالهادي هدایت پښتو ژبې ته ژباړلی، د ذکر شوې موضوع په اړه عمومي حکمونه رااخیستي. د دې تر څنگ د عبدالکریم زیدان په اسلامي شریعت کې فرد او دولت کتاب کې، چې برکت الله مستعان پښتو ژبې ته ژباړلی، په دې اړه ډېر کم معلومات وجود لري. سربېره پرې دې د تهران پوهنتون استادانو هر یو سید ابوالفضل قاضي (شریعت پناهی) (حقوق اساسی و نهادهای سیاسی) او منوچهر طباطبایی (حقوق اساسی) او د انگلستان د مانچسټر پولیټن پوهنتون استاد پیټر جایس (په لوېدیځ کې سیاسي چارې) کتابونو کې د اساسي قانون د تدوین، معیارونو او شرایطو په اړه عمومي بحث شوی دی.

ولې په دې مقاله کې د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین په اړتیا، دلایلو او شرایطو باندې هر اړخیز، تفصیلي او منظم بحث تر سره شوی.

**د موضوع د لیکلو کړنلاره**

د دې څېړنې د ترسره کولو لپاره له کتابتوني کړنلارې څخه گټه اخیستل شوې ده، د دې سره په خوا کې د دې مقالې په ترتیب او تنظیم کې لاندې اصول په پام کې نیول شوي دي:

۱. وروسته له دې، چې معلومات مو راټول کړل بیا مو په دوه مبحثونو وویشل.

۲. د معلوماتو په راټولونه کې د معتبرو کتابونو او اخځلیکونو څخه استفاده شوې ده.

۳. هره موضوع په خپل ځای کې تحلیل شوې او مثبت او منفي اړخونه یې روښانه شوي د دې لپاره، چې په راتلوونکي کې د لوستوونکو د ذهنیت د گډوډۍ باعث ونه گرځي.

۴. د موضوعاتو په تحليل کې مې خپله پوره بې طرفي ساتلې او د هر راز تعصب څخه مې ډډه کړې، څو په پوره عدل او انصاف سره د موضوع ټول اړخونه روښانه شي.

۵. د موضوعاتو د ترتيب پر مهال د مراتبو سلسله په پام کې نيول شوې هغه موضوعات چې لومړی راتلل په لومړي سر کې ځای پر ځای شوي او کوم موضوعات چې وروسته راتلل وروسته ځای پر ځای شوي، چې دا کار له يوې خوا د موضوعاتو په تنظيم کې رول لري او له بلې خوا د موضوع په زده کړه او پوهاوي کې مرسته کوي.

## لومړی مبحث: عموميات

د دې عنوان لاندې د اساسي قانون پېژندنې، تدوين دلايلو، شرايطو او ګټو باندې بحث کوو.

### لومړی مطلب: د قانون لغوي او اصطلاحي پېژندنه

قانون د عربي ژبې کلمه ده، چې د مقياس او اندازې په معنی دی. يو شمېر حقوقپوهان وايي، چې قانون د يوناني ژبې لغت دی او معنی يې د ښي لاس امساء چې انحراف نه مني دی. ځينې حقوقپوهان قانون د فارسي ژبې کلمه بولي چې د قاعدې معنی ورکوي، قانون ته په انګليسي ژبه کې Law او په فرانسوي ژبه کې ورته Lio ويل کيږي(۱۵: ۱۲۰).

د پورته توضيحاتو په نظر کې نيولو سره قانون په لغت کې مقياس، اندازې او قاعدې ته ويل کيږي.

له اصطلاحي پلوه قانون ته ډېر زیات تعریفات شوي، چې په ټوله کې ټول یوه معنی او مفهوم افاده کوي، له دې جملې څخه یو شمېر یې د بحث لاندې نیسو.

قانون هغه قواعد او مقررات دي، چې د ذیصلاح مقاماتو له لورې، د ټولنې د تنظیم لپاره وضع شوي وي او تطبیق یې اجباري جنبې ولري (۱۵: ۱۲۰).

د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوی ریاست د دندو او واکونو قانون د ۳مې مادې په لومړي بند کې قانون داسې تعریف شوی: (قانون د هغو قواعدو مجموعه ده، چې د شریعت په چوکاټ کې د یوه وزارت یا ادارې د داخلي چارو او فعالیتونو د تنظیم په موخه تدوین، د مشرتابه مقام له خوا توشیح شوی او تطبیق یې الزامي وي). (۱۰: دریېمې مادې، لومړی بند)

## دویم مطلب: د اساسي قانون پېژندنه، د تدوین دلایل، شرایط او ګټې یې

د دې عنوان لاندې د اساسي قانون په پېژندنې، د تدوین دلایلو، شرایطو او ګټو باندې بحث کوو.

### لومړی جز: د اساسي قانون پېژندنه

اساسي قانون هغه مدون او رسمي متن دی، چې د یوه هېواد سیاسي جوړښت او هغه رژیم، چې په هغه هېواد کې مستقر دی، په خپل ځان کې منعکس کوي. یا اساسي قانون د هغو قواعدو او مقرراتو مجموعه ده، چې د یو هېواد د عمومي تشکیلاتو په اړه په تصویب رسېدلي وي. یا په بل عبارت اساسي قانون د هغو قواعدو او مقرراتو مجموعه ده، چې د حکومت ډول، د درې ګوونو قواوو تنظیم، د اتباعو حقوق او وجایب د دولت په وړاندې بیانوي (٦: ۱۰۳-۱۰۴)

د Bolingbroke په نوم یو عالم اساسي قانون داسې تعریفوي: اساسي قانون د بنسټونو، ادابو، رسومو او قوانینو مجموعه ده، چې د هغې له مخې ټولنې په دې توافق

کړی وي، څو د هغې په واسطه، دولت اداره کړل شي. په همدې ترتيب De Smith په خپل کتاب (Constitutional Law) کې اساسي قانون داسې تعريفوي: اساسي قانون د هغو قواعدو مجموعه ده، چې د دولتي بنسټونو کړنې او د دوی ترمنځ متقابلې اړيکې او د دولت حقوق او وظايف مشخص کوي (۷: ۱۰-۱۱).

يا په بل عبارت اساسي قانون د هغه قواعدو مجموعه ده، چې د يو هېواد بنسټيز سياسي اصول تعريفوي او هم د هغه هېواد د ټولو ارگانونو جوړښت، د واک ساحه او د کړنې د روش او طريقې له جوړښت څخه بحث کوي. نن ورځ د ډېری هېوادونو اساسي قوانين د اتباعو او نورو انسانانو اړوند حقوق تضمينوي (۸: ۱۸۸).

يا اساسي قانون هغه ملي وثيقه ده، چې د يو دولت د سياسي سيستم تگلورې او چوکاټ مشخص کوي. (۴: ۱۱۹)

په اساسي قانون کې په ټوله کې د دولت بڼه او دندې، د دولت پر وړاندې د اتباعو اساسي حقوق او مکلفيتونه، سياسي رژيم، د درې گوونو قواوو دندې او ترمنځ يې اړيکې، د دولت د داخلي او خارجي سياست عمومي او کلي اصول، د دولت او حکومت د مشرانو، د پارلمان د اعضاوو او د نورو دولتي اراکينو د انتخاب او انتصاب ميکانېزم او دې ته ورته نور مسايل په کې درج او تنظيمېږي(۶: ۱۰۷).

**دويم جز: د اساسي قانون د تدوين دلايل**

حقوقپوهان نظر لاندې دريو دلايلو ته د اساسي قانون تدوين مهم او اړين گڼي:

**لومړی دليل. د نوي سياسي ژوند د پيل له پلوه:** په هغو هېوادونو کې، چې نوی سياسي ژوند شروع کېږي، نو د ملت او حاکمه قدرت ترمنځ بايد اړيکې مشخص کړل شي، لکه هند او پاکستان چې د دويم نړيوال جنگ څخه وروسته يې خپله ازادي تر لاسه کړه او د اساسي قانون په تدوين يې لاس پورې کړ (۶: ۱۰۶).

**دویم دلیل. په یوې سیاسي ټولنه کې د بېلابېلو طبقو خلکو د حقوقو او امتیازاتو خوندیتوب او تضمین له پلوه:** دا چې په یو هېواد کې مختلفې ډلې او طبقې ژوند کوي، د دې لپاره چې دغه ډلې په یوه واحده سیاسي ټولنه کې تضمینات ولري (د هرې ډلې خاص وضعیت په اړونده ټولنه کې خوندي او په رسمیت وپېژندل شي) نو اړینه ده چې اساسي قانون تدوین شي (۷: ۱۵).

**درېیم دلیل. د مرکزي او سیمه ییزو ادارو ترمنځ د اړیکو د بهتره تنظیم له پلوه:** هغه هېوادونه چې پراخه قلمرو او لیرې پرتې سیمې لري (مرکزي اداره د دې وړتیا ونه لري، چې یادې سیمې تر خپل کنترول لاندې راولي او خدمات ورته ورسوي) نو امکان لري، په دې ډول هېوادونو کې فدرال حکومتونه رامنځته شي (په فدریشن سیستم کې د مرکزي ادارې او ایالتونو ترمنځ د واکوونو د وېش لپاره اړینه ده، چې اساسي قانون تدوین شي) (۷: ۱۵).

**درېیم جز: د اساسي قانون د تدوین شرایط**

اساسي قانون هغه مهال په یوه ټولنه کې سیاسي نظم، د اتباعو بنسټیز حقوق او ازادي تامینولای شي، چې د تدوین پر مهال یې لاندې شرایط په نظر کې ونیول شي.

۱. اساسي قانون باید د یوې ټولنې د عیني (دیني، مذهبي، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او اخلاقي) شرایطو په نظر کې نیولو سره تدوین شي، په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو کې اساسي قانون باید د اسلامي شریعت د حکمونو په حدوداتو کې رامنځته شي (۷: ۱۶).

۲. په اساسي قانون کې باید کلي مسایل ذکر شي او نور جزوي موضوعات په عادي قوانینو کې په تصویب ورسېږي (۷: ۱۶).

۳. د اساسي قانون ټول مواد باید د اجرا وړ اوسي او هغه مواد، چې د اجرا وړ نه وي باید رسماً ملغاء او یا اصلاح کړل شي (۷: ۱۶).

۴. د اساسي قانون مقررات باید روښانه او واضحه وي، څو تفسیر یې د شخړو لامل ونه ګرځي (۷: ۱۶).

## څلورم جز: د اساسي قانون د تدوین ګټې

د سیاسي واک د حدوداتو ټاکنه، د سیاسي ګډوډۍ او دولتي واک څخه د سوئ استفادو مخنیوی، د ښې حکومتولۍ او له نړیوالې ټولنې سره د اړیکو رامنځته کول او په ټوله کې د یوې سیاسي ټولنې رهبري کول د اساسي قانون د تدوین عمده ګټې دي، چې په ترتیب سره پرې بحث کوو.

### لومړۍ فقره: اساسي قانون د ټولنیز ژوند بنسټ دی

د دولت د سیاسي قدرت د حدوداتو د معلومولو او د وګړو د حقوقو او ازادیو د تامین لپاره د اساسي قانون تدوین یو مهم امر دی، یعنې په اساسي قانون کې روښانه کېږي، چې یو دولت د خپلو وګړو پر وړاندې کوم مسولیتونه او واکونه لري او وګړي د خپل اړونده دولت پر وړاندې د کومو حقوقو او دندو څخه برخمن دي، سیاسي قدرت د دولتي اراکینو په منځ کې څنګه وېشل شوی او د دې سیاسي ټولنې ارزښتونه څه دي، چې په دې بنسټ اساسي قانون د ټولنیز ژوند بنسټ ګڼل کېږي (۴: ۱۲۱).

### دویمه فقره: اساسي قانون د ښې حکومتولۍ معیار دی

په اوسني وخت کې د ښې حکومتولۍ د پیژندنې یو مهمترین شاخص د قانون حاکمیت او رعایت دی، دا چې قوانین په ځانګړې توګه اساسي قانون، په یوه ټولنه کې څومره واقعي او عملي بڼې لري، د قانون حاکمیت شاخص له مخې یې ارزولی

شو، په دې شاخص کې د تړونونو د اجرا کیفیت، د پولیسو او محاکمو کړنې او په یوه ټولنه کې د جرم او تاو تریخوالي د احتمال کچه په نظر کې نیول کېږي (۴: ۱۲۰).

که چېرته یو قانون له تدوین وروسته، چندان عملي بڼه ونه لري او د پولیسو او محاکمو د ضعیفو کړنو له امله د جرایمو او تخلفاتو ګراف پورته ځي، نو دا په یو هېواد کې د ضعیفه حکومتولۍ څرګندونه کوي، اما کله چې یو هېواد هیڅ اساسي قانون ونه لري، طبیعي ده، چې د ښې حکومتولۍ د سنجش معیار په کې وجود نه لري، یعنې پرته له اساسي قانون څخه د ښې حکومتولۍ ادعا ممکن درسته نه وي (۴: ۱۲۰).

**درېیمه فقره: اساسي قانون د بین المللي مشروعیت لپاره لار پرانیزي**

د نورو موضوعاتو تر څنګ په اساسي قانون کې د نړیوالې ټولنې پر وړاندې د یو دولت ژمنې روښانه کېږي (دا چې یو دولت د نورو دولتونو، بین المللي سازمانونو او بنسټونو پر وړاندې څه ډول سیاست خپلوي، د بین المللي معاهداتو او میثاقونو رعایت تر کومې کچې پورې کوي او د دوستانه اړیکو پراختیا ته څومره ژمنتیا لري، په اساسي قانون کې روښانه کېږي) همدا دلیل دی، چې اساسي قانون په بین المللي مشروعیت کې مرسته کوي او د حکومتونو رسمیت پېژندنې ته لار پرانیزي (۴: ۱۲۲).

**څلورمه فقره: د یوې سیاسي ټولنې د رهبرۍ کولو لپاره اساسي قانون مهم دی**

د یوې ټولنې نظم، امن، ارتقاء او پرمختګ مستقیماً له قانون سره تړلی دی، په کومو ټولنو کې چې د قانون حاکمیت نه اوسي، په هغه کې د هر عمل د رامنځته کېدو احتمال وجود لري. اساسي قانون د واک بنسټ او سیاسي مشروعیت دی له اساسي قانون پرته واک او د سیاسي نظامونو مشروعیت بې ثباته او متزلزل وي (۴: ۱۲۴).

دا چې اساسي قانون د یو ملت د سرنوشت سره اړیکه لري، نو باید فعلي او راتلونکې اړتیاوې په واقعي معنی منعکس کړي، دا چې په اساسي قانون کې حیاتي مسایل

لکه، د دولت اصول، بنه، بهرنـی سیاسـت، اقتصـاد، درې گـوونې قـواوې ، د هغـوی ترمنځ اړیکې، د اتباعو حقوق، ازادي او مکلفیتونه ځای پر ځای کېږي، پـر همـدې بنسټ ژورې او دقیقې مطالعې ته اړتیا لري. قانون هغه مهال مطلوبې پـایلې تـر لاسـه کولای شي، چې عیني واقعیتونه په کې په ښه شکل منعکس شوي وي او راتلوونکې ته معطوف وي، نو د اساسي د تدوین پروسه کافي وخت ته اړتیا لري، چې په زیاتره هېوادونو کې یې تدوین یو کال په بر کې نیسي (۴: ۱۲۵).

**دویم مبحث: د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین اړتیا، دلایل او شرایط**

د بحث د عنوان مطابق دلته دوه پوښتنې مطرح کېږي، لومړی دا چې د قرانکـریم پـه موجودیت کې، چې د یوه اسلامي نظام د ټولو چارو د سمبالښت لپـاره بنسـټ گڼـل کېږي، د وضعي اساسي قانون تدوین ته څه اړتیا ده؟ او د دې اقـدام د تـوجیې لپـاره کوم دلایل وجود لري؟ او دویم دا چې په دې صورت کې د کومـو شرایطـو پـه نظـر کې نیولو سره اساسي قانون تدوینولای شو؟

د پورته پوښتنو ځواب په لاندې بحث کې موندلای شو.

۱. الله تعالی جل جلاله د قرانکریم د سورت النساء په ۵۹ ایت کې فرمایي: يَا أَيُّهَـا الَّـذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ (سورت النساء، ایت: ۵۹).

**ژباړه:** ای هغو کسانو، چې ایمان مو راوړی دی(ای مومنانو)، حکم ومنئ تاسې د الله او حکـم ومنـئ تاسـو د رسـول (د الله) او (حکـم ومنـئ) د خاونـدانو د حکـم لـه تاسې(مسلمانانو یعنې حاکمانو او مشرانو) (۲: لومړی ټوک: ۴۸۹).

امام ابن جریر رحمة الله علیه د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو څخـه د اولـی الامر د تفسیر په هکله دوه خبرې رانقل کړي دي، لومړی دا چې (هم الامراء) یعنې د مسلمانانو حاکمان او امیران ترې مراد دي او د هغوی د اطاعت کولو حکم شـوی او دویم دا چې (هم اهل الفقه والدین) یعنې دا فقهاء او دیني مشران دي (۱۷: ۱۱۱).

امام فخرالدین رازي رحمة الله علیه د (اولی الامر) تفسیر د اهل الحل والعقد سره کړی دی، یعنې هغه وګړي، چې د مسلمانانو د چارو مسول او باوري استازي وي او پریکړې د هغوی په واک کې وي (۱۷: ۱۱۱).

له پورته څرګندونو معلومېږي، چې په پورته ایت کې اولی الامر عام لفظ دی او هر ډول د امر خاوندانو لپاره استعمالېږي، که څه هم هغه علمي او فقهي لارښوونکي وي، یا سیاسي مشران وي، یا قاضیان وي، یا نظامي منسوبین وي، یا د یوې ادارې یا سازمان مسولین وي، یا د کلیو، ولسوالیو او ولایتونو استازي وي؛ هر مسلمان چې په هر موقف د مسلمانانو د امر خاوند وي، نو اطاعت یې واجب دی، خو په دې شرط چې مسلمان وي او د الله تعالی جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعدار اوسي (۱۷: ۱۱۱).

د پورته ایت پر بنسټ که چېرته د یوې موضوع په اړه په قرانکریم او سنتو کې ښکاره نص وجود ونه لري، نو د وخت فقهاء، حکام او سیاسي زمامداران کولای شي، چې په ټولنه کې د مصالحو د ساتنې، د مفاسدو د مخنیوي، د عدالت، عمومي نظم او امنیت، ازادۍ او د اسلامي ټولنې د ترقۍ لپاره د شریعت په چوکاټ کې اصول او مقررات وضع کړي.

د پورته اختیار له مخې سیاسي مشران د یو اسلامي دولت د سیاسي سیستم د معیارونو او اراکینو د نظم، نسق او مخ ته وړلو لپاره وضعي اساسي قانون تدوینولای شي.

د اسلامي دولت د عامه چارو په داسې توګه تر سره کول، چې مصالح په کې خوندي او ضررونه په کې له منځه لاړ شي، ولې په دې شرط، چې د شریعت له حدودو او کلي اصولو څخه تېری ونه شي، اګر که د مجتهدینو امامانو له اقوالو سره موافق هم نه وي، د شرعي سیاست مفهوم افاده کوي (۳: ۱۵).

د دولت له عامه چارو څخه مراد سياسي، اقتصادي، تقنيني، قضايي او اجرائيوي موضوعات دي، يعنې د شرعي سياست پر بنسټ د دې مسايلو د تنظيم او مخ ته وړلو لپاره د شريعت په چوکاټ کې د قواعدو وضع کول کومه شرعي مانع نه لري.

علاء الدين رحمة الله عليه په خپل کتاب (معين الحکام) کې له امام قرافي رحمة الله عليه داسې نقل کړي: (په دې بايد پوه شئ، چې چارواکو ته په سياسي مسايلو کې پراخه واک نه يوازې دا چې له شريعت سره مخالف نه دی، بلکې شرعي قواعد يې په څو دلايلو ملاتړ کوي (۳: ۱۵).

**الف. د فساد د مخنيوي له پلوه:** د پخوا پر پرتله اوس فساد زيات او پراخه شوی او په نويو بڼو راڅرګند شوي، پر همدې بنسټ د اوسني فاحش فساد د مخنيوي لپاره اړتيا ليدل کېږي، چې د شريعت د حدودو دننه نوي اصول او مقررات وضع شي (۳: ۱٦).

**ب. د مصلحت مرسله د تامين له پلوه:** يعنې هغه مصلحت چې شارع يې نه د اعتبار او نه هم الغاء حکم کړی وي، ډېرو علماوو منلی او د هغې په عمل يې ټينګار کړی، صحابه و هم په ډېرو چارو کې مطلق مصلحت عملي کړی، لکه د مصحف ليکل، د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه لورې له ځان څخه وروسته حضرت عمر رضی الله عنه د خليفه په توګه ګمارل، د ديوانونو تدوين، د سکې، زندان او داسې ډېرو نورو نويو چارو تر سره کول، چې نه يې مخکې کوم مثال درلود او نه يې کوم شاهد، بلکې مطلق مصلحت به يې کاروه (۳: ۱٦).

**ج.** شريعت د روايت په پرتله د شهادت (ګواهي) په قبلولو کې ډېر احتياط کړی، د دښمنۍ له وېرې يې ورته تعدد او حريت شرط وګرځول، مګر په ډېرو تړونونو کې يې له اسانتيا څخه کار اخيستی، لکه عاريت، مساقات او داسې نورو کې د زنا تور يې

د څلورو تنو له ګواهۍ پرته نه دی منلی او په وژنه کې یې د دوه تنو ګواهي هم منلې ده، ځکه هدف د جرم پېټول دي که څه هم قتل له زنا درونږ دی (۳: ۱۶).

ابن قیم رحمة الله علیه په خپل کتاب (الطرق الحکمیة) کې له ابن عقیل څخه نقل کړی: (سیاست هغه فعل ته وايي، چې خلک یې په تر سره کولو سره اصلاح ته نیږدې او له فساده لرې کیږي، که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وي وضع کړی او نه یې په اړه وحې نازله شوې وي او څوک چې وايي، د شریعت له ویلې خبرې پرته عمل ته سیاست نه ویل کیږي، هغوی خپله هم تېروتي او هم یې په صحابه کرامو تېروتنه تپلې ده، ځکه د خلفای راشدینو په دور کې داسې چارې تر سره شوي، چې د سنتو هیڅ عالم ترې سترګې نه شي پټولای، لکه د حضرت علي رضی الله عنه له لورې د زنادقه وو سوځول، د حضرعثمان رضی الله عنه له لورې د نورو مصاحفو سوځول او د حضرت عمر رضی الله عنه له لورې د نصر بن الحجاج له هېواده شړل (۳: ۱۷- ۱۸).

د پورته توضیحاتو له مخې دې پایلې ته رسیږو، چې د اسلامي نظام چلوونکي د دولتي او عامه چارو د تنظیم او بڼه مخ ته وړلو لپاره کولای شي، چې د اسلامي شریعت په چوکاټ کې اساسي قانون تدوین او رامنځته کړي.

۲. په قرانکریم کې د دولت د چارو د سمبالښت لپاره یوازې ثابت، عمومي او کلي اصول ذکر شوي، دا هغه بنسټونه او قواعد دي، چې په هر زمان او مکان کې د تطبیق وړ وي، مګر هغه تفصیلي او جزوي حکمونه، چې د زمان او مکان په بدلون سره د تغیر ایجاب کوي، په دې موجب قرانکریم ترې سکوت اختیار کړی، چې د هر وخت وګړي یې د خپلو شرایطو، حالاتو او مصالحو پر بنسټ تنظیم کړي، لکه قرانکریم د حکومت بڼه نه ده وړاندې کړې او نه یې د دولت د

رئيس او اهل الحل والعقد د ټاکلو طريقه ښودلې، مګر د هغو ثابتو او کلي اصولو يادونه يې کړې، چې بايد هر اسلامي نظام يې په نظر کې ونيسي او د هرې زمانې له خلکو سره جوړ راشي (۳: ۱۹).

لکه عدل يې مقرر کړی: وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ (سورت النساء، ايت: ۵۸)

**ژباړه:** د خلکو ترمنځ پرېکړه په انصاف سره کوئ (۲: لومړی ټوک: ۴۸۸).

شوری يې ټاکلې فرمايي: وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ ( سورت ال عمران، ايت:).

**ژباړه:** په هر کار کې مشوره کوئ (۲: لومړی ټوک: ۳۸۸).

مساوات يې ټاکلی، فرمايي: إِنَّمَا الْمُومِنُونَ إِخْوَةٌ( سورت الحجرات، ايت: ۱۰)

**ژباړه:** مومنان سره ورونه دي (۲: دويم ټوک: ۱۲۱۰).

له دې بنسټونو پرته يې تفصيلي او جزوي حکمونه اولی الامر ته سپارلي، چې د حکومت بڼه او خپلې چارې داسې تنظيم کړي، څو د دوی له حالاتو او مصالحو سره سم وي، خو چې د عدل، شوری او مساوات له حدودو تېری ونه کړي.

د اسلام له نظره په حاکمانو مشوره او په امت/ملت باندې نصيحت واجب دی، ځکه اسلام نيابي نظام واجب ګرځولی(نصيحت او مشوره يوازې يوه ځانګړې ډله کولای شي)؛ دا چې مشوره او نصيحت په حاکمانو او امت/ملت باندې واجب او د يوې ځانګړې ډلې پرته يې بشپړېدل ناشوني دي، نو د (**مالايتم الواجب الا به فهو واجب**)، متفق عليه، اصل پر بنسټ پر ټول امت/ملت د يوې ځانګړې ډلې ټاکل او په دنده ګمارل واجب دي (۳: ۳۲).

الله تعالی جل جلاله شورا باندې امر کړی، مګر تشريح يې نه ده ورکړې، تر څو په هر امت/ملت کې حاکمان د خپلو شرايطو او حالاتو سره سم تنظيم کړي (دوی به د

چارواکو او کار کوونکو د ټاکلو څرنګوالی، شرایط، دندې، واکوونه، او د خلکو له لورې چارواکو ته د نصیحت د ترسره کولو کیفیت او امت/ملت ته د چارواکو د حساب ورکوونې څرنګوالی دقیقاً ټاکي)، د دې تر څنګ د بیعت څرنګوالی، شرایط او د اړونده ټولو امورو تنظیم يې د هرې زمانې د شرایطو او حالاتو تابع ګڼلی دی (۵: ۳۵، ۵۰-۶۸).

په اسلامي شریعت کې ټول جرایم په درې برخو وېشل شوي دي:

هغه جرایم چې مستوجب د حدودو دي.

هغه جرایم چې مستلزم د قصاص او دیت دي.

هغه جرایم چې قابل د تعزیراتو دي (۱۲: ۷۶).

البته د حدودو، قصاص او دیت مستوجب جرایم او جزاګانې په کتاب الله او شرعي نصوصو کې وجود لري، خو د تعزیري جرایمو او جزاګانو واک اولی الامر ته ورکړل شوی دی، یعنې اولي الامر کولای شي، چې یو عمل د جرم په حیث وپېژني او داسې جزا ورته وټاکي، چې مصالح خوندي او د مفاسدو مخنیوی وشي او د دې د ټاکلو واک؛ ځکه اولي الامر ته ورکړل شوی، چې د هر زمان او مکان د شرایطو او حالاتو سره سم مناسبه پرېکړه په کې وکړي، په دې برخه کې هم الله تعالی جل جلاله عام اصل بیان کړی، چې د هرې زماني له شرایطو سره سمون خوري او هغه دا چې جزا باید د جرم سره متناسبه وي (۱۲: ۷۷).

الله تعالی جل جلاله فرمایي: وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم (سورت النحل، ایت: ۱۲۶).

**ژباړه:** که چېرته یې تاسې وزورولئ، تاسې یې هم وزوروئ (۲: لومړی ټوک: ۱۵۹۶).

په بل ځای کې فرمایي: فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ (سورت البقره، ایت: ۱۹۴)

**ژباړه:** که پر تاسې یې زیاتی وکړ، نو تاسې هماغسې زیاتی ور سره وکړئ (۲: لومړی ټوک: ۱۴۸).

د دې ترڅنګ د معاملاتو په اړه (بیعې، اجارې، رهن او داسې نورو) په اړه په قرانکریم کې عمومي حکم راغلی، الله تعالی جل جلاله فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ (سورت النساء، ایت: ۲۹)

**ژباړه:** ای مومنانو! په خپلو مینځو کې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر خورئ یې، چې راکړه ورکړه د دواړو خواوو په خوښې سره (په روا توګه) وي (۲: لومړی ټوک: ۴۶۰).

مګر د معاملاتو په اړه د تشریحي حکمونو واک یې اولی الامر ته ورکړی، چې د خپلو خلکو له حالاتو سره سم یې تنظیم کړي. همدارنګه د هغو معاملاتو څخه یې هم مخنیوی کړی، چې د شخړې، دښمنۍ او کرکې لامل ګرځي سود او قمار یې د ضرر پر بنسټ حرام کړي.

د دې ترڅنګ قرانکریم په بهرني سیاست کې له نورو خلکو سره د مسلمانانو د اړیکو په اړه له اجماله کار اخیستی، الله تعالی جل جلاله فرمایي: لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ(۸) إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (سورت الممتحنه، ایت: ۸ - ۹)

**ژباړه:** الله تعالی تاسې له دې خبرې نه منعه کوي، چې تاسې له هغو خلکو سره د نیکۍ او عدل چلند وکړئ، چې هغوی د دین په باب له تاسې جنګ نه دی کړی او تاسې یې له خپلو کورونو څخه نه یې ویستلي، الله تعالی عدل کوونکي خوښوي، الله

تعالی چې له کومې خبرې نه تاسې منعه کوي، هغه دا ده چې تاسې له هغو خلکو سره دوستي وکړئ، چې هغوی له تاسې سره د دین په معامله کې جنګېدلي دي او تاسې يې له خپلو کورونو نه ویستلي يئ او ستاسو په وئستلو کې يې يو د بل ملاتړ کړی دی، له هغوی سره چې کوم کسان دوستي وکړي، همغوی ظالمان دي (۲: دویم ټوک: ۱۴۱۰-۱۴۱۱).

قرانکریم د عامو چارو تشریح نه ده ورکړې، دا يې نیمګړتیا نه، بلکې عجیبه حکمت دی، چې د هر وخت خلکو ته يې واک ورکړی، څو د وخت د حالاتو او مصالحو سره سم مناسب تفصیل په اړونده موضوعاتو کې وکړي، خو چې له ثابتو قواعدو او حدودو څخه په کې تېری ونه کړي، دغه ځانګړنه د تقنین په برخه کې د اسلامي شریعت د کمال نښه ده، چې د ټولو خلکو مصالح ورته د منلو وړ او له هیڅ اصلاح څخه نه تېرېږي.

فلهذا د مصالحو د ساتنې او مفاسدو د مخنیوي او د عامه چارو د نظم ونسق په منظور د شریعت د حدودو په داخل کې د اساسي قانون د تدوین پر وړاندې کومه شرعي مانع وجود نه لري.

۳. د اسلامي شریعت د صریحو حکمونو پر بنسټ د حاکمانو او امت/ملت ترمنځ اړیکې باید تعریف وي، یعنې د حاکمانو د واک ساحه باید حدودات ولري او د امت/ملت حقوق او دندې باید د دولت پر وړاندې معلومې وي، ځکه اسلامي نظام یو مشروع او قانوني چوکاټ دی او د دې نظام غوښتنه همدا ده، چې ټولې چارې او فعالیتونه يې د شریعت، اصولو او مقرراتو تابع واوسي (۳: ۲۷).

د سیاسي واک د حدودو ټاکل یو مهم او لازم امر دی، ځکه که د دولتي چارواکو واکونه او مسولیتونه معلوم نه وي، نو له دولتي واک څخه د پراخې سوئ استفادې

زمينه مساعدېږي او امکان لري له دې امله د اتباعو حقوق ضايع او ازادي پرته له کوم شرعي او قانوني موجب څخه سلب شي.

د اساسي حقوقو د پوهانو له نظره په يوه نقطه کې د واک د راټولېدنې د مخنيوي، د سياسي واک د محدوديت او د اتباعو د حقوقو او ازاديو د خونديتوب لپاره بهتره او لازمه ده، چې اساسي قانون تدوين شي، ځکه په دې سره واک قانونيت او مشروعيت تر لاسه کوي، په کوم څه چې له هر څه زيات اسلام ټينګار کوي.

۴. الله تعالی جل جلاله د قرانکريم د سورت الحديد په ۲۵ نمبر ايت کې فرمايلي:
لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ (سورت الحديد، ايت: ۲۵)

**ژباړه:** خامخا په تحقيق لېږلي وو، موږ پيغمبران خپل سره له ښکاره دلايلو او نازل کړی وو موږ له هغوی سره کتاب او ميزان تله (قواعد د عدل) لپاره د دې، چې ودرېږي خلک په انصاف باندې (۲: دويم ټوک: ۱۳۵۵- ۱۳۵۶).

د ځينو علماوو له نظره له پورته ايت څخه درې قواوې (مقننه قوه، اجرائيه قوه او قضايه قوه) استنباطېږي او دا په دې باندې دلالت کوي، چې دولتي واک په درې برخو وېشل شوی دی او له دې څخه دا هم څرګندېږي، چې د درې ګوونو قواوو او د هغوی ترمنځ د تفکيک بنسټ اسلام دی.

که څه هم په کلياتو کې د مقننه، اجرائيه او قضايه قوې دندې معلومې دي، ولې د هرې قوې د دندو د تشريح، کار د څرنګوالی او ترمنځ د اړيکو لپاره اړينه ده، چې يو سياسي سند (اساسي قانون) تنظيم او رامنځته شي.

۵. د مدينې منورې ميثاق(تړون)، چې د مسلمانانو او يهودانو ترمنځ لاسليک شو، د لومړني اسلامي دولت لپاره يې د اساسي قانون حيثيت درلود؛ ځکه د مدينې منورې په ميثاق کې د اسلامي دولت د سياسي سيستم ټول معيارونه، اصول، شرايط... و غيره درج او وضع شوي ول ، مثلاً د همدې ميثاق په موجب د لومړي ځل لپاره غير مسلمانانو يو اسلامي دولت په رسميت وپېژند، له دې علاوه د ذکر شوي ميثاق پر بنسټ اسلامي دولت په يو سلسله دندو مکلف شو، لکه د ملي يووالي ساتنه، د بې وزله وګړو لاس نيوی، د خپلې خاورې څخه دفاع، ښه ګاونډيتوب، د عدالت تامين، د اسيرانو د حقوقو ساتنه، د جنګ مخنيوی او داسې نور. همدارنګه د مدينې منورې په ميثاق کې د اسلامي دولت د اتباعو لپاره يو لړ بنسټيز حقوق او مکلفيتونه وضع شول، لکه د ژوند حق، د عقيدې ازادي، د جرايمو او جزا ګانو د قانونيت پرنسيپ، د جرايمو او جزا ګانو د شخصي والي پرنسيب، پناه ورکول، د مساوات حق، د خپلې خاورې څخه دفاع، د عامه نظم او امن ټينګښت، د اصولو او مقرراتو درناوی، د خلکو سره مرسته او درناوی او داسې نور.

د پورته دلايلو له مخې دې پايلې ته رسيږو، چې د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوين کومه شرعي مانع نه لري، ولې په دې شرط چې د اسلامي شريعت د حکمونو په نظر کې نيولو سره د اسلامي ټولنې د مصالحو د ساتنې، مفاسدو د مخنيوي، عدالت، عمومي نظم او امن او د اتباعو د حقوقو او ازاديو د تامين لپاره اوسي.

**پایله**

دغه علمي ـ څېړنیزه مقاله چې د اسلام له نظره د اساسي قانون د تدوین اړتیا، دلایلو او شرایطو باندې تر سره شوې، له تکمیل څخه یې لاندې پایلې لاس ته راغلې:

۱. د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوین کومه شرعي مانع نه لري، ولې په دې شرط چې د اسلامي شریعت د حکمونو په نظر کې نیولو سره د اسلامي ټولنې د مصالحو د ساتنې، مفاسدو د مخنیوي، عدالت، عمومي نظم او امن او د اتباعو د حقوقو او ازادیو د تامین لپاره اوسي.

۲. اساسي قانون د یوې ټولنې د سیاسي ژوند د یوې مرحلې پای او د بلې مرحلې پیل دی او د دې ښودنه کوي، چې ملت ماضي تاریخ ته سپاري او د خپل سیاسي ژوند لپاره نوې طرحه منځته راوړي.

۳. اساسي قانون یو ملي میثاق او ګډ ارمان دی، چې د ملت ټول وګړي یو له بل سره ګنډي او د هغوی په منځ کې یووالی او همغږي پیاوړې کوي.

۴. په اساسي قانون کې په ټوله کې د یو دولت سیاسي اصول، تشکیلات، سلسله مراتب، درې ګوونې قواوې او د هغوی تر منځ اړیکې، د سیاسي واک حدود او د اتباعو بنسټیز حقوق او ازادي روښانه کېږي.

۵. اساسي قانون باید د یوې ټولنې د عیني ( دیني، مذهبي، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او اخلاقي) شرایطو په نظر کې نیولو سره تدوین شي، په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو کې اساسي قانون باید د اسلامي شریعت د حکمونو په حدودو کې رامنځته شي.

**مناقشه**

دکتور يوسف قرضاوي په خپل کتاب سياسي فقه کې حاکميت په دوه برخو وېشلی، يو تشريعي او د قانون جوړونې حاکميت او بل سياسي حاکميت دی؛ تشريعي او د قانون جوړونې حاکميت په دې معنی دی، چې د قانون جوړونې اعلی حاکم او اعلی شارع د الله تعالی جل جلاله ذات دی، يعنې امر او نهې کول، حلال او حرام ټاکل د هغه په واک کې دي، دغه ډول تشريعي حاکميت، چې د الله تعالی جل جلاله په ذات پورې اړه لري مطلق دی او د الله تعالی جل جلاله د وحدانيت له دلايلو څخه دی، خو تشريعي حاکميت د هغې قانون جوړونې مخه نه نيسي په کوم کې، چې الله تعالی جل جلاله انسان ته اجازه ورکړې، بلکې دا منع کوي، چې انسان د الله تعالی جل جلاله، له اجازې پرته په خپلواک ډول په تشريع او قانون جوړونه پيل کوي، مثلاً د عباداتو اړوند له ځانه کوم عبادت جوړ کړي، يا د اسلامي شريعت د ثابتو احکامو په زياتولو يا کمولو پيل وکړي. يا حرام حلال کړي او حلال حرام کړي، يا د عباداتو د مکان، زمان او جوړښت تغير باندې لاس پورې کړي، يا داسې قوانين وضع کړي، چې په ځرګند ډول د اسلام مبارک دين له اصولو يا روح سره په ټکر کې وي؛ له دې پرته حکام فقهاء او سياسي مشران د دولتي او عامه چارو د تنظيم او مخ ته وړلو، مصالحو د خونديتوب او مفاسدو د مخنيوي او د اسلامي ټولنې د پرمختګ لپاره کولای شي تقنين تر سره کړي. نو له دې څخه معلومېږي، چې د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوين کومه ستونزه نه لري او يوه مبرمه اړتيا ګڼل کېږي، ولې په دې شرط چې د اسلام شريعت د احکامو په نظر کې نيولو سره صورت ونيسي.

## پايله اخيستنه

اسلام يو کامل او شامل دين دی، يعنې هيڅ ډول نيمګړتيا نه لري او د ژوند ټول اړخونه سياست، اقتصاد، نړيوالې اړيکې، ټولنيز مسايل، اخلاقيات، اداب، ښوونه او روزنه، مدني او کورني مسايل... په برکې نيسي- بناء قرانکريم د انسانانو د ژوند د ټولو اړخونو لپاره بنسټ دی، ولې د اړونده مواردو په اړه په قرانکريم کې عمومي او کلي حکمونه راغلي او جزيات په کې نه دي ذکر شوي، چې دا يې نيمګړتيا او نقص نه، بلکې يو عجيبه حکمت دی، چې د هر وخت خلکو ته يې وخت ورکړی، څو د خپلو حالاتو او ظروفو سره سم تفصيل ورکړي، خو چې له ثابتو قواعدو او حدودو څخه په کې تېری ونه کړي؛ فلهذا مسلمانان کولای شي، چې د اسلامي دولت د چارو د تنظيم او مخ ته وړلو لپاره، د هغه زمان د شرايطو او غوښتنو مطابق د اسلامي شريعت په حدودو کې اساسي قانون وضع کړي.

## وړانديزونه

د دې علمي -څېړنيزې مقالې په پای کې لاندې وړانديزونه کوم او هيله لرم، چې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استادان، محصلين، مقننين او حقوقپوهان ترې په خپله مسلکي او کاري ساحه کې ګټه پورته کړي.

١. دا چې هېوادونه خپلواکۍ ته له رسېدو وروسته د اساسي قانون تدوين ته اړتيا پيدا کوي، پر همدې بنسټ بهتره به وي، چې د افغانستان اسلامي امارت هم د اساسي قانون په تدوين لاس پورې کړي.

٣. دا چې د اسلام له نظره د اساسي قانون تدوين اړتيا، دلايل او شرايط د اساسي حقوقو د بحث يوه مهمه موضوع ده، پر همدې بناء د دې موضوع د ښه روښانه کولو لپاره دې د اسلامي او شريعي سياست پوهانو، حقوق دانانو او ليکوالانو له لورې نورې ليکنې او څېړنې هم تر سره شي.

**اخځلیکونه**


۱. قرانکریم.

۲. د سعودي د حج او اوقافو وزارت. ( ۱۴۱۴ ه ق ). کابلی تفسیر، جلد(۱)(۲)، مدینه منوره.

۳. خلاف، عبدالوهاب. (۱۳۹۴هـ ش). شرعي سیاست، ژباړن: روح الله نجم، جلال اباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

۴. جایس، پیټر. (۱۳۸٦هـ ش). په لویدیز کې سیاسي چارې. ژباړن: احمد زبیر ژمن. خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني. چاپ ځای: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانگه، پېښور.

۵. زیدان، عبدالکریم. (۱۳۸٦ هـ ش). په اسلامي شریعت کې فرد او دولت. ژباړن: برکت الله مستعان. پېښور: قصه خوانۍ بازار، سبا کتابخانه.

٦. شریعت پناهي، سید ابوالفضل قاضي. (۱۳۹۳ هـ ش). حقوق اساسی و نهادهای سیاسی. چاپ هشتم. تهران: نشر میزان.

۷. شینواری، بشارت الله. (۱۳۹۴ هـ ش). د اساسي حقوقو عمومي اصول. جلال اباد: مېهن خپرندویه ټولنه.

۸. طباطبایی موتمنی، منوچهر. (۱۳۹۵هـ ش). حقوق اساسی (کلیات و رژیم های مهم سیاسی). چاپ: شانزدهم. تهران: نشر میزان.

۹. عبدالله، نظام الدین. ( ۱۳۹۴ش ). شرح مختصر- قانون اساسي افغانستان،چاپ اول،کابل:انتشارات سعید.

۱۰. عدلیې وزارت. (۱۴۴۴هـ ق). د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوی ریاست د دندو او واکونو قانون. پرلپسې شمېره: ۱۴۳۴.

۱۱. عوده، عبدالقادر. ( ۱۳۸۴ ه ش ). د اسلامي جنايي تشریع او وضعي قوانین، دويم چاپ، پېښور: د پیغام نشراتي مرکز.
۱۲. کاتوزیان،ناصر. ( ۱۳۸۱ ش ). فلسفه حقوق ( منابع حقوق )، جلد (۲)،چاپ دوم، تهران: شرکت سهامي انتشار.
۱۳. کاتوزیان،ناصر. ( ۱۳۸۵ش ). فلسفه حقوق ( منطق حقوق )، جلد (۳)،چاپ سوم، تهران: شرکت سهامي انتشار.
۱۴. کاتوزیان، ناصر. ( ۱۳۹۱ش ). مقدمه علم حقوق. چاپ هشتاد ویک، تهران: شرکت سهامي انتشار.
۱۵. قرضاوي، یوسف. (۱۳۹۴هـ ش). سیاسي فقه. ژباړن: شیراغا کریمي. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
۱٦. گوهر رحمن. (۱۴۳۰ هـ ق). اسلامي سیاست. ژباړن: قریب الرحمن سعید. پېښور: قصه خوانه، پیغام خپرندویه ټولنه.

دغه مخ لاسي خالي پرېښودل شوی.

**پوهنمل نور انور فاروقي**
حقوقي علومو ځانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، پکتیا پوهنتون
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال منګل شېرزاد

# د اسلامي فقهې او مروجو حقوقي نظامونو له نظره د سوداګریزې دعوې د مرور زمان څېړنه

**لنډیز**

دعوه د هغه استدلال، وینا او طلب څخه عبارت ده، چې د حاکم او قاضي په وړاندې ترسره کېږي، چې موخه یې په بل شخص باندې د خپل او یا د بل شخص د حق اثبات او دفاع ده. سوداګریزه ادعاء هرې هغې دعوې ته ویل کېږي، چې په سوداګریزو معاملاتو پورې اړه ولري او تجارتي مرور زمان بیا داسې پېژندلی شو، چې په یوه موضوع کې د یوې خاصې او معلومې مودې له تېرېدو وروسته د دعوې د نه اورېدو څخه عبارت دی، چې مطالبه یې نه وي شوي. دا موضوع په ډېرو حقوقي نورمونو کې تعریف شوې، چې تقریباً عام مفهوم یې یوشان دی.

د دې لیکنې اهمیت په دې کې دی، چې داسلامي فقهې له نظره دعوه د وخت په تېرېدو سره نه اورېدل کیږي په دغه حکم کې د نظر اتفاق دی، مګر د مودې په اړه یې مختلف نظریات موجود دي، ۳۳ کاله، ۳۶ کاله او یا هم ۳۰ کاله ټاکل شوي دي. داسلامي فقهې او د افغانستان د مدني قانون او د تجارت داصولنامې له نظره حق د مرور زمان تابع نه دی، یعنې دوخت په تېرېدو سره حقوق( حق الله او حق العباد) نه ساقط کیږي، بلکې دعوه نه اورېدل کېږي، چې دا دریځ بیا د رومن جرمن او کامن لا پیرو

هېوادونو کې توپير کوي، په دې معنی چې حقوق د وخت په تېرېدو سره سقوط مومي. په دې اړه ځانگړې ليکنه په پښتو ژبه کې شتون نه لري، بلکې مواد يې متفرقه مقالو او قوانينو کې ځای پرځای شوي، چې د دې سرچينو څخه په دي ليکنه کې د اصلي سرچينو په حيث استفاده شوي د ليکنې ميتود تشريحي او توضيحي دی.

د افغانستان د تجارت د ۱۳۳۶ هـ.ش د اصولنامې د تجارتي دعوې لپاره درې ډوله مرورزمان مقرر کړی دی.

۱. درې کاله

۲. يو کال

۳. شپږ مياشتې

چې د دې مودو له تېرېدو وروسته دعوه د اورېدو وړ نه ده، مصر هم په موده کې دافغانستان سره ورته دی. په رومن جرمن حقوقي نظام پيرو هېوادونو کې لکه په فرانسه کې نهايي موده پنځه(۵) کاله، په ايټاليا کې نهايي موده لس (۱۰) کاله ده او په ترکيه کې نهايي موده هم پنځه(۵) کاله ده. په کامن لا پيرو هېوادونو کې لکه انگلستان او استراليا کې نهايي موده دولس کاله ده او په هند کې بيا نهايي موده درې کاله ده، له دې پورته مودو له تېرېدو وروسته تجارتي دعوه په تجارتي محاکمو کې د اورېدو وړ نه ده.

په پايله کې ثابته شوه، چې د مودې په اړه اسلامي فقه او حقوقي نظامونه واحد دريځ لري. په اسلامي فقه کې حق د وخت په تېرېدو سره له منځه نه ځي اما په حقوقي نظامونو کې بيا د وخت په تېرېدو سره د عوه او حق سقوط کوي.

**کليدي کلمې:** تجارتي دعوه، دعوه، د دعوې نه اورېدل او مرور زمان

## سریزه

نحمده ونصلي علي رسوله الکریم اما بعد فا اعوذبا الله من الشیطان الرجیم ط بسم الله الرحمن الرحیم، دا چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی، نو د خپل ژوند د تېرولو لپاره یو لړ اړتیاوې لري، چې ځینې یې په خپله په طبعي شکل ټولنه کې شتون لري، لکه اوبه، اکسیجن او نور مګر ځینې اړتیاوې داسې دي چې کار او فعالیت ته ضرورت لري .

په اوسنیو حالاتو کې په یوازې ډول نه شو کولی، چې خپلې ټولې مادي اړتیاوې په ښه شکل پوره کړو، نو اړینه ده چې د نورو سره د معاملاتو او تجارت له لارې خپلې مادي ستونزې حل او خپله بقاء تضمین کړو.

نن سبا د هېوادونو او ملتونو ترمنځ تجارتي اړیکې ډېرې پراخې دي او هر هېواد کوښښ کوي، څو له یوې خوا خپلو صادراتي توکو ته بازار پیدا کړي او له بلې خوا هغه څه ته چې اړتیا لري، له نورو هېوادونو څخه یې خپل هېواد ته وارد کړي. له بده مرغه ډېری وخت په تجارتي او اقتصادي اړیکو کې شخړې او منازعات رامنځته کیږي او اړخونه یو د بل په مقابل کې دعوې اقامه کوي، ترڅو شته منازعات حل او حق حقدار ته وسپارل شي، خو د دعوې اقامه کول هم د یولړ زماني محدودیتونو تابع ده، چې همدا محدودیتونه په دې څېړنه کې داسلامي فقهي او مروجو حقوقي نظامونو له نظره بحث شوي.

## د څېړنې اهمیت

هره څېړنه باید د ټولنې د جدي اړتیاوو پر بنسټ ترسره شي، ځکه د څېړنې عمده موخه د ټولنې د اړتیاوو پوره کول دي. په همدې بناء یاده څېړنه هم د ټولنې د اړتیا پر بنسټ ترسره شوې، هغه په دې دلیل که موږ د افغانستان حالت او وضعیت په دقیق

ډول مطالعه او مشاهده کړو، نو دې پایلې ته رسېږو، چې موږ دافغانستان خلک له ډېرو جنګونو، وحشتونو، ځورونو، ناخوالو، بدبختیو، فقر، بې عدالتیو او ظلمونو سره مخ شوي یو چې له امله مو ټول او یا اکثره کاروبارونه له منځه تللي، غصب شوي او یاهم د نورو بېلا بېلو ناخوالو سره مواجه شوي، چې له نېکه مرغه اسلامي فقهې او وضعي حقوقي نظامونو دې مسلې ته ځانګړې پاملرنه کړې او د پورته موجه دلایلو د موجودیت په صورت کې د خلکو کاروبار او سوداګري د مرور زمان لاندې نه راځي یعنې د خلکو تجارتي دعوې په محکمو کې اورېدل کېږي، ترڅو خپل حقه حقوق ترلاسه کړي.

مرورزمان د تجارتي دعوو د نه اورېدو او یا د حق د اسقاط له اسبابو څخه دی، چې د اوسني عصر په پراخو سوداګریزو معاملاتو کې هم په ملي کچه او هم په نړیواله کچه ډېر واقع کېږي او له مخې یې ځینې سوداګریزې شخړې حل کېږي، نو همدې اړتیا ته په کتلو سره داسې استدلال کېږي، چې د مرورزمان موضوع د خاص ارزښت څخه برخمنه ده، نو د یادې موضوع د روښانه کولو لپاره به لیکنه په هیڅ وخت بې ګټې نه وي.

همدارنګه نن سبا په ملي او نړیواله کچه سوداګري د هېوادونو، نړیوالو سوداګریزو شرکتونو او مؤسسو ترمنځ روانه ده او لا د پراختیا په حال کې ده، چې له نېکه مرغه زموږ هېواد او د هېواد سوداګر مو هم د دې کاروان یوه برخه دي، دا چې په سوداګریزو معاملاتو کې سوداګریزې دعوې او شخړې معمول دي، نو دا ډېره مهمه ده، چې د سوداګریزو دعوو په مرورزمان باندې څېړنه وشي، د هغه اصول، شرایط، مودې(وختونه) او نورې اړونده برخې او قواعد یې رابرسېره شي، څو له دې لارې وکولی شو په دغو اړوندو برخو کې د ستونزو رابرسېره کېدو پر مهال د ښکېلو خواوو

سره مرسته کوونکي واقع شي او پر مټ یې پېښې شوې ستونزې او مسایل حل او فصل شي.

**د څېړنې مسله**

په افغانې ټولنه کې د سوداګریزو دعوو د مرور زمان په اړه په کمه اندازه پوهاوی موجود دی په ځانګړي ډول د سوداګرو او کسبګرو په برخه کې. همدارنګه په افغاني ټولنه کې حقوقي او عدلي بنسټونه په دې برخه کې په کافي اندازه حقوقي پوهاوی نه لري، له بلې خوا د اسلامي فقهې دریځ د حقوقي نظامونو سره توپیر لري، ځکه چې په حقوقي نظامونو کې د وخت په پوره کېدو سره د مرور زمان په سبب حق سقوط پیداکوي اما په اسلامي فقه کې بیا موضوع برعکس ده. په دې معنی چې په اسلامي فقه کې د وخت او مودې په تېرېدو سره حق سقوط نه پیدا کوي، فلهذا لازم ده چې د افغانستان سوداګریز حقوقي چوکاټ د مرور زمان په برخه کې د اسلامي فقهې مطابق برابر او غني شي.

دا چې سوداګریز مرور زمان یوه مهمه موضوع ده؛ ځکه چې سوداګري دې ته اړتیا لري، څو په چټک ډول حرکت وکړي. بناءً دې ته اړتیا ده، چې د سوداګریزې د عوې د مرور زمان لپاره داسې قید په حقوقي لحاظ تعین شي چې مستند معقول او د ستونزو د حل سبب شي.

همدارنګه بله مهمه مسله دا ده، چې په حقوقي او قضایي بنسټونو کې د سوداګریزې د عوې د مرور زمان مودې په پوره کېدو سره د خلکو حقوق هم ضایع کېږي او دا یو عام مفهوم دی په داسې حال کې چې مرور زمان د حق العبد د سقوط سبب نه کېږي.

د دې ترڅنګ په حقوقي لحاظ باید ځینې وختونه او حالات باید د مرور زمان په موده کې حساب نه شي په ځانګړي ډول په افغانستان کې چې تقریباً پنځه لسیزې په

مسلسل ډول د جګړو، تاوتریخوالي او بېلابېلو مصیبتونو کوربه دی چې له امله حقوقي او عدلي نظام هم په قانوني چوکاټ کې د خلکو دعوو ته رسیده ګې نه ده کړې.

## د څېړنې داختیار عوامل

دا څېړنه نظر لاندې دلایلو ته تاکل شوې:

۱. د سوداګریزې دعوې په اړه داسلامي فقهې دریځ روښانه کول.

۲. دافغانستان په حقوقي نظام کې د سوداګریزې دعوې پېژندنه.

۳. د مروجو حقوقي نظامونو (کامن لا او رومن جرمن) حقوقي نظامونو له نظره د سوداګریزې دعوې د مرور زمان د مودې معلومول.

## د څېړنې پوښتنې

۱. سوداګریزه دعوه څنګه تعریف او توضیح کېدای شي؟

۲. په اسلامي فقه کې د سوداګریزې دعوې مرور زمان څومره دی او ایا په مرور زمان سره حق ساقط کېږي کنه؟

۳. مروج حقوقي نظامونه د سوداګریزې دعوې د مرور زمان په اړه څه ډول احکام لري؟

۴. اسلامي فقه او مروج حقوقي نظامونه د سوداګریزې دعوې د مرور زمان په اړه کوم توپیرونه او ورته والي لري؟

**فرضيه**

که فرض کړو چې په اسلامي فقه او مروجو حقوقي نظامونو کې د سوداګريزې دعوې مرور زمان مشروع او جايز عمل دی، نو د دې حقوقي نظامونو له نظره د سوداګريزې دعوې د مرور زمان لپاه ټاکل شوې مودې يو شان دي او که فرق لري.

**موخې**

د دې څېړنې اساسي موخې او اهداف په لاندې ډول دي:

۱. اوسمهال دې ته ډېره اړتيا محسوسېږي، څو د سوداګريزو دعوو د مرورزمان په اړه په پښتو ژبه له علمي اړخه بحث وشي، ترڅو د سوداګريزو دعوو د مرورزمان په اړه کامله پوهه ترلاسه شي؛ ځکه پرته له سوداګرۍ څخه د انساني ژوند پايښت دوام نه کوي او نه هم د انساني ژوندپايښت تضمين کېږي، نو بناءً د دې څېړنې اساسي موخه د سوداګريزې دعوې د مرور زمان څېړل دي.

۲. دا چې الحمدالله افغاني ټولنه يوه مسلمانه ټولنه ده بناءً لازمه ده، چې ټول معاملات يې د اسلامي فقهې د اصولو او ارشاداتو په رڼا کې ترسره شي، نو پکار ده چې د سوداګريز مرورزمان په اړه د اسلامي فقهې دريځ روښانه شي، ترڅو د دې اصولو مطابق د خپلو سوداګريزو دعوو غوښتوونکي شي.

۳. د دې ترڅنګ بله عمده موخه د وضعي حقوقي نظامونو موقف هم بايد د سوداګريز مرور زمان په اړه روښانه او څرګند شي؛ ځکه د وضعي حقوقي نظامونو شتون دچارو د تنظيم لامل کېږي او پرته له دې څخه په معاملاتو کې بې نظمي او ګډ ودي منځته راځي، نو په همدي اساس دا مهمه موخه ده، چې د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې له مخې د سوداګريزو دعوو مرورزمان روښانه

شي او بیا د افغانستان د قانون او اسلامي فقهې دریځ د کامن لا او روم جرمن حقوقي سیستمونو کې د سوداګریزو دعوو د مرورزمان سره پرتله شي.

**مواد او کړنلاره**

د دې کتابتوني څېړنې په لیکلو کې د څېړنې له تحلیلي او توصیفي میتود څخه استفاده شوې او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

**پخوانیو لیکنو ته لنډه کتنه**

دا چې د سوداګریزې دعوې مرور زمان څېړل مقایسوي بڼه لري بناءً د دې موضوع په اړه کوم ځانګړی کتاب په افغاني ټولنه کې شتون نه لري، مګر ځینو مقالو کې په عام ډول څه ناڅه مسایل شته او په دې څېړنه کې ورڅخه ګټه اخیستل شوې، همدارنګه د موضوع جوړښت او محتوی ته په کتو سره د کامن لا او روم جرمن حقوقي سیستمونو د اوله درجه پیرو هېوادونو د قوانینو څخه هم ګټه اخیستل شوې او اړونده ټول موضوعات په دې لیکنه کې د سرچینو په ذکر سره ځای په ځای شوي.

په پښتو او دري ژبه کې ځینې غوره علمي لیکنې شته، چې مدني مرورزمان او د هغه حکم یې په عام ډول سره د افغانستان د قانون او اسلامي فقهې له نظره روښانه کړی، چې د دې لیکنو څخه په لاندې ډول یادونه کېږي:

دوکتور محمد مصطفی نیازي کتابونه (د اسلام قضایي نظام او عیني حقوق) تر عنوان لاندې دوه بېلا بېل کتابونه دي، چې په ماخذونو کې ذکر شوي دي .

همدارنګه د دوکتور علی محمد میرزایی کتاب (حقوق تجارت افغانستان) تر عنوان لاندې لیکلی، چې د یادې موضوع په اړه په کې یو اندازه معلومات شته، خو کافي نه دي.

همدارنګه دافغانستان مدني قانون د مدني مرور زمان په اړه په (۹۶۵) ماده کې یادونه کړې او ترڅنګ یې د افغانستان د تجارت اصولنامې هم د سوداګریزې دعوې د مرور زمان څخه په (۵۳۸) ماده کې یادونه شوې.

## په سوداګریزه دعوه کې مرورزمان

وړاندې له دې چې په سوداګریزه دعوه کې مرور زمان تر څېړنې لاندې ونیسو لومړی اړینه ده چې دعوې، سوداګریزې دعوې او مرورزمان په لغوي او اصطلاحي لحاظ تعریف کړو. نو په همدې اساس لومړی دعوه، سوداګریزې دعوې او مرورزمان معرفي کوو او له هغې وروسته په دویمه برخه کې په سوداګریزو دعوو کې مرورزمان داسلامي فقهې، د افغانستان د تجارت د اصولنامې، د رومن جرمن او کامن لا د حقوقي نظامونو له نظره په مقایسوي شکل په پوره تفصیل سره تربحث لاندې ونیسو.

## لومړی مبحث: د دعوی تعریف

په دې بحث کې لومړی د دعوې لغوي مفهوم روښانه کوو او په دویم قدم کې د دعوې اصطلاحي مفهوم څېړو، چې وضاحت یې په لاندې ډول دی.

دعوه په لغت کې ګڼ شمېر معناګانې لري، خو دلته له هغې معنی څخه یادونه کوو، چې د څېړنې د موضوع سره اړخ لري په دې اړه ابن عقیل وایي، چې د عوه دغوښتنې او طلب په معنی ده (۱ : ۱۶۳).

لکه څنګه چې الله تعالی جل جلا له په قران کریم کې فرمایلي دي { وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ} (سورت یسن، آیت ،۵۷).

**ژباړه:** د دوی لپاره هغه څه دي، چې دوی یې غواړي ادعاء یې کوي، غوښتنه او طلب یې کوي.

د دعوې داصطلاحي تعریف په اړه حقوقي نورمونه او علماء بېلا بېل لید لوري لري، چې د عام مفهوم له مخې یې معناوې ورته او مشابه دي، چې د لاښه وضاحت لپاره د ځینو مهمو تعریفاتو څخه په لاندې ډول یادونه کوو: **دعوه په قضاء کې داسې تعریفېږي:** د عوه هغه استدلال او وینا ده، چې له مخې یې یو څوک په بل چا باندې

د حق د ثابتولو غوښتنه کوي. د دې ترڅنګ د مجلة الاحکام په (۱۶۱۳) ماده کې دعوه داسې تعريف شوې. " د حاکم په وړاندې د بل شخص څخه د حق طلب او غوښتنه ده" (۱۲ : ۳۲۰).

همدارنګه د افغانستان د مدني محکمو د اصولو د قانون په پنځمه ماده کې د دعوې د تعريف په اړه داسې وضاحت راغلي دی، ((دعوی په محکمه کې د بل شخص څخه د حق غوښتل دي)) (۶ : ۵ ماده).

د دعوې د پورتنيو تعريفونو په نظر کې نيولو سره کولای شو، چې دعوه په دې ډول هم تعريف کړو، چې دا تعريف نسبتاً پورتنيو تعريفونو ته مشرح او کامل دی.

دعوه د هغه استدلال، وينا او طلب څخه عبارت ده، چې د حاکم او قاضي په وړاندې ترسره کيږي چې موخه يې په بل شخص باندې د خپل او يا د بل شخص د حق اثبات او دفاع ده.

**لومړی مطلب : سوداګريزې دعوې تعريف**

سوداګريزه ادعاء هرې هغې دعوې ته ويل کيږي، چې په سوداګريزو معاملاتو پورې اړه ولري. د دې تعريف پر بنسټ سوداګريزه دعوه ټولو هغو ادعاګانو ته شامليږي، چې په سوداګريزو معاملاتو پورې اړه ولري او د سوداګروو بانکدارانو او سرمايه ګذارانو تر منځ وي. همدارنګه لاندې ادعاو ته هم شامليږي لکه، د سهم د انتقال قراردادونه، سوداګريز اسناد، د مشارکت اسناد، د ګډې پانګې اچونې قراردادونه، د صنعتي مالکيت حقوق او بيمه. دغه تعريف کېدای شي، چې د افغانستان په حقوقي نظام کې د تجارتي ادعاء د مفهوم د يو جامع تعريف وړاندې کولو الګو واوسي. په دې بناء سوداګريزه دعوه هغه طلب ته ويل کيږي، چې د سوداګريزو معاملاتو څخه رامنځته شوې وي. د ق. ق. ت. ا. م درېيمه ماده، ۱۹ فقره سوداګريزه معامله داسې

تعریفوي: ( د اړیکو او مناسباتو په شمول ټول مسایل چې د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکي دي او د سوداګرو او متشبثینو تر منځ د قرارداد او یا هم سوداګریز عرف په اساس صورت نیسي). د دې تعریف په اساس سوداګریزه دعوه هغې ادعاء ته ویل کیږي، چې د سوداګرو او متشبثینو تر منځ له تجارتي او اقتصادي اړیکو یا مناسباتو څخه رامنځته شوې وي (۱۴: ۱۲).

البته د مصادیقو او مثالونو د تعیین لپاره باید د تجارت د اصولنامې د ۱۵ نه تر ۱۹ مادې موادو ته مراجعه وشي.

**دویم مطلب: د مرور زمان پېژندنه**

په دې بحث کې به د مرورزمان لغوي او اصطلاحي پېژندنه د اسلامي فقهې او قوانینو له نظره وڅېړو.

**لومړی جز: د مرورزمان لغوي مفهوم**

مرور زمان ته په عربي ژبه کې تقادم الزمان، سبق الزمان او د العهد مودې تېرېدلو ته هم وایي په لغوي لحاظ له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی، چې مرور د تېرېدو او زمان د وخت په معنی دی یعنې د زمانې تېرېدل یا د وخت تېرېدنه ده ( ۲: ۲۸۱).

همدارنګه په قرانکریم کې هم د دې زیاتې نمونې شتون لري، لکه الله تعالی فرمایي: (وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَ عَلَيْهِ مَلأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ اِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا (سورة هود،۳۸ آیت).

**ژباړه:** او جوړوله( نوح علیه السلام) بېړۍ حال دا چې کله تېرېدله په ده ډله دقوم « فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُو نَتقادم » دی او کله ترې د « تقادم » نو په نوح علیه السلام به يې مسخرې کولې (کابلي تفسیر، سورة هود، ۳۸ ایت، لومړی جلد .ص ۱۲۴۰).

په عربي ژبه کې د مرور زمان اصطلاحات هم تعبیر کیږي، همدارنګه؛ قانون د تاکلی د « سبق الزمان » ، «تقادم الزمان » العهد مودې تېرېدل دي چې له تېرېدو وروسته یې دعوه نه اورېدل کیږي (۱۰ : ۱۳۸).

**دویم جز: د مرورزمان اصطلاحي تعریف**

د مرور زمان اصطلاحي تعریف په دوه ډوله تر بحث لاندې نیسو، لومړی د اسلامي فقهې او په دویم قدم کې د قوانینو له نظره.

**د اسلامي فقهې له نظره د مرور زمان اصطلاحي تعریف**

د مجلة الاحکام العدلیې په شرحه کې مرور زمان په دې ډول تعریف شوي:"په یوه موضوع کې د یوې خاصې او معلومې مودې له تېرېدو وروسته د دعوې د نه اورېدو څخه عبارت دی چې مطالبه یې نه وي شوې. یعنې کله چې په یوه موضوع (مدني، سوداګریزه، جنایي) کې اختلاف او دعوه رامنځته شي او شخص د یوې ټاکلې مودې له تېرېدو وروسته د هغې غوښتنه ونه کړي او هغه پرېږدي، یوځه موده وروسته بیا دعوه وکړي، نو دا دعوه د اورېدو وړ نه ده، ځکه په دې دعوه باندې وخت تېر شوی دی (۱۱ : ۱۹۰).

**د قوانینو له نظره د مرور زمان اصطلاحي تعریف**

د فرانسې مدني قانون (۲۲۱۹) ماده کې د مرور زمان د تعریف په اړه داسې یادونه شوې ده: "مرور زمان د یوې ټاکلې مودې په تېرېدو سره د استملاک یاهم د معافیت یوه وسیله ده او د هغه حالاتو تابع ده، چې د قانون له مخې ټاکل شوې وي"(.16: Art: 2219 ).

همدارنګه د ایران پخواني مدني محاکماتو اصولو قانون (۷۳۱) ماده کې مرورزمان داسې تعریف شوی دی "مرور زمان د هغه وخت له تېریدو څخه عبارت دی، چې

د قانون په موجب وروسته د تېرېدو څخه دعوه نه اورېدل کېږي." د دې ترڅنګ دافغانستان مدني قانون په (۹٦٥) ماده کې د مرور زمان په اړه داسې وضاحت راغلی دی: (حق د زمانې په تېرېدو پای ته نه رسېږي، خو د دعوې د اورېدو مخنيوی کوي) (۸ : ۹٦٥ ماده).

**دويم مبحث: د مرور زمان ډولونه**

مرور زمان بېلا بېل ډولونه لري، چې په عمومي ډول دلته د مرور زمان د درې ډولونو څخه يادونه کوو، چې وضاحت يې په دې ډول دی.

۱. مدني مرورزمان

۲. جزايي مرورزمان

۳. سوداګريز مرورزمان.

دا چې دلته د بحث اصلي موضوع په سوداګريزه دعوه کې د مرورزمان څېړل دي، چې په لاندې ډول ورڅخه تفصيلی يادونه کوو.

**لومړی مطلب: سوداګريز مرورزمان**

دا هغه مرور زمان دی، چې پر بنسټ يې يوه سوداګريزه دعوه د يوې ټاکلې مودې له تېريدو وروسته پرته له کوم مؤجه عذر څخه د مطالبې څخه لاس پر سر شي، نو دعوه يې نه اورېدل کېږي، يعنې د وخت تېرېدل د سوداګريزې دعوې د سقوط لامل ګرځي البته هغه وخت چې قانون په کې ټاکلې دعوه ساقطوي.

په سوداګريزه دعوه کې مرورزمان دا معنی لري چې د قانوني عذر پرته که څوک د خپل حق پوښتنه او غوښتنه و نه کړي له وخت تېرېدو وروسته يې دعوه نه اورېدل کېږي ( ۱۲ : ۱٦٦۰ ماده).

دا چې د وخت تېرېدل په واقعیت کې د حق د اسقاط سبب ګرځي که نه د حقوقپوهانو ترمنځ یوه اختلافي موضوع ده، ځینې علماء وايي، چې د وخت په تېرېدو سره حق نه ساقطېږي دوی وايي، چې حق هیڅکله هم د وخت د تېرېدو په نوم له منځه نه ځي؛ بلکې د حق د اسقاط یواځینۍ لار د هغه ادا یا ابراء ده، په همدې ډول د دوی په باور که یو څوک د هر عذر له مخې قضاء ته حاضر نه شي یا و نه شي کولی خپل استازی وټاکي د هغه حق د مرورزمان له امله نه ساقطېږي که دا حق د الله تعالی وي یا د بنده. نو بناءً ویلی شو چې دایوه اختلافي موضوع ده په دې معنی چې ځیني علماء وايي پرته له عدز څخه حق ساقطېږي او یو شمېر بیا وايي حق د وخت په تېرېدو سره له منځه نه ځي چې دا راجح قول دی.

یعنې په دې اړه غوره نظر دا دی، چې حق په تقادم سره له منځه نه ځي ځکه د حق څښتن ته کله د مدیون یا مدعی علیه د اقتصادي حالت نه حیاء ورځي چې خپل حق ترې وغواړي او مدیون د هغه د دې حیاء څخه ناسمه استفاده کوي او د هغه د حق په ورکولو کې تاخیر راوړي او کله چې د حق څښتن د مدیون له داسې حالته خبر شي کولی شي د خپل حق مطالبه وکړي اګر که ډېره موده هم پرې تېره شوې وي (۱۳ : ۸۰-۸۱).

چې د افغانستان مدني قانون هم دا موضوع په ۹۶۵ ماده کې په همدې ډول منلې چې (حق د زمانې په تېرېدو پای ته نه رسېږي، خو د دعوې د اورېدو مخنیوی کوي).

د مدني قانون له دې مادې څخه معلومیږی چې د وخت تیریدل یا مرورزمان نه حق تثبیتوي او نه یی ساقطوي په دې معنی چې غاصب د حق خاوند نه ګرځي او مدیون برأت نه حاصلوي،بلکې داچې د یوې مودې له تېرېدو وروسته دعوی نوره زړه او نه اوریدل کېږي،ټولنیز نظام ددې غوښتنه کوي چې د اوږدې مودې لپاره د مالکانه

تصرف باید حمایت وشي او د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته ستونزمنه ده چې ثابته کړو د مدعي سند له اعتبار لویدلی یا په خپل قوت باقي پاتې دی.

**د سوداګریزې دعوې د سقوط لپاره د مرورزمان موده**

په دې بحث کې به د سوداګریزې دعوې سقوط یا تر مرورزمان لاندې راتلل د اسلامي فقهې، روم جرمن او کامن لا حقوقي نظامونو له نظره په پوره وضاحت سره تر څېړنې لاندې ونیسو.

**لومړی مبحث: د اسلامي فقهې له مخې د سوداګریزې دعوې مرورزمان**

د اسلامي فقهې په کتابونو کې په عام ډول سره د دعوو مرورزمان ذکر شوی، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

د حنفي فقهې د علماوو د فتواو په اساس په کُلي ډول، دعواوې د وخت په تېریدو سره نه اورېدل کېږي په دغه حکم کې د نظر اتفاق دی، مګر د مودې په اړه یې مختلف نظریات موجود دي لکه، ۳۳ کاله، ۳۶ کاله او یا هم ۳۰ کاله ورته ټاکل شوي دي (۴ : ۱۱۹ ).

ابن عابدین د دغو اقوالو له یادولو وروسته وایي چې د مرور زمان دغه مهلت، د سلطان یا حاکم د منعی پر اساس نه دی بلکې، د فقهاوو لخوا ټاکل شوی دی، نو ځکه له دغو یادو شویو وختونو له تېریدو وروسته که د وخت حاکم هر څومره د دعوې په اورېدلو امر وکړي امر یې نه قبلېږي.

مګر دا په هغه صورت کې چې په ټاکل شوي وخت کې د دعوې اقامه کولو خنډ وجود ونه لري لکه:، غیابت، جنون، صغر او یا دا چې د دعوې یو لوری ظالم

حاکم وي؛ نو مرور زمان د دغو موانعو له لرې کېدو سره شروع کېږي، په دې اړه د مجلة الاحکام په ۱۶۶۳ ماده کې هم يادونه شوې ده.

امام مالک رحمه الله د زماني په تېرېدو سره د مالکيت ثابتولو او د حق د اسقاط لپاره حد يا وخت نه دی ټاکلی او اختيار يې د حاکم په اوږو پرېښودلی دی.

امام شافعي رحمه الله هم مشخصاً د مرورزمان موده نه ده تعين کړې، خو ځينې شافعي علماوو د ۱۰ کلونو او ۳۰ کلونو څخه يادونه کړې، البته امام شافعي رحمه الله د تسلط د قاعدې څخه هم يادونه کړې او ويلي يې دي، چې که په مشروع طريقه ملکيت په لاس راوړي، نو د ضد دلايلو تر اثبات پورې دده ملکيت دی.

د زمانې د تېرېدو په اړه د حنبلي علماوو خبره دا ده، چې د زمانې تېرېدل د سدالزرايع په قاعده (کله چې د اصل او ظاهر تر منځ ټکر وي، ظاهر ته ترجيح ورکول کېږي) او د زمانې تېرېدل يې مشخص کړي نه دي (۳: ۲۱۷-۲۱۸).

**دويم مبحث: د افغانستان د قوانينو له نظره د سوداګريزې دعوې مرورزمان**

د افغانستان مدني قانون په ۹۶۵ ماده کې په عام ډول سره د مرورزمان ډېره موده (۱۵) کاله ښودلې همدارنګه د مدني قانون په ۹۷۰ ماده دويم بند کې داسې صراحت شتون لري، که کوم حق د دې حقوقو څخه په سند کې وليکل شي، د داسې حق غوښتنه نه ساقطېږي؛ مګر دا چې بې له کوم قانوني عذره د استحقاق له نېټې څخه تر ۱۵ کلونو پورې نه وي غوښتل شوی (۸: ۹۶۵ او ۹۷۰مادې).

د افغانستان د تجارت اصولنامې د سوداګريزو معاملاتو د سرعت اصل ته په کتلو سره د سوداګريزو دعوو مرورزمان د نورو مدني دعوو څخه بېل کړی.

د افغانستان د سوداګرئ د اصولنامې ۵۳۸ ماده(ټولې هغه دعوې چې په قبلوونکي باندې د برات لارې پیداکیږي د مودې د رسېدلو له نېټې وروسته له درې کالونو تېرېدو څخه ساقطیږي).

**برات (Draft)** د افغانستان د سوداګرئ په اصولنامه کې تعریف شوی نه دی، خو موږ یې دلته یو تعریف ذکر کوو(برات یو سوداګریز سند دی، چې د صادرونکي یا مبتکر لخوا په مخاطب باندې د ترلاسه کوونکي په ګټه صادر شوی وي). په دې تعریف کې له مبتکر څخه موخه صادرونکی شخص دی او د مخاطب څخه هدف هغه شخص دی، چې د پیسو د ورکړې دستور ورکول کیږي او ترلاسه کوونکي څخه هدف د برات سند حامل دی، چې پیسې ورکول کیږي.

همدارنګه هغه دعوې چې حامل یې په ظهر نویسانو او صادرونکو باندې وکړي او د هغه اعتراض له نېټې څخه چې په خپل ټاکلي وخت لیکل شوی وي او که په سند کې د بې لګښته اعادې شرط موجود وي د مودې د تېرېدو له نیټې د یو کال په تېرېدو ساقطیږي.

ظهر لیکنه د برات د انتقال وسیله ده، چې د لاسلیک له لارې منتقل الیه ته تسلیمیږي (۸ : ۹۶۵ او ۹۷۰مادې).

د افغانستان د سوداګرئ اصولنامې په ۴۸۲ ماده کې راځي (ظهر لیکنه یا پخپله پر برات یا له برات سره په ملحقه پاڼه لازمي ده او د ظهر لیکوونکي له خوا باید لاسلیک شي).

د پورته توضیحاتو څخه څرګندیږي، چې د افغانستان د سوداګرئ اصولنامې د سوداګریزې دعوې لپاره درې ډوله مرورزمان ټاکلی دی.

۱- هغه دعوې، چې د برات منوونکي پر وړاندې ترسره کېږي له درې کاله وخت تېرېدو وروسته د اورېدو وړ نه دي.

۲- هغه دعوې، چې د ظهر لیکوونکو یا لومړنیو صادرونکو پر وړاندې ترسره کېږي له یو کال تېرېدو وروسته د اورېدو وړ نه دي.

۳- هغه دعوې، چې یو ظهر نویس یې په بل ظهر نویس یا یې د بل صادرونکي پر وړاندې ترسره کوي له شپږ میاشتو تېرېدو وروسته د اورېدو وړ نه دي.

همدارنګه هغه دعوې چې د شرکت د مدیره هیئت پر ضد واقع کېږي د سوداګرۍ اصولنامې د ۳۲۴ مادې له مخې د مسؤلیت د متوجه کېدو او د معاملې د وقوع د نېټې څخه ۵ کاله وروسته ساقطېږي.

د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې د سوداګریزودعوو د ښه حل په موخه سوداګر او شرکتونه مکلف کړي، ترڅو خپل ټول سوداګریز اسناد او اوراق تر ۱۵ کلونو پورې وساتي د اصولنامې ۷۳ ماده.

**مقایسه**

اسلامي فقه د وخت په تېرېدو سره په سوداګریزه دعوه کې د انسان حق نه ساقطوي یعنې له منځه یې نه وړي اما د افغانستان قانون بیا د ټاکل شوې مودې په تېرېدو سره اړونده حق ساقطوي، چې دا د افتراق لویه نقطه ده. دواړه حقوقي نظامونه په دې کې سره متحد دي، چې د دعوې د اقامي لپاره باید یوه معینه موده وټاکل شي. په اسلامي فقه کې نهایې موده نظر د دعوې کیفیت ته په کتو سره تر (۳٦) کالو پوري ده او په قانون کې بیا (۱۵) کاله ده.

## درېيم مبحث: د سوداګريزې دعوې مرورزمان په روم جرمن حقوقي نظام کې

په دې برخه کې د روم جرمن حقوقي سيستم د پيرو هېوادونو(فرانسې، ايټاليا او ترکيې) قوانينو احکام راخلو.

### لومړی مطلب: د فرانسې قانون کې د سوداګريزې دعوې مرور زمان

د فرانسې پخواني سوداګريز قانون پر اساس د سوداګريزو دعوو د مرورزمان موده ۱۰ کاله وه، خو د ۱۷/۷/۲۰۰۸ سوداګرۍ قانون نوموړې موده د L110-4 کود پر اساس د لسو څخه پنځو کلونو ته راټيټه کړه البته دا ۵ کلونه د سوداګريزې دعوې اکثر حد د مرورزمان دی، چې نور فروعات هم له ځان سره لري، په دې معنی هغه دعوې چې د سوداګرو او غيرو سوداګرو ترمنځ د سوداګرۍ څخه راپورته کېږي په اصولو کې د پنځه کاله مرورزمان تابع دي پرته له هغو چې د قانون پر اساس د لنډ مرورزمان تابع دي، مثلا د L218-2 کود مادې له مخې د سوداګريزو شرکتونو او د هغوی د مسلکي کارکوونکو پر وړاندې دعوې چې توکي او خدمات وړاندې کوي د دوه کاله مرورزمان تابع دي. L110-4 کود د مادې پربنسټ هغه دعوې چې د ترانسپورټي قراردادونو څخه رامنځته کېږي د يو کال له تېرېدو څخه وروسته نه اورېدل کېږي. د کښتۍ د کپتان په امر د خوراک لپاره د بيل ورکړه د يو کال مرورزمان تابع ده، همدارنګه د کښتۍ د جوړولو د تجهيزاتو او وسايلو د بيل صدور او سپارل هم د يو کال مرورزمان تابع دی.

همدارنګه د پور مرورزمان ۵ کاله دی، د پټ عيب لپاره مرورزمان دوه کاله دی، د نمونې په توګه يو څوک موټر اخلي او په هغه کې داسې عيب موجود وي، چې د بيع پر مهال د تشخيص وړ نه وي، که تر دوه کلونو يې عيب تشخيص شو کېدای شي دعوه پرې اقامه کړي، تر دوه کلونو وروسته يې دعوی نه اورېدل کېږي. همدارنګه د

فرانسي قانون سوداګرو ته اختياورکړی، چې د معاملی لپاره د يو څخه تر لسوکلونو مرورزمان وټاکي. (17: Art: L110-4).

**دويم مطلب: مصر کې د سوداګريزې دعوو مرورزمان**

د مصر د سوداګرۍ قانون هم سوداګريزې دعوې د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې په شان په دريو برخو ويشلي او د مرورزمان موضوع يې د تقادم تر عنوان لاندې په ۴۶۵، ۴۶۶، ۴۶۷ مادو کې بيان کړې، داچې احکام يې د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې سره يو ډول دي، نو له تکرار څخه يې صرف نظر کوو.

**درېيم مطلب: د ايټاليا هېواد په قانون کې د سوداګريزې دعوې مرورزمان**

په ايټاليا کې د معاملاتو عمومي مرورزمان موده لس کاله ده؛ مګر د سوداګريزو دعوو اړوند مرورزمان ترې جدا دی، د ايټاليا قانون لکه د فرانسې په ډول د سوداګريزو دعوو مرورزمان تقسيم بندي کړی نه دی؛ بلکې په عام ډول يې ذکر کړی په داسې ډول، چې ټول هغه معاملات چې هغه د سوداګريزو شرکتونو ترمنځ دي او سوداګريز معاملات دي او همدارنګه هغه مسايل، چې د توکو تر انتقال پورې تړاو لري د ايټاليا د قانون پر اساس يې مرورزمان د يو څخه تر پنځو کلونو پورې دی، نو په ايټاليا کې سوداګريز مرورزمان يوازې (د شرکتونو ترمنځ په معاملاتو او د ليږد په مسلو کې) دی چې دا د پنځه کاله مرورزمان تابع دی، تر دې وراخوا نور مسايل د مدني مرورزمان تابع دي، چې ډېره موده يې لس کاله ده.

**ځلورم مطلب: ترکيې هېواد په قانون کې د سوداګريزې دعوې مرورزمان**

ترکيه کې هم عمومي مرورزمان لس کاله دی، خو د سوداګريزو دعوو لپاره يې مشخصاً لاندې موارد ذکر کړي دي:

هغه دعوې چې د (شرکتونو، دهغوی د شريکانو او د هغوی د مديرانو، استازو يا پلټوونکو ترمنځ رامنځته کېږي مرورزمان يې پنځه کاله دی).

همدارنګه هغه دعوې چې د ( قراردادونو څخه رامنځته کيږي، لکه د قراردادي د ناسم چلند او د ناسم فعاليت له امله يا غير فعاليت له امله رامنځته کيږي) مرورزمان يې دوه کاله دی (19, 2019).

**مقايسه**

رومن جرمن پيرو هېوادونه هم د دسوداګريزې دعوې د اقامه کولو لپاره په خپلو قوانينو کې يوه ځانګړې موده په پام کې نيولي ده، چې په دې برخه کې دا هېوادونه سره متفق دي، اما توپير دا دی، چې په ځينو هېوادونو کې دا موده کمه او په ځينو کې زياته ده.

**ځلورم مبحث: د کامن لا په حقوقي سيستم کې سوداګريز مرورزمان**

د روم جرمن حقوقي سيستم په پرتله په کامن لا هېوادونو کې د سوداګريزو دعوو د سقوط لپاره د مرورزمان موده زياته ده، د انګلستان د ۱۹۸۰ کال د مرورزمان قانون له مخې د سوداګريزو قضيو لپاره مرورزمان په لاندې ډول ترتيب شوی.

۱- هغه دعوې چې د تړون څخه د سرغړونې له امله رامنځته کيږي د هغوی مرورزمان شپږ کاله دی.

۲- هغه سوداګریزې دعوې، چې د ناوړه عملونو د اجراء او د مسولیت د نه اجرا څخه رامنځته کېږي مرورزمان یې دولس کاله دی.

۳- په سوداګریزو معاملاتو کې د درغلۍ دعوې د شپږ کاله مرورزمان تابع دي.

۴- هغه زیان چې د غفلت یا د پټ عیب له امله رسېږي هغه دعوې د درې کاله مرورزمان تابع دي.

۵- د افترا یا د سوداګریزو شرکتونو د بدنامۍ دعوې یو کال مرورزمان لري. (20: chapter 58).

**لومړی مطلب: د استرالیا په قانون کې د سوداګریزې دعوي مرورزمان**

په استرالیا کې هم د سوداګریزې دعوې د مرور زمان نوعیت او حالت ته په کتو بېلا بېلې مودې ټاکل شوي، چې وضاحت یې په لاندې ډول دی.

لومړی: د سوداګریز تړون څخه د سرغړونکې دعوې مرورزمان شپږ کاله دی.

دویم: په هغه تجارتي تعهد کې چې شخص یې د عمل ژمنه کړې د نه ترسره کولو د دعوې مرورزمان یې دولس کاله دی.

دریېم: د افترا یا بدنامولو د دعوې مرورزمان یو کال دی.(21: link)

**دویم مطلب: په هند کې د تجارتي دعوې مرورزمان**

د هند د ۱۹۶۳ کال د مرورزمان د قانون له مخې سوداګریزې دعوې لپاره لاندې موده په نظر کې نیول شوې ده.

**لومړی:** د قرارداد څخه د سرغړونې د دعوې مرورزمان درې کاله دی.

**دویم:** په تجارتي مسایلو کې د ناوړه اعمالو څخه د پیداشوي زیان د دعوې مرورزمان درې کاله دی.

د هند د مرورزمان په قانون کې په عام ډول د ټولو سوداګریزو شخړو څخه د رامنځته شویو دعوو مرورزمان موده درې کاله ټاکل شوې او مشخص تقسیم یې په کوم ځانګړي قانون کې نشته (1963: 18).

**مقایسه**

کامن لا پیرو هېوادونو کې د سوداګریزې دعوې د مرور زمان په اړه واحد موقف په نظر کې نیول شوی. یعنې د سوداګریزو دعوو مرور زمان یو منل شوی اصل دی اما نظر د دعوو وخت او کیفیت ته په کتو سره فرق لري. د مثال په توګه په استرالیا کې د تجارتي تړون څخه د سرغړونکې دعوې مرورزمان شپږ کاله دی او د افترا یا بدنامولو د دعوې مرورزمان یو کال دی. اما په هند کې بیا د قرارداد څخه د سرغړونې د دعوې مرورزمان درې کاله دی. همدارنګه د هند په قانون کې بیا د ناوړه اعمالو څخه یادونه شوې، چې بدنامي هم په همدې کې راځي.

**پایله**

د دې څېړنې په پایله کې ثابته شوه، چې اسلامي فقه او وضعی حقوقي نظامونه د سوداګریزې دعوې د مرور زمان په اړه احکام لري او دواړو حقوقي نظامونو سوداګریز مرور زمان په رسمیت پېژندلی، چې دا یې داشتراک مهمه نقطه ده. اما د سوداګریزې دعوې د مرور زمان په اړه د اسلامي فقهې او وضعي حقوقي نظامونو ترمنځ په ماهیت او موده کې فرقونه هم شتون لري، چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کېږي.

اسلامي فقه په سوداګریزه دعوه کې مرورزمان د حق د له منځه وړو لامل نه کېږي؛ بلکې یوازې د دعوې د نه اورېدل کېدو سبب یې بولي، چې د افغانستان مدني قانون په (۹۶۵) ماده کې او مجلة الاحکام (۱۶۷۴) ماده کې داسلامي فقهې دریځ او نظر

قبول کړی دی. همدارنګه د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامه هم مرورزمان د دعوې د نه اورېدو سبب يادوي، د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې د سوداګريزو معاملاتو د سرعت اصل ته په کتلو سره د سوداګريزو دعوو مرورزمان د نورو مدني دعوو څخه بېل کړی.

د افغانستان د سوداګرۍ د اصولنامې ۵۳۸ ماده( ټولې هغه دعوې، چې په قبلوونکي باندې د برات له لارې پيداکېږي د مودې د رسېدلو له نېټې وروسته له درې کالونو تېرېدو څخه ساقطېږي).

همدارنګه هغه دعوې چې حامل يې په ظهر نويسانو او صادرونکو باندې وکړي او د هغه اعتراض له نېټې څخه چې په خپل ټاکلي وخت ليکل شوی وي( او که په سند کې د بې لګښته اعادې شرط موجود وي د مودې د تېرېدو له نېټې) د يو کال په تېرېدو ساقطېږي.

او هغه دعوې چې يو ظهر نويس يې په بل ظهر نويس يا يې د بل صادرونکي پر وړاندې ترسره کوي له شپږ مياشتو تېرېدو وروسته د اورېدو وړ نه دي.

**مناقشه**

د روم جرمن او کامن لا حقوقي سيستمونه د سوداګريزې دعوې د مرورزمان اړوند د اسلامي فقهې او افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې سره د ماهيت په لحاظ توپير لري، هغه په دې ډول چې روم جرمن او کامن لا حقوقي سيستمونو کې د سوداګريزې دعوې مرورزمان د حق د اسقاط باعث ګرځي او له منځه يې وړي؛ مګر اسلامي فقه او افغانستان قانون يې د دعوې د نه اورېدو لامل بولي.

همدارنګه د مرورزمان د مودې په لحاظ هم توپير شته په روم جرمن کې د مرورزمان موده نسبت کامن لا حقوقي سيستم ته لنډه ده د ترکيې، ايټاليا او فرانسې قانون کې د

سوداګريزو دعوو اکثره مرورزمان ۵ کاله دی. د مثال په توګه د فرانسې د ۱۷/۷/۲۰۰۸ تجارت قانون د L110-4 کود ماده کې (۵)کلونه د سوداګريزې دعوې اکثر حد ټاکلی، چې نور فروعات هم له ځان سره لري، په دې معنی هغه دعوې چې د سوداګرو او غیرو سوداګرو له سوداګرۍ څخه راپورته کېږي په اصولو کې د پنځه کاله مرورزمان تابع دي پرته له هغو چې د قانون په اساس د لنډ مرورزمان تابع دي.

خو د کامن لا حقوقي سیستم کې نوموړې موده زیاته ده، د انګلستان او استرالیا قوانینو ان تر (۱۲) کاله مرورزمان موده ټاکلې مثلا(د انګلستان د ۱۹۸۰ کال د مرورزمان قانون له مخې په هغو سوداګريزو قضیوکې چې سوداګريزې دعوې يې د ناوړه عملونو د اجراء او د مسولیت د نه اجرا څخه رامنځته کېږي مرورزمان يې دولس کاله دی).

**پایله اخیستنه**

بناء داسې استدلال کېږي چې اسلامي فقه او د روم جرمن حقوقي سیستم پیرو هېوادونو په خپلو قوانینو کې د نورو مدني دعوو او تجارتي دعوو ترمنځ فرق کړی، په دې معنی چې د سوداګرۍ د سرعت اصل ته يې پام کړی او د همدې لپاره يې په سوداګريزو دعوو کې مرورزمان کم ټاکلی، خو د کامن لا حقوقي سیستم پیرو هېوادونو کې د سوداګريزو او د نورو مدني دعوو ترمنځ توپیر ته په شدت سره پاملرنه نه ده شوې.

په دې مقایسوي څېړنه کې دا ثابته شوه، چې اسلامي فقه په لویه پیمانه د انسانانو د حق ملاتړ کوي او په هیڅ صورت د وخت په تېرېدو سره سقوط نه کوي، چې دا داسلامي فقهې لوی امتیاز دی په نورو مروجو حقوقي نظامونو.

**وړاندیزونه**

١- د کامل او جامع قانون یوه ځانګړنه دا ده چې اړونده ټول اصطلاحات په کې په هر اړخيز ډول تعریف شوي وي، نوبناءً لازمه ده چې قانون جوړونکي دې موضوع ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د سوداګریزې دعوې د مرور زمان په اړه یو جامع او قانع کوونکی تعریف وکړي.

٢- دا چې نن ورځ نړۍ په بې ساري توګه پرمختګ کړی په ځانګړي ډول په سوداګریزو مسایلو کې، نو پکار ده چې دافغانستان قانون جوړونکي د اسلامي فقهې او نورو مختلفو معتبرو حقوقي نظامونه څخه د سوداګریز مرور زمان په مورد کې استفاده وکړي او پدې برخه کې معتبر حقوقي نورمونه رامنځته کړي، د مثال په توګه د افغانستان د سوداګرۍ قانون ټولې سوداګریزې دعوې په درې برخو وېشي په داسې حال کې چې عملاً ډېرى سوداګريز معاملات او دعوې لرو، نو د مرورزمان په مشخص کولو سره باید ټولې سوداګریزې دعوې روښانه شي.

٣- دا چې حقوقي علوم دانجماد خاصیت نه لري؛ بلکې د وخت او حالاتو سره تغیر کوي په ځانګړي ډول سوداګریز قوانین، څکه چې اوسنۍ نړۍ کې سوداګري ورځ تر بلې د تغیر او انکشاف په حالت کې ده دا تغیر او انکشاف د دې تقاضا کوي چې د افغانستان سوداګریز قوانین باید داسلامي شریعت په پام کې نیولو سره په هر اړخيز او جامع ډول تفسیر او مواد یې نوي شي، ترڅو د سوداګرۍ په برخه کې ټولو ملي او نړیوالو غوښتنو ته ځوابونکي واوسي، مثلاً زموږ د هېواد د سوداګرۍ اصولنامه په (١٣٣٦) هـ ش کې نافذه شوې چې د انفاذ څخه یې تراوسه پورې ٦٧کاله کېږي او تر نن تاریخ پورې په دې قانون کې کوم نوښت نه دی رامنځته شوی.

٥- بل داچې سوداګریز قوانین باید د افغانستان د ټولنې ټول حالات په پام کې ونیسي، ترڅو د تطبیق پر مهال د ستونزو او خنډونو سره مخ نه شي.

**ماخذونه**

قرانکريم

۱-المقدسي، ابو محمد موفق الدين عبدالله، المغنى ،دارالفكر-بيروت، ج ۱۲.

۲- احمد مختار عبدالحميدعمر.( ۲۰۰۸ ميلادي). کال، معجم اللغة العربية المعاصرة،عالم الكتب،لومړی چاپ .

۳- البحوث العلميه. ج 7 .مجلة البحوث جزء7. التقادم فی مسألة وضعاليد : ج. و لشرح الكبير :ج 4.

۴-الموسوعة الفقية الكويتيه. (۱۹۸۶). وزارت الاوقاف والشون الاسلامية الكويت، طبع ذات السلاسل، ج ۱۳.

۵- ديوبندی، محمود الحسن (مولانا) او عثمانی شبيراحمد (مولانا).(۱۳۹۳). تفسير کابلی -جلد اول، کتابخانه ي قلم.

۶- دافغانستان د. (۱۳۶۹هـ ش). د مدني محاکماتو اصولو قانون، عدليي وزارت، رسمي جريده. پرلپسې ګڼه (۷۲۲) .

۷- دافغانستان د. (۱۳۳۶هـ ش). د تجارت اصولنامه ، عدليي وزارت، رسمي جريده..لومړي ټوک.

۸- دافغانستان د. (۱۳۵۵هـ ش). د مدني قانون، عدليي وزارت، رسمي جريده..دويم ټوک.

۹- د حقوقي اصطلاحاتو قاموس.(۱۳۸۷هـ ش). کابل پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځي.

۱۰-عميد، حسين. ( ۱۳۸۹). فرهنگ عميد، انتشارات راه رشد.

۱۱- لبناني، سليم رستم باز. ( ۲۰۱٦ ). توضيح المرام پښتو شرح د مجلة الاحكام، ژباړن :مولانا برهان الدين صديقي، پشارو، جديد مکتبه رشيدية.

۱۲- نور محمد، (ب ت). لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، مجلة الأحكام العدلية، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي.

۱۳- نيازى، مصطفى، ژباړن.محمد کريم اديب. (۱۳۹۴هـ ش). د اسلام قضايي نظام، لمړی چاپ، قرطبه خپرندويه ټولنه.

۱۴- فاروقي ، نور انور. ( ۱۴۰۲). د سوداګريزو منازعاتو د حل او فصل روشونه، لومړی چاپ.

۱۵- ناصري، عبدالحی. (۱۳۹۲) . تجارت حقوق،چاپ،د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت.

16. French, Civil Code (1827).
17. France Commercial Code (2008), Article L110-4
18. Computation of period of limitation act, 1963 - india code).
19. limitation in commercial claims in commercial code of turkey https://www.ukpandi.com/news-and-resources/articles/2019/turkey-time-bars/
20. The Limitation Act of UK 1989), chapter 58.
21. https://uk.practicallaw.thomsonreuters.com/1-518-8770?transitionType=Default&contextData=(sc.Default

**پوهنیار حبیب الرحمن سربلند[1] او عرفان الله ستانکزی[2]**
[1] اداري او ديپلوماسۍ څانگه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو موسسه
[2] اداره او تجارت څانکه، اقتصاد پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو موسسه
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمد ایمل حقمل

# د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د سوداګریزو برېښنايي قراردادونو حقوقي حیثیت

**لنډيز**

**برېښنايي** قرارداد هغه اتفاق دی، چې د اوسنيو برېښنايي وسايلو په واسطه منعقد کېږي او یا هم د لیرې واټن څخه د دوو اړخونو تر منځ پرته له مادي حضور څخه ترسره کېږي.

د څېړنې اهمیت يې په دې کې دی، چې د قرارداد لوریو ته په کې ډېرې زیاتې اسانتیاوې رامنځته کېږي، چې په نتیجه کې د بریښنايي قرارداد داوړه لورې په ډېرو کمو لګښتونو او چټکې ګټې سره کولای شي، چې د سوداګرۍ قراردادونه لاسلیک کړي او په اوسني عصر کې د بریښنايي قراردادونو اساسي هدف دا دی، چې په ډېره لږه موده او زمان کې یو قرارداد منعقد شي.

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د بریښنايي قراردادونو حقوقي حیثیت روښانه او د افغانستان د سوداګریزو قوانینو د اصلاح اړتیا په ګوته کړي، ترڅو د نوې ټکنالوژۍ څخه په استفادې د اقتصادي پرمختګ لپاره لاره هواره شي.

په څېړنې کې له کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې او اړونـد مـواد او اطلاعات له معتبرو منابعو او اخځلیکونو څخه راټول شوي دي.

څېړنه ښيي چې په نړیوالو حقوقو کې د بریښنایي قراردادونو د اهمیت له مخې ځانګړي قوانین رامنځته شوي دي، خو په افغانستان کې ورته په کافي اندازه پاملرنه نه ده شوې. د مناسب قانوني چوکاټ او مؤثرو تګلارو په وضع کولو سره کولای شو د بریښنایي قراردادونو له لارې خپل اقتصادي وضعیت ته وده ورکړو.

**کلیدي کلمې:** برېښنایي، بین المللي حقوق ، سوداګریز، قرارداد، ملي حقوق

## سریزه

«بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین»

د اوسنۍ نړۍ د ټکنالوژۍ پرمختګ د ژوند په مختلفو برخو کې نوې پدیدې رامنځته کړې، چې د دې جملې څخه یوه نوې پدیده برېښنایي قراردادونه دي، چې د برېښنایي وسایلو په واسطه په ځانګړي توګه د انټرنیټ له لارې ډېری معاملات په اوسني عصر کې ترسره کیږي، د همدې اهمیت په وجه هم په بین المللي سطحه هم ځینې قوانین وضع شول چې مهم یې د ملګرو ملتونو د یونسیټرال برېښنایي تجارت قانون څخه یادونه کولای شو.

اوسني سوداګران د خپلو سوداګریزمعاملاتو لپاره د همدې عصري وسایلو څخه ګټه پورته کوي او د خپل سوداګریز توکو د پیر او پلور لپاره قراردادونه ترسره کوي، چې په همدې خاطر برېښنایي قراردادونه رامنځ ته کیږي. ددې قراردادونو د تنظیم لپاره باید ځانګړي قوانین وجود ولري چې دغه قراردادونه تنظیم او د دواړو خواو حقوق او وجایب مشخص او معلوم کړي چې په راتلونکې کې د منازعې باعث ونه ګرځي.

نو په همدې خاطر دولتونه د برېښنایي معاملاتو لپاره ځانګړي قوانین وضع کړل، تر څو دغه معاملات تنظیم کړي، سربیره پر دې دولتونو تر منځ په دې برخه کې

معاهدات هم ترسره کېږي، چې دا د دې ښکارندوی دی، چې په اوسني عصر کې برېښنايي قراردادونه څومره مهم دي.

## د څېړنې ستونزه

دا چې تر اوسه پورې د تجارتي برېښنايي قراردادونو په هکله څېړنه ډېره کمه شوې، په همدې اساس دغه موضوع د افغانستان په حقوقي سیستم کې نوې ده او د نورې نړۍ په شان په دې کې ډېرې کمې لیکنې شوي دي، ومې غوښتل چې یاده موضوع د ملي قوانینو او بین المللي حقوقي اسنادو له نظره په مقایسوي توګه وڅېړم، د دغې څېړنې په اساس به د ملي او بین المللي حقوقي اسنادو د نظره د برېښنايي قرارداد پېژندنه، د برېښنايي قرارداد انعقاد او رامنځته کیدل، د قرارداد د اړخونو په مکلفیتونو باندې پوه شو، تر څو د تجارتي برېښنايي قراردادونو انعقاد په قانوني توګه تنظیم شي.

## د څېړنې اهمیت

د نړۍ په کچه لوی مؤسسات او شرکتونه رامنځ ته شوي چې د همدې وسایلو څخه په ګټې اخیستنې خپل معاملات ترسره کوي، نو د همدې اړتیاو په نظر کې نیولو سره برېښنايي قراردادونه د اهمیت وړ دي، د برېښنايي قراردادونو د قانوني تنظیم لپاره اړین ده چې برېښنايي قرارداد د قانون پر اساس تنظیم شي او په راتلونکې کې د شخړو باعث ونه ګرځي.

د دې قرارداد ځیني قانوني مسایل واضح شوي لکه د دې قرارداد قانوني تعریف، ځانګړتیاوې، په برېښنايي قرارداد کې د ارادې تعبیر چې پداسې حال کې دواړه خواوې په ډېر لیرې واټن کې وي، د برېښنايي وسایلو په واسطه په ځانګړې توګه د انټرنیټ د لارې وړاندیز او د هغه منلو څرنګوالي څخه بحث شوی دی، یاده موضوع کې په ملي کچه د افغانستان د قوانینو په رڼا کې او په بین المللي کچه د ملګرو

ملتونو د ۱۹۹۶ یونسیټرال د برېښنايي تجارت بیلګییز قانون او ځیني نورو هیوادونو قوانینو کې په پرتلیز شکل څېړل شوې، په عمومي ډول ویلای شو، چې د ټکنالوژۍ په دور کې د برېښنايي قراردادونو تنظیم، د دې قراردادونو قانوني حیثیت او مشکلاتو حل او فصل لپاره د یادې موضوع څېړنه د لوی اهمیت درلودونکی ده.

## د څېړنې موخې

د دغه موضوع د څېړلو موخې په لاندې ډول دي:

د برېښنايي قراردادونو قانوني ماهیت د ملي او بین المللي حقوقو په رڼا کې روښانه کول.

د برېښنايي قرارداد په تړاو زمونږ د ټولنې د حقوقي او قضايي برخې د مسلکي اشخاصو د عامه پوهاوي د سطحې لوړول.

په ټولنه کې د برېښنايي قراردادونو په صحیح شکل انعقاد او د دې قرارداد قانوني تنظیمول.

د برېښنايي قراردادونو په اړه د افغانستان د قوانینو نیمګړتیاوو په ګوته کول او د حل په موخه یې د ځانګړي قانون د وضع کولو وړاندیز کول.

## د څېړنې حدود

زما موضوع برېښنايي قرارداد پورې محدوده ده، په دې لیکنه کې د برېښنايي قراردادونو احکام په ملي سطحه د افغانستان د قوانینو په رڼا کې (د افغانستان تجارت اصولنامه، سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون) او په بین المللي سطحه د ملګرو ملتونو د یونسیټرال د (۱۹۹۶م) کال برېښنايي تجارت بیلګییز قانون او د کال (۲۰۰۲م) برېښنايي لاسلیک د قانون د مخې به یاده موضوع وڅېړل شي، د موضوع

د ښه وضاحت لپاره به د اړتیا په صورت کې ځینو نورو نړیوالو منابعو او اسنادو څخه ګټه پورته شي، البته دا په ځان باندې اجباري نه بولم.

## د موضوع د اختیار لاملونه

هره موموضوع چې پرې لیکنه کېږي او یا د څېړنې لپاره ځانګړې شوې وي، ځانته دلایل او لاملونه لري چې ددې لیکنې او موضوع د اختیار لاملونه په لاندې کرښو کې په مختصره توګه بیانوو. زمونږ په ټولنه کې د نورو قراردادونو په هکله ډېرې علمي څېړنې شوي دي، ولې د برېښنايي قراردادونو په هکله څېړنه ډېره نه ده ترسره شوې. نو په همدې منظور مې وغوښتل چې په برېښنايي قرارداد کې موضوع انتخاب کړم.

بل دا چې د برېښنايي قرارداد په اړه په پښتو ژبه کې کوم ځانګړی اثر شتون نه لري، نو د دې موضوع د غوره کولو یو لامل دا و، چې پښتو ژبه کې خپلو خلکو ته د برېښنايي قرارداد په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړم.

## پخوانیو لیکنو ته کتنه

د برېښنايي قراردادونو په اړه په ځانګړي توګه په ملي او بین المللي حقوقو کې په پښتو ژبه کې اړین معلومات نه شته، ولې د نړۍ په نورو ژبو کې لکه عربي، انګلیسي او دري کې لیکنې شتون لري، چې په لاندې توګه ترینه یادونه کوو:

۱- د دې لیکنو څخه یو هم د عربي ژبې کتاب (العقد الالکتروني) چې ماجد محمد سلیمان اباالخیل لیکلی، دغه کتاب په ریاض کې د مکتبة الرشد لخوا په (۲۰۰۹م) کې چاپ او خپور شوی دی، په دغه کتاب کې لیکوال برېښنايي قراردادونه د مصر د برېښنايي تجارت قانون او همدارنګه د مصر د مدني قانون له مخې څېړلې، د دې تر څنګ په نړیوالو اسنادو کې د نړۍ د ځینو هیوادونو د قوانینو څخه هم یاده موضوع څېړلې، په ځانګړي توګه فرانسې د قوانینو څخه ډېره

يادونه کړې، ولې زما موضوع برېښنايي تجارتي قرارداونه دي، چې په ملي کچه د افغانستان د نافذه قوانينو په رڼا کې او په بين المللي کچه د ملګرو ملتونو د کال (۱۹۹۶م) د يونسيټرال د برېښنايي تجارت قانون او همدارنګه د يونسيټرال (۲۰۰۱م) کال د برېښنايي لاسليک قانون د مخې دغه موضوع وڅېړم.

۲- په دې برخه کې بد ليکنه د فرانسوي ليکوال (زويه لينان دبلفون) ده، چې دوکتور ستار زر کلام په فارسي ژبه ژباړلې او د کتاب نوم يې حقوق تجارت الکترونيک دی، چې د (مؤسسه مطالعات و پژوهشهای حقوقي شهر دانش) د خوا په (۱۳۹۳هـ ش) چاپ او خپور شوی، ياده ليکنه د برېښنايي تجارت څېړنه په عمومي شکل ترسره کړې.

په دې ليکنه کې د برېښنايي تجارت په برخه کې برېښنايي قرادادونه يې هم څېړلي، ياد قراردادونه يې د ايران، فرانسې او اروپايي قوانينو له مخې څېړلې، ليکوال په دې ليکنه کې ډېر تمرکز په برېښنايي تجارت باندې کړی او په ډېره کمه برخه کې برېښنايي قرارداد ته ځای ورکړی، خو زما موضوع چې يوازې په تجارتي برېښنايي قراردادونو باندې څرخي او يوازې برېښنايي قرارداد په بر کې نيسي او د برېښنايي تجارت څخه بحث نه کوي، د دې پرته د قوانينو په برخه کې په ملي کچه د افغانستان د سوداګريزو قوانينو په رڼا کې او په بين المللي حقوقو کې د يونسټرال قانون په رڼا کې ياد قراردادونه څېړل شوي دي.

۳- بد ليکنه چې د عجلوني ليکنه ده، چې د ( التعاقد عن طريق الانترنت) تر عنوان لاندې ليکل شوې، چې په بيروت کې د مکتبة الرسالة خپرنيز ارګان د لوري په (۲۰۰۵م) کال کې چاپ او خپره شوې ده، په دې ليکنه کې يې برېښنايي قراردادونه څېړلي دي، خو ياد قراردادونه يې د مدني قراردادونو په ضمن کې

څېړلي دي، نه د سوداګریزو قراردادونو په اړخ کې. بد خبره دا ده، چې لیکوال په یاده لیکنه کې د نړیوالو اسنادو څخه یادونه هم نه ده کړې، په دې لیکنه کې لیکوال د ځینو پایلو یادونه کړې، لومړی دا چې په یمني او اردني قانون کې په صراحت سره د انټرنیټ د لارې په قراردادونو باندې صراحت نلري، خو دا په دې معنی نه ده چې یادو قراردادونو ته یې مشروعیت نه دی ورکړي، بلکې ددې قراردادونو لپاره عام قواعد کافي دي او برېښنايي قراردادونو ته جواز ورکړي.

**پوښتنې**

۱- برېښنايي قرارداد څه شی دی او د کومو وسایلو په واسطه ترسره کېږي؟

۲- برېښنايي قرارداد کوم ډول قانوني طبیعت لري؟

۳- د برېښنايي قرارداد د انعقاد په برخه کې ملي او بین المللي اسناد څومره مشترک او جلا دي؟

**د څېړنې تګلاره**

د دې موضوع څېړنه نظري اړخ لري او د کتابتوني میتود څخه استفاده شوې ده، د موضوع په لیکلو کې مې لاندې کړنلاره رعایت کړې ده:

۱- په برېښنايي قرارداد او اړونده موضوعاتو په ښه شکل د پوهېدلو لپاره مې مطالب په بېلابېلو فصلونو، مبحثونو او مطالبو ویشلي دي.

۲- د موضوع په څېړلو کې د مقایسوي او تشریحي میتود څخه استفاده شوې، یعنې د برېښنايي قرارداد اړوند موضوعات د ملي او بین المللي حقوقو په رڼا کې تشریح او مقایسه شوي دي.

۳- د موادو په راټولولو کې مې هڅه کړې، چې د لومړي لاس منابعو او معتبرو کتابونو څخه استفاده وکړم، ولې که احياناً لومړي لاس ماخذونو ته لاسرسی نه دی شوی، نو بيا مې د دويم لاس ماخذونو څخه استفاده کړې ده. يعنې که چېرې مې په اصلي او اساسي منابعو کې موضوع نه ده موندلې نو بيا مې مجلو، مقالو، اخبارونو انټرنېټي وېبپاڼو ته مراجعه کړې ده.

## لومړی مبحث: د برېښنايي قرارداد پېژندنه، قانوني څرنګوالی او وسايل يې

د دې عنوان لاندې د برېښنايي قرارداد تعريف، تاريخي سير، قانوني څرنګوالي، وسايلو او ځانګړتياوو باندې بحث کوو.

### لومړی مطلب: د برېښنايي قرارداد تعريف

د افغانستان د سوداګريزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو په قانون کې قرارداد داسې تعريف شوی: قرارداد هغه عقد دی، چې د حقيقي يا حکمي اشخاصو تر منځ د دې قانون د حکمونو په حدودو کې د حق د ايجادولو، تعديل، لېږدولو يا ازالې په منظور، منعقد کېږي. (د سوداګريزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، درېيمه ماده، لومړی فقره )

ياد تعريف کېدای شي، په برېښنايي قرارداد باندې هم تطبيق کړو، ځکه په دې کې شک نه شته، چې د عامو قراردادونو سره په اساساتو کې توپير نه لري، مګر د فرق نقطه چې هغه د برېښنايي وسايلو په واسطه د لېرې واټن څخه د لوريو ترمنځ قرارداد منعقد کېږي، توپير شتون لري. د دې لپاره چې برېښنايي قرارداد په ښه توګه وپېژنو، لومړی د قانوني اړخه او په دويم قدم کې د علمي اړخه برېښنايي قرارداد باندې بحث کوو.

**لومړی جز: د برېښنايي قرارداد قانوني تعریف:** لکه څرنګه چې برېښنايي قرارداد د نوي منځته راتلونکي قراردادونو څخه ګڼل کېږي، چې تر اوسه پورې یو واحد تعریف نه لري، ځکه چې په نړیواله کچه یاد قراداد ته مختلف تعریفونه شوي او ددې تر څنګ د نوي عصري ټکنالوژی او د اړیکنیزو وسایلو د پرمختګ سره ډېر پېچلي شوي. (محمد المطالقه ، محمد فواز،الوجيز في العقود التجارة الالكترونية، ۲٦)

له بل پلوه دافغانستان په قوانینو کې تر اوسه پورې، داسې ځانګړی قانون شتون نلري، چې برېښنايي قراردادونه تنظیم کړي او نه کوم داسې تعریف شتون لري، چې یاد قرارداد تعریف کړي. مګر په نړیواله کچه د برېښنايي قرارداد لپاره ځانګړي قوانین شتون لري، چې دغه معاملات یې تنظیم کړي، لکه د ایران برېښنايي سوداګرۍ قانون، مصر، تونس او نورو هیوادونو ځانګړي برېښنايي معاملاتو قوانین شتون لري.

نو د دې لپاره چې برېښنايي قراداد د قانوني اړخه تعریف کړو، لومړی په نړیوالو میثاقونو کې او دویم د برېښنايي قراردادونو په ځانګړي قوانینو کې، د برېښنايي قرارداد تعریف تر بحث لاندې نیسو:

**لومړۍ فقره: په نړیوالو اسنادو کې د برېښنايي قرارداد تعریف:** د یونسټرال قانون کې د برېښنايي قرارداد اصطلاح نه ده ذکر شوې، مګر د ملګرو ملتونو د نړیوالې سوداګرۍ کمیسون په بحثونو او خبرو اترو کې د برېښنايي قرارداد اصطلاح کارول شوې، په دې سند کې د برېښنايي قرارداد تړون یې د معلوماتي پیغام (Data message) د لارې ترسره کېدو ته اشاره کړې، چې په دې اړه د یونسټرال قانون داسې صراحت لري: (معلوماتي پیغام (Data message) عبارت د هغه تولید شوي، لېږل شوي، لاسته راغلي او ذخیره شوي معلوماتوڅخه عبارت دي، چې د برېښنايي وسایلو په واسطه یا مقناطیسي، نوري یا مشابه وسایلو په واسطه چې د

برېښنايي معلوماتود تبادلې، برېښنالیک ټلیګرام، ټلیکس او ټلیکوپي ته شامل دي مګر په دوی باندې محدود نه دي. همدارنګه په همدې مادې کې د برېښنايي معلوماتو تبادلې (electronic data interchange) داسې تعریف شوې:

د برېښنايي معلوماتو تبادلې څخه هدف د یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته د معلوماتو لیږد دی، چې د یو متفق معیار په کارولو سره تر څو معلوماتو ته یو بنسټ جوړ کړي. د یادولو وړ ده، چې دغه قانون د معلوماتي پیغام (Data message) د تعریف تر څنګ یې د برېښنايي قرارداد په تړون کې وسایل نه دي محدود کړي، مګر د دې تر څنګ یې د معلوماتو تبادله (Edi) یې تعریف کړې، نو یوازې د برېښنايي قرارداد د ترسره کېدو لپاره، د معلوماتو تبادله یې تر کمپیوټر پورې محدود کړې، په داسې حال کې چې د معلوماتو د تبادلې او د قرارداد د ترسره کولو لپاره نور وسایل هم شتون لري لکه، د تلکس او فاکس وسید. (فراح، مناني، العقد الالکتروني وسیلة اثبات حدیثه في القانون المدني الجزایري، ۲۹)

**دویمه فقره: په ځانګړو قوانینو کې د برېښنايي قرارداد تعریف:** د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې، د برېښنايي معاملاتو لپاره ځانګړي قوانین جوړ شوي، چې مونږ هم د بېلګې په ډول د څو قوانینوڅخه یادونه کوو. د اردن قانون په دویمه ماده کې برېښنايي قراداد یې داسې تعریف کړی: (برېښنايي قرارداد هغه اتفاق دی چې د برېښنايي وسایلو په واسطه په کلي او یا جزئي توګه تړون صورت نیسي. (قانون المعاملات الالکتروني الاردني ،ګڼه ۸۵ ، دویمه ماده)

ددې تعریف څخه داسې ښکاري چې د اردن قانون د برېښنايي قرارداد لپاره عام تعریف ذکر کړی، چې ټول هغه قراردادونه په بر کې نیسي، چې د انټرنیټ او د نورو برېښنايي وسایلو په واسطه صورت مومي.

د مصر قانون په لومړۍ ماده کې د برېښنايي قرارداد لپاره يې داسې تعريف ذکر کړی: ( ټول هغه سوداګريزې معاملې چې د ليرې واټن څخه د برېښنايي وسيلې په واسطه ترسره کېږي.( د مصر د برېښنايي سوداګرۍ قانون ۲۰۰۱ م ،لومړۍ ماده)

په دې تعريف کې دا عيب ليدل کېږي چې برېښنايي قرارداد يې د برېښنايي سوداګرۍ سره يوځای کړی، مګر د بل اړخه يې د برېښنايي قرارداد لپاره يې د انټرنيټ او نورو وسايلو د کارولو توپير هم کړی، چې يوازې دغه وسايل يې انټرنيټ پورې ندي محدود کړي.( ماجد محمد سليمان ،العقد الالکتروني/ ۱۷)

د کاناډا د کيوبک ايالت لپاره په ځانګړي قانون کې چې مستهلک د ملاتړ لپاره په (۲۰) ګڼه کې وضع شوی، د ليرې واټن څخه ترسره کېدونکي قراداد په نوم ترينه يادونه کړې: ( د سوداګر او مستهلک ترمنځ هغه قرارداد دی، چې پرته د مادي حضور څخه د ايجاب او قبول په حالت کې او يا هم يوازې د ايجاب د ترسره کولو په حالت کې چې معين مستهلک ته مواجه نه وي.(خالد ممدوح، ابرام العقد الالکتروني /۷۳ )

مګر په امريکايي قانون کې د برېښنايي ثبت په نامه تعريف ذکر شوی، چې دا د برېښنايي قرارداد په شان د دوو اړخونو ترمنځ تړون صورت نيسي، په دې هکله داسې صراحت لري: ( هر هغه ثبت، سجل او قرارداد چې د هغه رامنځته کيدل، جوړيدل، لېږل، نقل او بيرته راتلل د هرې برېښنايي وسيلې په واسطه صورت نيسي.( خالد ممدوح، العقد الکتروني / ۷۴ )

## دويم جز: د برېښنايي قرارداد علمي تعريف

په علمي مفهوم سره د برېښنايي قرارداد بيلا بيل تعريفونه شوي، چې تقريباً د قانوني تعريفونو سره يوشانته دي، چې ځيني ورته پراخ او ځيني نور ورته محدود تعريفونه ذکر کړي، چې په لاندې توگه ځيني تعريفونه تر مطالعې لاندې نيسو :

ځيني يې داسې تعريفوي: د پيرودونکي او پلورونکي ترمنځ داسې سوداگريزه کړنه ده، چې د خرڅلاو په قراردادونو کې او يا د توليداتو په بازار موندنه کې چې د کمپيوټر په واسطه د انټرنيټ د لارې ترسره کېږي، او پرته لدې چې دواړه لوري يو بل وويني، بلکې لاسليک په برېښنايي شکل په قرارداد کې صورت نيسي (فاروق حسن ،البريد الالکتروني / ۹۰ )

يوشمير نور يې بيا داسې تعريفوي: (د انټرنيټ د لارې د توکو او خدمتونو عرضه کول تر څو د سوداگرو غوښتنو ته رسيدگي وشي. (مدحت عبدالحليم، الحماية الجنائية للتجارة الالکترونية/۲۴)

په دې دواړو تعريفونو کې برېښنايي قرارداد يې يوازې د انټرنيټ نړيوالې شبکې پورې محدود کړی، په داسې حال کې چې نور وسايل هم شتون لري.

زما د نظره غوره تعريف چې د اردن قانون يې وړاندې کړی، تر ټولو غوره تعريف دی، ياد قانون برېښنايي قرارداد داسې تعريفوي: هغه قرارداد دی چې د برېښنايي وسيلې په واسطه د ليرې واټن څخه په کلي او جزئي توگه ترسره کېږي، دغه برېښنايي وسايل برقي، مقناطيسي، نوري، الکترومقناطيسي او يا هر هغه وسيله چې د دواړو اړخونو لپاره د دمعلوماتو د تبادله کولو لپاره مناسب وي.( قانون المعاملات الالکتروني الاردني/گڼه ۸۵ ، دويمه ماده)

ياد تعريف ټولو برېښنايي وسايلو ته شامل دی، چې د برېښنايي قرارداد لپاره کارول کېږي او په څنگ کې ورسره عام او پراخه دی، چې په راتلونکي کې د تکنالوژی د پرمختگ سره نورو وسايلو ته هم شامليږي.

**دويم مبحث: د برېښنايي قرارداد څرنگوالی او طبيعت يې**

هره ورځ د انټرنيټ له لارې په زرگونه قراردادونه ترسره کېږي، د پير او پلور، اجارې د توکو اخيستل او خدماتو وړاندې کول، دا هغه معاملات دي، چې د همدې لارې ترسره کېږي، کچېرې مونږ دقيق د دې قرارادادونو طبيعت او څرنگوالي ته ځير شو، نو داسې ښکاري چې د رضايي قراردادونو څخه دي ځکه چې د ارادې خاوند کولای شي پخپل رضايت سره قرارداد د بل لوري سره ترسره کړي . له بله اړخه دا قراردادونه به د اذعان قرارداد وي، چې هيڅ يو لوري ته په کې د ارادې ازادي نه شته، چې د قرارداد په شرطونو کې بحث او تغيرات راولي، او پرته د دې بل هيڅ لاره نه شته، چې د بل لوري لخوا ايښودل شوي شرطونو ته پرته د مناقشې، تغيراتو او يا د اعتراض څخه ايښودل شوي شرطونو ته غاړه کيږدي، ياد قراردادونو ته نږدې قراردادونه لکه د گازو، برېښنا او د انتقالولو قراردادونه د يادولو وړ دي (سمير برهان،العقود والانفاقات في التجارة الالكترونية / ٦٠ ).

نو په همدې اساس په دې موضوع کې دوه نظريې شتون لري چې په لاندې توگه يې تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی مطلب: برېښنايي قراردادونه د اذعان قراردادونو د طبيعت څخه دي**

د انگلستان او فرانسې د قوانينو له مخې برېښنايي قراردادونه د اذعان قراردادونو په څير شميرلي، په دې اعتبار چې متعاقد به يوازې د سوداگر د انټرنيټ ي صفحې څخه ليدنه کوي، چې د پلورنې ټول عام شرطونه ذکر شوي، پيرودونکي يا به شرايط

قبلوي، چې په پايله کې قرارداد رامنځته شي او يا به يې رد کړي. (خالد ممدوح، ابراهيم، ابرام العقد الالکتروني /٨٦ )

## دويم مطلب: برېښنايي قراردادونه رضايي قراردادونه دي

د اذعان قرارداد او د هغه شرطونو ته په کتو سره داسې معلوميږي، چې دا د احتکار او د محدودې سيالی قراردادونه دي، لکه د بريښنا واردولو، ګاز او اوبو قراردادونه چې په اسانی سره مستهلک ترينه بې برخې کېدای نشي، په همدې مهال يا به يو محتکر کس وي اويا هم لږ توليدونکي وي، چې په مستهلک باندې د پلورولو لپاره په توکو باندې قيمت ږدي، تر څو په هغه باندې خرڅ کړي .

ددې نظريې په اساس برېښنايي قرارداد د اذعان قرارداد نه ګڼل کيږی، بلکې د رضايي قراردادونو څخه شمېرل کېږي، څکه چې د انټرنيټ د لارې د يوې صفحې څخه بلې ته انتقالېدای شي، چې شخص اختيار لري يا يې پرېږدي او يا يې قبول کړي، چې د رضايت د مبدا په واسطه برېښنايي تړون صورت نيسي. (محمد ناصر حمودي، العقد البيع الدولي الالکتروني المبرم عبرالانترنت/ ١٢٠)

د ځينو علماو د نظره د اذعان او رضايي قراردادونو ترمنځ توپير، د اثبات لپاره د وسيلې د استعمال توپير په نظر کې نيولی، چې که چېرې برېښنايي قرارداد د برېښناليک او يا هم د هغه وسايلو د استخدام په واسطه چې د ليدلو او اورېدلو لپاره کارول کېږي، ياد قرارداد ترسره شي، رضايي قرارداد ګڼل کېږي، څکه چې ددې وسايلو د استعمال په پايله کې د يو بل سره خپل نظريات تبادله کولای شي.

مګر هغه قرارداد چې د وېبپاڼې (website) له لارې ترسره شي، چې په زياترو حالاتو کې ياد بيلګه ييز قراردادونه چې شرطونه يې مخکې د مخکې د وړاندېز کوونکي د لورې ايښودل شوي وي، چې مشتري د بحث او مناقشې حق نه لري، نو د

قرارداد بل لوری په ډېر کمزوری حالت کې راڅرګندېږي. (خالد ممدوح، ابرام العقد الالکتروني /۸۸، ۸۹)

**درېیم مبحث: د برېښنايي قرارداد انعقاد**

د دې عنوان لاندې د برېښنايي قرارداد انعقاد په څلورو مطلبونو کې په برېښنايي قرارداد کې د ارادې تعبیر، برېښنايي ایجاب، برېښنايي قبول او د برېښنايي قرارداد ځای او وخت د بحث لاندې نیسو:

**لومړی مطلب: په برېښنايي قرارداد کې د ارادې تعبیر**

دا موضوع په درې عنوانونو کې په جلا جلا توګه تر بحث لاندې نیسو:

**لومړی جز: د ملي حقوقو د نظره په برېښنايي قرارداد کې د ارادې تعبیر:** په اصل کې د ارادې د تعبیر لپاره په عمومي قواعدو کې کومه مشخصه کړنلاره نه ده تنظیم شوې، د متعاقد لپاره جواز لري، تر څو د خپلې ارادې د تعبیر لپاره، کومه کړنلاره ټاکي، ټاکلی یې شي، په دې شرط چې واضحه وي او مقابل لوری پرې پوه شي، دلته دا پوښتنه را پیدا کېږي، چې ایا د افغانستان په سوداګریزو قوانینو کې د قرارداد ترسره کولو لپاره د اوسني برېښنايي وسایلو پر مټ خپله اراده ښکاره کولای شي او که نه؟

د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې د افغانستان په سوداګریزو قوانینو کې په قرارداد کې د ارادې د تعبیر لپاره د برېښنايي وسایلو د کارولو یادونه کړې، چې د سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون کې سوداګریز سند یې داسې تعریف کړی: سند لیکلې پاڼه یا برېښنايي (تلیګرام، تلیکس، فکس، د برېښنايي معلوماتو تبادله او برېښنايي پست) پیغامونه دي، چې د عقد د اړخونو اراده په کې منعکسه کېږي (د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون، دریمه ماده /۱۴ فقره).

یاده ماده کې په صراحت سره د برېښنايي وسايلو او آلاتو کارول د ارادې د ښکاره کولو لپاره مشروع ګرځولې، په ذکر شوې ماده کې د برېښنايي وسايلو څخه د ټيليګرام ، تيليکس او فاکس سربيره د برېښنايي معلوماتو تبادله د چې د انټرنيټ د لارې او همدارنګه برېښنايي پست ته چې د برېښنالیک د لارې ترسره کيږي صراحت لري. همدارنګه ياد قانون د ارادې د تعبير لپاره د مروجو وسايلو د کارولو حکم کړی، په دې اړه د افغانستان د سوداګريزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون کې د ايجاب په اړه داسې صراحت لري: (ايجاب په شفاهي يا ليکلې توګه د قرارداد د يوه اړخ د ارادې څرګندول دي، بل لوري يا لورو ته او د ماضي، حال يا امر په صيغه د مروجو وسايلو له لارې بيان او د لاندې ټکو لرونکي دي:

شرايط يې مشخص او ټاکلي وي. له بل اړخه د منلو په وړاندې د ژمن پاتې کېدو په اړه د وړانديز کوونکي د قصد بيانوونکي وي (د سوداګريزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون، يوولسمه ماده) په ياده ماده کې د ارادې تعبير په شفاهي او ليکلې توګه له يو لوري څخه بل لوري ته، د مروجو وسايلو په واسطه ترسره کيږي. له دې مادې څخه داسې استنباط کيږي، چې د ارادې د ښکاره کولو لپاره د وخت او عصر مطابق مروج وسايل چې په هغه کې برېښنايي وسايل هم شامل دي، خپله اراده ښکاره کولای شي.

اوسنی پير يا عصر چې د پرمختګ او ټکنالوژۍ عصر دی او د نړۍ تقريباً ټولې معاملې له همدې لارې تامينيږي، په دې کې شک نه شته، چې برېښنايي وسايلو د انسانانو په ژوند کې يو نوی تحول او انقلاب راوستی، چې د ژوند زياتره اړتياوې له همدې لارې پوره کوي، په ذکر شوې ماده کې د ارادې ښکاره کول په شفاهي او ليکلې توګه د مروجو وسايلو په واسطه ترسره کولو ته اشاره شوې، اړينه ده چې دلته

یادونه وکړو، چې د هر وخت او عصر مطابق مروجې وسیلې توپیر کوي، پخوا چې برېښنايي وسایل شتون نه درلود، په قرارداد کې د ارادې ښکاره کول په شفاهي توګه چې مخامخ به د دواړو لورو تر منځ قرارداد ترسره کېده، که چېرته به بل لورې لېرې و، نو بیا به یې د لیکنې له لارې د ارادې تعبیر کېده، د وخت په تېرېدلو سره کله چې د مکالمې لپاره نوي برېښنايي وسایل لکه تیلیفون او د لیکنې لپاره فاکس رامنځته شو، نو له دې وسایلو څخه په شفاهي او لیکلي ډول اراده ښکاره کیدل شروع شول.

د یادولو وړ ده چې د انټرنیټ په ایجاد سره په دې وسایلو کې نورې اسانتیاوې هم رامنځته شوې، هم په مکالماتي برخه کې او هم د لیکنې په برخه کې په برېښنايي توګه لیکنې د برېښنالیک د لارې استول کېدې، دا یوه نه منونکې خبره ده، چې د دې وسایلو له کارونې څخه سترګې پټې کړو، نو په همدې اساس مروجو وسایلو کې نني برېښنايي وسایل چې د قراردادونو په ترسره کولو کې کارول کېږي، ذکر شوي مادې له مخې مشروعیت لري.

همدارنګه د سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو قانون په نورو مادو کې او د سوداګرۍ په اصولنامه کې هم د برېښنايي وسایلو د استعمال یادونه شوې چې د بېلګې په توګه یې ذکر کوو، د سوداګري په اصولنامه کې د هغه عقد یادونه کړې، چې د مخابرې په وسیله ترسره کېږي، یاده ماده داسې صراحت لري: (هغه عقد چې د مخابرې په ذریعه وشي، د قبول د ځواب د لېږلو د نېټې څخه تړل کېږي او د اعتبار وړ بلل کېږي، لکه چې په (٦١٣) ماده کې مقرره شوې ده، په هغه صورت چې قبول په صراحت سره لازم نه دی، عقد مخاطب ته د ایجاب رسېدو له نېټې څخه د اعتبار وړ دی. (د سوداګرۍ اصولنامه/٦١٧ماده) د یادې مادې له مخې قرارداد ته یې د مخابرې له لارې اعتبار ورکړی دی، همدارنګه د نورو وسایلو لکه تیلیفون هم په

همدې مخابرې قیاس کولای شو، لکه څرنګه چې یاد قانون په داسې مهال تصویب شوي و، چې په هغه مهال انټرنېټ او نورو اسانتیاوې نه وې رامنځته شوې، نو په همدې اساس د وخت مطابق د مخابرې یادونه په کې شوې ده، مګر په وروستیو کې چې کله نوي سوداګریز قوانین تصویب شول، نو له برېښنايي وسایلو څخه هم یادونه وشوه. د پورته بحث پایله دا ده، چې په ملي حقوقو کې د برېښنايي وسایلو د لارې په قرارداد کې د ارادې ښکاره کولو ته اعتبار ورکړل شوی.

**دویم جز: د بین المللي حقوقو له نظره په برېښنايي قرارداد کې د ارادې تعبیر**

په بین المللي حقوقو کې هم د ارادې د ښکاره کولو لپاره په قوانینو کې صراحت شتون لري، چې موږ هم د یونسټرال بیلګییز له قانون څخه یادونه کوو، یاد قانون د ارادې د ښکاره کولو لپاره د (Data message) د لارې په برېښنايي شکل د ارادې د تبادلې لپاره صراحت لري، د یاد قانون یوولسمه ماده داسې صراحت لري: د قرارداد د جوړښت پر مهال دواړه لوري کولای شي، ایجاب او قبول د معلوماتي پیغام (Data message) له لارې اراده ښکاره کړي.

هر کله چې د قرارداد د جوړښت پر مهال د معلوماتي پیغام (Data message) په کارولو سره دغه قرارداد خپل صحت او د اجرا قابلیت یوازې معلوماتي پیغام ( Data message) په کارولو سره د هغه هدف لپاره چې قرارداد ترسره کېږي خپل اعتبار د لاسه نه ورکوي (د یونسټرال برېښنايي سوداګرۍ قانون ۱۹۹٦م/ یولسمه ماده) له یادې مادې څخه ښکاره کېږي، چې په برېښنايي توګه د ارادې تعبیر په بین المللي حقوقو کې هم منل شوی دی، په پای کې باید ووایو چې هم په ملي او هم په بین المللي حقوقو کې د ارادې تعبیر د برېښنايي وسایلو په واسطه اعتبار لري.

**درېیم جز: په برېښنايي قرارداد کې د ارادې د تعبیر صورتونه:** د اتصال او اړيکو نیونکو وسایلو په پرمختگ سره د ارادې د تعبیر لپاره له بېلابېلو وسایلو څخه کار اخیستل کېږي، چې له دې وسایلو څخه د انټرنیټ شبکه د یادولو وړ ده، د دې لارې مهم خدمات د برېښنالیک خدمت، د وېبپاڼې یا انټرنیټ ي صفحې خدمت او د محادثې او لیدنې خدمتونه دي، چې موږ یې هم په لاندې توگه تر بحث لاندې نیسو:

**لومړۍ فقره : برېښنالیک (E-mail)**

له برېښنالیک څخه مقصد د لیکنو استول او تبادله ده، د لورو ترمنځ د عادي وسایلو پرځای په برېښنايي طریقې سره د انټرنیټ ي شبکې له لارې ترسره کولو ته برېښنالیک وايي، په عمومي توگه برېښنالیک ته د عادي لیکونو پرځای مناسبه برېښنايي لاره گڼي، نو په همدې اساس باید د برېښنالیک په ساحه کې د عادي لیکنو پرځای خاص قواعد تطبیق شي، ځکه کله چې عادي لیک د پوسته خانې په صندوق کې داخل شي، نو په دې حالت کې د شخص له واک نه وځي او نشي کولای، چې بېرته یې استرداد کړي، همدارنگه برېښنالیک هم په همدې شکل اجرا کېږي، د دې په واسطه کولای شي، چې لیک ځومره حجم ولري ولېږي.

د برېښنالیک د استولو لپاره تر ټولو مهمه داده، چې د هغې عنوان مشخص وي، تر څو وکولای شي، برېښنالیک ولېږئ، د برېښنالیک عنوان له درو اجزاوو څخه تشکیل شوی وي، لومړی جز د (Login name) د داخلېدو نوم، دویم جز یې د @ علامه او دریم جز یې (domain name) د شخص ځانگړې نوم راځي.

د برېښنالیک لېږل د هر هغه کمپیوټر له لارې ترسره کېدای شي، چې له انټرنیټ سره وصل وي، د ټولو معلوماتو او اسنادو استول او د قراردادونو ترسره کول له همدې لارې اجراً کېږي (اودیم سلوم الحایک، مزودي خدمات الانترنت التقنیة/۳۲).

د ارادې تعبير د برېښناليک له لارې لومړی شخص (لېږونکی) چې برېښناليک ولري، د انټرنيټ له لارې چې هر چا ته برېښناليک ولېږي، لېږلی شي.

نو لومړی به د (مرسل اليه) شخص برېښناليک پته او ادرس او ورسره به ليک هم وليکي، چې وروسته به د لېږلو په بټن باندې زور وکړي، له دې څخه وروسته به ليک لېږدول شوی شخص ته ورسيږي، له دې څخه وروسته به نوموړی شخص خپل ليکل راښکته کړي او د لېږونکو د ليکنو په ځای کې چې د ترلاسه شوي ليکنو په نامه يادېږي، جمع به يې کړي، د ترلاسه شوي ليکنو په خانه کې ټولې هغه ليکنې شتون لري، چې دې ته لېږل شوي وي، د ليک له لوستلو څخه وروسته کولای شي چې د قبول او يا له انکاره ځواب ولېږي. (تامر محمد سليمان الدمياطي، اثبات التعاقد الالکتروني عبرالانترنت/ ۵۲)

د برېښناليک له لارې د ارادې تعبير ليکنه ده، چې دغه ليکنه په خپل جوهر کې د عادي ليکنې څخه توپير نه لري، د توپير نقطه يوازې په وسيله کې ده، چې دواړه سره جلا کوي، په ټوليز ډول د برېښناليک له لارې ليک يو خاص نوعه ليک دی، چې د کاغذي اسنادو په څير نه دی، بلکې د برېښنايي اسنادو په څير استعمالېږي.

## دويمه فقره: د وېبپاڼې له لارې د ارادې تعبير يا (website)

د ارادې د تعبير لپاره د ويب سايټ څخه زياته استفاده کېږي، د (web) کلمه (world wide web) لنډيز ده او معنی يې نړيواله معلوماتي شبکه ده، د وېبپاڼې له لارې د ارادې ښکاره کول په څو طريقو ترسره کېږي، يادې طريقې د ليکنې په واسطه او يا هم د عمومي (مينيو) په واسطه د موافقې خانې په کيکاږلو سره اراده ښکاره کوي او يا د ماوس په واسطه په وېبپاڼه کې د مخصوصې خانې په کيکاږلو سره اراده تعبيرېږي.

په دې طریقه چې د ځینو اشاراتو او رموزو په کارولو سره د انټرنیټ کارونکو ترمنځ کارول کېږي، د بېلګې په توګه لکه خندنی مخ چې په رضایت باندې دلالت کوي او همدارنګه تروش تندی چې د انکار په توګه کارول کېږي او ورسره په عمودي شکل د سر خوځېدنه چې په موافقې باندې دلالت کوي او یا په افقي شکل د سر خوځېدنه چې په انکار باندې دلالت کوي.

د وېبپاڼې له لارې د ارادې ښکاره کول کېدای شي، د لیکنې له لارې او یا د موافقې د بټنې په کېکاږلو سره او یا په اشارې سره ترسره شي، دغه وسایل په خپل ذات کې د خپلې عادي معنی څخه نه وځي، چې دا له کمپیوټر پرته د وړاندیز کوونکي د ارادې تعبیر کوي، ځکه چې دا نه حس کېدونکي وسایل دي.

**درېیمه فقره: د ارادې تعبیر د انټرنیټ له لارې د مکالمې او مشاهدې په واسطه**

د انټرنیټ کارونکي کولای شي، د مکالماتي پروګرامونو په واسطه نېغ په نېغه خبرې اترې وکړي، خو په دې شرط چې دواړه لوري سره په هم مهاله وصل وي، د مکالمې له لارې د ارادې تعبیر د لیکلو د لارې ترسره کېږي، د دې پروګرام صفحه په دوو برخو تقسیمیږي، لومړۍ برخه کې د خپلو افکارو تعبیر په لیکلي شکل تعبیروي، په دویمه برخه کې له بل لوري څخه لیک ترلاسه کوي.

مګر د مشاهدې له لارې قرارداد له برېښنایي وسیلې سره صوتي او لیدونکي وسایل (مایکروفون او کیمره) پکې موجود وي، چې له دې لارې متعاقد کولای شي، یو بل وګوري، چې له دې لارې قرارداد نېغ په نېغه له اواز او تصویر له مادي حضور پرته په هماغه ځای کې ترسره شي، چې د ارادې تعبیر د لفظ، لیکنې او اشارې په واسطه صورت نیسي. (تامر محمد سلیمان الدمیاطي، اثبات التعاقد الالکتروني عبرالانترنت/۵۳)

**پایله**

۱- برېښنايي قرارداد هغه اتفاق دی، چې د اوسني برېښنايي وسایلو په واسطه منعقد کېږي او یا هم له لېرې واټن څخه د دوو اړخونو تر منځ له مادي حضور پرته ترسره کېږي.

۲- دغه موضوع په ملي او بین المللي حقوقو کې واضحه شوې، چې ځینې احکام یې د افغانستان د سوداګریزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو په قانون کې له ځینو یې په تجارتي اصولنامه کې هم یادونه شوې، چې په همدې اساس دلته زما موضوع د ملي او بین المللي حقوقو په رڼا کې د تجارتي برېښنايي قراردادونو څېړل دي، مونږ په ملي او بین المللي حقوقو کې د تجارتي برېښنايي قراردادونو د تنظیم په موخه دغه مقاله ترتیب کړې، چې په دې پایله کې ځینې موارد ددې څېړنې نتایج او لاسته راوړنې ګڼل کېږي.

۳- برېښنايي قرارداد هغه اتفاق دی، چې د برېښنايي وسایلو په واسطه په کُلي یا جزئي توګه منعقد کېږي، چې د مختلفو برېښنايي وسایلو په واسطه لکه، تیلیفون، فاکس او د انټرنیټ له لارې ترسره کېږي، برېښنايي قرارداد د انعقاد لپاره په مختلفو وختونو کې له بېلابېلو وسایلو څخه ګټه پورته شوې لکه، میني ټل آد، تلکس، فاکس، مشاهدوي تلیفونونه، تلوېزیون او انټرنیټ د یادولو وړ دي.

**مناقشه**

د موضوع له څېړلو څخه وروسته دا جوتیږي، چې په اصل کې د برېښنايي قرارداد د انعقاد او د ارادې د تعبیر لپاره په عمومي قواعدو کې کومه مشخصه کړنلاره نه ده تنظیم شوې، نو د متعاقد لپاره جواز لري، تر څو د خپلې ارادې د تعبیر لپاره کومه کړنلاره ټاکي ټاکلی شي، په دې شرط چې واضحه وي او بل لوری پرې پوه شي، نو

په برېښنايي قرارداد کې اراده د برېښنايي وسايلو پر مټ ښکاره کوي، چې ډېرى قراردادونه د انټرنيټ له لارې د برېښناليک په کارولو سره منعقد کېږي.

د برېښنايي قرارداد د انعقاد لپاره ايجاب او قبول لازمي عناصر دي، له دې پرته قرارداد نه رامنځته کېږي، ايجاب او قبول د دوو ارادو يوځای والي او مطابقت ته ويل کېږي، چې د قانوني اثر د رامنځته کېدو سبب ګرځي، برېښنايي قرارداد د نورو قراردادونو په شان له ددې قاعدې څخه نه وځي، چې په قرارداد کې د ارادې تعبير يعنې ايجاب او قبول او د دواړو ارتباط د عامو مروجو وسايلو پرځای د اوسنيو مخابراتي شبکو او برېښنايي وسايلو په واسطه ترسره کېږي.

**پایله اخیستنه**

الکترونيکي قراراداد هغه اتفاق دی، چې د اوسنيو برېښنايي وسايلو په واسطه منعقد کېږي او يا هم له ليرې واټن څخه د دوو اړخونو تر منځ له مادي حضور پرته ترسره کېږي. دغه موضوع په ملي او بين المللي حقوقو کې واضحه شوې، چې ځينې احکام يې د افغانستان د سوداګريزو قراردادونو او مالونو د خرڅلاو په قانون کې او ځينې يې تجارتي اصولنامه کې هم ياد شوي دي، په همدې اساس دلته زما موضوع د ملي او بين المللي حقوقو په رڼا کې د تجارتي برېښنايي قراردادونو څېړل دي، مونږ په ملي او بين المللي حقوقو کې د تجارتي برېښنايي قراردادونو د تنظيم په موخه دغه څېړنه ترسره کړې، چې په دې پايله کې ځينې موارد ددې څېړنې نتايج او لاسته راوړنې ګڼل کېږي، چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو:

۱- برېښنايي قرارداد هغه اتفاق دی، چې د برېښنايي وسايلو په واسطه په کلي يا جزئي توګه منعقد کېږي، چې د مختلفو برېښنايي وسايلو په واسطه لکه، تيليفون، فاکس او د انټرنيټ له لارې ترسره کېږي، برېښنايي قرارداد د انعقاد لپاره په

مختلفو وختونو کې د بېلابېلو وسایلو څخه ګټه پورته شوې ده، لکه میني ټل آد، تلکس، فاکس، مشاهدوي تلیفونونه او تلویزیون او انټرنیټ د یادولو وړ دي.

۲- د برېښنايي قرارداد د انعقاد لپاره د برېښنايي ایجاب په مفهوم کې دواړه ملي او بین المللي حقوقو کې د برېښنايي وسایلو په واسطه د ایجاب په وړاندې کولو کې همغږي دي او له برېښنايي لارې ایجاب ته اعتبار ورکوي.

**وړاندیزونه**

۱- په افغانستان کې د نسبي ثبات په راتګ سره سوداګریز فعالیتونه د پخوا په نسبت څو چنده زیات شوي، دارنګه د ټکنالوژۍ په پرمختګ او د انټرنیټ ي اسانتیاو په منځته راتګ سره یو بل سوداګریز قرارداد چې هغې ته برېښنايي قرارداد ویل کېږي، رامنځته شو، له دولت نه زما هیله داده، چې ددې برخې د پیاوړتیا لپاره نور لازم سهولتونه ایجاد کړي او ددې قراردادونو د تقویې لپاره کوټلي ګامونه واخلي.

۲- که څه هم د نوي نظام او حکومت په راتګ سره په ډېرو برخو کې قوانین وضع شول، دارنګه د سوداګریزو معاملاتو لپاره هم نوی قانون رامنځته شو، چې ټول سوداګریز قراردادونه د همدې قانون په اساس تنظیمېږي، خو له بده مرغه تر اوسه پورې د برېښنايي معاملاتو لپاره کوم ځانګړې قانون شتون نه لري، چې دا په دې برخه کې لویه خلا په ګوته کوي او په دې قراردادونو کې د خنډ او ځنډ لامل ګرځي، نو غوښتنه مو داده چې په دې هکله دې په منظم ډول نوی ځانګړی قانون ایجاد شي.

۳- په افغانستان کې د سوداګریزو برېښنايي قراردادونو د تنظیم او اسانتیاو د ایجاد لپاره لازمې کړنې نه دي ترسره شوي، چې تراوسه پورې یاد قراردادونه د عامو سوداګریزو قوانینو په چوکاټ کې تنظیمېږي او د ټکنالوژۍ په برخه کې هم

لازمې اسانتیاوې نه دي رامنځته شوي، نو زموږ غوښتنه داده چې دې برخې ته دې جدي پاملرنه وشي او لاندې اقدامات په نظر کې ونیول شي.

**مأخذونه**


۱- عدلیې وزارت، رسمي جریده. ( ۱۳۹۳ هـ ش ) . د سوداګریزو قراردادونو او د مالونو د خرڅلاو قانون،پرلپسې نمبر(۱۱۵۰).

۲- عدلیې وزارت، رسمي جریده . ( ۱۳۵۵ هـ ش ) . د افغانستان مدني قانون، دویم ټوک، پرلپسې ګڼه ( ۳۵۳ ).

۳- عدلیې وزارت، رسمي جریده.. ( ۱۳۳۶هـ ش ) . د سوداګری اصولنامه، پرلپسې ګڼه نلري.

۴- یونسټرال برېښنایي سوداګری بیلګییز قانون.(۱۹۹۶م).

۵- اباالخیل، ماجد محمد سلیمان.( ۲۰۰۹ م ). العقد الالکتروني، ریاض، مکتبة الرشد.

۶- الاباصیري، فاروق.(۲۰۰۳م). عقد الاشتراك في قواعد المعلومات الالکترونية دراسة تطبیقية لعقود الانترنت، دار النهضة العربية، القاهرة.

۷- ابراهیم، خالد ممدوح .( ۲۰۰۶م ) ابرام العقد الالکتروني، مصر، درالجامعة الفکري.

۸- ابرهیم، خالد ممدوح.( ۲۰۰۸م). لوجستیات التجارة الالکترونیة، اسکن‌درية، دراالفکر الجامعي.

۹- حمودي، محمد ناصر. ( ۲۰۱۲م). العقد البیع الدولي الالکتروني المبرم عبرالانترنت ، الجزایر، دارالثقافة للنشر والتوزیع.

١٠- دمياطي،تامرمحمدسليمان.(٢٠٠٩م). اثبات التعاقد الالكتروني عبرالانترنت. لبنان، المؤسسة الحديثة للكتاب.

١١- رمضان، مدحت عبدالحليم. ( ٢٠٠۴ م ) . الحماية الجنائية للتجارة الالكترونية، القاهرة، دارالنهضة العربية.

١٢- العجلوني، احمد خالد. (٢٠٠٢ م ). التعاقد عن طريق الانترنت، اردن، دار الثقافة للنشر والتوزيع.

١٣- مناني، فراح . ( ٢٠٠٩) . العقد الالكتروني وسيلة اثبات حديثه في القانون المدني الجزايري ، الجزاير : داراددى للنشر والطباعة.

١۴- حمودي، محمد ناصر. ( ٢٠١٢م). العقد البيع الدولي الالكتروني المبرم عبرالانترنت ، الجزاير، دارالثقافة للنشر والتوزيع.

١۵- برهان، سمير. ( ٢٠٠٧ ). العقود والانفاقات في التجارة الالكترونية، المنظة العربية للتنمية الادارية، جامعة الدول العربية.

**محمد ابراهیم سکندري**
حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو مؤسسه
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمد ایمل حقمل

---

## په حقوقي سیستمونو باندې د حاکمو اصولو څېړنه

**لنډيز**

حقوقي سیستم د هغو مجموعو څخه عبارت دی، چې یو شان پایداره عناصر ولري او یا هم حقوقي سیستم د هغو حقوقي نظامونو مجموعې ته ویل کېږي، چې یو شان جوړښت ولري، لکه د کامن لا حقوقي سیستم چې د انګلیس، آمریکا، کاناډا، استرالیا، ایرلنډ او هند د حقوقي نظامونو څخه تشکیل شوی او یا هم د روم جرمن حقوقي سیستم، چې د فرانسي، آلمان، ایټالیا، بلژیک، هالند، اسپانیا او نورو حقوقي نظامونو څخه تشکیل شوی دی، په نوموړو حقوقي سیستمونو باندي ځینې اصول د دې لپاره حاکم دي، چې د حقوقي سیستمونو شمېر معلوم او هم د وېشنې دلایل روښانه کړي.

د دې موضوع د څېړلو اهمیت په دې کې دی، چې پر اساس یې حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول او هم هغه دلایل، چې په نړۍ کې محدود شمېر حقوقي سیستمونو کې وجود لري روښانه کېږي.

د دې موضوع د څېړلو موخه د نړۍ په حقوقي سیستمونو باندې د حاکمو اصولو پېژندل او د یادو اصولو د ګټو روښانه کول دي.

نوموړې څېړنه کې د کتابتوني او تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې، ځکه چې د موضوع اړونده مواد په کتابونو، مجلو او معتبرو سایټونو کې شتون درلود له نوموړو ځایونو څخه مې مواد ترلاسه او بیا مې په خپل تحلیل سره په څېړنه کې ځای پر ځای کړي دي.

په څېړنه کې دې پایلې ته ورسېدم، چې د نړۍ حقوقي سیستمونو باندې یو شمېر حاکم اصول شتون لري، چې د دې له مخې محدود شمېر حقوقي سیستمونه په نړۍ کې وجود لري، نوموړي اصول عبارت له، تاریخي مخینه، حقوقي منطق، حاکمه ایډیالوژي، د حقوقو منابع او د هغوی مقام څخه دي.

**کلیدي کلمې**: تاریخي مخینه، حاکم اصول، حاکمه ایډیالوژي، حقوقي سیستم او حقوقي منطق

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه أجمعین وبعد: دا چې انسان یو ټولنیز موجود دی او نه شي کولای په تنهایي سره خپل ژوند پر مخ یوسي او د ژوند ستونزې حل کړي، نو اړ دی، څو د ټولنې له نورو وګړو سره په اړیکه کې پاتې شي، چې د ژوند د ښه تنظیم په موخه یو لړ اصولو ته ضرورت دی، څو د وګړو حقوق تامین شي، د انساني ټولنو ترمنځ بېلابېل توپیرونه (عرفي، نژادي، ژبني او مذهبي) د دې سبب ګرځېدلي، چې په نړۍ کې د حق د اکتساب لپاره هم بېلابېلې طریقې وجود ولري، دغه نظامونه هم په ټوله کې د یو لړ اصولو په رڼا کې منځته راغلي او کله، چې څو نظامونه د یو لړ اصولو څخه ګټه اخلي، نو یو سیستم ته داخلیږي، چې دېته بیا حقوقي سیستم وایي، یعنې د حقوقي نظامونو ټولګه، چې یو شان جوړښت ولري حقوقي سیستم ګڼل کیږي او حقوقي

نظامونه بیا د هغو قواعدو مجموعه ده، چې د یو هېواد اساس او جوړښت په هغه باندې ولاړ وي او ډېری حقوق پوهان په دې نظر دي. حقوقي نظام د څو حقوقي سیستمونو څخه چې یو شان پایداره عناصر ولري رامنځته کېږي لکه، د کامن لا حقوقي نظام چې د انګلیس، آمریکا، کاناډا، استرالیا، ایرلنډ او هند د حقوقي سیستمونو څخه تشکیل شوي او یا هم د روم جرمن حقوقي نظام، چې د فرانسې، آلمان، ایټالیا، بلژیک، هالند، اسپانیا او نورو حقوقي سیستمونو څخه تشکیل شوي دي(۸ : ۲۱).

## د څېړنې مسله

لکه څرنګه چې لیدل کېږي په نړۍ کې محدود شمېر حقوقي سیستمونه وجود لري په داسې حال کې چې د هېوادونو شمېر د حقوقي سیستمونو په پرتله ډېر دی، نو دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې څنګه دومره هېوادونو په محدود شمېر حقوقي سیستمونو کې مشخص شوي او ځانته یې ځای پیدا کړی دی، چې په دې بحث کې دې پوښتنې ته ځواب ویل شوی دی او همدارنګه دا په کې روښانه شوي، چې د کومو اصولو په اساس یو هېواد د یو مشخص حقوقي سیستم څخه پیروي کوي.

## د څېړنې اهمیت

د دې موضوع د څېړنې اهمیت په لاندې ټکو کې روښانه کېږي.

۱- د دې موضوع څېړل ځکه د اهمیت وړ وو، چې د نړۍ حقوقي سیستمونو د شمېر په اړه د خلکو او په ځانګړې توګه د حقوقو د مسلک لارویانو د پوهې کچه لوړوي.

۲- د دې موضوع په څېړلو سره روښانه شول، چې کوم هېوادونه په یو سیستم کې داخلېږي او ولې داخلېږي.

۳- د یادې موضوع په څېړلو سره روښانه شول، چې په سیستمونو کې د هېوادونو د داخلېدلو ګټې څه دي، چې دا د دې موضوع ځانګړی اهمیت په ګوته کوي.

## د څېړنې موخه

۱- د نړۍ د لویو حقوقي سیستمونو په اړه د معلوماتو تر لاسه کول.

۲- د نړۍ په حقوقي سیستمونو باندې د حاکمو اصولو پېژندل.

## د څېړنې پوښتنې

د نوموړې څېړنه په پای کې لاندې پوښتنې ځوابېږي:

**الف. اصلي پوښتنه**

په حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول کوم دي؟

**ب. فرعي پوښتنې**

۱- په نړۍ کې څو حقوقي سیستمونه وجود لري؟

۲- د حقوقي نظامونه ویشنه په حقوقي سیستمونو کې کومې ګټې لري؟

## پخوانیولیکنو ته منطقي کتنه

د نوموړې موضوع تر عنوان لاندې په پښتو او دري ژبو کې کوم ځانګړی کتاب شتون نه درلود، خو بیا هم د مقایسوي حقوقو او معاصر حقوقي سیستمونو په کتابونو کې د نوموړې موضوع څخه په ضمني ډول یادونه شوې، چې په لنډ ډول یې ذکر کوم:

**۱- تطبیقي حقوق:** د داکتر عبدالحسن شیروي لیکنه ده، چې نوموړي پخپل کتاب کې د نړۍ د لویو حقوقي کورنیو تر عنوان لاندې حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصولو ته په ضمني ډول اشاره کړې، نوموړي پخپل کتاب کې ویلي چې د حقوقي

سیستمونو د وېشنې په برخه کې ځینې محدودیتونه وجود لري، چې دغه محدودیتونه یې په دریو برخو وېشلي، چې لومړي محدودیت کې یې په حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول ذکر کړي او همدلته یې د نومړو معیارونو څخه یادونه کړې ده (۱۳: ۱۱۷، ۱۱۸).

زما څېړنه د عبدالحسن شیروی له کتاب سره کاملأ توپیر لري او هغه دا، چې ما په خپله څېړنه کې په حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول د حقوقي سیستمونو د محدویت تر چتر لاندې نه، بلکې د یو مهم عنوان لاندې په جلا ډول هر اصل روښانه کړي.

**۲- معاصر حقوقي سیستمونه:** د محمد ضیاءالحق شمس لیکنه ده نومړې پخپل کتاب کې هم په حقوقي سیستمونو کې د ډلبندي په معیارونو باندې په یو مبحث کې بحث کړی او یوازې د نومړو معیارونو اهمیت یې روښانه کړی او په خپل کتاب کې د رنه ډاوید نظریات را اخیستي دي.

زما څېړنه د محمد ضیاءالحق شمس د څېړنې سره کاملأ توپیر لري او هغه دا چې ما پخپله څېړنه کې لکه څرنگه مې چې پورته هم روښانه کړل، چې لومړی مې حقوقي سیستمونه روښانه کړي بیا مې د حقوقي سیستمونو د وېشنې گټې روښانه کړي او په پای کې مې حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول یو په یو را اخیستي او څېړنه کې مې تشریح او ځای پر ځای کړي دي.

**۳- در امدی بر حقوق تطبیقی و دو نظام بزرگ حقوقی معاصر:** کتاب کې رنه ډاوید هم نومړې څېړنه ته ضمني اشاره کړې او وایي، چې د اصولو په رڼا کې د وېشنې گټه دا ده، چې موږ ته د سیستمونو شمېر را په گوته کوي، خو خپله یې حاکم اصول نه دي روښانه کړي او هم یې ورته کوم خاص عنوان نه دی مشخص کړي،

خو ما پخپله څېړنه کې په حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول د جلا عنوان لاندې په جلا ډول مشخص او بیان کړي مې دي.

همدرانګه نورو علماؤ هم له یادې موضوع څخه پخپلو کتابونو کې یادونه کړې، لکه معاصر حقوقي سیستمونه د پوهنوال محمد ایمل حقمل، حقوق تطبیقی د دوکتور محمود عرفاني، تطبیقي حقوق د محمد تقي، چې د نوموړو ټولو له لیکنو سره زما د څېړنې توپیر دا دی، چې ما لومړی په حقوقي سیستمونو باندې بحث کړی وروسته مې د وېشنې په اهمیت او ورپسې د نړۍ د حقوقي کورنیو پر شمېر او بیا یې پر حاکمو اصولو غږېدلی یم.

## د څېړنې تګلاره

د دې موضوع د څېړلو لپاره د کتابتوني او تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې، مواد او اطلاعات مو د معتبرو منابعو څخه راټول کړي او د تجزیې او تحلیل وروسته مو په خپله ژبه د سلسله مراتبو په نظر کې نیولو سره په اړونده عناوینو کې تنظیم کړي.

## د څېړنې حدود

په دې څېړنه کې مې یوازې د هغو اصولو څخه بحث کړی، چې د حقوقي سیستمونو په وېشنه کې رول لري.

## لومړی مبحث: د حقوقي سیستمونو پېژندنه

سیستم په خپله لاتیني ریښه لري، چې د راټولو او یو ځای کولو په معنی راغلی او په اصطلاح کې سیستم هغه ټولګه ده، چې له غیرې مادي عناصرو څخه په داسې توګه رامنځته شوی وي، چې یو له بل سره تړلي وي او هر یو له هغه عناصرو څخه له منطقي پلوه د عنوان په پایله کې اړین بلل کیږي (۳ : ۲۲۲).

د پورته توضیح په نظر کې نیولو سره حقوقي سیستم د څو هغو حقوقي نظامونو ټولګه ده، چې یو شان جوړښت ولري او یا هم حقوقي سیستم د هغو مجموعو څخه عبارت دی، چې یو ډول پایښت لرونکي عناصر ولري، لکه د کامن حقوقي سیستم چې د انګلیس، امریکا، کاناډا، استرالیا، ایرلنډ او هند له حقوقي نظامونو څخه تشکیل وي او یا هم د رومن جرمن حقوقي سیستم، چې د فرانسې، المان، ایټالیا، بلژیک، هالنډ، هسپانیا او نورو حقوقي نظامونو څخه تشکیل شوی دی (۸: ۲۰) او (۴: ۲۷)

**دویم مبحث: د حقوقي سیستمونو د وېش ځانګړنې**

کله چې کوم شخص حقوقي کورنۍ جلا کوي غوره به دا وي، چې هغو منفردو نورمونونو ته چې په یوې ټاکلې لحظې کې په حقوقو کې منځته راځي او ډېر دوام لري پاملرنه ونه کړي، دا چې کوم عناصر باید یو حقوقي نظام په یوې ټاکلې حقوقي کورنۍ کې شامل کړي د دې کار لپاره بېلابېلې لارې شته.

په لومړي سر کې داسې یو فکر موجود وو، چې حقوقي کورنۍ باید د حقوقي سرچینو او د حقوقو پوهانو د کار د طریقو پر اساس سره ووېشلي شي، وروسته دا فکر پیدا شو، چې ټاکوونکې ځانګړتیاوې د حقوقي پرنسیپونو او د حقوقي علایقو دننه باید ولټول شي. یو بل نظر دا وایي، چې دا کار دې د حقوقي جوړښت، حقوقو وېش او حقوقو د اصولو پر اساس، چې حقوق پوهان ورڅخه کار اخلي وشي. د حقوقو د وېش بنستیز ملحوظات هم بې اغېزې نه دي پاتې آلمانیانو او فرانسویانو تر ډېره وخته دا نه منله، چې د یوې حقوقي کورنۍ غړي دې و اوسي.

شوروي حقوق پوهانو دا هڅه کوله، چې حقوقي نظامونه ډېر ساده کړي او هغه په سوسیالیستي او کاپېټالستي حقوقو ووېشي (۱۶: ۱۸).

د حقوقي تخنیک له نظره یو حقوق دان د دې لپاره، چې د حقوقو کورنیو په توپیر پوه شي، له ځانه دا پوښتنه کولای شي، چې ایا د یو ټاکلي حقوقي نظام یو عالم (پوه) پرته له ډېرو ستونزو د یو بل حقوقي نظام په مسایلو پوهېږي؟ که چېرې د دې پوښتنې ځواب منفي وي، نو دا ویلی شو، چې دا دواړه حقوقي نظامونه په یوې حقوقي کورنۍ پورې اړه نه لري، د دې علت به دا وي، چې د دواړو مقایسوي حقوقي نظامونو، حقوقي اصطلاحات سره بېل دي یا دا چې د دواړو حقوقي منابعو د مراتبو سلسله یا د دواړو هېوادونو د حقوق پوهانو طریقې سره بېلې دي (۹: ۱۹).

## درېیم مبحث: پر حقوقي سیستمونو د حقوقي نظانونو د وېشنې ګټې او ستونزې

دا چې پر حقوقي سیستمونو باندې د حقوقي نظانونه وېشنه کومې ګټې او ستونزې لري، په جلا جلا توګه د بحث لاندې نیسو.

### لومړی مطلب: پر حقوقي سیستمونو د حقوقي نظامونو د وېشنې ګټې

په نړۍ کې بېلابېل حقوقي نظامونه وجود لري او بېلابېل هېوادونه د بېلا بېلو نظامونو څخه پیروي کوي، دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي، چې ولې په نړۍ کې یو واحد حقوقي نظام شتون نه لري؟

د دې پوښتني ځواب، د ملتونو په ژوند، تاریخ، حاکم منطق، د ورځني ژوند بنسټونه، د حقوقو ارزښتونه، حاکمې ایډیالوژۍ او مذهب په توپیرونو کې موندل کېږي، دا چې د هرې ټولنې غوښتنې بېلې دي د هر ملت تاریخي مخینه جدا ده، هر هېواد کې د ژوند د بهبود لپاره قانع کوونکي بنسټونه سره جلا، مذهب او ایډیالوژي سره توپیر لري، نو همدا علتونه دي، چې په نړۍ کې یې د حقوقي نظامونو شمېر زیات کړی او دومره یې متعدد کړي، چې د ټولو مطالعه نه دا، چې ستونزمنه ده، بلکې امکان نه لري، ځینې نظامونه د خاصو ځانګړنو له کبله ډېر ژر د پام وړ ګرځي او ځینې نور بیا

په عامه توګه دوام مومي بې له دې چې په څېړنو کې د نظر لاندې ونیول شي، نو د دې لپاره چې دا حقوقي نظامونه په اسانۍ سره مطالعه شي، نو بدیهي ده، چې نوموړي نظامونه په څو لویو حقوقي کورنیو کې تقسیم او په اسانۍ سره یې مطالعه کړو، دا چې حقوقي سیستمونو وېشنه په حقوقي نظامونو باندې څه ګټې لري یو شمېر یې د بحث لاندې نیسو.

۱. **د زده کړې له پلوه:** یعنې د محدودو حقوقي سیستمونو مطالعه او زده کړه په اسانۍ سره کیږي (۱۲: ۲۶).

د مثال په توګه، که ووایو، چې الف حقوقي نظام د ب حقوقي سیستم پورې اړه لري، نو په اسانۍ سره پوهېدلای شو، چې دغه نظام کومې ځانګړنې لري؟

**۲. د میتود پېژندنې له پلوه:** حقوقي څېړونکي کولای شي، د دغو سیستمونو د ټولیزې وېشنې له مخې ځانګړي ډول روشونه ومومي، څو حقوق پرې مطالعه شي (۱۲: ۲۶).

**۳. د پرتلې له پلوه:** دا چې د معاصر حقوقي سیستمونو د مطالعې یوه دنده د حقوقي کورنیو پرتله ده، نو په کورنیو باندې د حقوقي سیستمونو د وېشنې پر اساس کولای شو، د هغو ځانګړتیاوې وپېژنو د اختلاف ټکي یې برسېره او یو له بل سره یې په اساني سره پرتله کړو (۱۲: ۲۶).

**۴. د نورو حقوقو د اسانې مطالعې له پلوه:** کله چې موږ په نړۍ کې څو مشخص حقوقي سیستمونه ولرو، نو په اسانۍ سره کولای شو نوموړي سیستمونه مطالعه کړو او کوم هېوادونه چې ترې پیروي کوي، نو د هغو په حقوقو پوهېدای شو (۱۲: ۲۶).

د پورته ګټو په نظر کي نیولو سره پوهېږو، چې حقوقو نظامونه باید په حقوقي سیستمونو کې ځای پرځای شي، څو په اسانۍ سره پرې پوهه ترلاسه کړو، خو د دې ګټو تر څنګ د څېړونکي له آنده د حقوقي سیستمونو د وېشنې پر وړاندې ستونزې هم وجود لري، چې په لنډه ډول ترې په لاندې ډول یادونه شوې ده:

## دويم مطلب: په حقوقي سیستمونو کې د حقوقي نظامونو د وېشنې پر وړاندې ستونزې

په حقوقي سیستمونو باندې د حقوقي نظامونو وېشنه د پورته ښېګڼو سره ځینې ستونزې هم لري، چې په ترتیب سره یې څېړو.

۱- په حقوقي سیستمونو باندې د حقوقي نظامونو وېشنه معیارونو ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې کره او سمو معیارونو موندل ستونزمن دي، د ۱۹مې پېړۍ د پیل راپدېخوا هڅه کېږي، چې یوه سالمه وېشنه رامنځته شي، خو په معیارونو کې د ستونزو له امله دا وېشنه یا د منلو وړ نه ده یا د ډېرو شخړو څخه ډکه یوه نظریه ده.

۲- د معیارونو زیاتوالی او تعدد د پخوا پر پرتله زیاتولو ته اړتیا ده، یعنې پخوا یو یا دوه معیارونه وول، نن باید زیات معیارونه د حقوقي سیستمونو د جلا والي لپاره په نظر کې ونیول شي.

۳- د حقوقي فرهنګ له پامه غورځول بله ستونزه ده، دا چې هر حقوقي نظام د یو فرهنګ په سینه کې راټوکېدلی سیستم دی، نه شي کولای له فرهنګ او فرهنګي غوښتنو بې اغېزې وي، چې د فرهنګونو جلاوالی نن ورځ د حقوقي سیستمونو د وېشنې پر وړاندې یو خنډ دی.

۴- دا چې حقوقي سیستمونه د ځینو حقوقي څېړنو پر بنسټ منځته راغلي، نو حتمي ده، چې څېړونکو په خپلو څېړنو کې د دې کورنیو د ایجاد لپاره یو اړخ څېړلی او نور اړخونه ترې یا پاتې شوي او یا یې له پامه غورځولي دي، په دې توګه هم نه شو کولای، چې یو منلی حقوقي سیستم چې د یو څېړونکي لخوا منځته راغلی وي ومومو.

۵- تر ټولو ستره ننګونه د حقوقي سیستمونو پر وړاندې د ګډو حقوقي نظامونو شتون دی، مختلط نظامونه د حقوقي سیستمونو د جوړېدنې او دوام فکر ماتوي او د حقوقي کورنۍ تشخیص تر ټولو مشکلوي.

## څلورم مبحث: په حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول

په حقوقي سیستمونو باندې حاکمو اصولو په اړه د حقوق پوهانو ترمنځ د نظر اختلاف وجود لري، په لومړیو او ابتدایي وختونو کې د مقایسوي حقوقو اکثره پوهانو هڅه کوله، چې حقوقي سیستمونو وېشنه د یو اصل(تاریخي پس منظر یو شان والي او یا هم اقتصادي نظامونو یو شان والي) په رڼا کې ترسره او حقوقي سییستمونه سره جلا کړي په اوس وخت کې دا څرګنده شوې، چې یو اصل د حقوقي سیستمونو د جلاوالي لپاره بسنه نه کوي، بلکې د دې لپاره باید یو شمېر بېلابېل اصول وجود ولري، چې پر اساس یې حقوقي سیستمونه یو له بل سره جلا شي. د دې سره سره حقوق پوهان په حقوقي سیستمونو باندې حاکمو اصولو په اړه یو نظر نه لري، مثلاً زویوایګرت ( Zweigret) په دې نظر دی چې د حقوقي سیستمونو د جلاوالي لپاره یوازې یو معیار بسنه کوي، چې هغه عبارت د حقوقي نظام د سبک(Style) څخه دی، چې د نوموړي عالم په نظر د حقوقي نظام د سبک

د ټاکلو لپاره د حقوقي نظام مخینه، حاکم حقوقي منطق، د حقوقو منابع، د هغه سلسله مراتب او حاکمه آیډیالوژي په نظر کې نیول کېږي (۲: ۷۵).

رنه ډاویډ بیا د حقوقي سیستمونو د طبقه بندۍ لپاره دوه معیارونه په نظر کې نیولي دي، لومړی معیار دا دی چې د یو حقوقي نظام حقوق پوه دې په لومړی سر کې د خپل ځان څخه پوښتنه وکړي، چې د بل حقوقي نظام په هکله څومره پوهه لري، که چېرې یې پوهه درلوده، نو دا بیا دا معنی ورکوي، چې دا دواړه نظامونه سره ورته دي او یو حقوقي سیستم ته داخلېږي او که ځواب برعکس وو، نو بیا دواړه حقوقي نظامونه سره توپیر لري او یو حقوقي سیستم ته نه داخلېږي (۱۳: ۱۱۵-۱۱۷).

دویم معیار د رنه ډاویډ په نظر د حاکمې ایډیالوژۍ منطق او د اقتصادي نظامونو ورته والی دی، نوموړی عالم وایي چې که چېرې په دوه نظامونو باندې د حاکمې ایډیالوژۍ منطق یو شان وو او یا هم اقتصادي نظامونو کې سره ورته وو، نو دواړه حقوقي نظامونه یو حقوقي سیستم ته شاملېږي او د دې برعکس نه شاملېږي.

د پورته اختلافاتو په نظر کې نیولو سره سره کولی شو، په حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول په لاندې ډول سره روښانه کړو:

## لومړی مطلب: تاریخي مخینه

د حقوقي نظامونو په طبقه بندۍ کې له مهمو عواملو څخه یو عامل د جوړښت، بنسټونو، مفاهیمو او حقوقي سرچینو په تشکیل کې د ګډې تاریخي مخینې په نظر کې نیول دي، په دې معنی چې هغه نظامونه په یوه طبقه کې راتلای شي، چې پورته عناصرو کې شریکه تاریخي مخینه ولري، کوم نظامونه چې په خپل تاریخ کې سره یو ډول منځته راغلي وي، دوی په یوې کورنۍ کې شامل هېوادونه ګڼلای شو (۱۳: ۱۱۶).

مثال هغه هېوادونه چې کامن لا حقوقي سيستم يې درلود، د تاريخي مزل له اړخه سره ورته دي. کامن لا نظامونه په خپل وار سره د هر ملت په تاريخ کې وده او اغېز کړې دی او حتی مذهبي وضعيت يې د تاريخي روحيې تر اغېزو لاندې دی( ۱۰: ۷۵) او (۱۱: ۱۰۵).

په پايله کې ويلای شو، چې ګډ تاريخ کولای شي، د څو نظامونو د ورته والي او يا توپيروالي سبب وګرځي، په دې ترتيب تاريخي سابقه د بېلا بېلو نظامونو د بېلېدو او نږدې کېدو لامل ګڼل کېدای شي.

**دويم مطلب: حقوقي منطق**

په ټولو حقوقي نظامونو کې د يوې موضوع د حکم موندلو لپاره د يو حقوقي منطق څخه کار اخيستل کېږي، دا منطق کېدلای شي، د برهان او يا هم د قياس پر بنسټ وي ( ۱۳: ۱۱۶) او (۵: ۵۸).

د مثال په ډول، روم – جرمن حقوقي نظام کي د برهان پربنسټ ولاړ منطق نه کار اخيستل کيږي د دغه منطق جوړښت کي کلي قضيه، جزيي قضيه او بيا نتيجه ده.

خو په کامن لا حقوقي نظام کې د قياس پر اساس منطق کاروي، دغه منطق له جزويي قضيې ورته بلي جزيي قضيې او پايلې څخه جوړ شوی دی، چې په دې توګه يوه حکم ته د رسېدو لپاره قضايا ترتيب او نتيجه يې ترلاسه کېږي، نو بناء هغه حقوقي نظامونه چې په منطق کې سره شريک دي، د يوې حقوقي کورنۍ غړي ګڼل کېږي (۱۴: ۳۷).

**درېیم مطلب: ځانګړي حقوقي بنسټونه**

یو شمېر حقوقي نظامونه ځینې خاص بنسټونه لري، هغه بنسټونه د حقوقي ترکیب په یوې برخې پورې اړه لري او په دې توګه یو حقوقي سیستم په یوې خاصې کورنۍ پورې اړوند ګڼلای شو (۱۴: ۴۱).

**مثال**: د وقف مسله په اسلامي حقوقي نظام کې یو ځانګړی حقوقي اساس دی، دا د دې لپاره چې اسلامي حقوقي نظام په یوې حقوقي کورنۍ کې شامل کړی شي، یو حقوقي اساس بلل کېږي. همداسې کامن لا د قراردادونو په حقوقي معاملاتو کې د توکو د بدلېدو د امکان یو اصل لري د دغه شان اصولو او حقوقي اساساتو شتون د حقوقي نظام لپاره د طبقه بندۍ اصل ګرځېدلای شي.

**څلورم مطلب: حقوقي سرچینې او د هغوی مقام**

د حقوقي سرچینو شریکوالی، د ترتیب لړۍ یې او د هغو د تفسیر طریقه د حقوقي نظامونو په طبقه بندۍ کې یو مهم عامل شمېرل کېږي، که د څو حقوقي نظامونو سرچینې د مراتبو تسلسل او له دغو منابعو نه د تفسیر څرنګوالي سره ورته وي په یوه حقوقي کورنۍ کې شاملېدلای شي. مثلا په کامن لا حقوقي سیستم کې قضایي رویه لومړی منبع ګڼل کېږي، دلته قاضیان قوانین تفسیروي او د مواد په لفظي، ادبي او قید شکل سره تفسیر کېږي، ولي په روم جرمن حقوقي سیستم کي بیا قانون لومړی منبع ګڼل کېږي، په تفسیر کې یې هم په منطقي شکل سره د قانون جوړونکي اراده د پام وړ وي ( ۵: ٦٠).

دا چې منبع یوه وي، ځانګړی اعتبار او د تفسیر روش ولري، حقوقي نظامونه په دې بنه هم د یوې حقوقي کورنۍ غړي بلل کېدلای شي.

**پنځم مطلب: حاکمه ایډیالوژي**

د وګړو ژوند په هر ملت کې د خاصو افکارو تر آغېز لاندې دوام مومي، دا ایډیالوژي کېدای شي ملي حساسیتونه، سیاسي ارمانونه، مذهبي سیاسي غوښتنې او د باورنو خاص ډول جوړښتونه وي (۱۳: ۱۱۶) او (۵ : ٦۱).

ایډیالوژي د ټرل شویو باورونو یو سیستم دی، چې د یوې ټولنې د غوښتنو او چلندونو ټولنیز، اخلاقي، مذهبي، سیاسي او اقتصادي وضعیت انعکاس کوي، د دغه وضعیت په توجیه کولو کې رول لري، او په لغوي معنی فکر پېژندنې ته ویل کېږي (٦: ۷۷).

د ایډیالوژۍ عناصر په جزوي ډول او حقیقي اعتبار منل کېږي. فرانسوي دو تریسي لومړی ځل د فکرونو د پېژندنې لپاره وکاروه، خو له هغه وروسته ډېر ژر هغو فکرونو ته وویل شو، چې د ټولنې شته وضعیت توجیه کوي.

د کارل مارکس په باور(هره ټولنه کې حاکم فکرونه د پورتنۍ یا حاکمې طبقې فکرونه دي) مثلاً د ځینو په اند دا باور یوه کره ایډیالوژي ده، چې د خلکو بېوسي د دوی د تنبلۍ او بېکارۍ له امله ده، نه په دې خاطر چې لږ امتیاز ترلاسه کوي، یعنې ایډیالوژي یا فکر پېژندنه دا بیانوي، چې ولې وضعیت په داسې ډول دی، د مارکسیستانو له نظره دا حالت په دی خاطر داسې دی، چې پورتنۍ طبقه ترې ګټه پورته کوي او غواړي چې همداسې دوام ومومي. فرانکین، روزلټ، لنین، مائو او کاسترو له دې امله پیاوړي او غښتلي مشران ول، چې د خپلو خلکو د فکري وضعیت په اړه یې روښانه پوهه درلوده او کولای یې شول دغه پوهه په ایډیالوژیکو قالبونو کې د لوستلو وړ کړي.

د وګړو ژوند په هر ملت کې د خاصو افکارو تر اغېز لاندې دوام مومي. دا ایډیالوژي کېدلای شي، ملي حساسیتونه، سیاسي ارمانونه، مذهبي سیاسي غوښتنې او د باورونو خاص ډول جوړښتونه وي(۱: ٦۹).

که څه هم مذهب نه دین (بلکې مذهب له دین نه د یو خاص ډول برداشت په معنا) یو ایډیالوژي ده اوس که حقوقي نظامونه د مذهبي ایډیالوژۍ پر اساس ووېشو دا هم د حقوقي کورنۍ یوه طبقه بندي ده.

**پنځم مبحث: حقوقي سیستم باندې د حاکمو اصولو ګټې**

په حقوقي سیستمونو باندې د مشخص شمېر حاکمو اصولو شتون لاندې ښېګڼې لري:

۱- هر کله چې موږ معلوم شمېر حاکم اصول ولرو، نو په اسانۍ سره کولی شو، چې حقوقي نظامونه یو له بل څخه جلا کړو او بېلابېل شمېر حقوقي نظامونه یو حقوقي سیستم ته داخل کړو، کوم چې د حاکمو اصولو اصلي غوښتنه ده، چې پر اساس یې حقوقي کورنۍ په اسانۍ سره مطالعه کېدای شي.

۲- د معلوم شمېر حاکم اصولو بله ګټه داده، چې په اسانۍ سره زده کېږي، حقوق پوهان کولی شي، په اسانۍ سره د حاکمو اصولو پر اساس حقوقي کورنۍ سره جلا او پرتله کړي.

۳- د معلوم شمېر حاکمو اصولو د شتون په صورت کې یو حقوق پوه په اسانۍ سره کولی شي، د یوې حقوقي کورنۍ ځانګړتیاوې مشخصې او د تاریخي مخینې په هکله یې پوهه ترلاسه کړي.

د معلوم شمېر حاکمو اصولو د شتون په صورت کې د مقایسوي حقوقو عالم په اسانۍ سره کولی شي، د حقوقي کورنیو د جلا والي معیارونه معلوم او توپیر یې وکړي.

**پایله**

د نوموړې څېړنې په پای کې دې پایلې ته ورسېدم چې:

۱- په نړۍ کې بېلابېل حقوقي سیستمونه موجود دي، چې بیا په هر سیستم کې بېلابېل حقوقي نظامونه ځای پر ځای شوې دي.

۲- په معلوم شمېر حقوقي سیستمونو کې د حقوقي نظامونو دخیلولو ګټه داده، چې په اسانۍ سره زده کېداي شي، حقوق پوهان کولی شي بېلابېل میتودونه د هغوی د زده کړې لپاره پیدا کړي، تر څو یې پر اساس په اسانۍ سره پرتله کړي.

۳- د نړۍ حقوقي سیستمونو باندې یو شمېر حاکم اصول شتون لري، چې د هغې پر اساس موږ محدود شمېر حقوقي سیستمونه په نړۍ کې لرو، چې نوموړي اصول عبارت له تاریخي مخینه، حقوقي منطق، حاکمه آیډیالوژي، د حقوقو منابع او د هغوی مقام څخه دي.

**مناقشه**

د دې موضوع له څېړلو څخه وروسته ویلی شم چې په اوسني وخت کې سالمه خبره دا ده، چې هیڅ یوه وېشنه هم باید بشپړه ونه ګڼل شي؛ بلکې په وېشنې باندې حاکمو اصولو ته باید پاملرنه وشي او په دې ځان پوه کړو چې، د کومو مشترکاتو پر اساس حقوقي نظامونه یو حقوقي کورنۍ پورې مربوط کېږي، له هغې وروسته حقوقي نظامونه حقوقي سیستمونو ته داخل کړو. حقوقي سیستمونو باندې حاکمو اصولو په

هکله هم بېلابېلې څېړنې ترسره شوې دي، لکه رنه ډیویډ په خپله څېړنه ( در آمدی بر حقوق تطبیقی و دو نظام بزرگ حقوقي معاصر ) کې د حقوقي سیستمونو د وېش په برخه کې د پایداره او ناپایداره عناصرو څخه ذکر کړی دی، ولې نور هغه معلوم شمېر حاکم اصول، چې باید د پرتلیزو حقوقو عالمان یې د حقوقي سیستمونو د وېشنې پر وخت کې په پام کې ونیسي نه دي ذکر کړي، چې زما په څېړنه کې دغه معلوم شمېر اصول په مشخص ډول سره روښانه شوي دي.

دوکتور محمود عرفاني هم په خپله لیکنه ( حقوق تطبیق – نظام های حقوقي معاصر ) کې په حقوقي سیستمونو باندې د حاکمو اصولو په برخه کې د حقوقي سیستمونو تاریخي سیر نه بحث کړی او ورپسې یې د حقوقي سیستمونه وېشنه پیل کړې او هره کورنۍ یې څېړلې ده، چې زما د څېړنې په پایله کې د حقوقي کورنیو د وېشنې اصلي اصول ټول روښانه او مشخص بیان شوي دي او حتی حقوقي کورنیو باندې د وېشنې ګټې هم روښانه شوې دي.

کومه څېړنه، چې ما ترسره کړې د پیاوړتیا ټکی یې دا دی، چې څېړنه کې مشخص حاکم اصول لومړی نومول شوي او بیا هر اصل په جلا ډول روښانه شوی، وروسته د دغو اصولو د شتون مزایاوې هم د څېړونکی له لورې روښانه شوي دي.

د څېړنې په اړه یوازینۍ ستونزه، چې شتون یې درلود او لري یې هغه دا ده، چې حقوقي سیستمونو باندې حاکم اصول همدومره شمېر کې مې پیدا او څېړنه کې ځای پر ځای کړل، یعنې د موضوع په اړه د کافي معلوماتو نه شتون د دې څېړنې په ترسراوي کې یو خنډ وو.

**پایله اخیستنه**

په نړۍ کې محدود شمېر حقوقي سیستمونه وجود لري، ځکه چې نوموړي سیستمونه خپل ځان باندې حاکم اصول لري، نو هر کله چې د یو هېواد حقوقي نظام د بل هېواد د حقوقي نظام سره ورته وي، نو یو حقوقي سیستم ته داخلېږي، همدا علت دی، چې نوموړو سیستمونو لپاره حاکم اصول د حقوق پوهانو له لورې منل شوي، چې دغه اصول یې عبارت له تاریخي مخینې، حقوقي منطق، حاکمه آیډیالوژي، د حقوقو منابع او د هغوی مقام څخه دي.

**وړاندیزونه**

۱- هېوادونو ته مې وړاندیز دا دی چې کوم سیستم ته ځان داخلوي باید په نړیواله کچه د هماغه اصولو پیرو وي او نوموړي اصولو کې باید شریک وي.

۲- راتلوونکو څېړونکو ته مې وړاندیز دا دی، چې د نوموړې څېړنې هغه اړخونه، چې ما نه دي څېړلي او یا هم نه یم توانېدلی، چې ویې څېړم وڅېړي، لکه د دې حاکمه اصولو د قبلېدو دلایل د نوموړو اصولو نیمګړتیاوو باندې په اینده کې څېړنې ترسره کړي.

**ماخذونه**

۱- اختیار، هجرت الله. (۱۳۹٦). د سیاست پوهنې بنسټونه، ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه.
۲-افشار، حسن. (۱۳۴٦). کلیات حقوق تطبیقیت، هران: چاپخانه کیهان.
۳- بابایي، غلام رضا. (۱۳۸۵ ل). فرهنګ روابط بین الملل، څلورم چاپ، ایران: دفتر مطالعات سیاسي و بین المللي.
۴- ترین، صهیب. (۱۳۹۵). د کامن لا حقوقي سیستم کي د جزایي دعوې پروسیجر، د ماستري تیزس، ننګرهار پوهنتون.

٥- حقمل، محمد ایمل. (۱۳۹۸ل). معاصر حقوقي سیستمونه، دویم ټوک، ننگرهار: یار خپروندویه ټولنه.
٦- داوري، فرهاد . (۱۳۹۱). سیاست پوهنه، ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
۷- ډاوید، رنه. (۱۳۹۵). درامدی بر حقوق تطبیقی و دو نظام بزرگ حقوقي معاصر، لیران: بناد حقوقي میزان.
۸- رفیعي، محمد تقي. (۱۳۹۲). حقوق تطبیقي، ایران: مجمع علمي و فرهنگي مجد، تهران.
۹- رنه داوید، گونتېر گرسمان. (۱۳۷۹). د نړۍ معاصرو لویو حقوقي سیستمونو مبادي، ژباړه: محمد طاهر بورگي، ساپي، پیښور: د پښتو څېړنو مرکز.
۱۰- ستانکزی، نصرالله . (۱۳۹۷). سیستم های حقوقي معاصر جهان، کابل: انتشارات سعید.
۱۱- سید جلال الدین، مدني. ( ۱۳۷۹). حقوق اساسی تطبیق، تهران: پایدار.
۱۲- شمس، محمد ضیاءالحق. (۱۳۹۴). معاصر حقوقي سیستمونه، کابل: حامد رسالت خپرندویه ټولنه.
۱۳- شیروي، عبدالحسن. (۱۳۸۸). حقوق تطبیقي، تهران: دانشیار دانشگاه تهران.
۱۴- صفایي، حسین. (۱۳۸۰ل). نظامهای بزرگ حقوقی معاصر، دریم چاپ، ایران: نشر دادگستری، تهران.
۱۵- عضدائلو، حمید. (۱۳۸۸). اشنایی با مفاهیم اساسی جامعه شاسی، درېیم چاپ، ایران: نشراني.
١٦- ودیر، محمد عثمان (۱۳۹۹ ل). د اسلام حقوقي سیستم استقلالیت، ننگرهار: دیدن ادبي او فرهنگي بهیر.

**سیف الرحمن تراهي**
حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، بایزید روښان د لوړو زده‌کړو مؤسسه
تقریظ ورکوونکی: زاهد الله سیدي

# په اسلامي شریعت او حقوقي اسنادو کې د تجارتي حَکمیت پرتلیزه څېړنه

**لنډیز**

تجارتي حَکمیت د تجارتي شخړو د حل لپاره یوه تګلاره ده، چې د رسمي محکمې څخه د باندې د حَکم، حَکمانو یا د حَکمیت د بورډ له خوا تر سره کېږي، تجارتي حَکمیت د جغرافیایي محیط، د حکمانو د شمېر، انفرادي او سازماني فعالیتونو او د اختیار او اجبار له نظره پر بېلابېلو برخو و بشل کېږي، چې په عمومي ډول یې په ملي او بین المللي، موردي، سازماني، اختیاري او اجباري حَکمیتونو سره وېشلای شو، چې په هره برخه کې ځانګړې مؤثریت لري، له همدې امله د ا تحقیق د اهمیت وړ دی. د تجارتي حَکمیت څېړنې څخه موخه د نوموړې تګلارې پېژندنه او دود کول دي، چې تجارانو ته د وخت سپما تر څنګ د تګلارې او حکمانو د ټاکنې اختیار ورکوي، هغه فیصله، چې د حکمانو له خوا تر سره شي د رسمي محکمې د فیصلې په څېر رسمي او د تنفیذ وړ ګڼل کېږي، چې په دې خاصیت سره نوموړې تګلاره د شخړې د اړخونو لپاره د باور وړ تګلاره ګڼل کېږي. دا څېړنه په تحلیلي او توصیفي شکل تر سره شوې او کتابخانه یي بڼه لري، د تجارتي حَکمیت موضوع، چې بېلابېلو اشخاصو په کې څېړنې کړي، هره څېړنه په یوه خاص مورد کې تر سره شوې

ده، ځینو په ملي کچه د یوه دولت د قوانینو په چوکاټ کې، ځینو د یوې خاصې تجارتي موضوع او ځینو نورو هم د نړۍ والې سوداګرۍ په برخه کې څېړنې تر سره کړي، ولې په دې څېړنه کې د تجارت په بېلابېلو اړخونو کې د حَکمیت موضوع څېړل شوې او معلومات په کې وړاندې شوي دي، چې د څېړنې په ترڅ کې دې پایلې ته رسېږو، چې حَکمیت د رسمي محکمې یوه مؤثره بدیله لاره ده، چې د شخړو اړخونو ته دا واک ورکوي، څو د خپلې شخړې د حل لپاره څوک وټاکي او د حَکمیت جریان په کوم شکل او څومره موده کې تر سره شي، نو ویلای شو، چې تجارتي حَکمیت د تجارتي شخړو لپاره یو ګټور نظام ګڼل کېږي.

**کلیدي کلمې:** تجارتي حَکمیت، حَکم، د حَکمیت بورډ، د حَکمیت قرار، سوداګریزې شخړې

**سریزه**

الحمد لله الذی حکم بین العباد و امر بالعدل واختیار اهله و الصلواة و السلام علی رسوله الذی بلغ احکام الشریعة التی اختار طریق العدل للعباد.

امابعد: د هغه ذات ثنا اوصفت، چې احکم الحاکمین ذات دی او د هغه استاد، چې د عادل حکم لپاره یې الهي احکام موږ ته راوړي دي د درود اوسلام څخه وروسته.

تجارتي حَکمیت د رسمي محاکمو له دایرې څخه د باندې د شخړې د حل یوه عرفي لاره ده، چې د منازعې د دواړو اړخونو له لارې د حکمانو یا تجارتي حَکمیت د بورډ په وسیله، چې د منازعې اړخونه یې د قرارداد په بنه ټاکي تر سره کېږي او د ر سمي دولتي محاکمې یو مهم بدیل دی د دې لپاره، چې له یوې خوا د حکمانو د حَکمیت ځای او د حَکمیت د وخت په ټاکلو کې د شخړې اړخونه پوره اختیار لري، له بلې خوا یوه مرحله یي پروسه ده، چې په لږ وخت کې سرته رسېږي، د

تجارانو لپاره وخت او تجارتي اسرار هغه څه دي، چې ورته ځانګړی اهمیت لري او هغه په تجارتي حَکمیت کې لاس ته راوړلی شي همدا لامل دی، چې اوس ډېری سوداګر د شخړو د حل لپاره حَکمیت ته مراجعه کوي او حَکمیت نه یوازې په ملي کچه؛ بلکې په بین المللي کچه هم اجراء کېږي، چې بېلابېل بین المللي سازمانونه په دې ساحه کې پر فعالیت بوخت دي، نو ویلای شو، چې تجارتي حَکمیت یوه ارزښتناکه او د اهمیت وړتګلاره ده، دې اهمیت ته په کتو سره د دې څېړنې تر سره کولو ته اړتیا لیدل کېږي.

د تجارتي حَکمیت اړوند پخوا هم څه کسانو څېړنې تر سره کړي، چې ځینو یې د تجارت حقوقو په ضمن کې ورته لنډه کتنه کړې، ځینو بیا د نړۍ والې سوداګرۍ په ضمن کې ورته اشاره کړې، ځینو بیا د کتاب په بڼه په یاده موضوع کې دبین المللي حَکمیت اړوند څېړنه تر سره کړې او ځینو بیا د تجارت د یوې خاصې موضوع اړوند د شخړو د حل لارو په ضمن کې بحث کړی، خو که هرې څېړنې ته ځیر شو هغه په یوه خاصه ساحه او یا محیط کې تر سره شوي او ټولو اړخونو ته نه دي شاملې، له دې امله مې وغوښتل، څو یوه پرتلیزه څېړنه تر سره کړم، چې ملي او بین المللي اړخونو ته شامله وي، دا موضوع به د تجارتي حَکمیت په ماهیت، د تجارتي حَکمیت په انواعو او د تجارتي حَکمیت پر پروسه او آثارومشتمله وي د څېړنې په پای کې به لوستونکي د تجارتي حَکمیت اړوند هر اړخیز معلومات ترلاسه کړي او هغه څوک، چې د څېړنې په بر خه کې فعالیت لري دې ته به و هڅېږي، چې دې موضوع کې لا ډېرې څېړنې تر سره کړي.

## د موضوع مساله

تجارتي حَکميت، چې په ملي او نړۍ واله کچه د رسمي محاکماتي بهير يوه ښه بديله تګلاره ګڼل کيږي، سره له دې ، چې په دې بهير کې سوداګرو ته پوره اختيار ورکړل شوی دی، خو په ملي کچه په نافذه قوانينو کې د حَکم او د حَکميت د بوړه لپاره داسې شرايط نه دي وضعه شوي، چې دا بهير په عملي ډګر کې د ځان بسياينې خواته سوق کړي او په بين المللي برخه کې هم د حَکميت اړوند متفاوت قوانين شتون لري، چې په بهرنۍ سوداګرۍ کې د شخړو د حل په وخت کې د قوانينو تعارض را منځته کيږي، چې په عملي ډګر کې سوداګر د ګڼو ستونزو سره مخامخ کوي، نو يادو مواردو ته په کتو سره ، چې سوداګر په ملي او نړۍ واله کچه د کومو ستونزو سره مخ کيږي او د ستونزو څخه د وتلو لارې چارې به څه وي، د دې ستونزو برملا کول او د حل لار يې د يوې پرتليزې څېړنې له لارې ممکن دي، څو د هر اړخيزو معلوماتو په پايله کې ملي قوانين اصلاح او په بين المللي برخه کې د قوانينو د اتحاد له لارې يادې ستونزې حل شي.

## د څېړنې اهميت او د انتخاب لاملونه

۱- دا چې تجارتي حَکميت د رسمي محاکماتي بهير يوه ښه بديله تګلاره ده ، چې د تجارتي شخړو د حل په وخت کې سوداګرو ته د وخت د سپما تر څنګ اقتصادي ګټه رسوي او د دې څېړنې څخه د مخه په ياده موضوع کې موردي څېړنې تر سره شوي، خو هر اړخيز معلومات، چې په ملي او بين المللي ډګر کې د سودا ګرو ستونزو ته ځواب ورکړي کومه څېړنه نه ده تر سره شوې، له همدې امله د دې موضوع پرتليزه څېړنه د اهميت وړ ګڼل کيږي.

۲- دا څېړنه په عمومي ډول د حقوقو پوهنځي د محصلينو او د حقوقي برخې کارکوونکو او په خاصه تو گه سوداکرو او د تجارتي حَکميت اړوند کارکوونکو ته مهمه گڼل کیږي.

۳- دا څېړنه به د حقوقي معلوماتو د بډاينې تر څنگ په ملي کچه د نافذه قوانينو د اصلاح په برخه کې او په بين المللي کچه د حَکميت اړوند قوانينو د اتحاد په برخه کې انگيزه ايجاد کړي.

۴- دا څېړنه به په تجارتي بهير مثبته اغېزه وکړي، چې په ملي او بين المللي کچه د گټورو قوانينو په رامنځته کېدو سره به په ملي او بين المللي کچه سوداگري نوره هم وغوړيږي.

پورته مواردو ته په کتو سره مې دا موضوع د څېړنې لپاره وټاکله، هيله لرم لوستونکو ته گټوره تمامه شي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې اصلي موخې په لاندې ډول دي.

۱- د تجارتي حَکميت پېژندل.

۲- د شريعت او قانون په رڼا کې پرتليز بحث او د اشتراک او افتراق د ټکو معلومول.

۳- د تجارتي حَکميت اړوند د نيمگړتياو په گوته کول.

## د موضوع اصلي او فرعي پوښتنې

### اصلي پوښتنه

تجارتي حَکميت د تجارتي شخړو د حل په برخه کې څومره مؤثره او گټوره تگلاره ده؟

**فرعي پوښتنې**

۱- د تجارتي حَکمیت مفهوم او ماهیت څه دی؟

۲- تجارتي حَکمیت په څو ډوله او د تطبیق ساحه یې کومه ده؟

**تیرو لیکنو ته منطقي کتنه**

د تجارتي حَکمیت اړوند مخکې هم په ملي او بین المللي ساحو کې څېړنې تر سره شوي، چې په ځینو مواردو کې د تجارت د حقوقو تر عنوان لاندې په یوه برخه کې ترې بحث شوی، لکه د نصرالله ستانکزي او ولي محمد ناصح د (حقوق تجارت) کتاب او کله هم په تجارتي موضوع کې د یوه خاص مورد څېړنې په درشل کې ترې بحث شوی، لکه د معنوي مالکیت په موضوع کې د دوکتور لیلا رئیسي ( نظام حل وفصل اختلافات حقوق مالکیت معنوی) کتاب او کله هم د بین المللي تجارتي حَکمیت تر مستقل عنوان لاندې څېړنه تر سره شوې، لکه د حسین شیروي د ( حقوق داوری بین المللی) کتاب، چې په یاد کتاب کې ډېری مباحث د ایران د بین المللي حَکمیت قانون اړوند تر سره شوي دي، او داسې نور، خو که وګورو په نوموړې موضوع کې ځینې څېړنې تر خاصو مواردو، ځینې څېړنې یې تر خاص محیط پورې اړوندې دي او ځینې نورې څېړنې په داسې وخت کې تر سره شوي، چې د څېړنو وروسته نوي قوانین را منځ ته شوي، له دې امله ومې غوښتل په موضوع کې د جغرافیایي چاپیریال مواردو او نافذو تقنیني اسنادو په نظر کې نیولو سره هر اړخیزه څېړنه تر سره شي، چې له یادو څېړنو سره یې توپیر دا دی، چې دا څېړنه د ذکرشوو څېړنو پر خلاف د مادي او معنوي ملکیت اړوند او همدا رنګه په ملي او بین المللي برخو کې تر سره شوي هیله کېږي، چې دا څېړنه د لوستونکو لپاره ګټوره ثابته شي.

## د څېړنې تګلاره

دا څېړنه په توصیفي او تحلیلي بڼه تر سره شوې او د څېړنې تګلاره کتابخانه یي ده، په دې مفهوم، چې په دې څېړنه کې په فقهي، حقوقي او قانوني ډګرونو کې د بېلابېلو کتابونو د مطالعې په ترڅ کې پرتلیزه څېړنه تر سره شوې. په دې څېړنه کې لومړی په ملي او بین المللي کچه هغه نظریات او کړنلارې، چې په معتبرو کتابونو او د ځینو دولتونو تقنیني اسنادو کې ځای پر ځای شوي ارزول شوي، بیا سره پرتله او په پای کې چېرته، چې د نوي نظر ځای په کې و نظر ورکړل شوی او که بیا د نوي نظر او پشنهاد ځای په کې نه و، نو بیا هڅه شوې، چې مناسب نظر یا تګلاره د منطقي دلایلو پر بنسټ غوره وښودل شي.

د دې څېړنې شکلیات د لنډیز او سریزې څخه وروسته د مبحث څخه پیل، چې د تګلارې مطابق هر مبحث په مطالبوووېشل شوی که چېرته کوم مطلب د وېش غوښتنه کوله بیا مطلب په اجزاوو سره وېشل شوی دی د بحث په پای کې پایله، مناقشه، پایله اخیستنه، وړاندیزونه او په پای کې اخځلیکونه ځای پر ځای شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې درسمي تقنیني اسنادو اړوند په دې څېړنه کې د پرتلنې لپاره د افغانستان، ایران او مصر دولتونو اړوند تقنیني اسناد غوره شوي دي؛ ځکه ایران زموږ په ګاونډ کې پروت هغه هېواد دی، چې پوره تجارتي مخینه لري او مصر هم د قانون جوړونې په ډګر کې پوره پرمختګ کړی، چې د عربي نړۍ هېوادونو ډېری قوانین ترې اغیزمن دی هیله ده، چې دا څېړنه به په دې برخه کې ګټوره تمامه شي.

## لومړی مبحث: د تجارتي حَکمیت ماهیت

دا چې تجارتي حَکمیت د تجارتي شخړې د حل لپاره یو کارنده نظام ګڼل کیږي او په تجارتي ډګر کې ډېر پلویان لري، نو باید د بحث په سرکې یې ماهیت وپېژندل شي دا چې ماهیت یې څه دی دا به په لاندې مطالبو کې وڅېړل شي.

### لومړی مطلب: د تجارتي حَکمیت پېژندنه

حَکمیت یوه عربي کلمه ده، چې په پښتو کې هم په همدې لفظ سره پېژندل کیږي او په ایراني فارسی کې د داوری په لفظ او په عربي کې په التحکیم سره یادیږي، په لغت کې د دوو یا څو کسانو تر منځ په یوه قضیه کې د محکمې څخه د باندې د خاصو او معینو شرایطو په نظر کې نیولو سره رسېدنه او د قضیې د حل په موخه د رایې ورکونه ده (۱۳ : ۴۶۰).

په اصطلاح کې د حَکمیت لپاره فقهي او حقوقي بېلابېل تعریفونه شوي، چې په لاندې ډول دي.

حنفي فقهاوو حَکمیت داسې تعریف کړی دی: « هو تولیة الخصمین حاکما یحکم بینهما» (۱ : ۱۱۲).

**ژباړه:** حَکمیت د دعوې د دواړو خواوو له طرفه د حاکم په توګه یوه چا ته د اختیار ورکول دي، چې د دوی ترمنځ حکم (فیصله) وکړي.

حقوق پوهانو هم حَکمیت په بېلابېلو الفاظو سره، چې د مفهوم له مخې سره فرق نه لري په لاندې ډول تعریف کړی دی:

حَکمیت د هغې پروسې څخه عبارت دی، چې د شخړې د دواړو خواوو له لورې یوه یا څو درېیمګړو کسانو ته صلاحیت ورکوي، ترڅو ټاکل شوې شخړې ته رسېدنه او د قاضي په څېر فیصله وکړي او د تطبیق وړ رایه وکاروي (۱۰ : ۷).

په تقنیني اسنادو کې هم حَکمیت تعریف شوی، چې هر دولت په خپل اړوند قانون کې د قانون جوړونې د اصولو اړوند ځای پر ځای کړی دی، چې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ترې یادونه کېږي:

**د افغانستان په تجارتي حَکمیت قانون کې حَکمیت داسې تعریف شوی دی:** «حَکمیت هغه لازم الاجراء عملیه ده، چې پر بنسټ یې حَکم یا حَکمان یا د حَکمیت اداره د اړخونو د غوښتنې او موافقې یا د محکمې د قرار له مخې د اقتصادي او سوداګریزو معاملو له قرارداد څخه د را پیدا شوو شخړو د چټک او عادلانه حل او فصل په منظور بې پلوه خدمتونه سرته رسوي ( قانون حَکمیت تجارتی، ۱۳۸۵هـ ش، ۲ماده، ۲ جز).

**د ایران د تجارتي بین المللي حَکمیت په قانون کې حَکمیت داسې تعریف شوی دی:** حَکمیت د هغه حقیقي یا حکمي اشخاصو په وسیله د محکمې څخه د باندې د دعوې د اړخونو ترمنځ د اختلاف له منځه وړل دي، چې د دعوې د اړخونو په رضایت ټاکل شوي وي او یا هم په انتصابي ډول مقرر شوي وي (قانون داوری بین المللی ایران،۱۳۷۶هـ ش، ۱ ماده ، الف جز).

**د مصر د مدني او تجارتي حَکمیت په قانون کې حَکمیت داسې تعریف شوی دی:** حَکمیت عبارت د هغه اختیار څخه دی، چې د شخړې اړخونه یې په اتفاق اوآزادې ارادې سره حکمانو ته ورکوي هغه که د دوی له خوا معین شوی وي او که

د حَکمیت د یوه دایمي مرکز له خوا ترسره شي او یاهم آزاد پرېښودل شوی وي ( قانون تحکیم مصری،۱۹۴۹م، ۴ ماده ۱ جز).

که چېرته پورته تعریفونو ته ځیرنه وشي ټول تعریفونه یو مفهوم لري، چې هغه د شخړې د حل لپاره درېیمګړو بې طرفه کسانو ته د شخړې د ښکېلو خواوو له لورې اختیار ورکول کېږي، خو دا اختیار داسې اختیار دی، چې د اړخونو د توافق څخه وروسته حکمان، چې هره فیصله وکړي تطبیق یې د قضایي حکم په څېر الزامي ګڼل کېږي، د حَکم د فیصلې الزامي والی په فقه کې د تولیت د کلمې څخه څر ګندېږي؛ ځکه یوه چاته په امورو کې ولایت (تام اختیار) ورکول د دې معنی لري، چې نوموړی د فیصلې لپاره پوره اختیار لري او فیصله یې د موجه دلیل پرته د رد وړ نه ده او په قوانینو کې هم د حکمانو د فیصلې الزامیتوب د اړوندو قوانینو په موادو کې ځای پر ځای شوی دی، چې په وروسته بحثونو کې به په تفصیل سره پرې بحث وشي.

**دویم مطلب: د تجارتي حَکمیت مخینه**

که چېرته د بشري ژوند پړاوونو ته کتنه وشي، بشر په لومړیو پړاوونو کې دې ته لېواله و، چې یو ټولنیز ژوند ولري مدني ټولنې رامنځ ته کړي او اجتماعي قراردادونه ولري، خو د وخت په تېرېدو سره په دې اړوند ستونزې را وټوکېدې او خلک اړ شول، څو فردي قراردادونه وکړي، چې دې حالت ته په کتو سره د یوه میکانیزم جوړولو ته اړتیا پیدا شوه، څو د افرادو تر منځ اړیکې برابرې کړي، دا په لومړي سر کې ډېر ابتدایي و، چې د موضوعاتو حل به د څو سپین ږیرو په راټولېدو سره سر ته رسېده، خو وروسته بیا په دې اړوند بیلابېلې تګلارې را منځ ته شوې، لکه خبرې اترې، سوله...، چې یو له هغو تګلارو څخه حَکمیت و، د حَکمیت مخینه په اسلام کې د اسلام له

لومړیو سرچینه اخلي، چې په دې اړه بېلابېل آیتونه او حدیثونه شته، چې د حَکمیت د مشروعیت د دلایلو په عنوان کې به په تفصیل سره ترې یادونه وشي، خو په تجارتي ساحه کې، چې په دې اړه کوم وضعي قوانین د یو ځانګړي میکانېزم سره منځ ته راغلي لومړی د امریکا هېواد و، چې د حَکمیت لپاره یې یو بنسټ وېږاند او د شخړې دواړه اړخونه یې په ځانګړي ډول د توافق په صورت کې حَکمیت ته په مراجعه مکلف کړي دي. له دې څخه وروسته په دویم پړاو کې د انګلستان هېواد په ۱۶۹۸ م کال کې د تجارتي حَکمیت اړوند قانون تصویب کړ او فرانسې په همدې وخت کې د حَکمیت موضوع د یاد هېواد په مدني قانون کې ځای پر ځای کړه. په نړۍ واله ساحه کې هم د حَکمیت اړوند مهمه تړون د امریکا او انګلستان ترمنځ و، چې د (jay)په نامه په ۱۷۹۴م کال کې منځ ته راغلی دی ( ۲ : ۳۴).

د شلمې میلادي پېړۍ څخه وروسته تجارتي حَکمیت په نړۍ وال ډګر کې پراختیا ومونده، چې د دولتونو د خصوصي تړونونو سربېره د ملګرو ملتونو سازمان په ۱۹۵۸م کال کې د خارجي حَکمیت د پېژندنې او د رایو د اجرا کنوانسیون، چې د نیویارک په کنوانسیون مشهور دی تصویب کړ او د تصویب څخه یو کال وروسته د اجرا وړ وګرځېد ( ۱۰ : ۳۸ ).

د نړۍ وال سوداګریز حَکمیت اړوند موضوعات سره له دې، چې د نیویارک په کنوانسیون کې درج شوي دي، خو د هغې وخت له غوښتنو سره سم یوازې د مادي ملکیت اړوند موضوعات، چې تر بین المللي تجارت پورې اړوند وو شامل شوي دي، خو د تجارت یو بل اړخ، چې د معنوي ملکیت اړوند دی د نوموړي کنوانسیون برخه نه ده ګڼل شوې، له همدې امله د وایپو په نامه کنوانسیون، چې په ۱۹۶۷م کال کې د معنوي مالکیت اړوند رامنځته شوی دی، د دې لامل شو، څو د معنوي

مالکیت اړوند تجارتي حَکمیت لپاره په ۱۹۹۴م کال کې د واییو د حَکمیت او منځګړیتوب مرکز یو سازمان جوړ شو، تر څو په یاده برخه کې خلک د قضایي رسېدنې پر ځای خصوصي بنسټونو ته رجوع وکولی شي (۸ : ۳۰).

پورته یاد شوي کنوانسیونونه په نړۍ کې د تجارتي حَکمیت لپاره د اهمیت وړ ګڼل کیږي؛ ځکه د کنوانسیونو له لارې دولتونه د حَکمیت اړند ورته قوانین جوړوي او در سېدنې یو متحد الشکل سیستم منځ ته راځي، چې اوس تر ډېره په ډېرى دولتونو کې دا کار ترسره شوی او د ډېرى دولتونو د تجارتي حَکمیت قوانین د انسترال نمونوي قانون د لارښونو اړوند تصویب شوي دي، که چېرته د تجارتي حَکمیت اړوند د افغانستان حقوقي تاریخ ته کتنه وشي، د افغانستان دولت د خصوصي سکتور د ملاتړ په پار په ۱۳۱۰ هـ ش کال کې یوه غونډه جوړه کړه، چې بالآخره د تجارت په اتاق باندې بدله شوه، په ۱۳۴۳ هـ ش کال کې یې د تجارتي محکمو د اصولو قانون تصویب کړ، چې د تجارتي حَکمیت اړوند مواد هم په کې ځای پر ځای شوي دي. د هغې په څارنه په ۱۳۷۴ هـ ش کال کې یې د تجارتي حَکمیت مقرره تصویب کړه، چې بیا یې د نورو دولتونو تر څنګ د انسیترال نمونوي قانون په پیروۍ سره په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې د تجارتي حَکمیت قانون تصویب کړ (۲ : ۳۴-۳۵).

د تجارتي حَکمیت مخینې ته په کتو سره د موضوع اړوند څېړنې تر سره شوې دي، خو هره څېړنه په یوه خاص چاپېریال او یا یوه خاص مورد کې تر سره شوې ده، له دې امله اړینه وګڼل شوه، چې په موضوع کې هر اړخیزه پرتلیزه څېړنه تر سره شي، چې په ملي او نړۍ واله کچه د تجارت بېلابېلو اړخونو ته شامله وي.

## درېیم مطلب: د تجارتي حَکمیت د مشروعیت دلایل او موضوع

دا چې د تجارتي حَکمیت موضوع څه ده او د مشروعیت لپاره یې کوم دلایل شتون لري دا به په لاندې ډول و څېړل شي.

### لومړی جز: د تجارتي حَکمیت د مشروعیت دلایل

د حَکمیت مشروعیت په قرآنکریم، نبوي احادیثو او اجماع سره ثابت دی، په قرآنکریم کې په بېلابېلو آیتونو کې په فعلیه جملو کې د حکم د ورکړې یادونه شوې ده، خو هغه مبارک آیت، چې د مفسرینو په نظر مستقیم تر حَکمیت پورې اړوند بلل کېږي، د نساء سورت پنځه دېرشم آیت دی، چې الله تعالی جل جلاله فرمایي: وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيراً (سوره نساء، آیت: ۳۵).

**ژباړه:** که چېرته تاسې د ښځې او خاوند د خپل منځي اختلاف څخه پوه شوئ، نو تاسې د ښځې او خاوند په رضایت سره یو عادل حَکم د خاوند له خپلوانو څخه او یو عادل حَکم د ښځې له خپلوانو څخه ولېږئ، که چېرته حَکمانو د اصلاح اراده درلوده الله تعالی جل جلاله به خاوند اوښځې ته د حَکمانو د فیصلې د منلو توفیق ورکړي، په تحقیق سره الله تعالی جل جلاله په هر څه باندې عالم او په باطنو سره باخبره دی، لکه څرنګه چې په ظواهرو سره با خبره دی (۳ : ۲۰۹).

په یاد مبارک آیت کې الله تعالی جل جلاله د ښځې او خاوند د ژوند له هغې برخې څخه یادونه کړې، چې نشوز د دواړو خواوو څخه وي، نو په دې حالت کې الله تعالی جل جلاله د نوموړي اختلاف د پای ته رسېدو لپاره حاکم ته د دواړو خواوو د خپلوانو په ترکیب سره د عادلو حَکمانو د لېږلو امر کړی، څو حَکمان د دواړو لورو په رضایت سره په داسې حال کې، چې خاوند خپل حَکم ته د طلاق او عوض

اخستلو اختیار ورکړي او ښځه هم خپل حَکم ته د خلعې اختیار ورکړي، نو حَکمان په خپل کوښښ کوي، څو ظالم د هغې د ظلم څخه را وګرځوي او یا هم د دوی په منځ کې د بېلوالي فیصله کوي، په دې حالت کې که چېرته حکمان د اصلاح اراده ولري الله تعالی جل جلاله به زوجینو ته د هغوی د پرېکړې د منلو توفیق ورکړي.

په پورتني مبارک آیت کې د حکمانو د لیږلو امر شوی، چې په صراحت د حَکمیت په مشروعیت سره یې دلیل ګڼلی شو.

د حَکمیت مشروعیت د قرانکریم سربېره د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په قولي، فعلي او تقریري سنتو سره ثابت دی، چې د هغې له جملې څخه په احادیثو کې د حضرت سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنه د حَکمیت واقعه ده، چې نوموړی د یهودو د بني قریضه قوم په پوره رضایت سره ټاکل شوی اوحَکمیت یې تر سره کړی دی، د دې حَکمیت عمده ټکي دا دي، چې حضرت معاذ رضی الله تعالی عنه داسې پرېکړه وکړه: ((د بني قریضه نارینه دې ووژل شي، مالونه دې تقسیم شي، ښځې او ماشومان دې غلامان او کنیزې وګرځول شي)). نوموړې واقعه خورا مشهوره ده، چې د احادیثو په کتابونو کې په تفصیل سره یاده شوې ده د پوره معلوماتو لپاره دې مراجعه وشي ( ۱۲ : ۴۱۱ د حدیث ګڼه ۴۱۲۲).

د قرآن او سنت سربېره حَکمیت د امت په اجماع سره هم ثابت دی؛ ځکه حَکمیت په هر وخت کې تر سره شوی او هیچا یې مخالفت نه دی کړی.

د یادونې وړ ده، هغه نصوص ، چې د حَکمیت اړوند ذکر شوي مستقیما د تجارتي موضوعاتو اړوند نه دي راغلي، خو په تجارتي موضوعاتو کې د حَکمیت د مشروعیت لپاره یواځې د مطلق حَکمیت په مشروعیت سره بسنه کولی شو ځکه تجارت هم یوه موضوع ده ، چې د نورو موضوعاتو په څېر ، چې نصوص په کې

راغلي د رسېدنې وړ ده او د حَکمیت په مخالفت کې یې کوم نص وجود نه لري حتی ځینې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم قولي احادیث د حَکمیت اړوند مطلق راغلي دي، نو ویلای شو ، چې په تجارتي موضوعاتو کې حَکمیت جواز لري.

## دویم جز: د تجارتي حَکمیت موضوع

تجارتي حَکمیت په ملي او بین المللي کچه په تجارتي او اقتصادي موضوعاتو کې تر سره کیږي.

د تجارتي حَکمیت اړوند د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون داسې حکم کوي: « دغه قانون د سوداګریز او اقتصادي حَکمیت په هکله د افغانستان او نورو دولتونو ترمنځ د عقد شوو هوکړه لیکونو ته په پام کې نیولو سره د حَکمیت له لارې د سوداګریزو او اقتصادي شخړو د چټک، عادلانه او بې پلوه حل او فصل د آسانولو، هڅونې او په هغو پورې د اړوند چارو د تنظیم په منظور، وضع شوی دی» (۷ : ۱ ماده).

په پورتنۍ ماده کې د تجارتي حَکمیت موضوع په ملي او نړۍ واله کچه تجارتي او اقتصادي شخړو ته رسېدنه ښودل شوې ده، د یادې مادې حکم په نظر کې نیولو سره په تجارتي او اقتصادي ډګر کې هره شخړه، چې رامنځ ته کیږي د حَکمیت له لارې د حل وړ ده، دا چې اقتصادي او تجارتي شخړې کومو شخړو ته ویلای شو په دې اړه په یاد قانون کې سوداګریزه معامله تعریف شوې او داسې یادونه کوي: « سوداګریزه معامله د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکو مناسباتو پولي مسئلې دي، چې د قرارداد یا له هغه پرته پر بنسټ ولاړې وي» (۷: ۲ماده، ۵ جز).

دقانون د دې حکم اړوند هره موضوع، چې تجارتي یا اقتصادي تشخیص شي د حَکمیت وړ ده، چې په تجارتي او اقتصادي ډګر کې د افغانستان قانون ساحه ډېره

پراخه پرېښې؛ ځکه هره موضوع، چې پولي وي او تجارتي یا اقتصادي ماهیت پیدا کړي د حَکمیت وړ ده.

د ایران په داوري بین المللی قانون کې د تجارتي حَکمیت موضوع په څه تفصیل سره بیان شوې ده او بین المللي تجارتي حَکمیت، بین المللي تجارتي اړیکو پورې تړي او په تفصیل کې یې د توکو او خدماتو د پیراو پلور، حمل او نقل، بیمه، مالي امور، د مشورې خدمتونه، پانګه اچونه، فني همکاري، نمایندګي، کاري حق العمل، اجاره نیونه او نور مشابه فعالیتونه یاد کړي دي ( ۱۵ : ۲ ماده، ۱جز )

د مصر دولت د حَکمیت په قانون کې تجارتي حَکمیت تر هغو شخړو پورې اړوند ښودل شوی، چې اقتصادي بڼه ولري، په مثال کې یې د تجارتي توکو واردات، تجارتي خدمتونه، تجارتي و کالتونه، د جوړونې او رغونې قراردادونه، هندسي او فني امور، صنعتي او سیاحتي خدمتونه، د تکنالوژۍ انتقال او ترې ګټه اخیستنه، انکشافي عقود، بانکي چارې، د حمل او نقل او بیمې خدمتونه، د کانونو استخراج، د انرژۍ واردول، د نفتو او ګازو د نل لیکو غزول، د لارو جوړول، د زراعتي ځمکو اصلاحي پروګرامونه او نورانکشافي امور شامل کړي دي ( ۱۴: ۲ ماده ).

که پورتنیو قانوني موادو ته ځیرنه وشي د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون د حَکمیت موضوع ټولې هغه شخړې په ګوته کوي، چې تجارتي یا اقتصادي بڼه ولري، خو دا چې کوم موارد تجارتي یا اقتصادي ګڼلی شو په دې اړه تفصیل نه دی ورکړل شوی، چې ظاهرا موضوع ډېره پراخه پرېښودل شوې، ځکه په قانون کې د تجارتي او اقتصادي مواردو ټاکل د دې لامل کېږي، چې که کومه نوې موضوع تجارتي یا اقتصادي ډګر ته شاملېږي، نو د هغې لپاره به قانون تعدیلېږي، چې له دې پلوه دا یو مثبت ټکی ګڼلی شو سره له دې، چې دا چاره کله هم د وصف له نظره د

اختلاف لامل کېږي او تفسیر ته اړتیا پیدا کوي، چې دا یې له نیمگړتیاو څخه گڼلی شو، خو په ټوله کې د قانون عاموالی د یوه مثبت ټکی په توگه یادېږي.

د ایران او مصر د تجارتي حَکمیت په قوانینو کې سره له دې، چې یوه عامه قاعده بیان شوې، چې د ایران په قانون کې تجارتي اړیکې او د مصر په قانون کې اقتصادي امور تاکل شوي، په تفصیل کې یې د مثال په بڼه څه موارد ذکر شوي دي، چې د مصر په قانون کې حصر او د ایران په قانون کې نور مشابه موارد هم یاد شوي دي، د یادو قوانینو مثبت ټکي په دې کې یادولی شو، چې موردي اختلافات په کې کم منځته راځي، څو تفسیر ته اړتیا پیدا نه شي، خو نواقص یې بیا هغه وخت ښکارېږي، چې کومه نوې موضوع دې ډگر ته شامله شي، چې بیا د قانون تعدیل ته اړتیا پیدا کېږي.

په هر صورت یاد شوي قوانین ښېگڼې او نیمگړتیاوې لري ولې په ټوله کې د یادو قوانیو عمومي هدف یو دی، چې هغه په اقتصادي او تجارتي مواردو کې د حَکمیت له لارې د شخړو د حل جواز دی، دا چې کوم موارد تجارتي یا اقتصادي گڼلی شو شاید د هر دولت د تجارتي او اقتصادي سیاست مطابق فعالیتونه اقتصادي او تجارتي وگڼل شي او کله کله اختلاف هم منځته راشي و لې په ټوله کې داسې موارد ډېر نادر وي.

د تجارتي حَکمیت موضوع د یادو شوو دولتونو څخه علاوه د نړۍ په نورو دولتونو کې هم په مشابه ډول د رسېدنې وړ ده او بین المللي بڼه لري، په بین المللي اسنادو کې د تجارت په بېلابېلو برخو کې هغه که د پانگې اچونې برخه ده، که د تکنالوژۍ انتقال، که د تجاتي همکارۍ ډگر دی او یا هم متقابله بیعه، په نړیوالو قرار دادونو کې د حل لارو په لړ کې تجارتي حَکمیت هم د حل یوه لاره په گوته شوې ده (۴: ۴۳۶).

دا چې بين المللي تجارتي موضوعات کوم دي دانسترال تجارتي حَکميت په نمونه وي قانو کې نه دي تعريف شوي، خو د نوموړي قانون د اولې مادې په دويمه ګڼه لمن ليک کې تجارتي ماهيت لرونکي معاملات، د تجارتي اجناسو او خدماتو عرضه او تبادله، د توزيع قراردادونه، تجارتي نمايندګي، تجارتي اجارې، د کار قراردادونه، مشاوره، مهنديسي، د لايسنس ورکونه، پانګه اچونه، مالي تأمينات، بانګداري، بيمه، د کانونو استخراج او امتياز ورکونه، صنعتي او اقتصادي همکاري، د هوا، بحر او وچې لارې څخه د اشخاصو او سامان آلاتو حمل اونقل ګڼل شوي دي او يادونه شوې، چې بياهم تجارتي فعاليتونه په يادو شوو ځيزونو کې نه منحصرېږي (١٠: ٣٣).

د پورته نمونوي قانون د حکم په استناد سره ويلای شو هر هغه څه، چې تجارتي فعاليت و ګڼل شي د حَکميت وړ دي. په تجارتي ډګر کې تجارتي حَکميت يوازې تر مادي ملکيت پورې نه تم کېږي، بلکې معنوي ملکيتونو ته هم شاملېږي، چې په دې اړه بين المللي سازمانونه منځته راغلي او عملا فعاليت لري له هغې ډلې څخه د وايپو بين المللي سازمان د حَکميت او منځګړيتوب مر کز دی، چې هغو شخړو ته رسېدنه کوي، چې د معنوي ملکيت څخه منځته راغلي وي ( ٨: ٣٠).

يادو بحثونو ته په کتو سره که چېرته حقوقي او قانوني موادو او نظرياتو ته ځيرنه وشي د تجارتي حَکميت موضوع يوه پراخه موضوع ده، چې په ملي او بين المللي کچه په هر ډول تحارتي فعاليت کې ترې کار اخستل کېږي.

## دويم مبحث: د تجارتي حَکميت ډولونه

لکه څرنګه، چې وړاندې يادونه وشوه تجارتي حَکميت په هغو موضوعاتو کې، چې تجارتي يا اقتصادي بڼه ولري د شخړې د رامنځته کېدو په صورت کې د اجرا وړ

دی، چې د بېلابېلو اړخونو لکه ملي او بین المللي، موردي او سازماني، اختیاري او اجباري په نظر کې نیولو سره په بېلابېلو ډولونو وېشل شوي او په لاندې ډول شرحه کیږي.

## لومړی مطلب: ملي او بین المللي تجارتي حَکمیت

دا چې تجارتي معاملې یا د یوه هېواد په داخلي جغرافیه کې د هماغه هېواد د اتباعو ترمنځ تر سره کیږي او یا هم په نوموړو معاملاتو کې یو خارجي عنصر شتون لري، چې یا د بهرني هېواد تبعه د تجارتي معاملې اړخ وي او یا هم نوموړې معامله په یوه بهرني هېواد کې ترسره شي، په دې حالاتو کې تجارتي حَکمیت ملي یا بین المللي بڼه ځان ته غوره کوي.

### لومړی جز: ملي تجارتي حَکمیت

دا چې تجارتي حَکمیت کله ملي ګڼل کیږي په دې اړه هر هېواد په خپلو اړوندو قوانینو کې مواد لري او د هغې مطابق یې معرفي کوي د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون په دریمه ماده څلورمه فقره کې ملي تجارتي حَکمیت د نوموړې مادې د لومړۍ فقرې په استثناء نور موارد ملي تجارتي حَکمیت ګڼي او په نوموړې فقره کې دوه موارد ذکر شوي، چې یو یې په تجارتي قرار داد کې د بین المللي تجارت تصریح، دویم یې هغه سوداګریزې او تجارتي معاملې، چې د څو هېوادونو ترمنځ تر سره شوې وي بیان شوې دي، د نوموړو مواردو څخه علاوه نور ټول تجارتي حَکمیتونه ملي یا داخلي ګڼل شوي دي( ۷: ۳ ماده، ۳ فقره)

په ایران کې هم تجارتي حَکمیت په داخلي او بین المللي شاخو وېشل شوی دی، هغه حَکمیت، چې داخلي وګڼل شي د رسېدني اړوند قانون یې( آیین دادرسي مدني) یعنې د مدني محاکماتو د اصولو قانون او که بیا حَکمیت بین المللي و ګڼل

شي، د رسېدني اړوند قانون یې ( قانون داوری بین المللي) یعنې د بین المللي حَکمیت قانون دی (۱۰: ۱۲).

دا چې د ایران په تقنیني نظام کې کوم موارد د داخلي حَکمیت اړوند ګڼل کیږ د بین المللي حَکمیت د تعریف څخه ، چې د ایران بین المللي حَکمیت قانون د اولې مادې په (ب) جز کې راغلي تشخیص کېدای شي، په نوموړې قانوني حکم کې بین المللي حَکمیت داسې تعریف شوی دی« بین المللي حَکمیت عبارت له هغه څخه دی، چې دواړه اړخونه د حَکمیت د موافقت نامې په وخت کې د ایران د قوانینو مطابق ایراني تبعه نه وي» ( ۱۵ : ۱ماده).

په نوموړې ماده کې د بین المللي حَکمیت وصف دا دی، چې د شخړې کوم اړخ به د موافقت نامې په وخت کې د کوم بل هېواد تبعه وي، نو که چېرته کوم قرارداد د دوو ایرانیانو ترمنځ لاسلیک شي هغه که د ایران په داخل کې وي او که د ایران څخه د باندې وي حَکمیت یې دا خلي ګڼل کیږي. د مصر دولت د حَکمیت په قانون کې هم دا خلي یا ملي حَکمیت نه دی په ګوته شوی، خو بین المللي حَکمیت مشخص شوی، چې له هغې څخه د ملي حَکمیت چاپیریال معلومولی شو. بین المللي حَکمیت د یاد قانون په دریمه ماده کې څلور موارد ذکر شوي، یو یې دا دی، چې د دواړو اړخونو د مرکزي فعالیتونو ځای په دوو بېلابېلو هېوادونو کې وي، که چېرته کوم اړخ ډېر د فعالیت مرکزونه ولري، نو هغه مرکز ته اعتبار ورکول کیږې، چې د نورو مرکزونو په نسبت په کې فعالیت ډېر تر سره کوي او که هیڅ د فعالیت مرکز ونه لري بیا د اقامت ځای معتبر ګڼل کیږي، دویم یې دا چې دواړه اړخونه د حَکمیت یو مشخص نهاد د حَکمیت لپاره و ټاکي هغه که په مصر کې وي که په کوم بل دولت کې، دریم دا چې د شخړې موضوع تر څو دولتونو پورې تړاو ولري او څلورم دا

چې د دواړو اړخونو د فعاليت مرکز د موافقنامې په وخت کې په يوه دولت کې، خو د موافقت نامې د اجرا ځا ی په بل دولت کې وي (۱۴ : ۳ ماده)

د نوموړې مادي د حکم څخه په استنباط ويلای شو، چې د يادو شوو څلورو مواردو پرته نور ټول موارد د ملي يا داخلي حَکميت اړوند ګڼل کېږي. که چېرته د پورتنيو قوانينو احکامو ته څېرنه وشي، هر دولت په تجارتي موضوعاتو کې په ملي او بين المللي سطحه قواعد لري، چې په دې وصف کې هر دولت د خپل تقنيني سياست مطابق تعريفات وضعه کړي او هر دولت د ملي حَکميت لپاره قانوني موارد لري، چې د هماغه مطابق ور ته رسېدنه کوي او په راتلونکو بحثونو کې به واضح شي.

## دويم جز: نړۍ وال تجارتي حَکميت

داچې تجارتي حَکميت په کوم حال کې نړۍ وال ګڼل کېږي په دې اړه هر هېواد په خپلو قوانينو کې د دې موارد بيان کړي دي، چې په مخکې بحث کې مو د هماغه مواردو په مرسته ملي تجارتي حَکميت معرفي کړ، د افغانستان د تجارتي حَکميت قانو ن د درېيمې مادې په لومړۍ فقره کې نړۍ وال تجارتي حَکميت په دوو مواردو کې ذکر شوي ، چې يو يې په تجارتي قرارداد کې دبين المللي تجارت تصريح، دويم يې چې سوداګريزې او تجارتي معاملې دې څو هېوادونو ترمنځ تر سره شوې وي معرفي شوي دي (۷ : ۳ ماده، ۱ فقره).

که د قانون نوموړي حکم ته وکتل شي د افغانستان په تجارتي حَکميت کې دوو ټکو ته پاملرنه شوې، چې يو يې د تجارتي معاملې د دواړو اړخونو د ارادې آزادي ده، چې په دې سره سوداګر کولی شي د تجارتي شخړو د حل لپاره په آزاده توګه حَکم يا د حَکميت مرکز وټاکي په دې اړه دا شرط نه دی، چې تجارت دې حتما خارجي وي؛ بلکې په دا خلي تجارت کې هم تجارانو ته دا آزادي حاصله ده، دويم

حالت يې بيا خارجي تجارت دی، چې خارجي تجارت هم د ښکېلو اړخونو تابعيت ته په کتو غوره شوی دی د ياد قانون د حکم پر اساس په عادي حالت کې تجارتي حَکميت هغه مهال بين المللي گڼل کېږي، چې تجارتي معامله د بېلابېلو دولتونو د اتباعو ترمنځ سرته رسېدلې وي، نو که چېرته يوه تجارتي معامله د دوو افغانانو ترمنځ وي او په قرارداد کې يې کوم بين المللي حَکميت نه وي غوره کړی، د نوموړې معاملې د شخړې د حل لپاره حَکميت داخلي گڼل کېږي.

د ايران دولت په ( داوري بين المللي) بين المللي تجارتي حَکميت قانون د لومړی مادې په (ب) جز کې بين المللي حَکميت داسې تعريف شوی دی« بين المللي حَکميت عبارت له هغه څخه دی، چې دواړه اړخونه د حَکميت د موافقت نامې په وخت کې د ايران د قوانينو مطابق ايراني تبعه نه وي» ( ۱۵ : ۱ماده، ب جز )

په ياد قانون کې هم د افغانستان د تجارتي حَکميت قانون په څېر د بين المللي تجارتي حَکميت لپاره د ښکېلو اړخونو تابعيت ته پاملرنه شوې، نو که دوه ايراني په خارج کې کومه تجارتي معامله تر سره کوي او شخړه يې ترمنځ را پيدا کېږي، د حَکميت لپاره د داخلي حَکميت تابع دي، د افغانستان سره يوائې په دې کې توپير لري، چې د افغانستان په اړوند قانون کې د تجارانو د ارادې آزادی ته پوره توجه شوې ، چې د خارجي بعد څخه علاوه په داخلي تجارت کې هم بين المللي حَکميت ټاکلی شي او دا حکم د ايران په قانون کې نه دی راغلی.

د مصر دولت هم د حَکميت په قانون کې بين المللي حَکميت د تشخيص لپاره د ياد قانون په دريمه ماده کې څلور موارد ذکر کړي، ، چې يو يې دا دی ، چې د دواړو اړخونو د مرکزي فعاليتونو ځای په دوو بېلابېلو هېوادونو کې وي که چېرته کوم اړخ ډېر د فعاليت مرکزونه ولري نو هغه مرکز ته اعتبار ورکول کېږي ، چې د نورو

مرکزونو په نسبت په کې فعاليت ډېر تر سره کوي او که هيڅ د فعاليت مرکز ونه لري بيا د اقامت ځای معتبر ګڼل کېږي، دويم يې دا ، چې دواړه اړخونه د حَکميت يو مشخص نهاد د حَکميت لپاره و ټاکي هغه که په مصر کې وي که په کوم بل دولت کې، دريم دا چې د شخړې موضوع تر څو دولتونو پورې تړاو ولري او څلورم دا ، چې د واړو اړخونو د فعاليت مرکز د موافقنامې په وخت کې په يوه دولت کې وي خو د موافقت نامې د اجرا ځای په بل دولت کې وي ( ۱۴ : ۳ ماده).

د مصر په تجارتي حَکميت قانون کې د بين المللي حَکميت لپاره د ښکيلو اړخونو تابعيت، د سوداګريز فعاليت ځای او د حَکميت لپاره د نهاد ټاکل شامل دي، چې دويم او درېيم مورد د افغانستان او ايران په اړوندو قوانينو کې نه دی منعکس شوی، د مصر په ياد شوي قانون کې که د تجارتي فعاليت مرکز په خارج کې شتون ولري يا هم د تجارت عقد په يوه دولت او تطبيق يې په بل دولت کې کېږي، که هغه د دوو مصريانو تجارانو په منځ کې هم وي حَکميت يې بين المللي بڼه لري. همدا رنګه که چېرته په تجارتي معامله کې د دوو هېوادونو اړوند اشخاص دخيل شي، چې په قانون کې د څو دولتونو ښکېلتيا په ګوته شوې او تر ټولو مهم ټکی په کې دا دی، چې د حَکميت مرکزونه که په هر ځای کې شتون ولري بين المللي ګڼل شوي او که د حَکميت لپاره انتخاب شي اګر که په مصر کې هم وي رسېدنه يې بين المللي حَکميت دی.

د يادو دولتونو څخه علاوه د نړۍ ټول هېوادونه د ملي او بين المللي حَکميت لپاره ځانګړي قواعد لري، چې په ځينو هېوادونو کې يې اړوند قوانين هم بېل دي او په ځينو هېوادونو کې بيا په يوه قانون کې تنظيم شوي دي، هغه هېوادونه، چې د ملي او بين المللي حَکميت لپاره يو ډول قواعد لري، لکه انګلستان په هغو هېوادونو کې هم

ملي او بین المللي حَکمیتونه د اجرا پر مهال توپیر کوي، چې بین المللي حَکمیتونه د نیویارک د کنوانسیون تابع دي ولې ملي حَکمیتونه د هماغه هېواد د داخلي قانون تابع گڼل کېږي ( ۱۱ : ۱۳).

**دویم مطلب: موردي او سازماني حَکمیت**

که چېرته تجارتي حَکمیت ته د رسېدنې لارې او د رسېدنې مرجع ته کتنه وشي بیا تجارتي حَکمیت په موردي او سازماني حَکمیت وېشلای شو دا، چې حَکمیت کله موردي او کله سازماني وي په دې اړه د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون د دویمې مادې په دویم جز کې حَکمیت هغه لازم الاجراء عملیه گڼلې، چې د هغې پر بنسټ حَکم یا حَکمان یا د حَکمیت اداره د اړخونو د غوښتنې او موافقې یا د محکمې د قرار له مخې د اقتصادي او سوداگریزو معاملو له قرارداد څخه د را پیدا شوو شخړو د چټک او عادلانه حل او فصل په موخه خدمتونه سرته رسوي (۷ : ۲ماده، ۲ جز).

په یاده ماده کې د حَکمیت د یادو دواړو ماوردو یادونه شوې، چې د یوه یا دیوه څخه د ډېرو حکمانو له خوا حَکمیت، چې د شخړې د اړخونو له لورې ټاکل شوي وي، موردي حَکمیت گڼل کېږي، خو که حَکمیت د حَکمیت د کومې اړوندې ادارې له خوا تر سره شي بیا حَکمیت سازماني گڼل کیږې، دا چې په افغانستان کې د حَکمیت لپاره کومه اداره شتون لري؟ مخکې د تجارتي حَکمیت په مقرره کې د تجارت او صنایعو عمومي ریاست په چوکاټ کې، چې د تجارت د خونو اړوند ریاست وو، یوه مستقله اداره ټاکلې وه، چې د نوموړې مقررې دویمه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: « د تجارتي حَکمیت اداره د تجارت او صنایعو د عمومي ریاست اړونده اداره ده» ( ٦ : ۲ماده).

خو کله چې په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې د تجارتي حَکمیت قانون نافذ شو نوموړې مقرره یې لغوه کړه او د یاد قانون په دوولسمه ماده کې حکم، حکمانو د حَکمیت پورډ ته د خدماتو لپاره د تضامني او سهامي شرکت د جوړولو اجازه ورکړې، چې کېدای شي حکم او حکمان موردي او همدارنگه د یوه مشخص سازمان به جوړولو سره د یوه شرکت او یا هم د ټولنې په بڼه کار وکړي (۷ : ۱۲ماده).

په نوموړي قانون کې د سازماني حَکمیت لپاره کوم ځانگړی بنسټ نه دی معرفي شوی، چې دا مورد د دې قانون د یوې تشې په توگه یادولی شو؛ ځکه هره تگلاره په غوره بنسټونو سره پر مختگ کوي، خو بیا هم د یاد قانون د احکامو اړوند د شخړې د اړخونو د ارادې د آزادۍ په نظر کې نیولو سره هر سازمان ټاکل کېدای شي له همدې امله ویلای شو، چې په افغانستان کې د موردي تر څنگ سازماني حَکمیت هم د تطبیق وړ دی.

د ایران دولت هم موردي او سازماني حَکمیت په رسمیت پېژني او د حَکمیت په تعریف کې، چې د بین المللي حَکمیت قانون د لومړۍ مادې په الف جز کې درج شوي د حقیقي شخص او اشخاصو تر څنگ یې حقوقي شخص هم د حکم په توگه منلی دی او داسې صراحت لري: (حَکمیت د هغه حقیقي یا حکمي اشخاصو په وسیله د محکمې څخه د باندې د دعوې د اړخونو ترمنځ د اختلاف له منځه وړل دي، چې د دعوې داړخونو په رضایت ټاکل شوي او یا هم په انتصابي ډول مقرر شوي وي (۱۵: ۱ ماده، الف جز).

د مصر دولت هم موردي او سازماني حَکمیت په رسمیت پېژنې د هغوی اړوند قانون د احکامو مطابق سازماني حَکمیت د بین المللي حَکمیت له ډلې گڼل شوی دی، او یادونه شوې، چې که دواړه اړخونه د حَکمیت یو مشخص نهاد د حَکمیت لپاره و

ټاکي هغه که په مصر کې وي که په کوم بل دولت کې حَکميت يې بين المللي ګڼل کېږي (۱۴ : ۳ ماده).

پورتني بيان ته په کتو سره ټولو دولتونو په صريح يا ضمني توګه موردي او سازماني حَکميتونه قبول کړي او په عملي توګه ورڅخه کار اخستل کېږي، که څېرته په ټوله کې ځير شو دا يو ضرورت او عيني حقيقت هم دی، چې د شخړو د اړخونو د آزادئ په نظر ګې نيولو سره کله د تجارانو د وخت د کموالي او د اړونده سازمانونو د تخصص او تجربې په پار د موردي حَکميتونو تر څنګ سازماني حَکميتونو ته هم لازمه اړتيا ليدل کېږي.

## درېيم مطلب: جبري او اختياري حَکميت

دا چې په تجارتي معاملو کې په ډېرى هېوادونو کې د ذيدخلو افرادو ازادې ارادې ته پاملرنه شوې د شخړې د حل په برخه کې هم آزاد ګڼل کېږي، چې په کوم ډول يې حل کړي، دا چې تجارتي حَکميت هم د شخړو د حل لپاره يوه لاره ده، نو په تجارتي معاملو کې د شخړو د حل لپاره د ټاکنې وړ دی، چې د تجارانو ترمنځ ډېر غوره کېږي، د ارادې آزادئ اصل ته په کتو سره په اصل کې تجارتي حَکميت يوه اختياري بڼه لري، خو کله کله بيا حَکميت اجباري بڼه هم ځان ته غوره کوي، دا چې حَکميت کله اختياري او کله هم اجباري ګرځي؟ په هکله يې هر دولت د خپل تقنيني پالېسۍ سره سم احکام غوره کړي دي. د افغانستان په قوانينو کې حَکميت يوه اختياري پروسه ګڼل شوې او د شخړې اړخونه کولی شي، چې د موضوع د حل لپاره حَکميت غوره کړي، په دې برخه کې د افغانستان قوانينو د شخړې اړخونو ته تر هغه وخته پورې د حَکميت انتخاب اختيار ورکړی، چې محکمې په موضوع کې حکم نه وي کړی، تر دې، چې که د موضوع اړوند په محکمه کې دعوې دوران ولري اړخونه کولی شي حَکميت ته رجوع وکړي او

داسې صراحت لري: « هغه کسان، چې د دعوې سورولو اهليت لري د خپلو اختلافونو د اوارولو لپاره که دغه اختلافونه په تجارتي محکمو کې پورته شوي وي که نه وي کولی شي، چې د محکمې د حکم صادرېدونه اول د يو يا څو تنو حَکميت ته ماتې ورکړي» (۵ : ۲۰۸ ماده) .

د تجارتي حَکميت قانون په آتمه ماده کې هم د حَکميت په چارو کې د محکمې او نورو دولتي ادارو مداخله منعه گرځېدلې، خو که په قانون کې د هغې لپاره کوم مجوز موجود وي. ( ۷ : ۸ ماده)

د افغانستان اړوندو قوانينو احکامو ته په کتوسره ويلای شو، چې حَکميت يوه اختياري پروسه ده، خو آيا کله کېدای شي، چې حَکميت اجباري وگرځي؟ دغې پوښتنې ته په ځواب کې ويلای شو، سره له دې، چې د حَکميت پروسه ټاکل او د حکمانو ټاکنه يو اختياري عمل دی، خو کله چې بيا حَکميت په يوه موافقت نامه کې درج شي په تعهد باندې د الزام د عمومي قاعدې مطابق بيا الزامي گرځي، سره له دې چې د قرارداد څخه وروسته د حَکميت په الزامي والي د افغانستان اړوند قوانين تام صراحت نه لري، خو په ضمني توگه داسې احکام و جود لري، چې د موافقې څخه وروسته د حَکميت پروسه الزامي گرځي د هغې احکامو څخه يو هم د تجارتي حَکميت قانون د يوويشتمې مادې حکم دی، چې د شخړې اړخونه د موافقې څخه وروسته په حَکم باندې د اعتراض څخه منعه کوي او د اعتراض لپاره يې د حَکم په بې پرې والي او استقلال کې د شک پيدا کېدل يې شرط گڼلی دی ( ۷ : ۲۱ ماده).

په ايران کې تجارتي حَکميت په اختياري او اجباري توگه سرته رسېږي سره له دې، چې په عموم کې د ايران په قوانينو کې د حَکميت پروسه يوه اختياري پروسه ده، خو په ځينو مواردو کې بيا اجباري هم گڼل کېږي، چې په دوو ډولونو سره ترې يادونه

کولی شو، یو ډول یې دا دی، چې د قانون په حکم سره ځینې قضایاوې باید د حَکمیت له لارې تر سره شي، په دې اړه لومړی د نوموړي هېواد د ۱۳۰۶ هـ ش کال تصویب شوي د حَکمیت قانون په لومړۍ ماده کې یاد شوي. که یو د متداعیانو څخه په لومړي سر کې د محکمې څخه د سولې غوښتنه وکړي محکمه باید بل اړخ په حَکمیت ملزم کړي او موضوع حَکمیت ته را جع کړي، وروسته بیا د ایران په نورو تقنیني اسنادو کې ځینې موارد په الزامي توگه د حَکمیت تابع گرځېدلي، لکه د حَکمیت د شورا وو او د بورس د تأسیس قوانین، چې د پوره معلوماتو لپاره کېدای شي نوموړو قوانینو ته مراجعه وشي او دویم ډول اجباري حَکمیت د ایران په قوانینو کې په ځینو قرار دادونو کې د حَکمیت شرط کول لازم گرځول شوي، چې د بېلگې په توگه د نوموړي هېواد د نفتو قانون، چې په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې تصویب شوی، په درویشتمه ماده کې د ایران د نفتو شرکت او د هغې د قرارداد یانو ترمنځ اختلاف که په دوستانه مذاکره سره حل نه شي باید د حَکمیت له لارې حل او فصل شي (۱۰ : ۲۷-۲۹).

د مصر په تجارتي حَکمیت قانون کې د حَکمیت پروسه د افغانستان په څېر یوه اختیاري پروسه گڼل شوې، چې اړخونه په خپل اختیار سره کولی شي، چې حَکمیت ته مخه کړي او یایې هم غوره نه کړي، خو که چېرته د شخړې اړخونو په حَکمیت هوکړه وکړه بیا په اجباري توگه ملزم گڼل کېږي، چې شخړه د حَکمیت له لارې حل او فصل کړي (۱۴ : ۵ او ٦ ماده).

د قوانینو پورتني بحث ته په کتو سره تجارتي حَکمیت په ټوله کې یوه اختیاري پروسه ده، چې د شخړې د دواړو اړخونو په هوکړه غوره کېږي، خو کله کله ځینې دولتونه د خاصو موضوعاتو څېړنه تر حَکمیت پورې منحصروي، چې دا یو

استثنايي حالت ګڼلی شو، په نورو واله کچه هم حَکمیت یوه اختیاري پروسه ښودل شوې، چې د شخړې د اړخونو هوکړه په کې شرط ده او ښه بېلګه یې د انسترال نمونوي قانون یا دولای شو، چې په اوومه ماده کې یې د حَکمیت موافقت نامه تعریف کړې ده (۱۶ : ۷ ماده).

**درېیم مبحث: د حَکمیت پروسه او آثار**

دا چې حَکمیت په څه شکل اجراء کېږي او آثار یې څه دي په لاندې ډول به و څېړل شي.

**لومړی مطلب: د حَکمیت پروسه**

د حَکمیت پروسه، چې د شخړو د دواړو اړخونو له هوکړې څخه پیلېږي د حکمانو د حکم یا هم د موجه د لایلو پر بنسټ د پروسې په لغوې سره پای مومي، بېلابېلې برخې لري، چې هره برخه به یې به لاندې ډول تر بحثلاندې ونیول شي.

**لومړی جز: د حَکمیت هوکړه لیک**

د حَکمیت هوکړه لیک د حَکمیت لپاره یو مهم عنصر ګڼلای شو، چې حَکمانو ته صلاحیت ورکوي، تر څو په اړونده موضوع کې اجراآت تر سره او رایه صادره کړي، نوموړی قرار داد کېدای شي مستقل او یا هم د اصلي قرارداد په ضمن کې تر سره شي (۱۰ : ۵۰۱)

د حَکمیت لپاره هوکړه کېدای شي د قرار داد په شکل او یا هم د قراردا د څخه پرته په کتبي شکل سره پیل او جریان پیدا کړي، د افغانستان په تجارتي حَکمیت کې د حَکمیت لپاره په لیکلې بڼه هوکړه لیک شرط ګڼل شوی، په دې اړه داسې حکم کوي: «د اړخونو ترمنځ د حَکمیت هوکړه په لیکلې توګه صورت مومي...» نوموړی حکم د یوه عمومي حکم په توګه بیان شوي که چېرته د اړخونو ترمنځ مخکې کوم

هوکړه لیک نه وي تر سره شوی د اختلاف د پیدا کېدو څخه وروسته هم په کتبي شکل هوکړه کولی شي، ځو موضوع حَکمیت ته راجع کړي (۷ : ۱۳ او ۱۶ماده).

دا چې د یوې موضوع حل د حَکمیت له لارې تر سره کیږي لازمه ده، چې د شخړې اړخونه اهلیت ولري، د شخړې موضوع د حَکمیت وړ وي، د شخړې موضوع مشخصه شي او کېدای شي، چې حکمان هم په هوکړه لیک کې وټاکل شي (۹ : ۳۱۸)

د ایران نړۍ وال تجارتي حَکمیت په قانون کې هم د حَکمیت هوکړه لیک د افغانستان د قانون په څېر د تجارتي شخړې څخه مخکې او د شخړې په دوران کې د حَکمیت هوکړه لیک وړاندوینه شوې ده په دې مفهوم، چې اړونده کسان کولی شي مخکې له دې، چې شخړه منځته راشي د حل لارې په توګه د حَکمیت هوکړه لیک ترسره کړي، همدارنګه که چېرته د شخړې څخه د مخه کوم هوکړه لیک شتون ونه لري کولی شي د شخړې په وخت کې، چې دعوه په محکمه کې تر دوران لاندې وي د محکمې تر اولې جلسې پورې نوموړی هوکړه لیک سرته رسولای شي، په یاد قانون کې د حَکمیت هوکړه لیک په مستقل ډول او همدارنګه د تجارتي اصلي قرارداد په ضمن کې تر سره کېدای شي (۱۵ : ۸او ۹ ماده).

د مصر په تجارتي حَکمیت قانون کې هم د حَکمیت موافقتنامه د شخړې څخه مخکې او د شخړې په مهال سمه ګڼل شوې او لیکلې بڼه په کې شرط ګڼل شوی ده. (قانون التحکیم المصري ۱۹۴۹ م ، ۱۰او ۱۲مادې)

د یادو قوانینو احکامو ته په کتو سره د حَکمیت لپاره هوکړه لیک یو مهم عنصر ګڼل کیږي، چې د حَکمیت لپاره د اجراآتو دروازه خلاصوي او نوموړې موافقنامه په

مستقل او د تجارتي عقد په څنګ کې منعقدیږي، خو که عقد په ضمن کې هم وي د مفهوم له اړخه مستقل عقد ګڼل کیږي.

**دويم جز: د حَکمیت جریان**

کله چې د حَکمیت اړوند د شخړې اړخونه هوکړه وکړي، په موافقت نامه کې د حَکمیت لپاره د حَکمانو یا د حَکمیت د بورډ، د حَکمیت د ځای او تګلارې ټاکل دي، د دې څخه وروسته بیا دویمه مرحله پیلیږي، چې بیا حکمان په عملي توګه خپل اجراءات تر سره کوي، د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون د احکامو مطابق د حَکمیت په جریان کې حَکم د دواړو اړخونو لپاره د ځواب په موخه وخت ټاکي، که چیرته کوم اړخ په ټاکلې موده کې خپل اسناد حَکمیت ته حاضر نه کړي دا سې ګڼل کیږي، چې د اعتراض څخه یې صرف نظر کړی دی (۷ : ۷ ماده).

دایران په بین المللي حَکمیت قانون کې د اړخونو لپاره مهلت د اړخونو په توافق یا هم د حکم له خوا ټاکل کیږي، چې په ټاکلې موده کې باید خپل ځواب وړاندې کړي او اړخونه کولی شي خپل ځواب د حَکمیت په جریان کې اصلاح کړي، خو که حکمان یې مجاز تشخیص نه کړي. (۱۵ : ۲۲ماده).

د مصر په حَکمیت قانون کې هم د ایران په شان د شخړې د اړخونو یا حَکمانو له خوا د ځواب لپاره وخت ټاکل کیږې، چې دواړه اړخونه مکلف دي په ټاکلي وخت کې خپل ځواب حَکمانو ته وړاندې کړي او اړخونه کولی شي خپل ځواب د حَکمیت په جریان کې تر هغه وخته پورې اصلاح کړي، تر څو حَکمانو د هغې څخه ممانعت نه وي تر سره کړی. (۱۴ : ۳۰ او ۳۲ ماده)

پورته بیان ته په کتو سره د حَکمیت په جریان کې وخت ته ارزښت ورکړل شوی، چې د شخړې اړخونه د هغه و خت اړوند، چې په خبله یې ټاکلی وي او یا هم د

حَکمانو له خوا ور ته تعین شوی وي خپل اسناد او شواهد حَکمیت ته وړاندې کړي، کله چې اړوند اسناد او شواهد حکمانو ته ورسیږي حکمان هغه په تخصصي بڼه ارزیابي کوي او د تصمیم لپاره یې آماده کوي، چې په دې سره د حَکمیت جریان وروستۍ مرحلې ته یعنې د تصمیم مرحلې ته داخلیږي ، چې دا به په راتلونکې جز کې وڅیړل شي.

**دریم جز: د حَکمانو تصمیم**

کله، چې حَکمان د شخړې د اړخونو اسناد او شواهد ارزیابي کړي، حَکمان د شخړې اړوند تصمیم نیسي، چې په هغې سره د حَکمیت جریان ختمیږي او دا تصمیم د قرار په بڼه صادریږي، د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون د احکامو مطابق، نوموړی قرار باید کتبي بڼه ولري او په هغې کې د قرار د صدور تاریخ او محل او هغه دلایل، چې په وسیله یې قرار صادر شوی درج وي ( ۷ : ۴۷ ماده).

د یادونې وړ ده، که چېرته د شخړې اړخونه د حَکمیت په جریان کې موافقې ته سره ورسیږي، نوموړې هوکړه د حَکمیت قرار ته رسیږي او د قرار په بڼه صادریږي ( ۷ : ۴۶ماده).

دایران بین المللي حَکمیت قانون کې هم د حَکمانو رایه باید کتبي صادره شي، چې رایه باید د شخړې اړخونو د توافق له شرایطو سره سمه وي او دلایل، نېټه او د رایې محل باید په کې درج وي او په آخر کې باید د حَکمانو له خوا امضاء شي ( ۱۵ : ۳۰ ماده).

د مصر په حَکمیت قانون کې هم د حَکمیت قرار باید کتبي وي او د شخړې اړخونو نومونه د حَکمیت موضوع د اړخونو خلاصه غوښتنې، دلایل او د قرار د صدور محل او تاریخ باید په کې درج وي ( ۱۴ : ۴۳ماده).

د پورته قانوني احکامو په نظر کې نیولو سره و یلای شو، چې د حَکمیت قرار، د حَکمیت پروسې مهمه برخه ده، چې د حَکمیت نتیجه لاس ته راوړي او په صدور سره یې د حَکمیت پروسه ختمیږي.

## دویم مطلب: د حَکمیت آثار

دا چې تجارتي حَکمیت یوه پروسه ده، چې تجارتي شخړې پرې حلیږي، نو کله چې نوموړې پروسه سرته ورسیږي، د ځان لپاره خپل آثار پرېږدي، د حَکمیت آثار د هغو مواردو څخه پیروي کول دي، چې د تجارتي حَکمیت په قرار کې د شخړې اړخونه مکلفوي، د تجارتي حَکمیت پایلې د رسمي محکمې پر څېر د اړوندو کسانو لپاره الزامي ګڼل کیږي سره له دې، چې نوموړې پروسه د کومې رسمي ادارې له خوا نه تر سره کیږي، خو د تجارتي حَکمیت قرار د رسمي اسنادو بڼه ځان ته غوره کوي او نو موړې پروسه رسمي کڼل کیږې همدا لامل دی، چې په حَکمیت باندې اعتراض باید محکمې ته وړاندې شي، دا چې د حَکمیت او د محکمې د حکم ترمنځ څه توپیر شته که نه؟ په دې اړه د یادونې وړ ده، چې د محکمې حکم یوازې تر خاصې جغرافیې پورې اړوند وي او آثار یې هم تر هماغه ځایه پورې منحصر وي، خو تجارتي حَکمیت بیا تر خاصې جغرافیې پورې اړوند نه ګڼل کیږي؛ بلکې د شخړې اړخونه کولی شي په هر ځای کې د حَکمیت یوه لاره غوره کړي او آثار یې هم په اړونده هوکړه لیک کې په هر ځای کې د تطبیق وړ وګڼي، نو له همدې امله و یلی شو، چې د تطبیق په برخه کې لږ توپیر لري، خو الزام یې په یو ډول دی په دې اړه د افغانستان د تجارتي حَکمیت قانون صراحت لري (۷ : ۵٦ ماده).

د ایران په بین المللي حَکمیت قانون کې هم د رايې تطبیق د نوموړي قانون مطابق لازمي ګڼل شوی او د تطبیق لپاره یې د محکمې څخه کتبي درخواست لازمي دی (۱۵ : ۳۵ ماده).

د مصر په حَکمیت قانون کې د حَکمیت اړوند حکم نفاذ لازمي او د تنفیذ لپاره یې د شخص غوښتنه او د مصر د رسمي با صلاحیته محکمې امر شرط ګڼلی دی ( ۱۴ : ۵۶ ماده).

دقوانینو احکامو ته په کتو سره و یلی شو ، چې د حَکمیت حکم یو رسمي حکم دی ، چې تنفیذ یې لازم دی او دا ، چې څرنګه باید نافذ شي بېلابېل دولتونه د خپل تقنیني سیاست مطابق اجراآت کوي.

**پایله**

د تجارتي حَکمیت له څېړنې څخه لاندې پایلې لاس ته راځي:

۱- تجارتي حَکمیت د رسمي محاکماتي بهیر لپاره یوه ګټوره، انعطاف منلې او مؤثره بدیله تګلاره ده، چې په ملي او بین المللي کچه د تجارتي شخړو د حل لپاره د رسمي محاکمو ښه بدیل ګڼل کېږي.

۲- د تجارتي حَکمیت اړوند د هېواد په تقنیني اسنادو کې حکمیت په ملي او نړیواله کچه په موردي او سازماني ډول منل شوی او سوداګر د حَکمانو او د حَکمیت د بورډ په ټاکنه کې آزاد پرېښودل شوي دي، خو ستونزه یې دا ده، چې د حکمیت لپاره کوم ځانګړی بنسټ نه دی معرفي شوی او د حَکم او د حکَمیت د بورډ لپاره یې داسې معیاري شرایط نه دي وضعه کړي، چې د حَکمیت تګلاره پرې بسیاینې ته ورسېږي.

۳- د تجارتي حَکمیت اړوند بېلابېل هېوادونه ځانګړي قوانین لري، چې په ځینو مواردو کې یې احکام سره متناقض دي له دې امله په نړیواله کچه د سوداګریزې شخړې پر مهال سوداګر له ستونزو سره مخامخ کیږي، چې د یادې ستونزې د حل په موخه د نړیوال تجارت سازمان د انسترال نمونوي قوانین وړاندې کړي، څو هېوادونه د حَکمیت اړوند خپل قوانین سره متحد کړي، خو تر اوسه یاده ستونزه پرځای پاتې ده.

**مناقشه**

تجارتي حَکمیت د رسمي محاکماتي بهیر ښه بدیله تګلاره ده، چې د هېواد د تقنیني نظام مطابق په موردي او سازماني شکل په ملي او نړیواله کچه منل شوی دی، خو دا چې د دې تګلارې لپاره یې مشخص سازمانون نه دی معرفي کړی او نه یې هم د حَکم او د حَکمیت د بورډ لپاره دا سې شرایط وضعه کړي، چې یاده تګلاره بسیاینې ته ورسوي، د یادو تقنیني اسنادو د تشې په توګه یې یادولی شو، په نړیواله کچه هم د نړیوال تجارت سازمان د هڅو سره بیاهم هېوادونه نه دي توانېدلي، چې د حَکمیت اړوند قوانین سره متحد کړي، په دې برخه کې دا یوه نړیواله ستونزه ده، یاد بحث ته په کتو سره اړینه ده، چې په ملي کچه د تجارتي حکمیت اړوند کومه تشه، چې شتون لري د قانون جوړونې نهاد یې په پوره کولو کې کوټلی ګام واخلي، همدارنګه په نړیواله کچه هېوادونو ته اړینه ده، چې د نړیوال تجارت د رهنمودي قانون (انسترال) د لارښوونې مطابق د اړونده قوانینو په اتحاد جدي کار وکړي، څو یادې ستونزې حل شي.

د تجارتي حَکمیت اړوند پخوا بېلابېلې څېړنې تر سره شوې دي، چې ځینې یې په یوه خاص مورد او ځینې نورې یې تر یوې خاصې جغرافیې پورې اړوندې دي، چې

د مثال په توګه د عبدالحسین شیروي، لیلا رئیسي، نصر الله ستانکزي.. څېړنې یادولی شو، چې د هرې څېړنې پایلې یوازې تر همغه مورد او جغرافیې پورې اړوندې دي، چې د معمول په توګه په هماغه ساحه کې لاس ته راوړنې لري، خو دا څېړنه، چې په ملي او نړیوال ډګر کې په پرتلیزه توګه ترسره شوې، دې حقیقت ته په کتو سره، چې اوس سوداګري په نړیواله کچه عامه شوې لاس ته راوړنې یې د نورو څېړنو پر پرتله ډېرې دي، د پخوا څېړنو سره د دې څېړنې د اشتراک ټکي دا دي، چې ټولې څېړنې د تجارتي حکمیت اړوند تر سره شوي دي، خو دا چې پخوانۍ څېړنې په موردي توګه او یاهم تر یوې خاصې جغرافیې پورې اړوندې دي او دا څېړنه د حَکمیت اړوند د ملي او نړیوالو حقوقو په ډګر کې په پرتلیزه تو ګه تر سره شوې د نورو څېړنو سره د افتراق د ټکي په توګه یې یادولی شو او د څېړنې په پایله کې د دې هیله شته، چې په ملي او نړیواله کچه د حَکمیت اړوند د سوداګرو ستونزې حل شي.

کله چې کومه څېړنه تر سره کیږي د معمول په توګه څېړونکی د قوت او ضعف له نقاتو سره مخ کیږي، په دي څېړنه کې، چې په پرتلیزه توګه تر سره شوې، د قوت نقطه یې دا ده، چې د نورو څېړنو پر پرتله ملي او نړیوال بعد لري او په یادو اړخونو کې د حَکمیت لاس ته راوړنې او ستونزې په کې بیان شوې دي، خو دا چې به دې څېړنه کې د منابعو د شتون د محدودیت تر څنګ په موضوعي لحاظ د حَکمیت اړوند سازمانونه، چې د دې تګلارې د ستونزو په حل کې رغنده رول لري، نه دي څېړل شوي، ځکه د یادو سازمانونو څېړنه یوه اوږده بحث ته اړتیا لري، چې د دې څېړنې چاپېریال یې نه شي زغملی، دا د دې څېړنې د ضعف د نقاطو په توګه یادولی.

**پایله اخیستنه**

تجارتي حَکمیت، چې د رسمي اوږد او پېچلي محاکماتي بهیر یوه لنډه او کم لګښته د شخړو د حل تګلاره ده، خو له دې امله، چې د هېواد په کچه په تقنیني اسنادو کې د سازماني حَکمیت لپاره مشخص نهاد نه دی معرفي شوی او نه هم د حَکم لپاره خاص شرایط وضعه شوي او په نړیواله کچه هم د هېوادونو قوانین سره نه دي متحد شوي، چې دا د ملي او نړیوالې ستونزې په توګه یادېږي له دې امله اړینه ده، چې د حَکمیت اړوند په ملي او نړیواله کچه په تقنیني اسنادو بیا کتنه وشي او لازم اصلاحات په کې رامنځته شي.

**وړاندیزونه**

۱- په ملي تقنیني اسنادو کې دې د تجارتي حَکمیت اړوند معتبر سازمانونه او مشخص میکانیزم معرفي شي.

۲- په نړیواله کچه دې د نړیوال تجارت د رهنمودي قوانینو په نظر کې نیولو سره د حَکمیت متحد قوانین منځ ته راشي.

۳- دا چې تجارتي حَکمیت یو مهم بحث دی هغو څېړونکو ته، چې غواړي په اړونده موضوع کې څېړنه وکړي، وړاندیز کوم، چې د تجارتي حَکمیت اړوند د سازمانونو د معرفي موضوع دې څېړنې ته وټاکي.

**اخځلیکونه**

۱- ابن عابدین، محمد امین. ( ۱۴۱۷هـ ق). رد المحتار، لومړی چاپ، بیروت: احیاء التراث العربي.

۲- احراری، فردینا، رحیم زاده، سمیه، وعادل، غلام شاه.( ۱۳۹۸ هـ ش). روش های حل منازعات تجارتی، لومړی چاپ ، کابل: بنیاد آسیا.

۳-البغوی، الحسین بن مسعود.(۱٦۱۲م). تفسیر بغوی، مکتبه دار الطیبه.
۴-حاجي زوی، عبد المجید. ( ۱۴۰۱ هـ ش). د سوداګرۍ بین المللي حقوق، لومړی چاپ، کابل: سعید مطبعه.
۵- د عدلیې وزارت. ( ۱۳۴۳هـ ش). د تجارتي محاکماتو د اصولو قانون، رسمي جریده مسلسل نمبر (۳) کابل دولتي مطبعه.
٦- د عدلیې وزارت. (۱۳۷۴هـ ش). د تجارت وزارت د تجارتي حَکمیت اداري مقرره، رسمي جریده مسلسل نمبر ( ۷۷۹) کابل، دولتي مطبعه.
۷-د عدلیې وزارت. (۱۳۸۵ هـ ش). د تجارتي حَکمیت قانون، رسمي جریده مسلسل نمبر (۹۱۳) کابل دولتي مطبعه.
۸- رئیسی، لیلا. ( ۱۳۹۲ هـ ش). نظام حل و فصل اختلافات حقوق مالکیت معنوی، دویم چاپ، ایران: انتشارات جنگل.
۹- ستانکزی، نصرالله او ناصح، ولی محمد. (۱۳۹۵ هـ ش). حقوق تجارت، آتم چاپ، کابل: سعید مطبعه.
۱۰- شیروی، عبد الحسین. (۱۳۹۴ هـ ش). داوری تجاری بین المللی، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی (سمت)، چاپ پنجم، قم، ایران.
۱۱- شیروی، عبدالحسین. (۱۳۹۴ هـ ش). حقوق تجارت بین الملل، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی (سمت)، چاپ هشتم، قم، ایران.
۱۲- عسقلاني، ابن حجر. (۱۳۰۰-۱۳۰۲ هـ ق). فتح الباری، لومړی چاپ، بیروت: دار المعرفة.
۱۳-عمید، حسن. (۱۳۸۹ هـ ش). فرهنگ فارسی عمید، لومړی چاپ ایران: میلاد نور.
۱۴-قانون التحکیم المصري رقم (۲۷) کال ۱۹۴۹ م .
۱۵-قانون داوری بین المللی کشور ایران، مصوب ۱۳۷٦/٦/۲٦ ناشر پایگاه خبری اختبار.
۱٦-قانون نمونه ی انسترال کال ۱۹۸۵ م www.newslaw.ir.

**نوراني وفا**
سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانگه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، روښان د لوړو زده‌کړو مؤسسه
تقریظ ورکوونکی: پوهنیار بختیار حلیمي

# په بهرني سیاست کې د تصمیم نیولو مختلف ماډلونه

**لنډیز**

په بهرني سیاست کې تصمیم نیول (Decision Making in Foreign Policy) یو مهم او پېچلی بهیر دی، چې د دولتونو لخوا د بهرنیو چارو اړوند ستونزو، گټو او ننگونو د حل لپاره ترسره کېږي، دا بهیر د سیاست جوړونې او د دولتي ادارو ترمنځ د همغږۍ په وسیله ترسره کېږي.

بهرنی سیاست د یو هېواد د ملي گټو خوندیتوب لپاره یو اړینه وسیله ده، چې یو هېواد یې په نورو هېوادونو کې د دیپلوماسۍ له لارې تطبیقوي. په بهرني سیاست کې بیا تصامیم نیول هم یو له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، نو پر همدې اساس د یادې موضوع څېړنه له اهمیت څخه خالي نه ده، بله دا چې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې موډولونو روښان کول د یادې موضوع اهمیت نور هم زیاتوي.

د یادې موضوع موخې په بهرني سیاست د تصمیم نیونې بېلابېل موډلونو په اړه د معلوماتو ارایه کولو او په بهرني سیاست کې د تصمیم نیولو بېلابېلو موډلونو ترمنځ د غوره موډل په گوته کولو څخه عبارت دي.

د دې ليکنې تګلاره کتابتوني ده، دا تګلاره ځکه انتخاب شوې ده، چې د موضوع اړوند مواد په مختلفو کتابونو کې پيدا کېدی شي او لاس رسی مې هم ورته درلوده.

د دې ليکنې په پايله کې دې پايلې ته ورسېدم چې په اوسني عصر کې يادو ټولو موډلونو کې د پوچولا ماډل غوره او مناسب ماډل دی او که په افغانستان کې هم له ياد ماډل څخه ګټه واخيستل شي، نو د ټولنې په خير او ګټه به تمام شي.

**کليدي کلمې:** بهرنی سياست، تصميم نيول، د السيون ماډل، د جانس او مان ماډل

**سريزه**

( يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ) (سورت الحجرات، ايت شمېره: ۱۳).

**ژباړه:** ای خلکو بېشکه موږ پيدا کړي يئ تاسې ټول له يوه سړي، چې (آدم) او له يوې ښځې چې(حوا) ده او ګرځولي يئ موږ تاسې څانګې او قبيلې قبيلې د دې لپاره، چې وپيژنی يو له بل سره بېشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسې څخه په نزد د الله ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې دی، بېشکه چې الله تعالی ښه عالم او ډېر خبردار دی (۴: ۱۲۱۴-۱۲۱۵).

الله جل جلاله د مخلوقاتو پيداکوونکی او مالک دی، چې د هغې له جملې څخه يې انسانانو ته ډېر لوی عزت او برتري ورکړې، اشرف المخلوقات يې ګرځولي، د عقل له لوی نعمت څخه يې برخمند کړي او د هوسا ژوند اسانتياوې يې ورته برابر کړې دي، خو د دې امتيازاتو سره سره بيا هم دوی نه شي کولی په يوازې توګه خپل ضرورتونه پوره کړي، نو ځکه يو بل ته د ژوند په بېلا بېلو برخو لکه سياسي، ټولنيز، اقتصادي، کلتوري او داسې نورو کې اړتيا لري، د همدې خپلمنځني اړتيا او ضرورتونو په نظر کې نيولو سره هغوی اړ دي يو له بل سره دايمي اړيکي ولري. د

هېوادونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې له ډېر پخوا څخه موجودې وې، خو د اوس په شان منظم اصول يې نه لرل او د هغوی په اړيکو کې عرف ځانګړی مقام درلود، د وخت په تېرېدو سره په دې برخه کې د منظمو اصولو د موجوديت لپاره اقدامات شوي او ځينې لاسته راوړنې يې هم لرلي دي.

نړيوالې اړيکې د سياسي علومو يوه برخه ده، چې پر اساس يې په نړيواله کچه د دولتونو ترمنځ اړيکې تنظيموي دغه اړيکې نه يوازې تر دولتونو پورې تړلې، بلکې نړيوال سازمانونه، سوداګري، صنعت، جنګ او د سولې ټول حالات په ځان کې رانغاړي. په ننۍ نړۍ کې دولتونه نه شي کولای، چې په يوازې ځان خپلو ټولو ضرورتونو ته رسېدنه وکړي او ځان له نورو دولتونو او سازمانونو بې پروا وګڼي. په اوسنۍ نړۍ کې چې کوم خلک ژوند کوي حتما له نورو ملتونو سره په اقتصادي، ټکنالوژيکي او نورو برخو کې اړيکو ته اړتيا لري او دغه اړيکې ورته مهمې دي. په نړيوالو اړيکو کې دولتونو د برلاسۍ او د نورو دولتونو او افرادو له امکاناتو څخه په سم ډول ګټې اخيستنې په موخه د تصميم نيونې مختلف موډلونه په کار اچوي، ترڅو خپلې ملي ګټې په داخل د هېواد او نورو هېوادونو کې وساتي.

## د څېړنې ستونزه

په بهرني سياست کې د تصميم نيولو ماډلونه د دولتونو د ستراتېژيکو موخو او ملي ګټو ترلاسه کولو کې مهم رول لوبوي، خو دا چې په نړيواله کچه د تصميم نيولو مختلف ماډولونه شتون لري، چې د بهرني سياست جوړونکي له دغه ماډلونو څخه د بهرني سياست په جوړولو کې ګټه اخلي. دا چې څنګه کولی شو د دغو ماډلونو له منځ څخه يو غوره ماډل انتخاب او هغه د بهرني سياست په تصميم نيولو کې تطبيق کړو. دا يوه ستونزه ده، خو د دې څېړنې په تر سراوي سره دا ستونزه تر ډېره حل شوې.

## د موضوع اهمیت

دا چې بهرنی سیاست د یو هېواد د ملي ګټو د ساتنې لپاره یو اړینه وسیله ده، چې یو هېواد یې په نورو هېوادونو کې د دیپلوماسۍ له لارې تطبیقوي. په بهرني سیاست کې بیا تصمیمونو نیول هم یو له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، نو پر همدې اساس د یادې موضوع څېړل د اهمیت څخه خالي نه دي. بله داچې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې موډولونو روښان کول د یادې موضوع اهمیت نور هم زیاتوي.

## د موضوع موخې

د دې لیکنې موخې په لاندې ډول دي:

۱- په بهرني سیاست د تصمیم نیونې بېلابېلو موډلونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول.

۲- په بهرني سیاست کې د تصمیم نیولو بېلابېلو موډلونو ترمنځ د غوره موډل په ګوته کول.

## د څېړنې تګلاره

نوموړې څېړنه کتابتوني ده او دا میتود مې ځکه انتخاب کړی دی، چې د موضوع اړوند مواد په مختلفو کتابونو، مجلو، مقالو او انټرنیټ کې پیدا کېدل او لاس رسې مې هم ورته درلوده.

که چېرته په یاده لیکنه کې د چا نقل قول را نقل شوی دی، نو هغه () علامې سره په نښه شوی دی. همدارنګه د هر چا لیکل شوی امانت هم هغه ته منسوب شوی دی او په هیچا پسې له ځان څه نه دي لیکل شوي په پای کې د ماخذونو فهرست د ابجد حروفو په اساس ترتیب شوی دی.

**تېرو لیکنو ته لنډه کتنه**

د دې موضوع په اړه مشخصا په همدې عنوان تر اوسه کومه لیکنه نه ده شوې، خو د موضوع اړوند څه نا څه خواره واره معلومات په مختلفو کتابونو کې په ایراني فارسي لیکل شوي دي، چې دلته له یادو لیکنو څخه یادونه شوې ده:

**۱- اصول روابط بین الملل:** د ډاکتر سید حسین سیف زاده لیکنه ده، چې له یوې خوا په فارسي ژبه باندې ده او له بلې خوا بیا په یاده لیکنه کې د نورو ډېرو موضوعاتو ترڅنګ د نړیوالو اړیکو تعریف، د بهرني سیاست تعریف او په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په اړه لنډ بحث شوی دی. زما د لیکنې سره یې توپیر په دې کې دی، چې ما له یوې خوا یاده لیکنه له فارسي څخه پښتو ژبې ته راوژباړله او له بلې خوا مې په یادو موضوعاتو د بحث کولو ترڅنګ ډېر تمرکز په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په ماډلونو باندې کړی دی.

**۲- د آرگانسکی سیاست جهان:** بله لیکنه ده نوموړې په انګلیسي ژبه باندې ده، چې بیا د فرهودي له خوا په فارسي ژبه باندې ژباړل شوې ده، په یاده لیکنه کې هم د نورو ډېرو زیاتو موضوعاتو ترڅنګ په بهرني سیاست کې پر تصمیم نیونې باندې بحث شوی دی. زما د لیکنې سره یې توپیر په دې کې دی، چې ما له یوې خوا یاده لیکنه له فارسي څخه پښتو ژبې ته راوژباړله او له بلې خوا مې په یادو موضوعاتو د بحث کولو ترڅنګ ډېر تمرکز په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په ماډلونو باندې کړی دی.

**۳- شیوه های تصمیم گیري در سیاست خارجی:** د السیون گراهم تې لیکنه ده، چې له یوې خوا په فارسي ژبه باندې ده او له بلې خوا بیا د ډېرو نورو موضوعاتو ترڅنګ په یاده لیکنه کې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په ماډلونو باندې

مختصرا بحث شوی دی. زما د لیکنې سره یې توپیر په دې کې دی چې ما له یوې خوا یاده لیکنه له فارسي څخه پښتو ژبې ته راوژباړله او له بلې خوا مې په یادو موضوعاتو د بحث کولو ترڅنګ ډېر تمرکز په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په ماډلونو باندې کړی دی.

**۴- قدرت سیاسي و دیپلوماسي:** دونالدپوچالاچې مورګنتا لیکنه ده دا چې یاده لیکنه له یوې خوا په انګلیسي ژبه باندې وه خو بیا فارسي ژبې ته ژباړل شوې ده، خو یاده لیکنه له یوې خوا د نورو ډېرو موضوعاتو ترڅنګ یې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیولو په ماډلونو باندې هم بحث کړی دی. زما د لیکنې سره یې توپیر په دې کې دی چې ما له یوې خوا یاده لیکنه له فارسي څخه پښتو ژبې ته راوژباړله او له بلې خوا مې په یادو موضوعاتو د بحث کولو ترڅنګ ډېر تمرکز په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په ماډلونو باندې کړی دی.

## په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې مختلف ماډلونه

په دې مقاله کې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیولو په مختلفو ماډولونو باندې په تفصیل سره بحث شوی دی.

## لومړی مبحث: د کوچنې تحلیل په کچه د بېلابېلو ماډلونو شتون

په ټولیزه توګه په دې برخه کې څلور ماډلونه تر بحث لاندې نیول کیږي، چې د پوچالا، سنایډر همکارانو، جانس او مان او موډلسکي له ماډلونو څخه عبارت دي، د یادونې وړ ده چې په مطالعه شوي موډلونو کې بهرنۍ اړیکې په پام کې نیول کیږي. له دغو ماډلونو څخه هیڅ یو هم د نړیوال نظام غوښتنو ته پام نه کوي؛ بلکې په بهرنۍ پالیسۍ کې د هر ډول تصمیم نیونې ماډل کې له مهمو ځانګړتیاوو څخه دا ده، چې د داخل او بهر ترمنځ اړیکې رامنځته کړي (۱۲: ۳۴).

**لومړی مطلب: د پوچولا په ماډل کې د موخو او امکاناتو تحول او بدلون**

په هغه موډل کې چې پوچالا یې وړاندې کوي د بهرنی پالیسی د منطقي کولو ترڅنګ د داخلي امکاناتو او غوښتنو په چوکاټ کې تربحث لاندې نیول کیږي.

**د پوچالا د ماډل د لوستلو لپاره باید لاندې ټکي په نظرکې ونیول شي:**

۱ـ حقیقت پیدا کوونکي او د مخترع ذهن لرونکو اشخاصو شتون.

۲ـ د موجوده نامناسب حالت لپاره د حل د شتون په لور ایډیالیستي خوشبیني.

۳- د احساساتي، منطقي او سنجیده عکس العل ترمنځ توپیر.

۴ـ د امکاناتو په اړه د معلومات لرل او د احتمالي امکاناتو بدلول په بالقوه امکاناتو باندې (۷: ۱۳۴).

۵ـ د غیر تخصصي پوهې پر ځای د تخصصي پوهې اړتیا.

۶ـ د وخت د ضرورت او اړتیا پر اساس د شکلي مسایلو تقدم او مخکې والی په ماهوي مسایلو باندې.

۷ـ د تصمیم نیولو په پروسه کې د ننګونو او فرصتونو د شتون ارزول او همدارنګه د موضوع مثبت او منفي اړخونو سنجول.

۸ ـ د تخریبي عمل د ترسره کولو پرځای نه اقدام کول او حقیقت ته ترجیح ورکول.

۹ـ د امکاناتو اړتیا او د هدف اصلیت سره یوځای کول.

۱۰ـ هدف باید تر امکاناتو لږ څه لوړ وي.

۱۱ـ د ګټور اقدام پر اړتیا ټینګار کول.

۱۲ـ د تصمیم پر مهال نتیجه او پوهه په نظر کې نیول (۱۲: ۱۳۰).

پورته ټکو ته په پام کولو سره کولی شئ د تصمیم نیولو لپاره د پوچالا پلان څخه کار واخلئ.

د پوچولا په ماډل کې د لاندې ټکو پر اساس تصمیم نیول کېدای شي:

**لومړی جز: د موخو تعینول**

د لوړو احتمالي موخو بررسي او څېړنه.

**دویم جز: سرچنیو ته په کتو د موخو ترک کول او یا تعدیلول**

ایا کولای شوو سرچینې له ذخیره حالاتو څخه په بالقوه حالت تبدیل او سره یوځای کړو؟

ایا د سمدستي اقدام کولو لپاره کافي سرچینې شتون لري؟

د اقدام د پیل په موخه د سرچینو تخصیصول.

**درېیم جز: د موخو تعویق (وروسته) کول**

ایا د لوړو موخو لپاره کافي سرچینې شتون لري؟

د پوچولا په موډل کې دپورته ټکو په نظر کې نیولو سره کولای شوو د بهرني سیاست په برخه کې سم او سم تصمیم ونیسو(۱۵: ۱۴۵).

**دویم مطلب: د وړتیا د کچې په اړه د اسنایډر او همکارانو ماډل**

د وړتیا د کچې په اړه د اسنایډر او همکارانو ماډل (Snyder et al. Model) په بهرني سیاست کې د پرېکړو نیولو په نظریو کې یو له مهمو ماډلونو څخه ګڼل کېږي. دا ماډل په دې تمرکز کوي، چې څنګه د یو هېواد وړتیا او ځواک د بهرني سیاست په پرېکړو او ستراتېژیو اغېز کوي. د دې ماډل پر اساس د بهرني سیاست

پرېکړې په عمده ډول د هېواد د ځواک او وړتیا په کچې پورې تړاو لري د سنایډر د ماډل اصول په لاندې ډول دي:

۱- په نړیوالو اړیکو کې په فردي کچه ټینګار. ۲- د بهرنۍ پالېسۍ په بریالیتوب کې د آزادۍ معقولیت اهمیت لري. ۳- چاپیریال خپلواک بدلون منوونکي عوامل لري. ۴- د وخیم چلند پر ځای د نړۍ پراخوالی باید له پامه ونه غورځول شي. ۵- سنایډر او همکاران يې په دې باور لري، چې د بهرنۍ پالېسۍ په مسایلو کې باید کورني اغېزناکو فکتورونو ته پاملرنه وشي (۱۸: ۱۵۶).

دوی مختلف فکتورونه، چې په بهرنۍ پالېسۍ اغېزه کوي یو له بل سره وېشي، د بهرنۍ پالېسۍ دندې او متحرکات بیانوي او همدارنګه په دې موډل کې غیر انساني او انساني چاپیریال څېړل کېږي د چاپیریال د سرچینو او سرچینېو څخه د چاپیریال اغېزمن کېدل تر بررسۍ لاندې نیول کېږي. دا هر څه د ټولنیز جوړښت او کورني چلند په برخه کې په څو فکتورونو وېشل کېږي (۳: ۱۶۰).

۱- د ارزښت ارزونه. ۲-د ټولنیزو سازمانونو مهمې ځانګړتیاوې، ۳- د ټولنیزو ډلو د رول توپیر، تخصص او د هغوې د فعالیت ډول. ۴- لوی ټولنیز کمپاینونه. ۵- د عامه ټولنیزو افکارو جوړول او سیاسي کمپاین په لار اچول. ٦- د تصمیم نیولو کمپاین او د تصمیم نیوونکو رواني فضا تر بحث لاندې نیول (۲: ۳۳۳ ).

۷- د کور دننه کېدونکي پرېکړې د هېوادونو لخوا صادر شوي بهرنۍ پالېسي دجوړولو مهمه برخه ده. ۸- په بهرنۍ صحنه کې هم لکه د کورنۍ صحنې په شان د اسانتیاوو، مادي قدرت او ځواک، کلتور، د ټولنې ډولونه، ملي حکومتونو او د هغوی فعالیتونو ته پاملرنه کېږي (۱۸: ۱۵۸).

**سنایډر د بهرنۍ پالیسۍ د اغېزې په اړه وايي:** ( غیر انساني چاپیریال، د مادي ځواک په شمول د ټولنپوهنې له نظره د ټولنې ډول او نوعیت د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې خپل تاثیرات لري.) (۱۸: ۱٦۰).

له سازماني پلوه انساني چاپیریال (په عمده توګه کلتوري جوړښت او فعالیت) په بهرني سیاست اغېزه کوي، همدارنګه نور علوم باید په غیر انساني چاپیریال کې مادي ځواک ته پاملرنه وشي. په یویشتمې پېړۍ کې ځواک څلور ابعاد لري؛ پوځي، اقتصادي، تخنیکي او کلتوري ځواک، یو څوک باید د ځواک اوسنی موقعیت محاسبه کړي او احتمالي استعدادونه وګوري او په تکتیک، تخصص او لیوالتیا سره وده ورکړي، د مختلفو پرمختیایي موډلونو پوهاوی د یوې ځانګړې ټولنې په وده کې رول لوبوي (۱۸: ۱٦۲-۱٦۳).

په انساني چاپیریال کې د فرهنګ او کلتور عوامل او اسباب او ټولنې د وګړو کیفیت مطرح دی، د دوی په اند ښه کلتور او فرهنګ د بد فرهنګ په مقابل کې او د اتحاد پخلاینې کلتور د نفاق او اختلاف پرځای اغېزناک او د تغیر عوامل ګڼل کېدای شي. المون او پاول په دې اند دي، چې د چارو منظمه څارنه او تعقیب ستراتېژیک اړخ دی او مهم رول لري. د ادارو ترمنځ اړیکې باید مشخصې شي، ملي دولت باید د یوې لوړې ادارې په توګه خپلو ارزښتونو ته ژمن وي. د دې ژمنې سره سره، د دولت بنسټ د ملت، کورنۍ، توکم او داسې نورو سره توپیر لري (۱۴: ۱۰۵).

د ټولنې پیچلتیا د تخصصي بنسټونو رامنځته کولو ته اړتیا لري، چې په دې برخه کې د ملي حکومت رامنځته کول باید په پام کې ونیول شي. د ملي حکومت فعالیت له نورو بنسټونو سره توپیر لري، باید د شوروي اتحاد، نازي جرمني او د منځنیو پېړیو د

کليسا امپراتورۍ پر څېر غلطي ونه کړي، چې د بنسټونو فعاليت ګډوډ کړي.، د دې ترڅنګ د ټولنيزو ډلو او د هغوی فعاليت مهم او د بحث وړ خبره ده (۱۵: ۱۰۶).

د ټولنې درک او پوهه په نړيوالو اړيکو او کړنو کې مهم تاثير لري، چې له پامه نه شي غورځول کېدای او همدارنګه په ټولنه کې مختلفې ډلې په کار، فعاليت او ياسي قدرت کې خپل مشخص رول لوبوي، ځينې ډلې مذهبي شکل کې شتون لري او ځينې د سياسي ګوندونو په بڼه، هره ډله په دې اړيکو کې د فشار آله ګڼل کېږي او خپله د تاثير ګذار نقش لوبوي. يعنې سياسي او مذهبي ډلې هم د دوی په آند په بهرنۍ تصميم نيونه کې مؤثرې دي (۱۸: ۱۲۳).

د دې نظريي خاوند (سنايډر) په دې باور دی، چې ټولنيز کمپاينونه مهم دي او بايد د بهرنيو اړيکو د تصميم نيونې لپاره عامه افکار او نظرونه رامنځته شي، خو په ډېرى ټولنو کې د عامه افکارو په جوړولو کې د دولتونو لوړ رتبه افراد او شخاص مهم رول لوبوي، نو دوی (لوړ رتبه اشخاص) مکلف دي، چې ګټور او مفيد افکار او نظرونه رامنځته کړي د دغسې ټولنو په مطالعه کې بايد يوازې دولتي ويناوالو ته پاملرنه وشي، دی وايي: (ما د دې ډول ټولنو (چې د عامه نظرونو په جوړونه کې يې دولتي لوړ رتبه اشخاص رول لري) په اړه په يوه مقاله کې لوستلي دي، چې انسانان د فرعي حيواناتو په څېر د مشرانو وينا، چلند او عمل ته متوجه کېږي، خو په ډيموکراتيکو نظامونو کې، د افکارو جوړښت د فکر د کثرت او د پوهو ټولنيز ګروپونو څرګندونه ده) (۱۸: ۲۳۰).

د پورتنيو توضيحاتو او حل لارو په پام کې نيولو سره د بهرنۍ پالېسۍ تشريح، تفسير او نسخه جوړېږي، د تجربې او تحليل په صورت کې بايد پوه شوو، چې د يو ځانګړي هېواد په بهرنۍ پالېسۍ باندې د اغېزو عوامل څه دي، په دې برخه کې

دولتونو ته وړاندیز کېږي، چې لومړی د پرمختګ لپاره شرایط چمتو او بیا یې تعریف کړي (۸: ۶۵).

د بهرنۍ تګلارې د تصمیم پلي کولو کې سنایډر او همکاران یې په دې باور دي، چې د دغه ډول پلان په پلي کولو سره د بهرني سیاست د بریالیتوب تضمین کېدای شي. بالاخره دوی د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې لاندې ټکي د ګټورتوب او سموالي په موخه په نظر کې نیسي.

**لومړی جز: د تصمیم نیونې داخلي صحنه**

۱- غیرانساني چاپیریال(مادي ځواک). ۲- ټولنه. ۳- انساني چاپیریال( فرهنګ، نفوس) ۴- د ټولنې ټولنیز جوړښت او کردار. ۵ـ په مشترکو امورو کې تصمیم نیونه. ٦ـ بانفوذه ډلې او د هغوې کړنې ۷ـ د لوړ رتبه سیاسي افرادو ټولنیز افکار او نظرونه (۵: ۱۷۵).

**دویم جز: د تصمیم نیونې خارجي صحنه**

۱- غیرانساني سرچینې(مادي ځواک) ۲- انساني سرچینې (بشري ځواک) ۳- د ټولنو فرهنګ. ۴- سازمان یافته فعالې ټولنې . ۵ـ دولتونه او د حکومتونو اقدامات. ٦ـ د تصمیم نیونکو تصمیم نیونه.

دوی په دې باور دي که پورته ذکر شوي ټکي په نظر کې ونیول شي، کولای شو د بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې په برخه کې سم، مفید او غوره تصمیم ونیسو (۱۸: ۹۸-۱۰۰).

## درېیم مطلب: توانایي ته په کتو په هماغه اندازه پوهېدل د هاربرت او سایمون دوه ماډلونه

سایمون او الیسن دبهرني سیاست داخلي صحنې ته توجه لري، خو دوی په دې باور دي، چې د بهرني سیاست داخلي او خارجي صحنې سره یو شان نه دي؛ بلکې توپیر لري، دوی وایي دې وضیعت ته په کتو نشو کولای، چې ملي ګټې او د بهرني سیاست موخې یو شان وګڼو، د سنایډر طرحه د هربرټ سایمون او ایلیسن طرحې سره توپیر لري او یو د بل سره په تقابل کې دي، که څه هم پورته ذکر شوي دوه مفکرین په عمده توګه د بهرنۍ پالیسۍ کورنۍ صحنې ته پام کوي دوی په دې باور دي، چې د سنایډر د توقع خلاف، د بهرني سیاست داخلي صحنه د دې حالت په شرایطو کې، د ملي ګټو او بهرنۍ پالیسۍ موخې نشي کولی سره متحد شي، د بهرنۍ پالیسۍ جوړونه په کورنۍ صحنه کې د ډېرې پوهې څرګندونه ده (۹: ٦٢).

**غوره تصمیم نیونه دوه په ډوله ده.**

۱- کفایت کوونکی: ( د اړتیاوو او ضرورتونو په اساس تصمیم نیول).

۲- غوره: ( د ټولو منفي او مثبتو اړخونو په نظر نیولوسره په بهرني سیاست کې تصمیم نیول).

که په تصمیم نیونه کې فردي او ډله ییز عوامل شتون ولري د بهرني سیاست تصمیم نیونه کې لومړی ډول (د اړتیاوو او ضرورتونو په اساس تصمیم نیول(بسنده) باید انتخاب کړو او د انسانانو اکثریت تصمیم نیول پر همدې اساس تر سره کیږي، او که پورته ذکر شوي عوامل شتون ونه لري، نو دویم ډول یعنې غوره (د ټولو منفي او مثبتو اړخونو په نظر نیولوسره) په بهرني سیاست کې تصمیم نیول( بهینه ) باید انتخاب کړو (۱۷: ۸۹).

**څلورم مطلب: د اليسون دوه ماډلونه**

هربرت سيمون، ګراهام او اليسون، د فکر او نظريو پر اساس د بهرني سياست د تصميم نيونې په برخه دوه ماډلونه وړاندې کړې دي، چې لومړی د بېلابېلو سازمانونو او تنظيمونو پر اساس تصميم نيونه ده او بل ماډل يې د ديوان سالارۍ دی، چې د هر يوه وضاحت او تفصيل بيانوي (۱۷: ۹۰).

په دې سره د سنايډر د مطلق عقلانيت نظريه تعديلوي او خپل نظر داسې وړاندې کوي:

السيون په دې آند دی چې يو هېواد د بېلابېلو تنظيمونو، سازمانونو او سياسي ډلو مجموعه ده، چې په همدې اساس د هېواد بهرنۍ تصميم نيونه په ملي ګټو بناء وي حتما او ضروراً به د حساب ورکونې لپاره د دې سازمانونو له نظر او موافقې تېرېږي. اليسون سربېره پردې چې ياده تصميم نيونه د هېواد د مختلفو تنظيمونو له نظره تېرېږي؛ بلکې د هر تنظيم او سازمان قوت او قدرت په دې تصميم نيونه کې خپلې اغېزې لري په همدې اساس اليسون د بهرنۍ تصميم نيونې دويم ماډل وړاندې کوي، چې عبارت دی د ديوان سالارۍ څخه اليسن ادعا کوي چې د تصميم نيوونکو ترمنځ د خبرو اترو او د راتلوونکي په اړه د سياسي لوبو پايلې داسې دي، چې په بهرنۍ پالېسۍ کې هر پرېکړه کوونکي غواړي يو مشخص هدف يا د ملي ګټو مشخص تعبير ترلاسه کړي. له همدې امله اليسن دې پايلې ته ورسېد چې د بهرنۍ پاليسۍ پرېکړې او کړنې د خبرو اترو د سياسي بهيرونو پايله ده او پرېکړه کوونکي سازمانونه د ځواک رول لوبوي (۱۷: ۱۴۱).

**پنځم مطلب: د جانس او مان ماډل کې د تصميم نيولو ننګونې او فرصتونو ارزول**

د دې متفکرينو د ماډل د پېژندلو لپاره ضروري ده، چې د دوی له اصولو سره اشنايي ترلاسه کړی شي، چې دغه اصول په لاندې ډول دي:

۱- پرېکړه يوه پېچلې موضوع ده او اساسي څېړنې ته اړتيا لري. ۲- په تصميم نيونه کې بايد نظرونه، خوشبينی او رېښتينې بدبينی ته توجه ولرل شي او د دواړو پايلې بايد په پام کې ونيول شي. ۳- په پرمختګونو او بدليدونکو حالاتو کې د وخت رول او نقش په نظر کې نيول او له همدې امله د ملي ګټو په اړه ثابتو اصولو ته ژمنتيا په وخت کې د موقف بدلولو اړتيا. ۴- د سختيو زنده ګی ته په طبعي ژوندانه ترجيح ورکول. ۵- هر وخت او د هر ځای فرصتونه او چلنجونه په نظر کې نيول. ٦- په هرڅه کې قاطعيت پرېښودل (۱۳: ۹۷-۹۸).

د "ديوان سالاری " ماډل سره يوځای، اليسون، جانس او مان هم خپل رواني موډل وړاندې کوي. ددوی د ماډل په اړه د پوهې د ترلاسه کولو اساسي کلي داده، چې دوی وايي: (بايد ومنو چې دوی (جانب مقابل) هم زموږ په څير احساساتي مخلوقات دي). همدارنګه وايي: (هغه دولتي چارواکي چې د هېواد په برخليک کې مهم تصميمونه نيسي، تر ډېره حده د ځان محدود ساتلو (محافظه کاری) ژمنې سره مخ کيږي) (۱۳: ۹۸).

همېشه چارواکي د دې ليواله وي، چې خپلو موخو ته ورسيږي، خو د يادو موخو د ترلاسه کولو له مصارفو او ناکامېدو څخه وېره هم لري. په همدې اساس ساستمداران داسې نه شي کولای، چې تل لپاره يو روش او طريقه کلکه کړي او په هغې مخته ولاړ شي، بلکې د احساساتي نظرونو ترڅنګ هڅه کوي، چې معقولې او سازګارې (جوړونکې) پالېسيو سره مخته ولاړ شي، سياسي پرېکړه کوونکي په دوامداره توګه

هڅه کوي، چې د پرېکړې کولو چاپيريال باندې حاکمې فضا ته متوجه واوسي او شته مشکلات يې حل کړي(۱۰: ۱۰۰).

جنس او مان په دې باور دي چې د پرېکړې کولو په هر پړاو کې د تصميم نيونې مختلف او مناسب ماډلونه شتون لري او د خپلې نظريې په پاى کې وايي: (يوازې يو له پنځو انتخابونو څخه په بهرني سياست کې د تصميم نيونې يو منطقي تصميم ګڼل کېداى شي)، چې ياد حالتونه: ۱- د تغير او بدلون د نه راوړلو له امله د رامنځته کېدونکو زيانونو په اړه دقيق او تازه معلومات لرل. ۲- د تغير او بدلون د راوړلو له امله د رامنځته کېدونکو زيانونو په اړه معلومات لرل. ۳- د مطلوبه فرصتونو او چلنجونو پېژندنه . ۴- له هغه سرچينېو څخه معلومات لرل چې ورنه استفاده ډېره نه وي شوې. ۵- د زماني فشار او مهلتونو څخه سم معلومات لرلو څخه عبارت دي.

د دې هر يوه په اړه بايد د حتميت او احتمال فرضيه شتون ولري يعنې پورته ذکر شو مواردو کې حتمي دي که احتمال لري؟ له دې وروسته په بهرني سياست کې تصميم نيونه معقوله او سمه ده (۱۳: ۱۱۱-۱۱۲).

## شپږم مطلب: د موډلسکي په ماډل د قدرت د لوبې شتون او اغېزه

د موډلسکي نظريه د بل هر ماډل په پرتله په سياسي فلسفه کې د فرضياتو پر بنسټ ولاړه ده. هغه په بشپړه توګه مسئله د سياسي واک ډګر ته راوړي، سربيره پردې، د هغه په ماډل کې په سياسي تصميم نيولو کې د عايد او لګښت مسئله ډېره مطرح ده(۱۸: ۱۲۰).

د بهرني سياست د تصميم نيونې په برخه کې د دې نظريې د خاوند اصول په لاندې ډول دي:

۱- په بهرني سياست کې اساس د واک لاسته راوړل او ساتل دي. ۲- د ځواک مختلف ډولونه شتون لري لکه: جوړونکی ځواک، تعليمي ځواک او

ویجاړونکی ځواک. ۳- د موخو لپاره د سرچینېو د تـاریخي لومړیتـوب پېژنـدلو اړتیا. ۴- د کورنۍ ساحي او مواردو تقدم او مخکې کول په بهرنۍ ساحې او هر یو ته توجه کول. ۵- داخلي مواردو ته په خارجي مواردو په منطقـي ډول لومړیتـوب ورکول او د هر یوه رول تشخیصول. ٦- چاپیریالي عوامل د یو خپلواک متغیـر پـه توگه پېژندل. ۷- د تصـمیم نیونکـو ذهنیـت د منځگړیتـوب متغیـر پـه توگـه (۱۸: ۱۲۱-۱۲۲).

نوموړی چې د نظام له تیورۍ څخه په استفادې د بهرنۍ تگلارې د چلند پرتله کولو او ارزولو ته لېواله دی په بهرنۍ پالیسۍ کې د گټو او امیدونو دوه متغیرونو ته پام کوي او سیاسي سیستم د قدرت د تولید سیستم په توگه د حاکم فکري چوکاټ په کارولو سره د گټو او لگښتونو محاسبه کوي. د دې نظریې خاوند دوه مواردو ته ځانگړې پام لرنه کوي. ۱- د قدرت داخلي بعد او موارد یې. ۲- د قدرت خارجي بعد او موارد یې. دی په دې باور دی چې په بهرني سیاست کې باید د تل لپاره تعادل او بدلون موجود وي، نوموړی یواځنی امریکایي متفکر دی، چې په بهرني سیاست کې د قدرت (مادي او معنوي قدرت) رول او تاثیر په اړه حکم کوي او بیانوي یې. سیاسي سیستم د قدرت د تولید د سیستم په حیث توصیفوي یعنې سیاست د قدرت رامنځته کوونکی گڼي. د بهرنۍ سیاست گذارۍ په اړه تصمیم نیونه باید داسې وي، چې ټولو داخلي او خارجي گټو په پام کې نیولو وروسته تصمیم ونیول شي، د بهرني ساست د تصمیم نیونې بهرنۍ سرچینې باید نسبت داخلي سرچینېو ته قوي او زیاتې وي( ۱۸: ۱۲۸-۱۲۹).

دی په دې باور دی، چې یو دولت هغه وخت بهرنۍ تصمیم نیونه کې له ستونزو سره مخ کېږي، کله چې یې عواید کم او مصارف زیات وي، موډلسکي د یادو مواردو عملي چوکاټ په لاندې ډول وړاندې کړی دی.

### لومړی جز: داخلي سرچینې

دا سرچینې بیا په دوه ډوله دي چې په لاندې ډول روښانه کېږي.

### لومړۍ فقره: داخلي بشري سرچینې

۱- د موجوده پرسونل ارزونه ۲- د انساني قوت ذخیره ۳- انساني ملاتړ (۱۸: ۱۳۰).

### دویمه فقره: داخلي فزیکي سرچینې

۱- اړتیاوو ته د ځواب ویلو وړتیا. ۲- ذخیره مادي سرچینې.

### دویم جز: خارجي سرچینې

۱- نظامي او سیاسي ملاتړ. ۲- غیر دولتي ملاتړ. ۳- په لاس کې موجود امکانات او تجهیزات. ۴- د اړتیا په وخت کې د استفادې لپاره ذخیره یي سرچینې ۵- دوستي او حسن نیت.

په پای کې لازمه ده چې تصمیم نیونکي لاندې موارد هم په نظر کې ونیسي.

۱- تعهداتو ته ځواب ورکونکې سرچینې. ۲- د سمدستي لاسته راوړنو لپاره موجوده سرچینې. ۳- د اینده غوښتنو ته ځواب ورکوونکي سرچینې (۱۸: ۱۳۰-۱۳۱).

د پورته مواردو په نظر کې نیولو سره کولای شوو چې په بهرني سیاست کې سم تصمیم ونیسو او مطلوبه نتایج لاسته راوړو او وکولای شو د ملي ستراتېژۍ په بڼه ګټو ته وده ورکړو، دا خبره د دې سبب کېږي، چې د بهرنۍ پالیسۍ جوړونکي مجبور او مکلف

شي، ترڅو د بهرنۍ پالېسۍ موخې او سرچينې پلې کړي، که چېرې دا پلان پلې شي د بهرنۍ پالېسۍ په موخو کې به د مداخلو مخه ونيول شي (٦: ٩۴او ٢: ٣۴٦).

## دويم مبحث: د عايد او لګښتونو د دوو کچو تحليلونو د ادغام پر اساس ماډلونه

په دې برخه کې مختلف ماډلونه تر بحث لاندې نيول شوي دي، چې دوه ځانګړتياوې په ګوته کوي.

١- ميتودولوژيکي بدلون، چې دوو کوچنيو او لويو کچو د تحليلونو او د اړيکو اړتيا په ګوته کوي.

٢- د ارمانونو او واقعيتونو ترمنځ يو پيوند او اړيکه رامنځته کوي. (١١: ۵٠)

د همدغو دوو ځانګړنو له امله په ډېرو علمي ډګرونو کې يوه نوې تګلاره منځته راغلې، چې دلته ورنه يادونه شوې ده.

### لومړی مطلب: د برچر او همکارانو په ماډل کې له رواني چاپيريال سره د عملياتي چاپيريال توپير

د دوی د ماډل د پوهېدو لپاره لازمه ده، چې له اصولو سره يې اشنايي پيدا شي، چې دغه اصول يې په لاندې ډول دي:

د تصميم نيوونکو ذهنيت بايد د دې وړتيا ولري، چې د اينې په څېر د چاپيريال واقعيتونه بيان کړي. ٢- د چاپيريال په تصويرولو او تفسيرولو کې د اړيکو اهميت بايد په نظر کې ونيسي. ٣- د کورنيو امکاناتو د چاپيريال تشريح او د نړيوال چاپيريال او کورنيو امکاناتو له امله رامنځته شوو محدوديتونو ته د پاملرنې اهميت. ۴- د تهديداتو او توانايي مبداء او منشاء په نظر کې نيول. ۵- په بهرني سياست کې

داخلي او خارجي تاثير لرونکي عوامل په پام کې نيول. ٦- بېلابېل تصميمونه او د هغې بېلابېلې اغېزې (١١: ٥١-٥٢).

په عملياتي او رواني چاپيريال کې د نړيوالو اړيکو او بهرنۍ پالېسۍ تحليلي وسايل شتون لري، بهرنۍ پالېسي هغه وخت د بريا اوج ته رسېږي کله چې د پرېکړې کولو رواني چاپيريال د عملياتي چاپيريال په څېر وي. د دې وېش په کارولو سره، برچر او همکارانو يې خپل نظري پلان وړاندې کړی، البته برچر او همکارانو يې هڅه کړې، چې دوه بهرني او داخلي عملياتي چاپيريالونه په ترتيب سره د نظامي ځواک، اقتصادي ځواک، سياسي جوړښت، نفوذ لرونکو ډلو او سيالانو برخو ته ووېشي. په اجرايوي پړاو کې دوی د بهرني سياست تصميم نيونه کې څلور موارد مهم ګڼلي دي، چې عبارت دي له امنيتي، سياسي، ديپلوماتيک، اقتصادي پراختيا او کلتوري (١١: ٥٣-٥۴).

په سياسي جوړښت کې د سيالو اشخاصو موندل هم مهم دي د افراطيت سره د محافظه کارۍ يوځای کېدل احتمال لريو چې ټولنه د تباهۍ او تاوتريخوالي سره مخ کړي. د اړيکو په هکله د پيغام د منځپانګې رول، د پيغام د انتقال وسيلې، د پيغام تفسير او تشريح په نړيوالو اړيکو کې خورا مهم رول لري، د پيغام انتقال نسبت بدلونونو ته هم زيات مهم دی، د معلوماتو راټولول او بيا يې تفسير لپاره د مناسبې نظريې شتون هم زيات مهم دی. د نړيوالو اړيکو ماهرين او متخصص کدرونه د داخلي او بهرني سياسي چاپيريال څخه سم تفسير کولای شي او دا هرڅه د بهرني سياست په تصيم نيونه کې مهم نقش لري (١١: ٥٦).

د پورته ټکو په نظر کې نيولو سره کولای شوو په بهرني سياست کې سم او پرځای تصميم ونيول شي.

**دويم مطلب: د روزنا د وړاندوينې تيورۍ ماډل**

روزنا د هانريدېر سره يوځای د خورا مشهورو پوهانو څخه دی، چې د بهرنۍ پالېسۍ د مطالعې طريقه يې د خپلو هڅو تمرکز گرځولی دی. هغه په کورني ډگر کې امکانات د اجماع پايله او په نړيوال ډگر کې امکانات د بهرني سياست د مطابقت پايله بللې ده (١٦: ٧٠).

د روزنا د چلند د پېژندلو لپاره موږ بايد د هغه فکري افق ته بيا کتنه وکړو.

١- د نړيوالو اړيکو په تحليل او تجزيه کې د اړونده تحليل د کچې اهميت، نړيوالو محدوديتونو او کورنيو امکاناتو په پام کې نيولو سره د تاريخي مسايلو اهميت په نظر کې نيول. ٢- د لويو او کوچنيو قدرتونو د رولونو توپير چې په بهرنۍ پالېسۍ باندې د سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري عواملو په اغېز باندې باور لرل. ٣- د بهرنۍ پالېسۍ په مختلفو ډولونو باور، د حيثيتي مسئلې (لوړ سياست)، مادي مسئلې (ټيټ سياست) او نور مسايل، چې کېدای شي دحيثيتي مسئلو سره يوځای شي. ۴- دا عقيده، چې د کورنيو نفوذي عواملو موقف د سياسي، اقتصادي، ټولنيز او کلتوري وضعيت او همدارنگه د بهرني سياست د ډولونو له امله دي (١٦: ٧١-٧٢).

روزنا په دې برخه کې دوه ماډلونه وړاندې کړي چې "مخکې تيوري (پيش نظريه) او د يوځای کېدو طرحه" نوميږي. په دواړو ماډلونو کې روزنا هڅه کړې، چې د بهرنۍ پالېسۍ ارزونې لپاره يو تحليلي چوکاټ چمتو کړي. د دې نيت سره د پوښتنې په توگه پوهان د بهرنۍ پالېسۍ په جوړولو او برياليتوب کې د بېلابېلو عواملو څېړنه کوي. په حقيقت کې يوځای والي طرحه (پيوستگی طرحه) د هغه د مخکې تيوري (پيش نظريې) ماډل تفصيلي توضيح ده (١٦: ٧۵).

که څه هم نوموړي په دواړو ماډلونو کې دقيقو بصيرتونو ته پام کړی، خو په ټوليز ډول يې په خپل پلان کې څلورو داخلي عواملو ته او په پای کې د نړيوال نظام د پوځي جوړښت عامل او دوه نفوذي عواملو ته پاملرنه کړې ده. روزنا په دې باور دی، چې داخلي عوامل لکه، (فرد، نقش، حکومت او ټولنه) او بهرني متغيرونه چې د هېوادونو د سياسي، اقتصادي، ټولنيز او کلتوري جوړښت د بنسټيزو عوامل څخه دي له همدې امله دا اړينه ده، چې په بهرنی پالیسی باندې د اغېزناکو فکتورونو له څرګندې کچې څخه هاخوا نورو مهمو تغيراتو ته هم پاملرنه وشي (۱٦: ۷٦).

روزنا خپلو دواړو وړاندې کړيو ماډلونو کې هڅه کړې ده، څو د بهرني سياست لپاره يو داسې چوکاټ رامنځته کړي چې د بهرني سياست ارزونه وکړي په همدې اساس نوموړی هغه عوامل تر څېړنې لاندې نيسي، چې په بهرني سياست باندې تاثير لري او کاميابی ته يې رسوي، له همدې امله روزنا څلور داخلي عوامل عبارت دي له : فرد، ټولنه، حکومت او رول يې او يو بهرنی عامل چې عبارت له بين المللي نظامي قوت څخه دی څېړلي دي. نوموړی وايي سياست او اقتصاد دوه خپلواک متغيرونه (د بهرني سياست په برخه تغير را وړونکي) دي له همدې امله نوموړی ياد متغيرونه بيا په دوه برخو وېشي(۱٦: ۷۸).

**الف:** د بهرني سياست جوړښت.

**ب:** د بهرني سياست کرنلاره.

د ده په اند د بهرني سياست په کړنلاره کې څلور اغېز لرونکي عوامل د پام وړ دي، چې له سياسي قدرت، اقتصاد، ټولنه او کلتور څخه عبارت دي (۱: ۸۰).

د سياسي قدرت له نظره هېوادونه په دوو برخو وېشل شوي دي:

**الف:** غټ او لوی دولتونه. **ب:** واړه دولتونه. (۱: ۸۱)

بیا هر یو یې د اقتصاد په لحاظ قوي او ضعیف ته وېشل شوي دي.

د اقتصادي قدرت له مخې سیاسي قدرتونه په څلورو برخو وېشل شوي دي:

**الف:** لوی دولتونه چې د پرمخ تللي اقتصاد خاوندان وي.

**ب:** لوی دولتونه چې د ضعیف اقتصاد خاوندان وي.

**ج:** واړه دولتونه چې د پرمخ تللي اقتصاد خاوندان وي.

**د:** واړه دولتونه چې دکمزوري اقتصاد خاوندان وي. (۱: ۸۴)

روزنا ټولنې هم په دوه برخو وېشي، چې په لاندې ډول دي:

**الف:** هغه ټولنې چې دحالاتو او د وخت ضرورتونو ته په کتو د روښن فکری په نظر کې نیولو سره په ځان کې تغیر راولي.

**ب:** هغه ټولنې چې دحالاتو دغوښتنو سره سم ځان نه عیاروي، بالاخره روزنا په دې باور دی هغه لوی دولتونهو چې پرمخ تللی اقتصاد ولري او ټولنه یې د حالاتو سره سم ځان عیاروي او تغیر منونکي وي په بهرني سیاست کې برلاسي وي او په بهرني سیاست کې سم تصمیم نیولی شي او هغه دولتونه، چې واړه وي هغه د کمزوري اقتصاد لرونکي هم وي او په بهرني سیاست کې سم تصمیم نه شي نیولی (۱۶: ۵۶او ۶: ۴۴).

**پایله**

د دې لیکنې څخه وروسته دې نتېجې ته ورسېدم چې:

۱- په ټولیزه توګه د کوچني تحلیل په واسطحه شپږ ماډلونه تر بحث لاندې نیول شوي دي، چې له پوچالا ماډل، سنایډر همکارانو ماډل، د هابرټ او سایمون ماډل، د السیون ماډل، جانس او مان ماډل او موډلسکي ماډل څخه عبارت دي او د دې ترڅنګ د عاید او لګښتونو د دوو کچو د ادغام په اساس دوه نور ماډلونه

هم شتون لري، چې د برچر او د هغه د همکارانو ماډل او روزنا د وړاندوينې د تيورۍ له ماډل څخه عبارت دي.

۲- په اوسني عصر کې يادو ټولو موډلونو کې د پوچولا ماډل غوره او مناسب ماډل دی او په افغانستان کې که هم له ياد ماډل څخه استفاده وشي، نو د ټولنې په خير او ګټه به تمام شي.

**مناقشه**

په يادو ټولو موډلونو کې د پوچولا موډل غوره او د افغاني ټولنې لپاره ګټور بولم؛ ځکه چې په ياد ماډل کې تر ډېره د اشخاصو ټاکنه د اهليت او شايستګۍ په اساس صورت نيسي، چې دا بيا د هېواد په ګټه ده، همدارنګه په ياد موډل کې د نامناسبه حالاتو لپاره حل لارې بيشبيني کېږي او ترڅنګ يې احساساتي او سنجيده عکس العملونو ترمنځ توپير هم په ګوته کېږي په ياد ماډل کې د غير تخصصي پوهې ځای تخصصي پوهې ته ورکول کېږي او همدارنګه لوړې موخې په ياد ماډل کې په نظر کې نيول کېږي. دا په ياد ماډل کې د سمدستي اقدام لپاره سرچينې په نظر کې نيول کېږي او بيا که چېرته سرچينې په کافي اندازه موجوديت ولري نو، عاجل اقدامات ترسره کېږي.

**وړانديزونه**

ځېړونکو ته مې وړانديز دا دی، چې په ياده برخه کې په بهرني سياست اغېز لرونکو عواملو باندې په راتلونکې کې څېړنې ترسره کړي.

۲- د سياست د برخې متحصصينو ته مې وړانديز دا دی، چې په بهرني سياست کې د تصميم نيولو په برخه کې داسې ماډلونو جوړولو باندې کار وکړي، څو د اسلامي شريعت له اصولو او احکامو سره په ټکر کې نه وي او د عصر حاضرو غوښتو ته هم ځواب ويونکي وي.

۳- څېړونکو ته مې بل وړاندیز دا دی چې په راتلونکې کې د بهرني سیاست د تطبیق په ابزارو یا وسایلو باندې څېړنه وکړي.

**ماخذونه**


قران کریم

۱- آرگانسکی.(۱۳۶۴). سیاست جهان، مترجم، فرهودي، ناشر: تهران بنگاه.

۲- سیف زاده ، داکتر حسن. (۱۳۶۸). نظریه های مختلف در روابط بین الملل.

۳- سیف زاده، داکتر حسین. (۱۳۸۵). اصول روابط بین الملل، پنځم چاپ، تهران: کتابخانه ملی ایران.

۴- عثماني، احمد عثماني او ابوالحسن دیوبندي.(۱۴۱۴هـ). کابلي تفسیر، دوهم ټوک، سعودي عربستان:

شاه فهد چاپخانه.

۵- فرانکل، جوزف. (۱۳۵۵). روابط بین الملل در جهان متغیر، ناشر: نگاه ترجمه.

٦- کالنز. (۱۳۷۰). استراتیژی بزرگ،اصول و رویه ها، مترجم: کورش بایندر، ناشر: دفتر مطالعات سیاسي وبین المللي، تهران.

۷- مورگنتا. (۱۳۷۱). قدرت سیاسي و دیپلوماسی و دونالدپوچالا، ترجمه : حسین سیف زاده، ناشر: تهران، قومس.

۸- والراشتاین، امانوئل. (۱۳۸۷). سیاست وفرهنگ در نظام جهانی، مترجم، پیروز ایزدی، ناشر: نشرنی.

۹- ولفرز آرنولد. (۱۳۷۱). اهداف سیاست خارجي، مترجم : داکتر حسین سیف زاده، ناشر: تهران ،قومس، دویم چاپ.

۱۰- الیسون گراهم تی. (۱۳۶۳). شیوه های تصمیم گیری در سیاست خارجی، ناشر: انتشارات علمي وفرهنگی.

11. Bacharach, S. B. (1974). "The Theory of Games and Economic Behavior" Princeton University Press.
12. Holsti, K. J. (1995). "International Politics: A Framework for Analysis" Prentice Hall, Englewood Cliffs, New Jersey.

13. Jens, M., & Mann, R. (1982). "Decision-Making in Foreign Policy: A Review of Theoretical Models." Cambridge University Press
14. Modelski, G. (1987). "Long Cycles in World Politics". University of Washington Press.
15. Puchala, D. J. (1975). "The Integration Theorists and the Study of International Relations" California University.
16. Rosenau, J. N. (1969). "Linkage Politics: Essays on the Convergence of National and International Systems". Free Press.
17. Simon, H. A. (1979). "Models of Bounded Rationality: Volume 1: Economic Analysis and Public Policy" Cambridge: MIT Press.
18. Snyder, R. C., Bruck, H. W., & Sapin, B. (1962). "Foreign Policy Decision-Making: An Approach to the Study of International Politics" New York: The Free Press, New York.

**هبة الله عابد**
حقوقي علومو څانګه، حقوقو سیاسي علومو پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو موسسه
تقريظ ورکوونکی: پوهنيار خوشحال جواد

# د اسلامي فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د ایلاء حکم

**لنډیز**

ایلاء په لغت کې محض (مطلق) قسم ته وایي، چې څوک یې د خپلې ښځې د جنسي ارتباط څخه د څلورو میاشتو او یا زیاتې مودې لپاره وکړي، د جاهلیت په زمانه کې ایلاء د طلاق یو ډول وو، چې نه به یې ښځې ته د ازدواج حقوق ورکول او نه به یې بلکل پرېښودله، ترڅو بل خاوند وکړي، الله رب العزت په خپلو بنده ګانو لطف، احسان او پېرزوینه وکړه، دغه بد او شنیع رواج ته یې د څلورو میاشتو موده وټاکله، ترڅو د ښځې د حقوقو د ضایع کېدو مخنیوی وشي.

زموږ په ټولنه کې هم د ښځې او خاوند ترمنځ د ځینو جنجالونو په پایله کې عملاً ایلاء واقع کیږي او شتون لري، چې ډېری قربانیانې یې ښځې وي، په یو زوړند او معلق حالت کې پاتې کیږي، نه یې ښځه کوي او نه یې هم پرېږدي، ترڅو بل میړه وکړي او په دې هم نه پوهیږي، که چېرې ایلاء یې وکړه او وفا یې پرې وکړه په پایله کې پرې کوم حکم مرتبیږي او د دواړو ترمنځ په اړیکو باندې کوم اغېز پرېوزي او کنه؟ او که وفا یې پرې ونه کړه، نو بیا پرې کوم حکم مرتبیږي، جزا به یې څه وي، د دې اصلي علت د ایلاء د احکامو څخه د خلکو عدم خبراوی او ناپوهي ده.

د نوموړې څېړنې اهمیت هم په دې کې دی، چې په مقارنوي بڼه د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له مخې د ایلاء احکام تو ضیح او روښانه کوي.

د نوموړې څېړنې اهداف عبارت دي، د ایلاء پېژندنه، په اسلامي فقه کې د ایلاء حکم بیانول، د افغانستان په مدني قانون کې د ایلاء احکام روښانه کول او د اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون کې د ایلاء د احکامو ترمنځ مقارنه ترسره کول، د شباهت او توپیر نقاط یې په گوته کول.

د نوموړې موضوع د څېړلو لپاره مې کتابتوني تګلاره اختیار کړې، ځکه چې د یادې موضوع اړوند مواد په یو شمېر کتابونو کې پیدا کېدل، چې د مختلفو معتبرو کتابونو، د اړتیا پر مهال له مجلو، ورځپاڼو، انټرنېټ، مکتبة الشامله او ځینو نور څخه استفاده کړې او په پای کې مې فهرست ترتیب کړی.

د دې موضوع په څېړلو کې دې پایلې ته ورسېدم، چې د جاهلیت په زمانه کې هم ایلاء شتون درلود، اما ټاکلې موده یې نه درلوده، د اسلام په راتګ سره الله رب العزت ورته څلور میاشتې موده مشخصه کړه، که چېرې چا ایلاء وکړه او وفا یې پرې وکړه، د حنفي فقهاؤ له نظره ښځه پرې په طلاق بائن سره طلاقه ده او که وفا یې پرې ونه کړه او رجوع یې وکړه ښځې ته نو کفاره د قسم به اداء کوي، چې کفاره د غلام ازادول، یا لسو مسکینانو ته دوه وخت ډوډۍ ورکول یا جامې ورکول او یا هم درې ورځې پرله پسې روژه نیول دي او په مدني قانون کې د ایلاء اړوند احکامو څخه بحث نه دی شوی، چې دا د نوموړي قانون خلا په گوته کوي.

**سریزه**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى اله و اصحابه ومن دعا بدعوته الى يوم الدين، اما بعد قال الله تبارک وتعالى في محكم تنزيله: (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ

أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ)، (سورة البقره ايت نمبر ۲۲۶ پاره ۲)، وعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا – قَالَتْ: (آلَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْ نِسَائِهِ وَحَرَّمَ، فَجَعَلَ الْحَرَامَ حَلاَلاً، وَجَعَلَ لِلْيَمِينِ كَفَّارَةً). (۵: ج ۲ ص ۴۸۹ رقم الحديث ۱۲۰۱)

ايلاء په لغت کې محض (مطلق) قسم ته وايي، چې څوک يې د خپلې ښځې د جنسي ارتباط څخه د څلورو مياشتو او يا زياتې مودې لپاره وکړي.

د جاهليت په زمانه کې ايلاء داسې يو ډول طلاق ؤ، چې نه به يې ښځې ته د ازدواجی حقوق ورکول او نه به يې بلکل پرېښودله، ترڅو بل خاوند وکړي، نو په ايلاء سره به ښځه لکه د (كَالْمُعَلَّقَةِ) په څېر زوړنده ناسته وه، لکه څنګه چې عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) وايي: (د جاهليت په زمانه کې به ايلاء د شپږو مياشتو څخه تر دوو کالو پورې دوام کاوه او ښځه به هکه حيرانه ناسته وه).

په هر صورت الله رب العزت په خپلو بنده ګانو لطف، احسان او پېرزوينه وکړه، دغه بد او شنيع رواج ته يې د څلورو مياشتو موده وټاکله، ترڅو په دغو څلورو مياشتو کې له يوه پلوه مېړه ښه فکر وکړي، چې په طلاق کې يې ګټه او فايده ده او که په بېرته رجوع کې او د بل پلوه ښځه که چېرې ناشزه (بد ګوزاره او نافرمانه) وي، نو لږ څه تاديب شي او په مېړه باندې د کبر او کلانکارۍ څخه لاس په سر شي.

البته که چېرې بيا هم ښځه په دغو څلورو مياشتو کې تاديب نه شوه او عقل يې سر ته رانغی، نو د هغې اصلاح کول بيا مشکله خبره او ستونزمن کار دی.

دغه راز که چېرې خاوند هم د څلورو مياشتو په اوږده موده کې په ښځه باندې زړه ونه سوزېد او ترحم يې پرې رانغی، نو لازمي او ضروري خبره ده، چې يا به يې زړه د تيرې په څېر کلک وي او يا به هم د خپلې ښځې ناشيزيتوب دې مرتبې او حد ته

رسولی وي. په هر صورت په داسې حالت کې بيا د دواړو لپاره بېلتون او جدايي په ګټه او غوره کار دی.

اما که چېرې چا ايلاء وکړه او په ايلاء باندې وفا وکړي، نو کوم حکم پرې مرتب کېږي او که چېرې په ايلاء وفا ونه کړي نو بيا به پرې کوم حکم مرتب شي او په دې وخت او حالت کې د خاوند لپاره څه کول په کار دي، نو د همدې موضوعاتو د وضاحت لپاره نومورې څېړنه ځانګړې شوې، ترڅو دا احکام روښانه شي او هم دا معلومه شي، چې د افغانستان مدني قانون د ايلاء څخه يادونه کړې او کنه، که بالفرض يادونه يې کړې وي، نو اسلامي فقهې سره يې مقارنه کوو، ترڅو معلومه شي، چې په کومو ټکو او موضوعاتو کې مشابهت (ورتوالی) لري او په کومو کې سره توپير.

**د څېړنې اهميت**

ښځه يو انسان دی او انسان ته هره ورپېښه بدمرغي له منځه وړل د ستاينې وړ ده، دغه موضوع هم د يوې ناوړه پديدې (ايلاء) سره د مبارزې او د هغې د احکامو څخه د خلکو خبرولو لپاره يو کوښښ دی، بناً د قدر او ستاينې وړ دی.

زموږ په ټولنه کې هم د ښځې او خاوند ترمنځ د ځينو جنجالونو په پايله کې عملاً ايلاء واقع کېږي او شتون لري، چې ډېرې قربانيانې يې ښځې وي، چې په يو زوړند او معلق حالت کې پاتې کېږي، نه يې ښځه کوي او نه يې هم پرېږدي ترڅو بل مېړه وکړي او په دې هم نه پوهېږي، که چېرې ايلاء يې وکړه او وفا يې پرې وکړه په پايله کې پرې کوم حکم مرتبېږي او د دواړو ترمنځ په اړيکو باندې کوم اغېز پرېوزي او کنه او که وفا يې پرې ونه کړه، نو بيا پرې کوم حکم مرتبېږي؟ جزا به يې څه وي؟ د دې اصلي علت د ايلاء د احکامو څخه د خلکو عدم خبراوی او ناپوهي ده، د

نوموړې څېړنه اهمیت هم په دې کې دی، چې په مقارنوي بڼه د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له مخې د ایلاء احکام تو ضیح او روښانه شوي.

دا چې په ټولنه کې عملاً ایلاء شتون لري او واقع کېږي او خلک یې له احکامو ناخبره دي، په دې نه پوهېږي، چې که چا ایلاء وکړه او وفا یې پرې وکړه، نو کوم حکم پرې مرتبېږي او په دې وخت کې ښځې او خاوند ته څه کول په کار دي او که وفا یې پرې ونه کړه، نو کوم حکم به پرې مرتبېږي، کفاره پرې شته او کنه، نو د نوموړې څېړنې اهمیت هم په دې کې دی، چې خلکو ته ایلاء او د ایلاء اړوند احکام وروپېژني.

## څېړنیزه ستونزه

په اسلامي فقه کې د ایلاء اړوند احکام په مختلفو فقهي کتابونو کې په تفصیل سره توضیح او روښانه شوي دي، اما یوه ستونزه شته، هغه دا چې د ایلاء اړوند بحث په یوه کتاب کې نه دی ترسره شوی، یوه مسله یوه کتاب او بله بل کتاب راخیستې ده، چې ما په خپله څېړنه کې د ایلاء اړوند احکام د مختلفو کتابونو څخه راغونډ او په یوه رساله کې مې ترتیب کړي.

دغه راز په فقهي کتابونو کې د اسلامي شریعت له مخې د ایلاء اړوند احکامو باندې بحث شوی او د افغانستان مدني قانون کې یې د ایلاء د احکامو څخه یادونه نه ده کړې، چې ما په دې څېړنه کې په مقارنوي بڼه تر څېړنې لاندې نیولې.

## څېړنیزې پوښتنې

۱. ایلاء څه ته وایي؟

۲. په اسلامي شریعت کې د ایلاء حکم څه دی؟

۳. د افغانستان په مدني قانون کې د ایلاء حکم څه دی؟

۴. د اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون کې د ایلاء د احکامو ترمنځ شباهت او توپیر په کومو نقطو کې دی؟

## د څېړنې موخې

۱. د ایلاء پیژندنه ترسره کول.

۲. په اسلامي فقه کې د ایلاء حکم بیانول.

۳. د افغانستان په مدني قانون کې د ایلاء احکام روښانه کول.

۴. د اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون کې د ایلاء د احکامو ترمنځ مقارنه ترسره کول او همدارنګه د شباهت او توپیر نقاط یې په ګوته کول.

## تېرو لیکنو ته منطقي کتنه

د ایلاء اړوند احکامو څخه په مختلفو فقهي کتابونو کې په تفصیل سره بحث شوی، چې یو څو یې دلته د نمونې په توګه ذکر کوو او په پایله کې یې له خپلې څېړنې سره توپیر هم او روښانه کوم.

۱. الهدایه في شرح بدایة المبتدي: دا د حنفي مذهب یو معتبر فقهي کتاب دی، چې المرغیناني، علي بن أبي بکر بن عبد الجلیل الفرغاني ، أبو الحسن برهان الدین، متوفی: **۵۹۳ هـ** لیکلی دی.

۲. الدر المختار شرح تنویر الأبصار وجامع البحار: دا د حنفي مذهب یو بل معتبر فقهي کتاب دی، چې محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبد الرحمن الحنفي الحصکفي، متوفی: ۱۰۸۸ هـ لیکلی دی.

۳. بدایة المتجتهد ونهایة المقتصد: دا د مالکي مذهب یو معتبر فقهي کتاب دی، چې ابن رشد، أبو الولید محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي

الشهير الحفيد، متوفی: ۵۹۵ هـ، ناشر: دار الحديث - القاهرة، ۱۴۲۵ هـ. ليکلی دی.

۴. المغني المحتاج: دا کتاب د شافعي مذهب يو معتبر فقهي کتاب دی، چې الشربيني، شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشافعي، متوفی: ۹۷۷ هـ، ناشر: دار الکتب العلمية، لومړی چاپ، ۱۴۱۵ هـ. ليکلی دی.

۵. المغني: دا کتاب د حنبلي مذهب يو معتبر فقهي کتاب دی، چې ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي، متوفي ۶۲۰ هـ. ليکلی، ناشر: مکتبة القاهرة، بدون طبعه.

پورته پنځو کتابونو د ايلاء او د هغې اړوند موضوعات په خورا تفصيل سره څېړلي، لکه د ايلاء پېژندنه، حکم، شرطونه، ارکان او داسې نور، اما زما د څېړنې توپير د نوموړ کتابونو سره په دې کې دی، چې زه په خپله څېړنه کې د اسلامي فقهې ترڅنګ د افغانستان په مدني قانون کې هم د ايلاء اړوند احکامو څخه په مقارنوي بڼه بحث شوی، پورته ذکر شويو کتابونو يوازې د اسلامي شريعت له مخې د ايلاء له احکامو څخه بحث کړی او د افغانستان مدني قانون سره يې د پرتلې څخه کومه يادونه نه ده کړې.

### څېړنې تګلاره

ما د خپلې موضوع د څېړنې لپاره کتابتوني تګلاره اختيار کړې، چې د مختلفو معتبرو کتابونو، د اړتيا پر مهال له مجلو، ورځپاڼو، انټرنيټ، مکتبة الشامله او ځينو نور څخه ګټه اخيستې. د يادونې وړ ده چې د يادې موضوع په څېړنه کې لاندې نقاط په پام کې نيول شوي.

**الف:** د موضوع په راغونډولو کې له اساسي منابعو او ماخذونو څخه ګټه اخیستل شوې بالفرض والتقدیر که په اصلي او اساسي منابعو کې نه دي پیدا شوي، نو بیا د مجلو، اخبارونو، انټرنیټ، مکتبة الشامله او داسې نور څخه ګټه اخیستل شوې.

**ب:** د کومو کتابونو څخه چې اقتباس شوی د هغوی متونه رانقل شوي په دغه () قوسونو کې ځای پر ځای شوي.

اما د کتابونو او منابعو څخه د اقتباس په صورت کې چې کوم متونو نه ذکرشوي یوازې ژباړه یې راخیستل شوې، نو هو به هو ژباړه یې نه ده ذکر شوې، بلکې په خپل فکر، فهم او عبارت سره مې د هغوی څخه مطالب راخیستې دي.

**ج:** په کومو موضوعاتو کې چې قرآني آیاتونه ذکر شوي، نو د سورة نوم، د پارې او ایت شمېره یې هم ورسره ذکر شوې او ژباړه یې د معتبرو تفاسیرو څخه نقل شوې ده.

**د:** په نوموړې لیکنه او څېړنه کې چې د کومو مصادرو او مراجعو څخه ګټه اخیستل شوې د موضوع په پای کې یې فهرست یې د هجاء تورو په ترتیب سره ذکر شوی.

## د څېړنې حدود

نوموړې څېړنه یوازې د اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون له مخې په مقارنوي ډول د ایلاء احکامو څېړلو ته ځانګړې شوې، نور کوم موضوعات چې په کې تر بحث لاندې نیول شوي، هغه د موضوع د متمماتو او مکملاتو څخه دي، چې د لا وضاحت لپاره راوړل شوي دي.

**لومړی مبحث: د ایلاء پېژندنه، تاریخي بهیر، الفاظ، ثبوت، ارکان، شرایط او حکم**

په دې عنوان کې د ایلاء معنی او مفهوم، الفاظ، ارکان، شرایط او حکم د بحث لاندې نیسو.

**لومړی مطلب: د ایلاء معنی او مفهوم**

لومړی د ایلاء لغوي معنی او مفهوم او ورپسې د ایلاء شرعي معنی او مفهوم څېړو.

**لومړی جز: د ایلاء لغوی معنی او مفهوم**

ایلاء مصدر دی، له (آلی، یؤلی) څخه اخیستل شوی دی، د قسم کولو په معنی دی، (الیة) قسم ته ویل کېږي. (۲۱: https://www.almaany.com/ar/dict/ar-ar/إيلاء/?)

دغه راز د (یُؤْلُونَ) کلمه د ایلاء څخه اخیستل شوې ده، چې په لغت کې محض (مطلق) او حلف (قسم) ته ویل کېږي، چې څوک یې د خپلې ښځې د جنسي ارتباط څخه د څلورو میاشتو او یا زیاتې مودې لپاره وکړي. (۱۳: ج ۱ ص ۵۶۱).

**دویم جز: د ایلاء شرعي معنی او مفهوم**

د الله تعالی په نوم یا صفاتو باندې داسې قسم کول دي، چې ښځې ته په هغه محدوده موده کې نه ورنیږدې کېږي. (۱۴: ۲۰۲).

نوموړی تعریف د احنافو فقهاؤ له نظره دی، نو د احنافو له نظره د ماشوم او لیوني ایلاء درسته نه ده، خو د کافر ایلاء صحیح ده، ځکه کافر د طلاق اهلیت لري نو د ایلاء اهلیت هم لري.

ځیني د ایلاء تعریف داسې کوي: (هو أن يحلف الرجل بالله تعالى ألَّا يطأ زوجته مدة تزيد على أربعة أشهر قاصدًا إلحاق الضرر بها).(۶: ۳۲۷)

**ژباړه:** خاوند د الله په نوم قسم وکړي، چې زه به د خپلې ښځې سره د څلورو میاشتو څخه زیاتې مودې پورې کوروالی نه کوم او په دې سره ښځې ته د ضرر رسولو نیت لري.

**امام مالک (رحمة الله علیه) یې داسې تعریفوي:** د مسلمان او مکلف خاوند چې صلاحیت د وطي کولو ولري او ښځه به مرضعه (تي ورکونکي نه وي) د هغه له لورې داسې قسم کولو ته ویل کیږي، چې خپلې ښځې ته به د څلورو میاشتو څخه د زیات وخت لپاره نه ورنیږدې کیږي. (۱۸: ۲۴۱)

نو له دې تعریف څخه معلومیږي، چې ایلاء د مسلمان خاوند له لورې ترسره کېدلی شي، نه د کافر خاوند له لورې او بل له دې تعریف څخه دا هم معلومیږي، چې خاوند به بالغ او عاقل وي، نو د ماشوم او لیوني ایلاء درسته نه ده.

دغه راز د شیخ فاني ایلاء هم درسته نه ده، ځکه دا د جماع قدرت نه لري، همدارنگه د تي ورکوونکي ښځې سره هم ایلاء صحیح نه ده، ځکه تي ورکونکي ښځې سره په عدم جماع کې د اولاد لپاره مصلحت دی. همدارنگه د څلورو میاشتو څخه کمه موده کې ایلاء صحیح او درسته نه ده.

**ایلاء د حقوقي اصطلاحاتو قاموس کې دارنگه تعریف شوې:** هغه سوگند دی، چې نارینه یې په توکید سره د خپلې ښځې د ځورولو په قصد وایي، چې لږ تر لږه به د څلورو میاشتو لپاره له هغې سره جنسي مقاربت نه کوي. (۹: ۲۵).

د افغانستان مدني قانون د ایلاء څخه کومه یادونه نه ده کړې، اما ۲۱۲ ماده، چې د عدت په حالت کې د معتدې له نفقې څخه بحث کوي، په دویمه فقره کې داسې وایي: (د لعان، ایلاء او خلع معتده، مگر دا چې د نفقې څخه یې ابراء ورکړې وي). (۱۲: ۲۱۲ ماده)

[یعنې په دې ماده کې صرف له دې څخه یادونه شوې که چېرې چا د خپلې ښځې په وړاندې ایلاء وکړه او بیا یې پرې وفا هم وکړه او د څلورو میاشتو د تېرېدو مخکې یې خپلې ښځې ته رجوع ونه کړه، نو د حنفي فقهاوو په آند د څلورو میاشتو په تېرېدو سره دا ښځه په بائن طلاق سره طلاقه شوې او د طلاق عدت به تېروي، چې د دغه عدت په دوران کې دغه ښځه د نفقې مستحقه ده او نفقه یې هم په ایلاء کوونکي خاوند واجب ده او نور یې د ایلاء اړوند هیڅ بحث او یادونه نه ده کړې].

**دویم مطلب: د ایلاء تاریخي سیر**

د جاهلیت په زمانه کې ایلاء داسې یو طلاق وو، چې نه به یې ښځې ته د ازدواج حقوق ورکول او نه به یې بلکل پرېښودله، ترڅو بل خاوند وکړي، نو په ایلاء سره به ښځه لکه د (كَالْمُعَلَّقَةِ) په څېر زوړنده ناسته وه، لکه څنګه چې عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) وایي: د جاهلیت په زمانه کې به ایلاء د شپږو میاشتو څخه تر دوو کالو پورې دوام کولو او ښځه به هکه حیرانه ناسته وه. (۱۷: ج ۳ ص ۱۶۱)

نو اسلامي شریعت دغه ناوړه دود منفور وګرځاوه او د ښځې د حقوقو په رعایت یې جانب مقابل ملزم وګاڼه او خلکو ته ضرر رسول یې حرام وګرځول، نو د ایلاء لپاره یې ځانګړي احکام وضع کړل، څو د ښځې حقوق تلف نه شي او نه هم ضرر ورته ورسیږي، لکه څنګه به چې د جاهلیت په زمانه کې یو شخص د خپلې ښځې سره وران شو او هغې ته به په غصه شو، نو خاوند به یې قسم وکړ، چې ای ښځې زه تا ته تر یو کال یا دوه کاله پورې نه درنیږدې کیږم، یا به یې عمري قسم وکړ، چې په ټول عمر کې به درته نه نیږدې کیږم او جماع به درسره نه کوم، په دې سره به یې ښځې ته د تکلیف او زیان رسولو قصد درلود او هغه بېچاره به یې زوروله او خاوند به په دې کار سره هیڅ د ملامتیا احساس هم نه کاوه او په همدې قسم به ولاړ وو، نو ښځې به

همداسې ژوند تېراوه او په څوند حالت کې به يې پېښوده، يعني نه به يې ښځه کوله، چې د خپلو حقوقو څخه برخمنه شي او نه به يې طلاقوله، چې بل شخص سره نکاح وکړي، نو اسلامي شريعت په خپل راتګ سره د دې لپاره خپله موده او احکام ذکر کړل چې وروسته به ترينه يادونه وکړو. (۲۲: https://www.alukah.net/sharia).

په هر صورت الله رب العزت په خپلو بنده ګانو لطف، احسان او پېرزوينه وکړه، دغه بد او شنيع رواج ته يې د څلورو مياشتو موده وټاکله، ترڅو په دغو څلورو مياشتو کې له يو پلوه مېړه ښه فکر وکړي، چې په طلاق کې يې ګټه او فايده ده او که په بېرته رجوع کې او د بل پلوه ښځه که چېرې ناشزه (بد ګوزاره او نافرمانه) وي، نو لږ څه تاديب شي او په مېړه باندې د کبر او کلانکارۍ څخه لاس په سر شي. که تر څلورو مياشتو پورې يو سړی خپلې ښځې ته نېږدې نه شي، نو ښځه ترينه جدا کېږي او که نېږدې شو، نو حانث کېږي او د قسم کفاره به ورکوي. (۱۳: ج ۱ ص ۵۶۲)

**درېيم مطلب: د ايلاء ثبوت**

ايلاء په قران کريم سره ثابته ده، الله رب العزت فرمايي: (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ * وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ). (سورة البقره ايت نمبر ۲۲۶ او ۲۲۷، پاره ۲)

**ژباړه:** د هغو کسانو لره چې قسمونه کوي، له جماع د ښځو خپلو نه، (مطلقاً يا څلورو مياشتو پورې) انتظار د څلورو مياشتو، نو که بيا رجوع وکړه دوي (او سره يوځای شول) پس بېشکه چې الله ښه بخښوونکی (د خطاياتو) پوره رحم لرونکی دی (د اجر او ثواب په انعام سره) او که قصد وکړ دوی طلاق (او رجوع يې ونکړه) پس بېشکه چې الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی (پر ټولو احوالو). (۱۱: ج ۱ ص ۱۸۱)

**څلورم مطلب: د ایلاء حکمت**

د ایلاء حکمت د ښځو پر وړاندې د نارینه وو د ظلم او ستم مخنیوی دی، ځکه د عربو د جاهلیت په دوره کې د ښځو د زورونې لپاره په قصد سوګند (قسم) یادوه، چې یو کال او یا د هغې زیاته موده به له هغې سره نه یوځای کېږي، اما اسلامي شریعت هغه سوګند یادولو ته د څلورو میاشتو موده مقرره کړه، ترڅو قسم پکې پای ته ورسېږي او له هغې وروسته نارینه باید یوه لاره وټاکي، یعنی د قسم خوړولو په کړنه له سره نوې کتنه وکړي، یا دې هم د ښځېتوب او مېړه توب اړیکه ټینګه کړي او یا دې هم طلاق او بېلوالی انتخاب کړي. که په خپل قسم له سره نوې کتنه وکړي او قسم مات کړي، نو یوازې پرې د قسم کفاره لازمېږي، نکاح او ښځېتوب یې په عادي توګه دوام مومي او که طلاق یې ورکړ، نو له دې وروسته د دوی ترمنځ د ښځېتوب او مېړه توب اړیکه پای مومي. (۸: ۲۵۳)

**پنځم مطلب: د ایلاء الفاظ**

ایلاء په دوه ډوله الفاظو ترسره کېدای شي، صریح الفاظ او کنایه الفاظ او په دواړه ډوله الفاظو سره که چا ایلاء وکړه صحیح او درسته ده، نو دا چې په دواړه ډوله الفاظو باندې پوه شو، نوموړی مطلب په دوه برخو وېشو، چې لومړی جز د ایلاء صریح (ښکاره) الفاظو څخه بحث کوي او دویم جز د ایلاء کنایي الفاظ په ځان کې رانغاړي، چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی جز: د ایلاء صریح الفاظ**

که چا ایلاء په صریحو (ښکاره) الفاظو سره وکړه په اتفاق د فقهاو صحیح ده، لکه خاوند چې خپلې ښځې ته ووایي: (والله لا اقربک، او ولا اجامعک، او أو لا أطؤك أو لا أغتسل منك من جنابة والله لا أقربك أربعة أشهر وغیره). (۱۷: ج ۳ ص ۱۶۲)

**ژباړه:** په الله مې دی قسم وي، چې زه به تاته نیږدې نشم یا ووایي په الله مې دې قسم وي، چې جماع به درسره ونکړم او نه به کورالی درسره وکړم، او یا داسې ووایي، په الله مې دې قسم وي، چې د جنابت غسل به زه له ستا وجهې ونه کړم، او یا ووایي چې په الله مې دې قسم وي چې تر څلورو میاشتو پورې به تاسره جماع ونه کړم.

**دویم جز: د ایلاء کنایي الفاظ**

په کنایي الفاظو سره هم ایلاء صحیح کیږي، یعنې کنایي داسې الفاظ خاوند استعمال کړي، چې د جماع څخه په منع دلالت کوي. (۱۷: ج ۳ ص ۱۶۲).

د احنافو په نظر د کنایي الفاظو په استعمال کې نیت ته ضرورت شته، که خاوند نیت د ایلاء کړی وي، د ایلاء حکم پرې پلی کیږي او که یې نه وو کړی، نو بیا پرې نه پلی کیږي، لکه خاوند خپلې ښځې ته ووایي، زه ستا فرش باندې نه څملم، نه دې ښکلوم، کوټې ته دې نه درننوځم او نور... نو که په داسې الفاظو سره یې نیت د ایلاء کړی وو، ایلاء واقع کیږي او که یې نیت د ایلاء نه وو، نو بیا ایلاء نه واقع کیږي، دغه راز ایلاء په هره ژبه چې وي، صحیح کیږي، که هغه په عربي ژبه وي او که په عجمي، همدارنګه ایلاء کوونکی (هغه شخص چې د خپلې ښځې د جماع نه کولو څخه قسم کوي) که په هغه ژبه ښه پوهیږي او که نه، نو د عرب شخص څخه په عجمي او د عجمي څخه په عربي ایلاء ترسره کېدلای شي، خو په دې شرط چې په مفهوم یې علم ولري، چې د دې الفاظو څخه ایلاء مفهوم افاده کیږي. (۱: ج ۷ ص ۳۱۷).

**پنځم مطلب: د ایلاء ارکان**

د دې عنوان لاندې د حنفي، جمهورو او یو شمېر نورو فقهاوو له نظره د ایلاء ارکان څېړو.

**لومړی جز: د حنفي فقهاوو له نظره د ایلاء ارکان**

د احنافو له نظره ایلاء یو رکن لري، هغه هم دا چې خاوند د یوې مودې لپاره خپلې ښځې سره، د نه جماع کولو قسم وکړي، که هغه په صریح الفاظو سره وي او که په کنایي الفاظو سره، د دې څخه پرته نور ټول د ایلاء شرطونه دي، برابره خبره ده که دغه ایلاء د رضایت په سبب ترسره شوې وي او که د غضب او غوسې په سبب ترسره شوې وي. (۱۰: ج ۳ ص ۳۴۳).

**دویم جز: د جمهورو فقهاوو له نظره د ایلاء ارکان**

د جمهورو فقهاوو له نظره د ایلاء ارکان څلور دي، حالف (قسم کوونکی)، محلوف به (په څه چې قسم کوي)، محلوف علیه (د څه شي څخه چې قسم کوي) او موده (د قسم وخت)، چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی: حالف**

د احنافو په نظر حالف هغه خاوند ته ویل کېږي، چې اهلیت د طلاق ولري (یعنې عاقل او بالغ به وي)، نو د ماشوم او لیوني ایلاء درسته نه ده، ځکه دوی اهلیت د طلاق نه لري.

**دویم: محلوف به**

هغه څه چې قسم پرې اخیستل کېږي، د الله تعالی نوم یا د هغې صفات دي، چې خاوند پرې قسم کوي.

**درېيم: محلوف عليه**

جماع ته ويل کېږي، که هغه په لفظ سره ذکر شي، مثلاً خاوند خپلې ښځې ته ووايي زه له تاسره جماع نه کوم يا ووايي زه ستا له امله د جنابت غسل نه کوم، يا ووايي زه درته، نه نيږدې کېږم او داسې نور. (۱۰: ج ۳ ص ۳۴۳)

**څلورم: موده(د قسم وخت)**

د احنـافو پـه نظـر بانـدې څلـور مياشـتې ده، نـو کـه قسـم يـې د څلـورو مياشـتو څخـه کـم کـړی وو، نـو خاونـد ايـلاء کـوونکی نـه شـميرل کېـږي او جـلا والـی پرې نه راځي. (۱۰: ج ۳ ص ۳۴۳)

**درېيم جز: د ځينو نورو فقهاوو له نظره د ايلاء ارکان**

ځيني فقهاء وايي، چې د ايلاء ارکان درې دي، د ايلاء صيغه (الفاظ)، مولي (ايلاء کوونکی) او هغه ښځه چې ايلاء ورڅخه شوې وي، چې هر يو په جلا جلا توګه د بحث لاندې نيسو.

**لومړی: صيغه**

دا هغه الفاظ دي، چې خاوند يې د ايلاء د تـرسره کولـو لپـاره اسـتعمالوي، چې هغـه يـا صريح الفاظ دي، لکه ښځې ته خپل خاوند ووايي او خاوند يې داسې قسم وکړي، چې زه به درسره جماع ونه کړم او يا هم کنايي الفاظ دي، دا هغه الفاظ دي، چې په عرف کې ترينه د ايلاء معنی افاده کېږي، نو په هره ژبه چې ايلاء ترسره شي، د ايـلاء حکـم اخـلي، خو په دې شرط چې نومړي اشخاص يې په مفهوم پـوه شي، وروسـته بـه ان شـاء الله د صريح او کنايي الفاظو مفهوم ذکر کړو. (۲۳: https://fa.wikifeqh.ir/)

**دویم: مولي (ایلاء کونکی خاوند)**

دې ډلې فقهاوو د ایلاء کوونکي خاوند لپاره د لاندې څلور شرطونو موجودیت لازم ګڼلی دی:

**الف:** ایلاء کونکی خاوند به بالغ وي، ماشوم به نه وي.

**ب :** ایلاء کونکی خاوند به عاقل وي، لیونی به نه وي.

**ج :** ایلاء کونکی خاوند به خود مختاره وي او ایلاء به یې په خپل رضایت او رغبت ترسره کړې وي، په ایلاء کې به د جبر او اکراه سره نه وي مخ شوی، ځکه په اکراه سره ایلاء منځته نشي راتلای. (۲۳: https://fa.wikifeqh.ir/)

**د :** ایلاء کونکي خاوند به قصد او اراده د ایلاء کولو کړې وي.

**دریيم: هغه ښځه چې ایلاء ور سره شوې وي**

هغه ښځه چې ایلاء ورسره شوې ده، دا به د دې ایلاء کونکي ښځه وي، ځکه د اجنبي ښځې سره ایلاء کول درست نه دي او حکم د ایلاء نه اخلي. (۲۳: https://fa.wikifeqh.ir/)

**شپږم مطلب: د ایلاء شرایط**

د دې عنوان لاندې د احنافو او جمهورو فقهاوو له نظره د ایلاء شرایط د بحث لاندې نیسو.

**لومړی جز: د احنافو له نظره د ایلاء شرایط**

د احنافو له نظره ایلاء شپږ شرطونه لري، چې هر یو په جلا جلا توګه د بحث لاندې نیسو.

**لومړی شرط: خپله منکوحه ښځه به يې وي**

د کومې ښځې په وړاندې چې يو شخص ايلاء کوي، هغه به يې خپله منکوحه ښځه وي، اگر که حکمي ښځه يې هم وي لکه د رجعي طلاق په عدت کې، ښځه حکماً د خاوند په نکاح کې شامله ده، خو که چېرته يې ښځه په بائن طلاق باندې طلاقه کړې وي، نو هغې سره ايلاء درسته نه ده.

**دويم شرط: د طلاق اهليت لرل**

هغه خاوند چې غواړي، ايلاء وکړي، د طلاق اهليت به ولري، نو بناءً د ذمي او کافر ايلاء هم درسته او صحيحه ده.

**درېيم شرط: ايلاء به مقيده نه وي**

ايلاء به مقيده تر مکان پورې نه وي، ځکه ښځې سره نيږدېوالی (جماع او يو ځای والی) په هر مکان کې ممکن دی. (۲۳: https://fa.wikifeqh.ir/).

**څلورم شرط: د بلې اجنبي ښځې نه يو ځای کول**

په ايلاء کې به د خپلې ښځې سره بله اجنبي ښځه نه يوځای کوي، ځکه د خپلې ښځې سره نيږدېوالی کېدلای شي او د اجنبي ښځې سره نيږدې کېدل له سره روا نه دي.

**پنځم شرط: قسم به په عدم يوځای والي خوري**

خاوند چې د خپلې ښځې په وړاندې ايلاء کوي، نو د خپلې ښځې سره د عدم يوځای والي قسم به يې کړی وي.

**شپږم شرط: د څلورو مياشتو فاصله رعايت کول**

ايلاء کوونکی به د خپلې ښځې سره په هغه معلومه نېټه چې څلور مياشتې دي، د عدم جماع فاصله کړې وي. (۱۷: ج ۳، ص ۱۷۰ – ۱۷۳).

**دويم جز: د جمهورو فقهاوو له نظره د ايلاء شرطونه**

د جمهورو فقهاوو له نظره څلور شرطونه لري، چې په هر يو باندې په جلا جلا توګه بحث کوو.

**لومړی شرط: قسم د الله تعالی جل جلاله په نوم او صفاتو سره کول**

ايلاء کوونکي به قسم د الله تعالی جل جلاله په نوم يا صفاتو سره کړی وي، چې خپلې ښځې ته به د څلورو مياشتو څخه په زياته موده کې نه ورنږدې کېږم او يا به ورسره وطي نه کوم، د احنافو له نظره دا قسم به د څلور مياشتې لپاره وي او د جمهورو فقهاوو له نظره د څلورو مياشتو څخه زياتې مودې پورې د عدم جماع قسم کول دي.

دغه راز په دې اړه عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) وايي: (كُلُّ يَمِينٍ مَنَعَتْ جِمَاعًا فَهِيَ إِيلاَءٌ). (۳: ج ۷ ص ۳۸۱ رقم الحديث ۱۵۶۳۳)

**ژباړه:** هر قسم چې شخص د خپلې ښځې سره د جماع کولو څخه بند کړي، هغه د ايلاء حکم اخلي.

**دويم شرط: په قسم کې د څلورو مياشتو زياتې مودې يادول**

يعنې ايلاء کوونکی خاوند قسم وکړي، چې خپلې ښځې ته د څلورو مياشتو څخه په زياته موده کې نه ور نږدې کېږم، ځکه الله تعالی جل جلاله تر څلورو مياشتو پورې خاوند ته مهلت ورکړی دی، نو که څلور مياشتې يې يادې کړې او يا يا يې له دې

څخه کمه موده په قسم کې ذکر کړه، نو دا شخص ایلاء کوونکی نه دی، د ایلاء حکم پرې نه تطبیقیږي.

**دریېیم شرط: خپلې ښځې سره د مخې له لورې د جماع نه کولو څخه قسم کول**

ایلاء کوونکي خاوند به د خپلې ښځې د قبل (فرج) څخه د عدم جماع قسم کړی وي، نو که چېرته یو شخص خپلې ښځې ته ووایي او قسم وکړي چې زه به ستا سره په دبر کې جماع نه کوم نو دا ایلاءکوونکی نه گرځي، ځکه خاوند خو د هغه څه څخه قسم نه دی کړی، چې په هغې سره ښځې ته ضرر ورسېږي، چې هغه فرج دی، یعنې له فرج څخه انکار او مجامعت نه کول ښځې ته ضرر رسوي نه دبر.

**څلورم شرط: د کومې ښځې د مجامعت څخه چې قسم کوي، حقیقتاً او یا حکماً به یې ښځه وي**

د چا څخه چې قسم کوي، هغه به یې ښځه وي او حقیقتاً به یې په نکاح کې داخله وي، ځکه الله تعالی جل جلاله فرمايي: (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ * وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ). (سورة البقره ایت نمبر ۲۲۶ او ۲۲۷، پاره ۲)

**ژباړه:** د هغو کسانو لره چې قسمونه کوي، له (جماع ) د ښځو خپلو نه (مطلقاً یا څلورو میاشتو پورې) انتظار د څلورو میاشتو، نو که بیا رجوع وکړه، دوی (او سره یوځای شول)، پس بېشکه چې الله ښه بخښوونکی (د خطایاتو)، پوره رحم لرونکی دی ( د اجر او ثواب په انعام سره ) او که قصد وکړ دوی طلاق (او رجوع یې ونکړه)، پس بېشکه چې الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم دی پر ټولو احوالو. (۱۱: ج ۱ ص ۱۸۱)

حکماً نکاح په دې معنی که چېرې یوه ښځه د رجعي طلاق په عدت کې وي او خاوند ایلاء وکړه، نو دا، ایلاء درسته او صحیح ده.

د جمهورو فقهاوو په اند که دغه پورته څلور شرطونه موجود شول، نو یو شخص ایلاء کوونکی گرځي او که د دې شرایطو څخه یو هم نیمگړی شو، نو بیا پرې د ایلاء حکم نه تطبیقیږي.

په اتفاق د فقهاؤ سره د هغې ښځې سره ایلاء صحیح ده، کومه چې په طلاق رجعي سره طلاقه شوې وي، ځکه دغه طلاقه شوې ښځه تر اوسه په حکم د ښځې کې ده او د دې شخص ښځه ده، لکه څرنگه چې یې طلاق درست دی، نو ایلاء یې هم درسته ده.

اما په بائن طلاق، طلاقه شوې ښځې سره ایلاء درسته نه ده، ځکه چې د زوجیت اړیکه ورسره پرې شوې ده.

دغه راز ایلاء مخکې د مجامعت څخه او وروسته د مجامعت څخه درسته ده که یو شخص د ښځې سره نکاح تړلې وي او مجامعت یې ورسره نه وي کړی او دې حالت کې یې ورسره ایلاء وکړه ایلاء یې درسته ده.

همدارنگه ایلاء د مسلمانې ښځې سره، د ذمی ښځې سره، د اصلي ښځې سره او د وینځې سره درسته ده، ځکه په قران کریم کې عموم ته اشاره ده، کومې خاصې ډلې ته اشاره نه ده شوې، ځکه ایت شریف کې راغلي دي: (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ). (سورة البقره ایت نمبر ۲۲۶، پاره ۲)

**ژباړه:** هغو کسانو لره چې قسمونه کوي له (جماع ) د ښځو خپلو نه، (مطلقاً یا څلورو میاشتو پورې) انتظار د څلورو میاشتو). (۱۱: ج ۱ ص ۱۸۱)

بناً هر قسم ښځه چې د چا په نکاح کې وي، یعنې کافره وي، مسلمانه وي، ذمۍ وي، اصلي وي او که وینځه، چې ایلاء یې ترې وکړه، ایلاء یې درسته ده او په ایلاء کې شاملیږي.

اما د هغې کس ایلاء درسته نه ده، چې هغه د جماع کولو وړتیا ونه لري، ځکه د عدم جماع څخه قسم کولو ته د دې شخص ضرورت نشته، ځکه دا شخص جماع نشي کولی، نو هسې د عدم جماع قسمونه خوري، دا داسې مثال لري لکه څوک ووایي، قسم په الله چې زه به اسمان ته نه ختږم او هسي هم نه شي ختلی.

البته د یادونې وړ ده، چې حالف (قسم کوونکی خاوند) به عاقل، بالغ او په وطي کولو قدرت او توانایي ولري.

مګر احناف وایي، ایلاء د مسلمان، کافر، حر (اصیل) غلام (مریي) د صحتمند شخص، د خصي شخص، د مریض شخص چې علاج یې ممکن وي، د بندي شخص او د نشه یې شخص د دې ټولو ایلاء کول درست دي، ځکه دوی د ښځې وطي کولو باندې قادر دي، اما مالکیان وایي، چې د کافر ایلاء درسته نه ده، ځکه دا د کفارې ورکولو اهلیت نه لري، کوم چې په ایلاء کې کفاره ورکول کیږي او نه دغه کافر د مغفرت او رحمت اهلیت لري، ځکه ایت په وروستۍ برخه کې راځي: (فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ). (سورة البقره ایت نمبر ۲۲۶، پاره ۲)

**ژباړه:** نو که بیا رجوع وکړه، دوی (او سره یوځای شول) پس بېشکه چې الله ج ښه بخښوونکی (د خطیأتو) پوره رحم لرونکی دی ( د اجر او ثواب په انعام سره). (۱۱: ج ۱ ص ۱۸۱)

نو کله چې خاوند ښځې ته رجوع کوي او د قسم کفاره ورکوي، کېدای شي، الله ج ورته ښښنه وکړي او هر چې کافر دی هغه هيڅ د بخښنې اهليت نه لري، نو بناءً ايلاء يې هم درسته نه ده.

دغه راز ايلاء د رضا او غضب په حالت کې درسته ده، برابره خبره ده که په ايلاء سره يې ښځې ته د ضرر رسولو اراده وي او که نه، ايلاء واقع کېږي، لکه څنګه چې طلاق، ظهار او نور قسمونه واقع کېږي او صحيح دي. (۱: ج ۷ ص ۲۹۸ – ۳۰۰ – ۳۱۱او ۳۱۵)

**پنځم مطلب: د ايلاء حکم**

د ايلاء په حکم کې، دوه قوله دي، يو د جمهورو فقهاوو او بل هم د حنفي فقهاوو، چې هر يو جلا جلا تر بحث لاندې نيسو:

**لومړی جز: د جهمورو فقهاوو له نظره د ايلاء حکم**

جمهور علماء وايي، چې ايلاء حرامه ده، ځکه په دې سره ښځې ته زيان او ضرر متوجه کېږي او بله دا چې په دې کې د واجب عمل په ترک کولو باندې قسم کول دي.

د جمهورو علماو له نظره ايلاء حرامه ده، ځکه د داسې شي څخه قسم کول دي، چې د هغې کړنه پرې واجب ده، ځکه ښځه د جماع کولو حق لري او دغه حق د جماع د نکاح د مقاصدو له جملې څخه اساسي مقصد دی، ځکه په همدې جماع سره احصان او پاک لمنې منځته راځي. (۲۲: https://www.alukah.net/sharia)

که چېرته يو شخص بغير د قسم څخه د ښځې سره د څلورو مياشتو څخه زيات جماع کول پرېښودل او خاوند يې معذور هم نه وو، نو خاوند يې ګناهګار دی، خو دې ته ايلاء نه ويل کېږي، اګر که ځينې علماء دې ته هم ايلاء ويلې ده، نو دلته په

دي خاوند باندې لازم دي، چې خپلې ښځې سره جماع ترسره کړي او په نیکی سره ژوند وکړي او ضرر به ورته نه رسوي، څکه په حدیث شریف راځي: (لا ضَرَرَ ولا ضِرارَ). (۲:ج ۲ ص ۷۸۴ رقم الحديث ۲۳۴۰)

**ژباړه:** په اسلام کې نه ځان ته او نه نورو ته ضرر رسول شته او که یې داسې ونه کړل، نو ښځې لپاره دا حق ثابت دی چې د خاوند څخه د نکاح د فسخې یا هم د طلاق غوښتنه وکړي. (۲۲: https://www.alukah.net/sharia)

**دویم جز: د حنفي فقهاوو له نظره د ایلاء حکم**

د احنافو په نظر باندې ایلاء مکروه تحریمي ده او دوه حکمه لري، اخروي حکم او دنیاوي حکم، چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی: اخروي حکم**

اخروي حکم یې دا دی، که چېرې ښځې ته یې رجوع ونه کړه، نو ایلاء کوونکی شخص گناهگار دی، څکه قران کریم کې الله رب العزت فرمایي، که رجوع یې وکړه، نو الله ج بخښوونکی او مهربان ذات دی: (فإن فاؤوا فإن الله غفور رحيم)، (سورة البقره ایت نمبر ۲۲۶، پاره ۲)

**ژباړه:** نو که بیا رجوع وکړه، دوی (او سره یوځای شول)، پس بېشکه چې الله ښه بخښوونکی (د خطایاتو) پوره رحم لرونکی دی ( د اجر او ثواب په انعام سره ) (۱۱:ج ۱ ص ۱۸۱).

**دویم: دنیاوي حکم**

د ایلاء په دنیاوي حکم پورې بیا دوه ځانگړي حکمونه تعلق نیسي، لومړی حانث کېدل، دویم بِر (احسان) کول، چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا تر بحث لاندې نیسو.

### ۱- د حانث کېدلو حکم

په دې معنی، که چېرته خاوند د خپلې ښځې څخه قسم وکړ، چې تر څلورو میاشتو یا د دې څخه زیات وخت پورې به ښځې ته نه نږدې کېږم، خو خاوند مخکې له دې، چې دا موده پوره شي، ورنږدې شو، نو دغه خاوند په خپل قسم کې حانث شو او د قسم کفاره به ورکوي، چې د کفارې بحث وروسته را روان دی او په خپل ځای کې به پرې بحث وکړو، خو کله یې چې د قسم کفاره ورکړه، نو ایلاء ساقطه شوه او ښځه ترې بیا نه جدا کېږي.

اما که چېرته یې ایلاء د شرط پورې متعلقه کړې وه، مثلاً یو شخص خپلې ښځې ته ووایي، که تاسره مې جماع وکړه نو په ما دې حج لازم وي یا ووایي که تاسره مې جماع وکړه، ته دې په ما طلاقه یې، نو که چېرته یې جماع وکړه، جزاء پرې لازمه شوه، یعنې حج لازم شو او یا هم طلاق واقع شو (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۵).

### ۲- بِر (احسان کولو) حکم

په دې معنی چې یو خاوند قسم وکړي، چې خپلې ښځې ته به نه ورنږدې کېږم، په څلورو میاشتو یا له دې څخه زیات وخت او مودې لپاره او په دومره موده کې ورنږدې نه شو، نو ښځه پرې په بائن طلاق طلاقه شوه قاضي ته د فیصلې وړلو ضرورت نشته، فقط چې څلورمیاشتې تېرې شوې او ښځې ته ورنږدې نه شو، یعنې جماع یې ورسره ونه کړه، نو ښځه یې په بائن طلاق طلاقه شوه (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۵).

که چېرې له دې وروسته غواړي، ښځه بېرته خپله کړي او په نکاح کې یې راولي، نو بیا به تجدید د نکاح کوي یعنې نوې نکاح به دواړه په خوښه او رضا سره تړي.

دې ته د بِر او نېکۍ حکم څکه وايي، چې دلته د ښځې څخه ضرر لرې کيږي او دا ښځه د دې خاوند څخه بې غمه او خلاصيږي او بل خاوند سره د نکاح کولو جوګه کيږي (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۵).

**شپږم مطلب: ښځې ته د رجوع کولو حکم او طريقه**

په دې عنوان کې لاندې موارد څېړو:

۱- د حنفي فقهاوو له نظره ښځې ته د رجوع کولو حکم او طريقه.

۲- د جمهورو فقهاوو له نظره ښځې ته د رجوع کولو حکم او طريقه.

۳- د ايلاء په حکم کې د احنافو او جمهورو فقهاوو تر منځ د اختلاف موارد.

۴- ايلاء کړی شوې ښځې ته په رجوع کولو شرط.

۵- د ايلاء په موده کې د طلاق ورکولو حکم.

٦- له ايلاء څخه وروسته د عدت حکم.

**لومړی جز: د احنافو له نظره ښځې ته د رجوع کولو حکم او طريقه**

د احنافو له نظره ايلاء کړی شوې ښځې رجوع په دوه ډوله صورت نيسي، قولاً او فعلاً، چې په هر يو باندې جلا جلا بحث کوو.

**لومړی: په فعل (عمل) سره رجوع**

په دې معنی چې خاوند د خپلې ايلاء کړی شوې ښځې سره په فرج کې جماع وکړي، که د فرج څخه پرته،په بل ځای کې ورسره جماع وکړي او يا يې په شهوت سره ښکل کړي يا هم په شهوت سره يې فرج ته وګوري، نو دې ته بيا رجوع نه ويل کيږي او خاوند داسې دی، چې هيڅ يې ښځې ته رجوع نه ده کړې.

**دویم: په قول (وینا) سره رجوع**

پـه قـول سره هـم رجـوع صـحیح ده، مـثلاً کـه خاونـد خپلـې ایـلاء کـړې شـوې ښځې ته ووایي، چې تـا تـه مـې رجوع کـړې یـا د دې پـه شـان نـور الفـاظ ووایـي رجـوع یـې سـمه ده، امـا پـه قـول سره رجـوع هغـه وخـت درسـته ده، چـې درې شرطونه ولري (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**لومړی شرط: د جماع څخه عاجزوالی**

یعنې خاوند هغه وخت په قول سره رجوع کولی شي، چې د جماع کولو څخه عاجز وي اما که چېرې د جماع قدرت او توانایي ولري، نو په قول سره یې رجوع سمه نه ده، ځکه قول د جماع بدیل دی، نو قول هغه وخت سم دی، چې په جماع یې قدرت نه وي موجود، لکه تیمم چې د اودس بدیل دی، کله چې اودس متعذر او ناممکن شي، نو تیمم جواز پیدا کوي، البته عجز بیا په دوه ډوله دی، حقیقي عجز او حکمي عجز، چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا جلا مطالعه کوو (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**۱- حقیقي عجز**

حقیقي عجز دې ته وایي، چې انسان ته جماع کول متعذر او سخت شي، لکه ښځه یا خاوند یې داسې مریض وي، چې جماع په کې صورت نه شي نیولی یا ښځه صغیره وي او مجامعت ورسره کېدلای نه شي یا خاوند مجبوب وي، یعنې ذکر یې غوځ وي، یا هم د جماع تصور ترې نه شي کېدلای یا هم د ښځې او خاوند ترمنځ د ایلاء د مودې په اندازه فاصله شتون ولري، یعنې څلور میاشتې یا د هغې څخه زیاته فاصله کې سره واقع وي، چې ښځې ته یې راتگ مشکل وي یا یې ښځه په داسې ځای کې وي، چې هغه ځای خاوند ته معلوم نه وي او یا هم خاوند یې بندي وي او ښځې سره مجامعت نه شي کولای (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**۲- حكمي يا شرعي عجز**

شرعي عجز دې ته وايي،چې يو خاوند د ايلاء په موده کې محرم (په حالت د احرام کې) وي په داسې حال کې چې د سړي او د حج ترمينځ د څلورو مياشتو په اندازه وخت وي، لکه يو شخص د خپلې ښځې نه ايلاء وکړي او په دې وخت کې د حج نيت وکړي، احرام وتړي او حج ته روان شي، په داسې حال کې چې پنځوس ورځې له يوه طرفه لاره وي او پنځوس له بل طرفه او لس ورځې خو د حج په مراسمو کې تېرېږي، نو د څلورو مياشتو په تېرېدو سره کور ته نه شي راتلای، دا حکمي عجز کې حسابېږي، سره له دې چې په جماع قدرت لري، خو لرې والی يې مانع گرځېدلی دی (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**دويم شرط: د ناتوانايي دوامداره کېدل**

دا عجز او ناتوانايي دومره دوام پيداکړي، چې د ايلاء موده په کې تېره شي، که چېرته يې د ايلاء مودې په منځ کې د جماع کولو توانايي پيدا کړه، نو په قول سره ايلاء باطله شوه او په فعل سره به رجوع کوي، چې هغه جماع کول دي.

دغه راز که چېرې د ايلاء د مودې په منځ کې خاوند له ناروغۍ څخه روغ شو، نو رجوع يې بيا په جماع سره سمه ده، نه په قول سره، لکه تيمم کوونکی چې اوبه پيدا کړي، نو تيمم يې باطل گرځي، نو دلته هم رجوع بالقول باطله شوه او رجوع بالفعل صحت وموند (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**درېيم شرط: ايلاء کوونکې ښځه به د رجوع په وخت کې د خاوند په ملکيت کې وي**

کله چې خاوند ښځې ته په قول رجوع کوي، نو په دې وخت کې به دغه ښځه د خاوند په ملکيت او نکاح کې موجوده وي او باينه شوې به ترې نه وي، که په طلاق

بائن سره ترې جدا شوې نه وه، نو بيا نه په قول او نه په فعل سره رجوع سمه ده، بلکې تجديد د نکاح ته اړتيا ده (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**دويم جز: د جمهورو فقهاوو له نظره ښځې ته د رجوع کولو حکم او طريقه**

د جمهورو (مالکي، شافعي او حنبلي) فقهاوو په نظر کله چې يو شخص قسم وخوري، چې زه به د څلورو مياشتو څخه د زياتې مودې لپاره د خپلې ښځې سره نه يوځای کېږم او دا الفاظ يې هم استعمال کړل (ان شاء الله) نو دې ته ايلاء نه شي ويل کېدای او نه دا شخص حانث کېږي، څکه سليمان عليه السلام چې د داود عليه السلام زوی دی، د هغه په کيسه کې راځي، چې ده قسم خوړلی وو، چې زه به په يوه شپه کې د خپلو نوي ښځو سره يوځای کېږم (جماع به کوم) د سليمان عليه السلام ملگرو ورته وويل ان شاء الله ووايه، خو هغه څخه ان شاء الله هېره شوه او ويې نه ويله، نو نبي عليه السلام وفرمايل: (لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ لَمْ يَحْنَثْ وَكَانَ دَرَكًا لَهُ فِي حَاجَتِهِ) (۴: ج ۷ ص ۳۳۵۵ رقم الحديث ۶۷۲۰).

**ژباړه:** که سليمان عليه السلام ان شاء الله ويلې وای، نو نه به وو، حانث شوی او خپل مرام او مقصد ته به هم رسېدلی وو.

[د سليمان عليه السلام دا اراده وه، چې دې ټولو ښځو سره څکه يوځای شي، که چېرته د دوی څخه اولاد پيداشي، نو د دين خدمت او د دين په تقويت او جهاد کې به ترې کار واخيستل شي].

نو کله چې يو شخص د خپلې ښځې څخه قسم وخوري، چې نه به ورنږدې کېږم، نو د دې شخص لپاره ښه کار دا دی، چې ښځې ته مخکې د څلورو مياشتو له تېرېدلو ورنږدې شي، يعنی جماع ورسره وکړي، څکه که ورنږدې نه شي نو ښځه ترې نه جدا کېږي، څکه حديث شريف کې راځي جناب نبي کريم (صلی الله عليه وسلم)

فرمايلي: (مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ الَّذِى هُوَ خَيْرٌ وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ) (۳: ج ۹ ص ۲۳۱، رقم الحديث ۱۹۳۲٦).

**ژباړه:** چا چې د يو شي څخه قسم وکړ، خو بيا يې هغه شي کې غوره والی وليد، نو قسم دې مات کړي او د هغې کفاره دې ورکړي، خو هغه غوره عمل دې نه پرېږدي که دغه شخص حانث هم شي.

اوس که چېرته دغه شخص حانث شو او قسم يې مات کړ، نو بيا د قسم کفاره پرې لازمېږي دا چې د قسم کفاره څه ده، په خپل ځای کې به پرې بحث وکړو.

**درېيم جز: د ايلاء په حکم کې د احنافو او جمهورو فقهاوو تر منځ د اختلاف موارد**

جمهور فقهاء د احنافو سره په دوه برخو کې د نظر اختلاف لري:

**لومړی:** د جمهورو فقهاوو له نظره ښځې ته رجوع کول هم د ايلاء له مودې څخه مخکې کېدلای شي او هم وروسته، اما د احنافو له نظره ښځې ته رجوع کول د ايلاء د مودې له پوره کېدو څخه مخکې وي، نو که چېرته خاوند مخکې د ايلاء د مودې د تېرېدلو څخه خپلې ښځې ته رجوع وکړه، نو په اتفاق سره ايلاء له منځه لاړه او خاوند حانث شو، نو د قسم کفاره به ورکوي.

همدارنگه که چېرته خاوند د ايلاء په موده کې رجوع ونکړه او د ايلاء موده پای ته ورسېده، نو دغه حکم به ښځه قاضي ته سپاري او بيا قاضي د دوو کړنو صلاحيت لري.

۱. يا به خاوند دې ته لېواله کوي، چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي.

۲. يا به ښځې ته طلاق ورکوي، که چېرته خاوند په محکمه کې ښځې ته طلاق ورکړ، نو محکمه د خاوند د طلاق پر بنسټ د دواړو ترمنځ د بېلوالي حکم صادروي او که خاوند د طلاق ورکولو څخه ډډه کوله، نو محکمه او قاضي واک لري چې د

ښځې په غوښتنه د طرفینو ترمنځ د طلاق حکم صادر کړي، د جمهورو فقهاوو په اند په دې حالت کې دغه طلاق رجعي دی او د احنافو له نظره بائن طلاق دی.

**دویم:** حنفي فقهاء وایي په مطلق ډول د ایلاء مودې په تېرېدلو سره چې څلورمیاشتې دي ښځه په باین طلاق سره طلاقېږي او د دوی د اختلاف سبب د الله تعالی جل جلاله د دې قول په تفسیر کې دی، چې فرمایي: (فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ * وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ) (سورة البقره ایت نمبر ۲۲۶ – ۲۲۷، پاره ۲).

**ژباړه:** نو که بیا رجوع وکړه، دوی (او سره یوځای شول) پس بېشکه چې الله ج ښه بخښوونکی (د خطاوو) پوره رحم لرونکی دی، ( د اجر او ثواب په انعام سره ) او که اراده وکړ دوی د طلاق (او رجوع یې ونکړه)، پس بېشکه، چې الله ج ښه اورېدوونکی ( د ټولو اقوالو ) ښه عالم دی (پر ټولو احوالو) (۱۱: ج ۱ ص ۱۸۱).

همدغه ایت احناف داسې تفسیروي، که چېرته خاوند د ایلاء په موده کې رجوع وکړه، نو الله ج مهربانه او رحیم ذات دی، چې خاوند کوم ضرر د قسم خوړولو له امله ښځې ته رساوه، کېدای شي، الله تعالی جل جلاله ورته معافي وکړي او که چېرته یې په دغه موده کې ښځې ته رجوع ونه کړه، نو دا شخص که اراده د طلاق او د ښځې د جدا کولو لري، نو دلته طلاق د شریعت په حکم سره واقع شو.

لنډه دا چې کله څلورمیاشتې تېرې شوې او خاوند خپلې ښځې ته رجوع ونه کړه، نظر لاندې دلایلو ته طلاق واقع کېږي.

**الف:** په (فَإِنْ فَاءُوا) د (ف) کلمه د تفریع لپاره نه ده، چې په تراخي (وروسته والي) باندې دلالت وکړي، بلکې د تفصیل لپاره ده، لکه په دغه ایت کې (وَنَادَى نُوحٌ رَبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي) کې چې (فَقَالَ) او (وَنَادَى) لپاره د تفصیل دی او بس(سورة هود ایت نمبر ۴۵، پاره ۱۲).

**ب:** د (سَمِيعٌ) معنی دا سې نه ده، چې د طلاق اورېدوونکی دی، بلکې معنی یې داسې ده:

**لومړی:** د وداع او رخصت په وخت کې د مېړه او ښځې خبرې اترې اوري، چې په سپکوو سپورو خبرو سره جدا کېږي او که په انسانیت او شرافت سره.

**دویم:** د ښځې سوال زاری یې هم اوریدلي او قبولې یې کړي چې د لانجې څخه یې خلاصه کړه.

**دریيم:** د انتظار په موده کې یې هم د دواړو خبرې اوریدلي دي، چې کوم یوه د فساد خبرې کړي دي او کوم یوه د خیر او اصلاح.

**څلورم:** د دواړو په منځ کې چې هر چا د شیطانت خبرې کړې وي، هغه یې هم اورېدلي دي او د اصلاح خبرې یې هم اورېدلي دي.

پنځم: څلور میاشتې پخوا چې مېړه د ایلاء کلمات استعمال کړي وو، الله تبارک وتعالی اورېدلي دي، چې د طلاق حکم یې ورکړ بل تازه طلاق ته یې حاجت نه شته.

**ج:** د ایاتونو مقتضی دا ده، چې د ایلاء موده تحدید کړي، ترڅو د جاهلیت د زمانې رواج له منځه یوسي، که طلاق واقع کېدل په قاضي پورې اړه ولري او د څلورو میاشتو څخه وروسته یې بندوبس نیول کېږي، نو د ایلاء موده د تحدید څخه خارجېږي، ځکه چې قاضي به یا موجود نه وي یا به عادل نه وي یا به په حادثه خبر نه وي یا به په نورو فیصلو باندې مشغول وي، یا به ښځه د مطالبې جرأت نه لري او خنډ به موجود وي او یا به د نورو اسبابو له کبله د نوموړې معلقې ښځې فیصله ډېره موده د تعلیق په حالت باندې پاتې شي.

**د:** سربېره پر دغو ټولو وجوهاتو باندې د شان نزول د روایاتو سره همدا خبره ډېره ښه او مناسبه ښکاري، چې د څلورو میاشتو تېرېدو نه شرعاً طلاق وګڼل شي، نه دا چې بیا طلاق ورکړي (۱۳: ج ۱ ص ۵۶۳ - ۵۶۴).

د جمهورو فقهاوو له نظره په مطلق ډول د ایلاء د مودې په پرېدو سره طلاق نه واقع کیږي، بلکې د خاوند له طرفه که چېرته طلاق ورکړل شي او یا هم ښځه نوموړې موضوع قضاء ته د فیصلې لپاره یوسي او قضاء د طلاق ورکولو حکم وکړي بیا طلاق واقع کیږي، لکه پورته مو چې ورته اشاره وکړه.

**جمهور فقهاء دا ایت بیا داسې تفسیروي:** هغه څوک چې په ایلاء کولو سره قسم خوري، نو دوی ته څلور میاشتې وخت دی، که چېرته یې د دغې مودې له پوره کېدلو وروسته خپلې ښځې ته رجوع وکړه، نو الله ج مهربانه او رحیم ذات دی، چې ښښنه ورته وکړي، کوم چې دې خاوند غوښتل، چې په قسم کولو سره ښځې باندې ظلم وکړي او که چېرته خاوند د مودې د تېرېدو څخه وروسته عزم او قصد د دې لري، چې ښځه طلاقه کړي، نو الله ج اورېدوونکی ذات دی، چې دی قصد د طلاق لري او په دې باندې هم پوه ذات دی، چې د خاوند په زړه کې د شر یا د نېکۍ کولو اراده وي، نو الله ج به یې بدله ورکوي.

لنډه دا چې د ایلاء د مودې په تېرېدو سره طلاق نه واقع کیږي، نو دغه فیصله به قاضي کوي، یا به خاوند ته د رجوع کولو حق ورکوي یا هم د طلاق (۷: ج ۹ ص ۷۰۹۱).

دغه راز جمهور فقهاء وايي: چې د دې ایت (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ) څخه معلومیږي، چې د ایلاء موده د څلورو میاشتو څخه زیاته ده (سورة البقره ایت نمبر ۲۲۶، پاره ۲).

**ژباړه:** هغو کسانو لره، چې قسمونه کوي له جماع د ښځو خپلو نه، (مطلقاً یا څلورو میاشتو پورې) انتظار د څلورو میاشتو (۱۱: ج: ۱، ص: ۱۸۱).

نو که یو شخص د خپلې ښځې څخه قسم وکړي، چې تا ته به زه تر څلورو میاشتو نه نږدې کیږم، نو دا شخص ایلاء کوونکی نه ګرځي نظر لاندې دلایلو ته (۱٦: ج ۳ ص ۱۰۸).

**الف:** په (فَإِنْ فَاءُوا) کې د (ف) کلمه د تفریع لپاره ده او په (تَرَبُّصُ) باندې مرتبه ده، نو معلومه شوه، چې هغه رجوع مطلب ده، چې د څلورو میاشتو له تیریدو وروسته وي، نه هغه چې په داخل کې یې وکړي.

**ب:** د (وَإِنْ عَزَمُوا) په جزا کې الله تبارک وتعالی د خپلو صفاتو څخه د (سَمِيعٌ) کلمه استعمال کړې، نو معنی دا شوه که د طلاق عزم یې وکړ او طلاق یې واچاوه، نو الله تبارک وتعالی اوریدوونکی دی، که محض عزم د طلاق معنی ورکولی، نو د (سَمِيعٌ) کلمه ورسره مناسبه نه ښکارېده، په کار وه، چې یوازې په (عَلِيمٌ) باندې یې اکتفاء کړې وی (۱۳: ج ۱ ص ۵٦۳).

## څلورم جز: ایلاء کړی شوې ښځې ته په رجوع کولو کې شرط

په فعل او قول سره ښځې ته رجوع کولو کې شرط دا دی، چې خاوند به ښځې ته مخکې د څلورو میاشتو له تیریدو څخه رجوع کړې وي، که مخکې د څلورومیاشتو د تیریدو څخه یې خپلې ښځې ته رجوع وکړه، نو خاوند په خپل قسم کې حانث کیږي او کفاره به ورکوي او ایلاء ساقطه شوه، دایې خپله ښځه ده او که چیرته یې په څلورو میاشتو کې ښځې ته رجوع ونه کړه، نو ښځه ترې په یو طلاق سره باینه شوه، یعنی به باین صغری طلاق سره طلاقه شوه (۱۹: ج ۳ ص ٦۰).

**پوښتنه:** که چیرې د ښځې او خاوند ترمنځ په رجوع کې اختلاف پیدا شي، نو د چا رایه به معتبره او قابل د قبول وي؟

**ځواب:** که چېرته ښځه او خاوند په رجوع کې سره اختلاف پیداکړي، نو د دې دوه صورتونه دي، چې په یوه صورت کې د سړي او په بل صورت کې د ښځې رایه، قول او وینا ته اعتبار دی او قابل د قبول ده، چې د وضاحت لپاره هر یو جلا جلا ذکر کوو.

**لومړی:**که چېرې د ښځې او خاوند ترمنځ په رجوع کې اختلاف واقع شي په داسې حال کې چې د ایلاء موده پاتې وي لا پوره شوې نه وي، مثلاً خاوند دعوه وکړي، چې ما ښځې ته رجوع کړې ده، خو ښځه منکره وي او وایي چې، رجوع یې راته نه ده کړې، نو په دې صورت کې د خاوند وینا قابل د اعتبار ده، ځکه دلته موده باقې پاتې ده او خاوند ته اوس هم د رجوع کولو حق ثابت دی.

**دویم:** که چېرته ښځه او خاوند دغه اختلاف هغه وخت وکړي، چې د ایلاء موده پای ته رسېدلې وي، نو په دې صورت کې د ښځې وینا د اعتبار وړ ده، ځکه خاوند د رجوع کولو دعوه کوي، په داسې وخت کې چې د رجوع وخت یې تمام شوی دی، نو ظاهراً حالت د دې تقاضا کوي، چې وینا دې د ښځې معتبره شي (۱۷: ج ۳ ص ۱۷۳).

**پنځم جز: د ایلاء په موده کې د طلاق ورکولو حکم**

که چېرته هغه خاوند چې خپلې ښځې سره یې ایلاء ترسره کړې وي او د ایلاء د مودې په مینځ کې یې خپلې ښځې ته د درېو طلاقو څخه کم ورکړي وو، نو ایلاء په خپل حال پاتې ده او که درې طلاقه یې ورکړي وو، نو د ایلاء حکم ساقط شو او ښځه په بدعي طلاق طلاقه شوه.

**شپږم جز: د ایلاء څخه وروسته د عدت حکم**

څلور واړه مذاهب په دې متفق دي، چې د جدایي یعنې د ایلاء د مودې له تېرېدو څخه وروسته به ښځه عدت تېروي او عدت تېرول پرې لازم دي، ځکه دا ښځه د

طلاقې شوې ښځې په حکم کې ده، لکه څنګه چې طلاقې شوې ښځې عدت تېروي، نو دا ښځه به هم عدت تېروي.

جابر بن زید او ابن عباس (رضی الله عنهما) فرمايي: که چېرته د ښځې په دې څلورو مياشتو کې درې حيضه راغلي وو، نو په دې ښځه باندې د عدت تېرول لازمي نه دي، ځکه عدت تېرول د رحم د پاکوالي لپاره دي او دلته رحم د دريو حيضونو په تېرېدو سره پاک شوی دی، نو ضرورت نشته چې عدت تېر کړي.

**دویم مبحث: د ایلاء کفاره**

په دې عنوان کې لاندې دوه موارد څېړو:

**د کفارې پېژندنه**

**د ایلاء کفاره**

**لومړی مطلب: د کفارې پېژندنه**

کفاره په لغت کې پټولو او رېژولو ته وايي او شرعاً د يوې ګناه پټول او ختمول، چې په کوم شي سره کيږي هغې ته کفاره وايي (۲۰: ۲۱۶).

شيخ عوده (رحمة الله عليه) وايي دا هغه جزا ده، چې د ګنا او معصيت د جبيرې په غرض په مجرم باندې وضع شوې ده، کفاره اصلاً يوه نوعه عبادت دی، ځکه چې د مريي ازادولو، د مسکينانو د مړولو او د روژې نيولو څخه عبارت ده، خو که په داسې عمل فرض شوې وي، چې هغه ګناه او معصيت نه ګڼل کيږي، لکه څوک چې د روژې نيولو توان او طاقت نه لري، نو په دې صورت کې بيا خالص عبادت دی، لکه د روژې نيولو پر ځای د مسکينانو مړول او که چېرې په داسې عمل لازمه شوې وه، چې ګناه او معصيت ګڼل کيږي، نو په دې صورت کې بيا خالص جنايي عقوبت

دی، لکه په قتل خطا باندې کفاره، نو هر کله چې کفاره د عبادت او عقوبت دواړو حیثیت لري، نو کېدای شي چې تعبدي جزا یې وبولو (۱۵: ۵۹٦).

نو په همدې اساس شو، چې کفارې مقدرې جزاګانې دي، چې د شارع له خوا یې مقدار تعین او ډولونه یې بیان شوي دي، له همدې کبله کفاره یوازې په هغو مواردو کې لازمېږي، چېرته چې صریح نص پرې راغلی وي (۱۵: ۵۹٦).

هغه کفارې چې په اسلامي شریعت کې د جنایي جزاګانو په حیث ټاکل شوي عبارت دي له: غلام ازادول، د مسکینانو مړول او پوښول (په جامو پټول) او د روژې نیولو څخه (۱۵: ۵۹٦).

**دویم مطلب: د ایلاء کفاره**

که چېرې چا د خپلې ښځې په وړاندې ایلاء وکړه، یعنې د څلورو میاشتو او یا هم له هغې نه زیاته موده یې د الله رب العزت په نوم او یا صفاتو باندې له خپلې ښځې سره د عدم مجامعت قسم وکړ، مخکې له دې چې نوموړې موده بشپړه شي خپلې ښځې ته یې رجوع وکړه، نو یاد شخص د خپل قسم له وجې حانث کېږي او د قسم د ماتولو له وجې پرې کفاره لازمېږي، چې د دې کفارې اداء په درې ډوله شیانو سره کېدای شي، لومړۍ کفاره لس مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکول دي، یا هم لسو مسکینانو ته جامو کول دي، که د دې وس او توان یې نه درلود، نو دویمه کفاره بیا د غلام ازادول دي او که د دې وس او توان یې هم نه وو، نو په درېیمه کټه ګورۍ کې درې روژې نیول دي او ثبوت یې د اقول د الله تبارک وتعالی دی، چې فرمايي: ﴿لا يُؤَاخِذُكُمْ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمْ الأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ

فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ) (سورة المائده ايت نمبر ۸۹، پاره ۷).

**ژباړه:** ای مؤمنانو الله رب العزت تاسو په قسمونو کې په لغوه (قسم) باندې نه نیسي، مګر قسمونو لره مو په خپلو غوټه کولو باندې نیسي، (البته کله چې په غوټه کړی شوې خبره باندې ونه دربېږئ)، نو د دغه (منعقد قسم) کفاره په لسو مسکینانو باندې طعام خوړل دي، د هغو متوسطو څیزونو څخه چې تاسو یې په خپلو فامیلونو باندې خورئ او یا د دوی (لسو مسکینانو) جامه ده او د یوې رقبې (غلام) ازدول دي، نو هر هغه څوک چې (د ذکرو شوو درې کفارو څخه یوه هم) مونده نه کړي (د قدرت لاندې یې رانه شي) نو (د ده کفاره) درې (پیوسته پرله پسې) روژې نیول دي، دا ستاسو د سوګندونو کفاره ده، کله چې تاسو سوګندونه وکړئ او خپل سوګندونه وساتئ (۱۳: ج ۴ ص ٦۳).

**ژباړه:** نیسي تاسې په (په ماتولو) د هغه (عهد) سره چې کله کړي وي تاسې قسمونه (هغه په قصد د زړه سره) نو کفاره د ماتولو د دې (قسم) طعام ورکول دي لسو مسکینانو ته له منځنۍ درجې د هغو خوړو چې طعام ورکوئ تاسې ( په هغه سره ) کورنیو خپلو ته یا جامې ورکول دي لسو مسکینانو ته یا ازادول د یو مریي، نو هرڅوک چې ونه مومي ( له دغې درې واړو کفارو یو هم) نو روژه نیول د درې ورځو دي (۱۱: ج: ۱، ص ٦۹۰-٦۹۱).

د پورته آیت څخه د قسم کفاره په ډاګه معلومېږي، چې په یو د دریو ډوله امورو په ترسره کولو سره اداء کېدای شي، لومړۍ کفاره لس مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکول دي، یا هغوی ته جامې کول دي، که د دې وس او توان یې نه وو، نو دویمه کفاره بیا د غلام ازادول دي او که دا هم نه وي، نو په دریيمه کټه ګورۍ کې درې روژې نیول دي.

**پایله**

د نوموړې موضوع په څېړلو کې لاندې پایلو ته ورسېدم.

۱- ایلاء مصدر دی، له (آلي، یؤلي) څخه اخیستل شوی دی، د قسم کولو په معنی دی (الیة) قسم ته ویل کېږي، دغه راز د (يُؤْلُونَ) کلمه د ایلاء څخه اخیستل شوې ده، چې په لغت کې محض (مطلق) حلف (قسم) ته ویل کېږي، چې څوک یې د خپلې ښځې د جنسي ارتباط څخه د څلورو میاشتو او یا زیاتې مودې لپاره وکړي.

۲- ایلاء د جاهلیت په زمانه کې هم د طلاق د یو ډول په څېر موجوده وه، چې خاوندانو به پرې خپلې ښځې ازارولې، ضرر او تکلیف به یې ورته پرې رساوه، خو الله رب العزت په خپلو بنده ګانو باندې لطف او احسان وکړ او د ایلاء لپاره یې د څلورو میاشتو ټاکلې موده مقرره کړه.

۳- ایلاء د طلاق په څېر په دوه ډوله الفاظو سره ترسره کېدای شي، صریح او کنایه، مګر په کنایي الفاظو کې د ایلاء کوونکي نیت معتبر دی.

۴- د ایلاء د حکم اړوند جمهور فقهاء وایي ایلاء حرامه ده او حنفي فقهاء وایي چې مکروه تحریمي ده او دوه حکمه لري، لومړی اخروي چې ایلاء کوونکی ګناه ګار دی، دویم دنیاوي حکم یې که ایلاء کوونکي په ایلاء وفا وکړه، نو ښځه پرې په بائن طلاق طلاقېږي او که رجوع یې وکړه، نو بیا حانث کېږي او د قسم کفاره به اداء کوي.

۵- رجوع په دوو طریقو سره کولای شي په فعل او قول سره، اما قول سره هغه وخت کولای شي، کله چې په جماع قادر نه وي، د ناتوانایې دوامداره کیدل او د رجوع په وخت کې به ښځه د خاوند په ملکیت کې وي.

۶- د حنفي فقهاؤ له انده هغه وخت رجوع کولای شي، چې د ایلاء څلور میاشتې موده نه وي بشپړه شوې، د جمهورو فقهاؤ له انده د څلورو میاشتو تېرېدو وروسته هم رجوع کولای شي.

۷- د جمهورو فقهاړ له انده که چېرې څلور میاشتې موده تېره شي او بیا هم خاوند رجوع نه کوي، نو ښځه به دغه حُکم قاضي ته سپاري او قاضي په دغه وخت کې دوه صلاحیتونه لري، لومړی دا چې خاوند رجوع کولو ته لیواله کړي، دویم دا چې خاوند واداره کړي، ترڅو ښځې ته طلاق ورکړي، که بیا یې هم د طلاق ورکولو څخه ډډه کوله، نو قاضي د ښځې په غوښتنه کولای شي چې ترمنځ یې د طلاق حکم صادر کړي.

۸- په اتفاق د فقهاؤ ایلاء د څلورو میاشتو څخه په کمه موده کې نه صحیح کیږي.

۹-که چېرې د ښځې او خاوند ترمنځ په رجوع کې اختلاف واقع شو، نو که چېرې د ایلاء موده پاتې وي په دې صورت کې د خاوند قول او وینا ته اعتبار دی او که د ایلاء موده پای ته رسېدلې وي بیا د ښځې وینا او قول ته اعتبار ورکول کیږي.

۱۰- که ایلاء کوونکي خاوند د ایلاء په موده کې خپلې ښځې ته له دریو طلاقونو څخه کم طلاق ورکړي وي، لکه رجعي یا بائن صغری، نو ایلاء په خپل حال پاتې کیږي او که درې طلاقه یې ورکړل، نو بیا ایلاء ساقطه شوه او بدعي طلاق واقع شو.

۱۱- کله چې د ایلاء موده پای ته ورسېږي په اتفاق د فقهاؤ ښځه به عدت تېروي، لکه څنګه چې طلاقې شوې ښځې عدت تېروي، ځکه چې ایلاء کړای شوې ښځه هم د طلاقې شوې ښځې په حکم کې شامله ده.

۱۲- د ایلاء کفاره لسو مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکول یا ورته جامې کول، غلام ازادول او یا هم درې ورځې پرله پسې روژې نیول دي.

۱۳- د افغانستان په مدني قانون کې د ایلاء کړای شوې ښځې د عدت د نفقې پرته د ایلاء اړوند نور احکام شتون نه لري، چې دا په خپله د مدني قانون خلا او نیمګړتیا راڅرګندوي.

**مناقشه**

دا چې د نوموړې موضوع په پای کې زه ځینو پایلو ته رسېدلی یم، نو اوس راځم د نوموړې پایلې مناقشې ته چې په لاندې ډول یې مناقشه کوم:

۱- ایلاء د جاهلیت په زمانه کې د طلاق یو ډول وو پوښتنه دا ده چې په اسلام کې ولې د طلاق د ډولونو څخه ونه شمېرل شوه، بلکې د طلاق یو سبب دی، چې پر اساس یې ښځه طلاقېږي؟

یا په بل عبارت، جزا د ټولنیزو عکس العملونو یو ډول دی، چې د محکمې د قطعي حکم څخه وروسته په مسولو مجرمینو (عاقل، بالغ او مختار) باندې تطبیقیږي. یعنې جزا هېڅکله هم په مجنون، مکره او کوچني باندې نه تطبیقیږي.

الله تبارک وتعالی جزا د ګناه د مخنیوي او توقف، د جاهلو خلکو د ویرولو او هغوی ته د جزا ورکولو لپاره مشروع کړې ده، ترڅو د هغو شیانو څخه چې هغه حرام دي ځان وساتي او هغه کارونه، چې امر پرې شوی هغه په صحیح ډول ترسره کړي، څو مجرمین اصلاح او امن تامین شي (۱۷: ۱۵).

له پورته تعریفونو څخه داسې اخذ کولی شو چې، جزا له هغه عقوبت څخه عبارت ده، چې د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو له احکامو څخه سرغړونکو ته د ټولنې دفاع او ملاتړ، اصلاح او تربیې، پند او عبرت لپاره ټاکل کیږي.

ولې د دې خبرې یادونه باید ضرور وکړو، چې د جزا په اړه په قران کریم او احادیثو کې بحث شوی او جزا په کې ثابته شوې، چې موږ دلته د جزا د لا ښه وضاحت لپاره د قران کریم څخه جلا او د احادیثو څخه جلا د اثبات دلایل ذکر کوو.

په قرآن کریم کې د جزا د ثبوت لپاره ډېر زیات ایتونه ذکر شوي، چې موږ یې دلته څو ایتونه ذکر کوو:

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (قرانکریم، سورة النسأ، آیت شمېره: ۹۳).

**ژباړه:** پاتې شو هغه څوک، چې کوم مؤمن له پوهې او ادراک سره سره ووژني، نو د هغه جزا دوزخ دی، چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي، پر هغه د الله ج غضب او لعنت دی او الله ج د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړی دی ( ۱۸: ۳۰۱).

پورته ایت کریمه د قتل جزا جهنم ښودلې ده، یعنې الله تعالی جل جلاله فرمايي: که چېرې څوک یو مسلمان قصداً ووژني، نو د ده جزا جهنم دی.

له دې ایت څخه ثابته شوه، چې په قرآن کریم کې الله جل جلاله د جزا کلمه (لفظ) ذکر کړی دی، د پورته ایت له مخې د جزا معنی انتقام او بدله ده.

**همدارنګه الله تعالی جل جلاله بل ځای کې فرمايي:** وَ السَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّٰهِ وَ اللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ (قرانکریم، سورة المایده ۳۸ نمبر ایت).

**ژباړه:** د غلا کوونکي سړي او د غلا کوونکې ښځې لاسونه پرې کړئ، دا د هغوی د کړنو خبرداری دی، د الله تعالی له اړخه او الله تعالی غالب دی او حکمت والا دی (۱۸: ۲۱۱-۲۱۲).

په دې ځای کې جزا د مناسبې بدلې په معنی سره راغلې او مناسبه بدله ځکه ده، چې دا عمل په لاس سره کېږي، نو مناسب هم دا ده، چې لاس یې باید پرې شي، لکه چې ابولهب رسول (ص ) ته ډېر ازار رسولی وو، نو ځکه الله تعالی جل جلاله فرمايي: (تَبَّتْ يَدَااَبِيْ لَهَبٍ وَّ تَبّ ) (قرانکریم، سورة لهب، آیت شمېره: ۱).

**همدارنګه الله تعالی په بل ځای کې داسې فرمايي:** إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ (قرانکریم، سورة المایده، ایت شمېره: ۳۳)

**ژباړه:** بېشکه جزا د هغو خلکو کوم چې د الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم سره جنګ او په ځمکه کې د فساد خپرولو کوشش کوي، قتل دې کړی شي يا دې په دار وځړول شي، پرې دې شي د دوی لاسونه او پښې يو د بل خلاف يا دې ويستلی شي دوی له ملک نه، دا د دوی ذلت دی په دنيا کې او په آخرت کې لوی عذاب دی (۱۸: ۵۰۳).

**همدارنګه الله تبارک وتعالی په بل ځای کې فرمايي:** وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَا فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ (قرانکريم، سورة الشوری، ۴۰ نمبر ايت)

**ژباړه:** او د بدۍ بدله هماغه شان بدي ده، نو چا چې عفوه وکړه او ځان يې اصلاح کړ، نو بدل يې پر الله جل جلاله دی، بېشکه چې الله جل جلاله ظالمان نه خوښوي (۷: ۸۷۷).

له پورته ايت کريمه څخه څرګنده شوه، چې جزا د بدلې په معنی سره راغلې ده، په همدې يو ايت کريمه کې په لومړي قدم کې د بدۍ بدله ده، خو وروسته الله تعالی فرمايي، چې د عفوې په صورت کې بيا نېکه بدله الله جل جلاله ورته ورکوي.

لنډ دا چې د جزا کلمه په قران کې بار بار راغلې ده، چې همدغه د جزا او بدلې په نوم د جرايمو لپاره ذکر کېږي.

## دويم مبحث: عفوه

عفوه په لغت کې د سزا پرېښودلو او ښنلو ته وايي (۱۱: ۲۱۳).

**الله تعالی جل جلاله فرمايي:** ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ (قرانکريم، سورة الاعراف، ايت شمېره: ۹۵)

**ژباړه:** بيا موږ لرې کړو په ځای د بدۍ نېکي تر دې چې زياته شي (۱۲:۹۰۷).

په ایت شریف کې د عفوې کلمه ذکر شوې چې د زیاتوالي معنی ورکوي. دارنګه عفوه د درګوزري ( تېرېدینې ) په معنی هم کارول کېږي، لکه: الله (ج ) په قران کریم کې فرمایي: ( فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللَّهَ ...) ( قرانکریم، سورة البقره، ایت شمېره: ۱۰۹).

**ژباړه:** ببښنه کوئ تاسې او تېرېدنه کوئ تر دې چې راتګ وکړي الله تعالی په امر سره ( ۷۳:۱۲).

عفوه د لرې کولو او ختمولو په معنی سره هم راځي، مګر کله چې د جزا په باب کې د عفوې یادونه کېږي، مراد ترې د جزا نه تطبیقول دي، یعنې هرکله چې یو شخص باندې د جزا حکم شوی وي، نو د تطبیق په وخت کې عفوه صورت نیسي، چې پر بنسټ یې جزا یا بلکل ببښل کېږي، یا هم کمېږی او یا په بلې سپکه جزا باندې بدلیږي.

دا چې زما د څېړنې موضوع عفوې پر بنسټ د جرمونو د مجازاتو له منځه وړل دي، نو په لاندې ډول لومړی هغه جرمونه چې عفوه په کې نه صحیح کېږي څېړل شوي، ورپسې هغه جرمونه چې عفوه په کې صحیح کېږي په تفصیل سره څېړل شوی دي.

**لومړی: هغه جرمونه چې عفوه په کې نه صحیح کېږي**

په اسلامي شریعت کې ځینې داسې جرمونه شته، چې قاضي، حاکم یا متضرر نه شي کولی په هغه کې عفوه وکړي لکه د زنا جرم، چې په دې کې اسلامي شریعت دوه ډوله جزاګانې ټاکلي، د هغه چا لپاره چې واده یې نه وي کړی سل دورې دي او د هغه چا لپاره چې واده یې کړی وي رجم (په تېږو باندې تر هغه پورې ویشتل تر څو چې مړ شي)، په نوموړي جرم کې قاضي نه شي کولی چې مجرم معاف کړي او عفوه ورته وکړي، ځکه نوموړی جرم حق الله بلل کېږي او انسان په هغه کې د معاف کولو حق نه لري، ځکه الله تعالی په قران کریم کې فرمایي: (الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا

مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ.(قرانکریم، سورة النور، ایت شمېره:۲)

**ژباړه:** هغه ښځه او سړی چې زنا یې کړي وي، پس ووهی تاسو ای (قاضیانو او حاکمانو) هر یو د دغو دواړو سل دورې ( ۱۲ : ۱۵۸۱).

په ایت شریف کې د حد په جاري کولو باندې امر شوی، همدارنګه په ایت شریف کې الله تعالی وایي چې په دواړو (زنا کارې ښځې او سړي) باندې نرمي مه کوئ، دا ټول په دې دلالت کوي، چې د زنا په حد کې عفوه نه صحیح کېږي .

همدارنګه د قذف په جرم کې هم عفوه نه صحیح کېږي قذف دې ته وایي، چې یو شخص په بل شخص باندې تور ولګوي چې نوموړي زنا کړې او یا فلانی ښځې زنا کړی ده، که چېرې نوموړی شخص دا جرم ثابت نه کړي په دې باندې د قذف حد جاري کېږي، چې (۸۰) دورې به ورکوي، ټولو فقهاء په دې اتفاق کړی، چې په تهمت کې د الله تعالی او بنده دواړو حقونه شته، مګر په دې کې یې اختلاف دی، چې د الله تعالی حق په کې غالب دی او که د بنده حق.

**لومړی وینا:** د شوافعو او احنافو په اند په قذف (تهمت ) کې د الله تعالی او بنده دواړو حقونه شته؛ مګر د بنده حق په کې غالب دی، ځکه عفوه یو جرم دی، چې شخص باندې یې وارد کړي، نو نوموړي شخص چې تهمت یې پرې کړی کولی شي د حق غوښتنه وکړي.

**دویمه وینا:** د احنافو په اند قذف (تهمت) د الله تعالی او بنده دواړو حق دی؛ مګر د الله تعالی حق په کې غالب دی.

**د عمر (رض ) څخه روايت دی او وايي:** کله چې حدود امام ته ورسېږي عفوه په کې نه صحيح کېږي، ځکه د حدود قايمول د سنتو څخه دي .

دارنګه ټول هغه حدونه چې د الله تعالی حق په کې غالب وي تطبيقول يې واجب دي، ځکه د نوموړو حدونو په تطبيقولو کې عام مصلحت وي او فساد پرې دفع کيږي، چې په دې سره د دوی ساتنه کېږي ( ۱۶: ۲۴۹).

**دريمه وينا** : مالکيان د قذف د عفوې باره کې دوه ويناوی لري.

**لومړی** : د قذف (تهمت) حد د انسان حق دی، يعنې د هغه شخص حق دی، چې تهمت پرې شوی وي، دا شخص کولی شي چې معاف يې کړي.

**دويم:** د قذف حد د الله(ج ) حق دی، انسان نه شي کولی چې نوموړی حد معاف کړي.

مالکيان وايي، څو چې امام ته خبر نه وي رسېدلې د انسان حق دی او دا کولی شي چې بښنه وکړي، کله چې امام ته خبر ورسېده نو بيا د الله تعالی حق ګرځي، پر همدې بنسټ امام ته له رسېدو وړاندې مقذوف ببنښه کولی شي، خو کله چې امام ته خبر ورسېده بيا عفو نه شي کولی ځکه د الله تعالی حق وګرځېده.

دارنګه د شرابو څښلو حد که چېرې څوک شراب وڅښي په نوموړي باندې د شرابو حد جاري کېږي؛ ځکه په اسلامي شريعت کې د شرابو څښل جرم دی، ځکه په شرابو سره عقل له منځه ځي مال پرې مصرفېږي، ټولنه کې فساد رامنځته کوي. اسلامي شريعت شراب په مطلق او يقيني ډول سره حرام کړي، ځکه په دې سره مال او عقل له منځه ځي، څرنګه چې د شرابو په جرم کې تېری کوونکی او متضرر دواړه يو کس وي، دارنګه په شرابو سره په انسان کې د الله تعالی حکمت چې يوازې د الله

تعالی بندګي کول دي له منځه ځي، له همدې امله انسان یې ازاد نه دی پرېښی، چې څه یې خوښه شي هغه دې وکړي؛ بلکې جزا یې ورته ټاکلې اګر که په ځان باندې ظلم کوي.

له دې امله نه د شرابو جرم یوه ټاکل شوې جزا لري او نه یې حاکم او قاضي عفوه کولی شي، نه یې تطبیق موقوف کولی شي او نه په کې اساني راوړلی شي( ۲۱: ۵۵).

د غلا په جرم کې هم عفوه نشته، د غلا په حد کې نه غلا ته کتل کیږي او نه غلا شوي شي ته کتل کیږي، بلکې هغو اثارو ته کتل کیږي، چې په ټولنه کې د غلا له امله رامنځته شوي دي او په ټولنه باندې یې څومره بده اغېزه کړې ده، امن یې خراب کړی، د خلکو په نفسونو او مالونو کې وېره رامنځته کړې، د ټولنې امنیت یې له منځه وړی، نو له دې امله نه د غلا حد د الله تعالی حق دی؛ ځکه ټولنې ته یې زیان رسولی دی، که چېرې د غلا بل اړخ ته وګورو، چې د شخص مال یې غلا کړی په کوم چې د انسان ژوند روان وي او د انسان حق ګڼل کیږي، پر همدې بنسټ ځینې علماء وايي، چې د غلا په جرم کې حد تطبیقیږي او ځینې علماء وايي د غلا په جرم کې جزا نه تطبیقیږي، خو غوره خبره په کې دا ده که چېرې محکمې ته خبر نه وه رسېدلې عفوه په کې کېدلی شي هغه کس چې غلا ترې شوې ده محکمې ته دې نه وړاندې کیږي.

بل د هغه جرمونو له جملې څخه چې په عام ډول په کې عفوه نه صحیح کیږي د حرابت جرم دی، څرنګه چې حرابت د امت په دننه کې یو ډول حمله کول دي، ځکه جنګ کوونکي هغه کسان دي، چې د ټولنې امنیت خرابوي او وژني یې د خلکو عزت لوټوي او په ښکاره ډول سره د ولسمشر مخالفت کوي، چې دې کسانو ته د الله تعالی او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) محارب یا جنګي ویل کیږي.

له همدې امله نه جنګي جرم د الله تعالی له حقونو څخه ګڼل شوی او دې کار لپاره یې سختې جزاګانې ټاکلې دي لکه وژل، په دار کول، غوڅول او له هېواد څخه شړل، د حرابت جرم دوه حالته لري، که چېرې هغو کسانو چې دولت سره جنګ کوي قدرت یې نه لاره عفوه ورته کولی شي؛ مګر په هغه صورت کې چې قدرت یې لاره او مشخص ځای یې لاره بیا ورته عفوه کول روا نه دي.

د بغاوت جرم کې هم عفوه نه صحیح کېږي، ځکه بغاوت د دولت په وړاندې راوتل او د دولت ضد فعالیتونو کول دي، څېړونکي دا خبره ذکر کوي، چې د بغاوت جرم جزا د باغي وژنه ده، ځکه د بغاوت په جرم کې د امام د اطاعت څخه وتل دي، همدارنګه په دې باندې زیات فسادونه رامنځته کېږي، وینه بهېږي، د مسلمانانو عزت له منځه ځي، امن په جنګ بدلېږي، سره د دې چې په امن کې د ټولنې ژوند نغښتی دی، پر دې بنسټ ویلی شو که باغیانو ډله لرله بیا به باغي وژل کېږي او که ډله یې نه لرله نه به وژل کېږي، یعنې عفوه به ورته کېږي.

هغه څوک چې د اسلام مبارک دین پرېږدي او بل دین قبول کړي مرتد نومول کېږي، که چېرې د مرتد خبر حاکم ته ورسېږي او دا د مرتد کېدو څخه توبه وباسي نوموړی نه وژل کېږي او وینه تویول یې حرام دي، موږه ویلی شو، چې کله مرتد توبه وویسته جزا یې ورته معاف شوه، چې هغه وژنه ده ځکه الله تعالی فرمایي: (**قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ**) (قرانکریم، سورة الانفال، ایت شمېره: ۳۸).

**ژباړه:** ووایه (ای محمده) هغو کسانو ته چې کافران شوي دي،که واوړي، نو وبه بښلی شي دوی ته هغه بدي، چې په تحقیق سره پخوا تېری شوی وو (۱۲ : ۱۰۱۲).

اسلام مبارک دين هغه کس ته چې د اسلام څخه ووځي درې ورځې مهلت ورکوي، تر څو په اسلام کې راپيدا شوي شبهات ختم او اسلام ته راوګرځي؛ خو که چېرې په دې وخت کې مسلمان نه شو بيا ورته عفوه نه کېږي، بلکې وژل کېږي به.

په لنډ ډول ويلی شو، په محکمه کې حاکم يا قاضي نه شي کولی، چې د زنا، د قذف، د غلا ، شرابو څښلو، بغاوت، حرابت او د مرتد کېدلو جرمونه په دې جرمونو کې عفوه نه صحيح کېږي؛ ځکه نوموړي جرمونه حقوق الله بلل کېږي او په حقوق الله کې عفوه نه صحيح کېږي.

**دويم:** هغه جرمونه چې محکمې ته له تلو وړاندې په کې عفوه صحيح کېږي:

ټول هغه جرمونه چې وړاندې مو يادونه وکړه يا په بل عبارت د حدودو په جرمونو کې په هغه صورت کې عفوه صحيح کېږي، چې محکمې ته خبره نه وي رسېدلې؛ مګر د حرابت، بغاوت، د ردت او د زنا په جرمونو کې که محکمې ته خبره رسېدلې وي او که نه وي عفوه نه صحيح کېږي، ځکه نوموړي جرمونه په ټولنه کې فساد رامنځته کوي، عامو خلکو ته ضرر رسوي او د خلکو ذهنونو ته بې کاره فکرونه اچوي پر دې بنسټ په نوموړو جرمونو کې عفوه نه صحيح کېږي، مګر د غلا په جرم کې، د شرابو په جرم کې، د تهمت په جرم کې او په تعزيري جرمونو کې په هغه صورت کې عفوه صحيح کېږي، چې محکمې ته خبره نه وي رسيدلې.

د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) څخه روايت دی فرمايي: تعافوا الحدود فيما بينکم فما بلغني من حد فقد وجب ( ١٠: ١٣٧).

**نبي کريم ( ص) فرمايي:** تاسې په خپلو منځونو کې حدونه يو بل ته وبښئ، هر يو حد چې ماته راورسېده تطبيقول يې لازم شو.

**همدارنګه د أبي حازم څخه روایت دی او وایي:** علی (رض ) د یو غل شفاعت وکړ چا ورته وویل، ته د غل شفاعت کوې؟ هغه وویل، هو څو چې امام ته خبر نه وي رسېدلی زه دا کار کوم، کله چې امام ته خبر ورسېږي که عفوه ورته هم وکړي الله تعالی یې ورته نه بښي( ۳: ۴۶۱).

له دی حدیثونو څخه معلومېږي، چې د غلا په حد کې، څو چې امام ته خبر نه وي رسېدلی شفاعت کول یې روا دي، خو کله چې امام ته خبر ورسېده بیا شفاعت کول روا نه دي.

دریيم: هغه جرمونه چې عفوه په کې صحیح کېږي: هغه جرمونه چې عفوه په کې صحیح کیږي د تعزیري جرمونو څخه عبارت دي د فقهاؤ په اتفاق سره د تعزیري جرم څخه عفوه کول روا دي، چې لاندې دلایل یې ذکر کړي دي:

**۱ ـ الله (ج ) فرمایي:** (مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِنْهَا) (قرانکریم، سورة النسا، ایت شمېره: ۸۵).

**۲ ـ د ابي موسی الأشعري (رض ) څخه روایت دی وایي:** کله به چې رسول الله (ص ) ته راغی، یا به یې د کومې اړتیا غوښتنه ترې وکړه وبه یې ویل، تاسې شفاعت وکړئ تاسې ته به اجر درکولی شي، الله تعالی د خپل نبي په خوله باندې هغه فیصله کوي، چې خوښه یې شي (۴ : ۲۰۲۶).

په تعزیري جرمونو کې د عفوې په روا والي باندې زیات شمېر احادیث شته، له همدې وجې نه فقهاؤ ویلي دي چې په تعزیري جرمونو کې عفو شته دی. ځینې علماء وایي چې په مطلق ډول په تعزیري جرمونو کې عفوه روا ده؛ مګر ډېری فقهاؤ په کې قید وضع کړی دی .

**لومړۍ وینا**: امام شافعي (رح ) وایي، کله چې تعزیري جرم د الله تعالی حق وي په امام باندې یې تطبیقول لازم نه دي، بلکې د امام خوښه ده که خوښه یې وه جزا دې ورکړي او که خوښه یې نه وه جزا دې نه ورکوي، که چېرې تعزیري جرم د بنده حق پورې اړه لرله، نو د نوموړي شخص پورې تړلې ده.

**دویمه وینا**: د جمهور علماء (احناف، مالکیان او حنابله) وایي، که چېرې امام د جزا په تطبیقولو کې ګټه او مصلحت وګوري په امام باندې په تعزیري جرم کې جزا تطبیقول واجب دي، که چېرې امام په دې باندې پوه شي، چې مجرم یوازې د جزا پر بنسټ اصلاح کېږي، کولی شي چې جزا ورکړي او که چېرې امام په دې باندې پوه شي، چې مجرم له جزا پرته اصلاح کېږي د جزا تطبیقولو ته اړتیا نشته (۲۳ : ۲۱۳).

نو دې پایلې ته رسېږو، چې غوره وینا د جمهورو علماو ده، ځکه دلایل یې قوي دي، د لومړي قول د دلایلو یې جوابونه کړي دي، همدارنګه د دوی وینا د شریعت له روح سره برابره ده.

## تبصره: تعزیري جزا څخه د عفوې اصول

دا ښکاره خبره ده، چې عفوه په تعزیري جزاګانو کې مقیده ده مطلق نه ده، له دې امله د تعزیري جزا په باره کې داسې ویل کېږي چې :

۱ـ په تعزیري جزاګانوکې عفوه په هغه ډول سره مقیده نه ده په کوم ډول سره، چې په حدود کې مقیده ده، په تعریزي جزاګانو کې که قاضي ته د جرم څخه خبر رسېدلی وي او که خبر ورته نه وي رسېدلی؛ بلکې قاضي به د شریعت عامو ګټو ته ګوري.

۲- تعزیري جرمونه د مجرم د حالاتو د ظروفو، د هغه د شان پر بنسټ رامنځته کېږي، نو اولوالامر ته چې څه مناسب وي، د هماغې غوښتنه کوي عفوه وي او که جزا.

هغه عفوه چې د ولي څخه صادریږي باید د اجتهاد وروسته وي، په دې معنی، چې په قاضي باندې واجب دي، چې د مجرم حال او هغه وخت ته وګوري، چې جرم یې په کې ترسره کړی دی، ځکه د جرم پر بنسټ چې کوم فسادونه رامنځته کیږي د سختوالي او اسانوالي، د کموالي او زیاتوالي په اعتبار سره تفاوت لري.

**علماو په هغه حقونو کې اختلاف کړی چې عفوه په کې روا کیږي**

**الف:** احناف وایي، تعزیري جزا تطبیق واجب دی، چې قاضي به یې ټاکي او پرېښودل یې روا نه دي؛ مګر په هغه صورت کې چې مجرم د جزا د تطبیقولو وړاندې ځان منعه کړي.

**ب:** مالکیان وایي، تعزیر لازمي شی دی او د الله تعالی حق دی هیڅوک نه شي کولی، چې عفوه یې کړي، مګر په هغه صورت کې چې مجرم توبه وباسي، که چېرې د بندګانو حق و کولی شي چې عفوه وکړي (۲۴ : ۶۰۳) .

**ج:** شافعیانو مذهب په دې برخه کې لاندې دوه قوله لري.

لومړی: قاضي کولی شي چې د الله تعالی په حقونو کې جزا تطبیق نه کړي، مګر د بنده په حقونو کې عفوه نه شي کولی، که چېرې انسان وغواړي چې جزا تطبیق شي قاضي به یې تطبیقوي.

دویم: قاضي کولی شي چې تعزیري جزا پلی کړي یا ترې عفوه وکړي، هغه که د الله تعالی حق وي او که د بنده حق وي .

**د:** احناف وایي، که قاضي په عفوه کې مصلحت وګوري عفوه کولی شي.

د امام مالک (رح ) څخه پوښتنه وشوه، چې امام ته د جرم خبر رسېدو وروسته شفاعت کول ګټور دي هغه وویل، امام دې وګوري که سړی پاک لمنی او نېک وو

عفوه دې وکړي او که چېرې په ضرر او سرکشۍ باندې مشهور وو جزا دې پرې تطبیق کړي.

په قانون کې د دې لپاره چې د عفوې څخه غلطه استفاده ونه شي د تعزیري جزاګانو لپاره یې جزا ټاکلې ده، څکه په شریعت کې داسې هم ذکر کیږي، چې قاضي ته کله د جرم خبر ورسیږي بیا عفوه کول یې روا نه دي؛ مګر په قانون کې که قاضي ته خبر رسېدلی هم وي په ټاکلو وختونو کې په کې عفو کولی شي. په قانون کې د جرم لپاره جزا ټاکل شوې د مثال په ډول د فلاني جرم جزا د درې کلونو څخه پورته تر شپږو کلونو پورې ده. د جرم د پېښېدو په صورت کې به قاضي په پېښه کې فکر کوي که چېرې انګېزه د جرم شریفه وه په اسانه جزا باندې به فیصله کوي او که چېرې د جرم انګېزه دني او بې کاره وه قاضي به په شدیده جزا باندې حکم کوي، دارنګه د جزا په ټاکلو کې به د مجرم حالت، وضعیت، اقتصاد، د جرم د ترسره کولو ډول، د جرم د ترسره کولو وخت ټولو کې فکر کوي او په جزا باندې به حکم صادروي (۲۳ : ۲۱۲-۲۱۳).

## څلورم مبحث: عفوې د قبلېدو دلایل

څرنګه چې د عفوې پر بنسټ مجازات له منځه ځي او یا یې هم اندازه کمېږي، نو اوس دلته پوښتنه پیدا کیږي، چې نوموړې عفوه د کومو دلایلو پر بنسټ قبوله شوې ده؟ چې په لاندې ډول یې دلایل ذکر شوي دي:

### ۱- د جزاګانو د شدت د کمولو له پلوه

لکه څرنګه چې پوهېږو قوانین د یوې اوږدې مودې لپاره وضع کیږي او هر وخت ژر- ژر تعویض او یا هم تعدیل کېدای نه شي، خو دا امکان لري چې د یو جرم په اړه د ټولنې عمومي نظر ورو- ورو بدلون ومومي او په هغه وخت کې جزا د شدت پلوې نه وي، پر دې ډول حالاتو کې تر هغه وخته، چې جزایي قوانینو کې د تعویض

او یاد تعدیل موضوع مطرح کېږي، نو عفوه د دې جزا د کمولو لپاره یوه تر ټولو ښه وسیله ده.

**۲- د قضایې تېروتنو د له منځه وړلو له پلوه**

سره له دې چې نن ورځ د محاکمو د دقیق والي له پلوه د محکمو پرېکړې درې پړاویزې دي او له بلې خوا دا پرېکړې د یو تن قاضي له خوا نه صادرېږي، بلکې د قاضیانو د یوې ډلې لخوا صادرېږي، چې انسانان دي او معمولاً انسانان له تېروتنې سره مخ دي او د قانون له مخې د قطعیت څخه وروسته د محاکمو پرېکړې که د تېروتنې درلودونکې هم وي پلی کېږي. پر هم دې اساس په دې ډول حالاتو کې هم عفوه د قضایي تېروتنو د له منځه وړلو لپاره یوه ښه او غیري مستقیمه وسیله ده.

**۳- ګډوډۍ د مخنیوی او د ټولنې عمومي ګټو او مصلحتونو د تامین له پلوه**

کله کله کېدای شي، د ځینو کسانو په ځانګړي ډول د سیاسي څېرو لکه د سیاسي حزبونو د مشرانو او داسې نورو مجازاتول په ټولنه کې د کړکېچ اوګډوډۍ د رامنځته کېدو لامل وګرځي، مګر له بلې خوا د محکمو قطعي پرېکړې هم واجب التعمیل دي، په دې ډول حالاتو کې هم عفوه په ټولنه کې د ګډوډۍ مخنیوي او د ټولنې عمومي ګټو او مصلحتونو د تأمین لپاره یوه ښه قانوني لاره او وسیله ده (٦: ۱۱۸-۱۱۹).

**۴- نېک سلوک ته د هڅونې له پلوه**

دا چې عفوه معمولاً له قید او شرط پرته نه ترسره کېږي، بلکې په هغې کې یو لړ شرطونه په پام کې نیول کېږي، چې په ډېری هېوادونو کې یو له دې شرطونو څخه د شخص ښه سلوک او چلند دی، چې له دې پلوه په حقیقت کې عفوې ته د مجرمانو هیله په حقیقت کې ښه سلوک او اخلاقو لورې ته د هڅونې سبب ګرځي.

**پایله**

د دې لیکنې له پای ته رسېدو وروسته دې پایلې ته رسېدم چې:

۱- عفوه په لغت کې د سزا پرېښودلو او بښنې ته وايي او په اصطلاح کې عفوه د با صلاحيته مرجع له لورې د جرم او يا هم جزا له منځه تللو ته ويل کيږي.

۲- د اسلامی شريعت پر بنسټ په حدودو کې په هغه صورت کې، چې محکمې ته ورسيږي عفوه نه کيږي، په قصاص کې هم د متضرر پرته قاضی نه شي کولی، چې عفوه يې کړي، خو په تعزيراتو کې قاضي ته واک ورکړل شوی، چې عفوه يې کړي او يا هم ورته کمه يا زياته جزا وټاکي.

۳- د عفوې د قبلېدو لپاره خپل دلايل شتون لري( جزاګانو د شدت کمول، د قضايي تېروتنو له منځه وړل، په ټولنه کې د ګډوډۍ له منځه وړل اوداسې نور) چې پر بنسټ يې خصوصي عفوه قوانينو قبوله کړې او د تطبيق وړ ده.

۴- عفوه يوازې د مجازاتو په له منځه وړلو، کمولو او تغيرلو کې اغېز لري، نور په مجرم تبعي او تکميلي جزاګانو او همدارنګه د مجرم په ماضي باندې هيڅ اغېز نه لري.

**مناقشه**

په اسلامي شريعت کې عفوه قبوله شوې په حدودو کې عفوه هغه وخت جاري کيږي، چې محکمې ته محول شوې نه وي او همدرانګه په تعزيري جرمونو کې د عفوې کولو صلاحيت يې د وخت حاکم ته ورکړی، د وخت حاکم کولی شي، د جرمونو د عفوې کولو لپاره ځانګړي شرايط وضع او جزاګانې يا سمدستې او يا هم د وخت په تېرېدو سره عفوه کړي.

د عفوې په اړه باندې ډېرې لیکنې شوي او مختلفې لیکنې مختلفې پایلو ته رسېدلې دي، چې زما د څېړنې پایلې د هغوی د څېړنو د پایلو سره توپیر لري، چې د مثال په ډول یو څو یې ذکر کوم.

پوهانددوکتور حفیظ الله دانش په جزایي محاکماتو اصولو کتاب کې عفوه د جزایي دعوې د سقوط په مواردو کې یو مورد ذکر کړی او د عفوې د قبلېدو دلایل یې ذکر کړي دي، د عفوې ټول بحث یې د افغانستان قوانینو له نظره کړی او عفوه یې په دوه ډوله وېشلې، یو هغه عفوه چې د رئیس جمهور له لورې صورت نیسي او بله هغه عفوه چې د پارلمان له لورې صورت نیسي. دا چې اوس وخت کې نوموړي قوانین ملغأ دي، نو ما پخپله څېړنه کې دعفوې په اسلامی شریعت کې څېړلې او هغه جرمونه مې موندلي، چې عفوه په کې صورت نه نیسي.

دا چې د څېړنې د ترسراوی په وخت کې د عفوې په اړه نافذه قوانینو شتون نه درلود او په پخوانینو قوانینو استناد څېړونکي له لورې نه شو کېدای د څېړنې ستونزه وه، اسلامی امارت ته مو وړاندیز هم همدا دی، چې نوموړې برخې ته متوجې شې او قوانین په ټولو برخو کې وضع کړي، تر څو راتلوونکو څېړونکو ته لار هواره او په اسانۍ سره وکولی شي، څېړنې ترسره کړي.

**پایله اخیستنه**

عفوه یوه قانوني وسیله ده، چې د جرمونو د کنټرول او د ټولنې د سوکالۍ لپاره کارول کیږي، خو اړتیا لري، چې په احتیاط او د عدالت په چوکاټ کې وکارول شي. عفوه د جزا په کمولو او همدرانګه د ټولنې په نېکو اعمالو کې مثبت اغېز لري، چې پر بنسټ یې مجرمین نېکو اعمالو اجرأ ته هڅول کیږي.

## وړاندیزونه

د نوموړې موضوع په پای کې لاندې وړاندیزونه کوم:

۱- دولت ته مې وړاندیز دا دی چې هغه کسان چې د عفوې شرایط یې پوره کړي وي، نو ژر تر ژره دې عفوې لاندې راولي، ترڅو د محبس د جانبي عوارضو څخه په امن کې پاتې شي.

۲- عدلې او قضایي ارګانونو ته مې وړاندیز دا دی، چې هغه کسان چې د اصلاح او پښیمانتیا نښې په کې لیدل کیږي، هڅه دې وکړي، چې د محبس د محیط څخه یې لرې وساتي او د دولت رئیس ته یې د عفوې وړاندیزونه وشي.

۳- راتلوونکو څېړونکو ته مې وړاندیز دا دی، چې د نوموړې موضوع هغه اړخونه چې ما نه دي څېړلي او یا هم نه یم توانېدلی، چې ویې څېړم، لکه عفوې د تطبیق ځرنګوالی، د عفوې ګټې او زیانونه وڅېړي، څو له یوې خوا د خلکو د پوهې کچه لوړه او له بلې خوا ټولنې سره همکاري ترسره شوې اوسي.

## ماخذونه

۱ـ ابراهیم بن فهد بن ابراهیم الودعان.( ۱۴۲۳ق ). العفو عن العقوبة واثره فی الشریعة والقانون.

۲- ابن منظور،محمد بن مکرم بن علی.(جاپ کال :۱۴۱۴هـ). لسان العرب،دویم جلد، بیروت: صادر خپرندویه ټولنه.

۳- ابي شیبه، عبد الله بن محمد بن أبي شیبه،سنن ابن ابی شیبة،ج ٦، دارالفکر خپرندویه ټولنه.

۴- بخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيره.(۱۴۲۲هـ ق).صحيح البخاري،ج ۴، طوق النجاة خپرندويه ټولنه.

۵- جانباز، سرفراز، ټکی په ټکی او روانه ترجمه، طبع مطبعه طباعتي وصنعتي احمد.

٦- جزايي اجراآتو قانون. (۱۳۹۳). عدليې وزارت، مسلسله شمېره (۱۱۳۳)

۷- خليل، جرح .(۱۳٦۳). قاموس لاروش تهران: ناشر سوپر چاپخانه.

۸- دانش، حفيظ الله. (۱۳۹۸). جزايي محاکماتو اصول، دويم ټوک، کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

۹- ديکشنري آنلاين اباديس، https://dictionary.abadis.ir

۱۰- سجستاني، ابوداود سليمان بن الاشعث،سنن أبي داود،بيروت، مکتبه العصرية خپرندويه ټولنه،ج۳.

۱۱- سعدي، ابوحبيب. (۱۹۸۸م). القاموس الفقهي، لومړی ټوک، دمشق: دارالفکر خپرندويه ټولنه.

۱۲- عثماني، شبير احمد او ابوالحسن ديوبندی.(۱۴۱۴). کابلی تفسير، لومړی ټوک، مدينه منوره: شاه فهد چاپ خانه.

۱۳- عماد الدين ابن کثير. (۱۹۹۸). تفسير ابن کثير، دويم ټوک، بيروت، لبنان: ناشرتاج کتب خانه.

۱۴- عوده، عبدالقادر. (۱٤۰۵هـ ق). تشريح الجنايي اسلامي مقارن القانون الوضعی، بيروت، لبنان: دارالاحيا التراث العربي څلورمه طبعه.

۱۵-کابل پوهنتون دحقوقواو سياسی علومو پوهنځی (۱۳۸۷) دحقوقی اصطلاحاتو قاموس ،چاپونکی اداره ،USAID))

١٦- الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد.(١٩٨٦م). بدائع الصنائع ،دويم چاپ، نهم ټوک، الكتب العلمية خپرندويه ټولنه.

١٧- محمد بن سعد الشيراز الغامدي. (١٤١٣هـ ق). عقوبت الاعدام، اول جلد.

١٨- محمد شفيع، تفسير معارف القرآن پښتو/ تاليف، مولينا مفتى محمد شفيع صاحب عليه رحمةالله مفتى اعظم .(١٣٨۴ ه ش).پاکستان: پيښور، تاج کتب خانه محله جنګي قصه خوانى ٢ جلد، زيب ارټ پپلشرز.

١٩- معجب العقيبي، حقوق الجاني بعد صدور الحكم فى الشريعة الاسلامية.

٢٠- واثق، احمدګل .( هـ ش ١٣٩٣). د اسلام جزايي حقوق. دوهم چاپ،ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

٢١- ودعان، ابراهيم بن فهد بن ابراهيم. (٢٠٠٢م). العفو عن العقوبة وأثره فى الشريعة والقانون،الرياض،ماسترې تېزس.

٢٢- يسرأنور على.(١٩٨٨م). شرح قانون العقوباتدويم ټوک، لومړى چاپ، مصر: دار الثقافة خپرندويه ټولنه.

٢٣- قويدر، العشبي.(٢٠١٣م). الموازنة بين العقوبة والعفو،الجزائر، ماسترې تېزس.

٢۴- الزُّحَيْلِيّ، دكتور وهْبَة.(١۴٠٩هـ). الفقه الاسلامي وادلته، دريم چاپ ، اووم ټوک، دمشق دار الفكر.

**ولي‌الله حنفي**

حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، القتوی د لوړو زده‌کړو مؤسسه

تقریظ ورکوونکی: پوهنوال منګل شېرزاد

## د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره د محاکمو صلاحیتونه

**لنډیز**

محکمې د خصومتونو د حل فصل لپاره ځانګړي واکونه او اختیارات لري، دا واکونه یا هم د شریعت د حدودو په چوکاټ کې وي او یا هم د قوانینو له لورې تفوض کېږي، دا څېړنه د محکمو صلاحیتونه د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره په مقارنوي ډول تر بحث لاندې نیسي.

یوې قضیې ته د رسیده ګی لپاره د واکمنې محکمې ټاکل خورا اړین دي، تر په دې پوه شو، چې کومه محکمه یوې قضیې ته د رسیده ګی لپاره صلاحیت لري، نو په حوزوي او موضوعي لحاظ د یوې قضیې لپاره د واکمنې یا صلاحیت لرونکې محکمې پېژندنه په خپل ذات کې خورا اهمیت لري.

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د هرې محکمې د صلاحیت حوزه معلومه او واکمنه محکمه وپېژندل شي، څو قضیو ته پر وخت رسیده ګي صورت ونیسي، اجراآت د قانون مطابق ترسره او عدالت په احسن شکل تامین شي.

دا یوه کتابتوني څېړنه ده، چې معلومات مې په کې د معتبرو او معتمدو سرچینو څخه راټول کړي دي، د معاصرو علمي بحثونو، اصولو او تګلارو څخه مې استفاده کړې ده.

په اسلامي شریعت کې د قاضي محدود صلاحیتونه نه دي ټاکل شوي او د قاضي د صلاحیتونو د تحدید دنده په خلیفه پورې تړلې ده. خلیفه د مسلمانانو د مصالحو په پام کې نیولو سره د مسلمان قاضي صلاحیتونه تحدیدوي، همدا شان د افغانستان پخوانیو قوانینو محکمو ته د حوزوي، موضوعي او تفویضي صلاحیتونو تر عنوان لاندې ځانګړې واکونه ورکړي، چې د همدغه واکونو او صلاحیتونو په رڼا کې کولای شي، دعوې او خصومتونه حل وفصل کړي د دې تر څنګ د اسلامي امارت د محکمو لایحې د محکمو د صلاحیتونو په برخه کې د اسلامي شریعت څخه پیروي کړې ده.

**کلیدي کلمې:** تفویضي صلاحیت، حوزوي صلایت، صلایحت، محکمه او موضوعي صلاحیت

## سریزه

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد!

له کله نه، چې پر مخ د ځمکې انسان خلق شوی او د نورو انسانانو سره یې اړیکې ایجاد شوي دي، نو ور سره سم لانجې او خصومتونه رامنځته شوي، د همدې خصومتونو د حل و فصل لپاره د انساني تاریخ په بېلابېلو دورو کې محاکم ایجاد او صلاحیتونه ورکړل شوي دي.

په اسلامي شریعت کې د قاضي صلاحیتونو لپاره حدود نه دي ټاکل شوي او د قاضي د صلاحیتونو تحدید دنده د خلیفه پورې تړلې ده، خلیفه یا ولي الامر د مسلمانانو د مصالحو په پام کې نیولو سره د مسلمان قاضي صلاحیتونه ټاکي په ابتدا کې د قاضیانو صلاحیتونه ډېر کم و، خو د زماني په تېرېدو سره یې د صلاحیتونو لمن پراخه شوه، فقهاوو د قاضي مسولیت د معیار او د خلکو دعوو په لیدلو د عام تقلید

او خاص تقلید اصطلاح کارولې ده، کله چې خلیفه په یو اقلیم کې د خلکو د عام قضاوت او د دوی دعوو له منځه وړلو لپاره قاضي وټاکي، چې په مدني او جزایي دعوو کې هر وخت قضاوت وکړي، وروسته د قضا تقلید د دې قاضي لپاره په دې ډول حالاتو کې عام تقلید دی، مګر په هغه صورت کې، چې خلیفه یو قاضي د زمان او مکان له اړخه په معینو قیوداتو او یا د عواګانو د ډولونو په لحاظ او یا هم د خصوم د ډول په اساس وټاکي، نو په دې صورت کې د قضا تقلید د دې ډول قاضي لپاره خاص تقلید دی. هغه تقلید، چې پر هغې باندې د قاضي تقلید خاص شوی دی هغه دی، چې فقهاوو په عرف کې په (تخصیص المحکمه) باندې معروف دی او دا چې د قاضي پر دنده باندې قیدونه متنوع قیدونه دي، نو د محکمې په تخصیص باندې خاص تقلید بل شی دی، هغه ډېر ډولونه لري، چې په خپل ځای کې به تر بحث لاندې ونیول شي.

د افغانستان قوانینو بیا د محکمو لپاره ځانګړي صلاحیتونه ټاکلي دي، د قوت د درجې له نظره تر ټولو لوړه او با صلاحیته محکمه ستره محکمه ده، چې د هېواد د ټولو محکمو په سر کې قرار لري، ورپسې د ولایتونو استیناف محاکم دي، چې په دویمه درجه کې لوړ صلاحیتونه لري او بیا د ناحیو او لسوالیو ابتدایي محکمې دي، همدا شان د صلاحیتونو وېش یې په حوزوي، موضوعي او تفویضي لحاظ سره هم شوی دی.

دا موضوع چې "د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره د محاکمو صلاحیتونه" تر عنوان لاندې ترتیب شوېده د محکمو صلاحیتونه په کې د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره په پرتلیز ډول څېړل شوي دي او دا په کې روښانه شوې چې محاکم په اسلامي شریعت کې څه ډول صلاحیتونه لري او د افغانستان

قوانینو محکمو ته څه ډول صلاحیتونه ورکړي دي، د دغې واکونو / صلاحیتونو ترمنځ کوم ورته والی او توپیرونه شتون لري.

## څېړنیزه ستونزه

د اسلامي شریعت او افغانستان قوانینو له مخې د محاکمو د صلاحیتونو ترمنځ ټکر او یوه لویه ستونزه، همدې کار په افغانستان کې دعوې ته د رسیده ګۍ په برخه کې ځنډ رامنځته کړی او له هم دې امله دعوې ته د رسیده ګۍ لپاره د واکمنې محکمې ټاکل ستونزمن دي، په دې څېړنه کې د محکمو صلاحیتونه د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره تر بحث لاندې نیول شوي دي او کوشش شوی دی، چې د محکمو صلاحیتونه په څرګند ډول روښانه شي.

## د موضوع اهمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې له یوې خوا به د اسلامي شریعت او له بلې خوا به د افغانستان د قوانینو له نظره د محکمو صلاحیتونه تر بحث لاندې ونیول شوي دي، د دې صلاحیتونو ترمنځ ورته‌والی او توپیرونه روښانه شوي.

دغه علمي مقاله د حقوقو او سیاسي علومو او شرعیاتو پوهنځیو محصلینو، فارغانو، قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو او حقوقي مساعدینو ترڅنګ د لوستو اشخاصو لپاره هم مهمه ګڼل کېږي؛ ځکه چې مسلکي کسان عملاً په همدې ساحه کې په کاري لحاظ دخیل دي، نو باید د شریعت او قوانینو له مخې د محکمو په صلاحیتونو پوه اوسي.

دا څېړنه د حقوقي علومو څانګې لپاره هم مهمه ګڼل کېږي، ځکه چې د حقوقو ساحه په ځانګړې توګه د محکمو په برخه کې به د صلاحیتونو موضوع په دقیق

شکل روښانه شي او په دې برخه کې شته اندېښنې به له منځه لاړې شي او هم به په دې برخه کې ګټور، باوري او معتمد معلومات اضافه شي.

د دې مقالې په بشپړېدو سره د محکمو د صلاحیتونو په برخه کې شته ټکر او تصادم روښانه شوی او یوې دعوې ته د رسیده ګۍ په برخه کې د واکمنې محکمې تشخیص بېخي اسانه او ساده شوی، څو د ټولنې د یو لوی اکثریت خلکو چې منازعات یې تر بررسۍ لاندې په ګټه تمام شي.

## د څېړنې موخې

دغه علمي مقاله، چې د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره د محاکمو صلاحیتونو تر عنوان لاندې لیکل شوې ده، مهمې او اساسي موخې یې په لاندې ډول دي:

۱- د محکمو په اړه معلومات ترلاسه کول.

۲- په اسلامي شریعیت کې د محکمو صلاحیتونو روښانه کول.

۳- د افغانستان د قوانینو له نظره د محکمو صلاحیتونو روښانه کول.

۴- د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره د محکمو صلاحیتونو مشابهتونو او توپیرونو روښانه کول.

## د څېړنې پوښتنې

د دې څېړنې په په ترسره کولو سره لاندې پوښتنو ته واضح، مشخص او دقیق ځوابونه تر لاسه شوي.

۱- محکمه څه ته ویل کیږي؟

۲- په اسلامي شریعت کې محکمې کوم صلاحیتونه لري؟

۳- د افغانستان پخوانیو قوانینو کې محکمو ته څه ډول صلاحیتونه ورکول شوي دي؟

۴- د محكمو د صلاحيتونو په اړه د اسلامي امارت تګلاره څه ده؟

۴- په اسلامي شريعت، اسلامي امارت او افغانستان قوانينو كې د محكمو د صلاحيتونو ترمنځ كوم مشابهتونه او توپيرونه شتون لري؟

**پخوانيو ليكنو ته منطقي كتنه**

په " د اسلامي شريعت او افغانستان قوانينو له نظره د محاكمو صلاحيتونه " علمي مقاله باندې كوم مستقل كتاب او يا مقاله نه ده ليكل شوې، البته بايد يادونه وكړو، چې د محكمو صلاحيتونو باندې ځينې كتابونه او مقالو كې بحث شوى دى چې څو يې دلته د نمونې په توګه ذكر كوو، لكه پوهاند دكتور محمد مصطفى نيازي اسلام قضايي نظام، عبدالكريم زيدان په اسلامي شريعت كې د محكمې نظام، دارنګه د احمد ګل واثق دراني د خصوصي بين المللي حقوقو كتاب، د پوهاند شمس اسلام شمس صافي د مدني محاكماتو اصول، د ۱۳۹۳ كال د قضايه قوې د واک او تشكيل قانون، د اسلامي امارت د محكمو لايحه، د عدلي محكمو د اجراآتو اصولنامه، د عدلي محكمو اداري اصولنامه او داسې نورو كتابونو كې د محكمو د صلاحيتونو په هكله جزوي بحث شوى دى، اما هغه څه، چې ما په دې څېړنه كې پرې بحث كړى، په دغه كتابونو كې پرې بحث نه دى شوى، په دې ليكنه كې مو كوشش كړى چې د محكمو صلاحيتونه د اسلامي شريعت او د افغانستان قوانينو له نظره په تفصيل سره د څېړنې لاندې ونيسو، چې دا له نورو څېړنو سره د دې څېړنې يوه متمايزه نقطه ده، همدا شان د ميتود له پلوه هم د نورو او د دې څېړنې ترمنځ توپير شتون لري، په دې اساس له دې څېړنې څخه د ترسره شوو څېړنو بر خلاف يوه متفاوته پايله لاسه ته راغلې.

## د څېړنې تګلاره

دا چې هره څېړنه د یوې ځانګړې تګلارې څخه په استفادې ترسره کېږي، نو پر همدې بنسټ ما دا څېړنه د کتابتوني میتود څخه استفاده ترسره کړې ده، د معلوماتو په راټولو، تحلیل او تجزیه کې مې له خورا زیات دقت نه کار اخیستی، ټوله اتکاء مې په معتبرو او معتمدو معلوماتو باندې کړې ده، د ماخذونو په برخه کې د (APA) سیستم څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې حدود

محکمه یو پراخه بحث دی؛ مګر دا څېړنه چې " د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره د محاکمو صلاحیتونه " تر عنوان لاندې تر سره شوې، یوازې د محکمو صلاحیتونو ته ځانګړې شوې ده، په دې څېړنه کې د محکمو صلاحیتونه د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره تر بحث لاندې نیول شوي دي، د دې ترڅنګ پایله، نتیجګیري، وړاندیزونه او ماخذونه هم په وروستۍ برخه کې ځای پر ځای شوي دي.

## د محکمې پېژندنه

مخکې له دې چې د محکمو صلاحیتونو باندې بحث وکړو، نو لازمه ده له هر څه وړاندې محکمه وپېژنو، نو دلته محکمه په لغوي او اصطلاحي توګه په لنډ ډول پېژنو.

## لومړی مبحث: د محکمې پېژندنه

د محکمې د لا ښه معرفت لپاره په دوو جلا مطلبونو کې یعنې د محکمې لغوي او د محکمې اصطلاحي معنی کې تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی مطلب: د محکمې لغوي پېژندنه**

محکمه یوه عربي کلمه ده په فارسي کې هم ورته یـاد لفـظ کـارول کېـږي، چـې پـه مختلفو معناوو باندې راغلې ده، د عدالت غوښتلو ځای، همـدا شـان، هغـه مشـخص ځای ته، چې د قضایه قوې لخوا دعوو ته د رسېدنې لپاره ټاکل شـوی وي، محکمـه بلل کېږي، د دې ترځنګ محکمه د حکم او د معاینې کولو ځای ته هم ویل کېږي، نو ویلای شو چې محکمه په لغت کې په متعددو معناوو راغلې، چې دلته په همـدې پورته ذکر شوو معناوو باندې بسنه کوو.

**دویم مطلب: د محکمې اصطلاحي پېژندنه**

په اصطلاح کې هم د محکمې لپاره ګڼ شمېر تعریفونه شوي دي، د بېلګې پـه توګـه دلته يې څو د نمونې په بڼه ذکر کوو، محکمه د قیضو د څېړنې او د حکم صـادرولو قانوني مرجع ده (۱۱: ۴ماده).

د اسلامي امارت د ۱۴۳۵ هـ. ق د عدلي حقوقي محکمو د اجراآتو اصـولنامه کـې د محکمې په اړه داسې صراحت شتون لري: ((د قضاء اساسي ارکان چې یوه محکمـه جوړوي په لاندې ډول دي:

**الف:** قاضي هغه څوک دی چې حکم کوي.

**ب:** محکوم هغه څوک دی چې د هغه په ګټه حکم شوی وي.

**ج:** محکوم علیه هغه څوک دی، چې د هغه په خلاف حکم صادر شوی وي.

**د:** محکوم به هغه شی دی، چې د حکم موضوع وي.

**هـ:** حکم د قاضي قضاوت دی)) (۱۶: ۱ماده).

د ذکر شوې اصولنامې د لومړۍ مادې څخه ویلـی شـو، چـې محکمـه د ارکـانو یـوه مجموعه ده، چې پورته ذکر شوي موارد په مجموعي توګه محکمه تشکیلوي.

**د محکمو صلاحیتونه**

مخکې له دې، چې د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره د محاکمو په صلاحیتونو باندې وغږېږو لومړی باید صلاحیت وپېژنو، چې صلاحیت څه ته وایي او محکمې کوم ډول صلاحیتونه لري، د اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو له نظره محاکم کوم ډول صلاحیتونه لري، چې په خپل ځای کې به په تفصیل سره بیان شي.

**دویم مبحث: د صلاحیت پېژندنه**

د دې لپاره، چې د صلاحیت په مفهوم باندې ښه پوه شو، نو په لومړي مطلب کې به د صلاحیت لغوي معنی او په دویم مطلب کې به د صلاحیت اصطلاحي مانا باندې په تفصیل سره بحث وکړو.

**لومړی مطلب: د صلاحیت لغوي پېژندنه**

صلاحیت چې یوه عربي کلمه ده او په پښتو کې یې تعبیر په واک سره کېږي، په لغت کې په ډېرو معناوو سره راځي لکه د وړتیا، لیاقت، صالح والی، اهلیت او نورو معناگانوسره هم راځي، دا رنگه صلاحیت د شایسته گی په معنی هم راځي او شایسته گي د یو کار کولو او ترسره کولو وړتیا ته وایي، لکه چې موږ وایو فلان د دې کار وړتیا لري، یا فلان د دې کار کار اهل دی، دا معنی چې د دې کار لایق او وړ دی(۳: ۳۰۰ ).

**دویم مطلب: د صلاحیت اصطلاحي پېژندنه**

حقوق پوهانو د صلاحیت لپاره بېلابېل اصطلاحي تعریفونه کړي، چې دلته یې ځینې د نمونې په توگه ذکر کوو:

صلاحیت عبارت له هغه واک څخه دی، چې محکمه یې یوې قضیې تـه د رسېدنې لپاره له ځان سره لري یا صلاحیت اطلاق په هغه اختیاراتو باندې کېږي، چې دولـت یې په افرادو، اموالو او واقعو باندې اعمالوي (۴:۴).

ځیني وایي صلاحیت یو اختیار دی، چې محکمو ته د منازعاتو د حل او فصل لپاره ورکړل شوی دی (۵: ۸۷).

د صلاحیت لپاره یو تعریف ایـراني حقـوق پوهـانو هـم کـړی دی، چې صـلاحیت د دولت له هغه حاکمیت څخه عبـارت دی، چې د قوانینـو تصـویب نـامو او محکمـو د احکامو په وسیله باندې د شخص پـه حقوقـو تـاثیر لـري، مگـر زمـا پـه انـد صـلاحیت عبارت له هغه توانایي څخه دی، چې اشخاصو یا بنسټونو ته د چارو د اجراء په منظـور د قانون د حکمونو په حدودو کې سپارل کېږي، چـې قضـایي صـلاحیت هـم پـه کـې شامل دی، هغه صلاحیت چې قضایي مراجعو ته د دعوو د حل او فصل لپـاره ورکـول کېږي، څو موضوعات وڅېړي او د قانون په رڼا کې پرې حکم وکړي (۴: ۵).

## درېیم مبحث: په اسلامي شریعت کې د محاکمو صلاحیتونه

په اسلامي شریعت کې د قاضي محدود صلاحیتونه نه دي ټاکل شوي او د قـاضي د صلاحیتونو د محدودولو دنده د خلیفه پورې تړلې ده؛ خلیفه یا ولي الامر د مسلمانانو د مصالحو په پام کې نیولو سره د مسلمان قاضي صلاحیتونه محدودوي په ابتدا کې د قاضیانو صلاحیتونه ډېر کم و، خو د زمانې په تېرېدو سره یې د صلاحیت لمن پراخـه شوه (۲: ۵۷).

فقهاوو د قاضي د مسولیت معیار او د خلکو دعوو په لیدلو د عام تقلید او خاص تقلیـد اصطلاح کارولې ده، کله چې خلیفه په یو اقلیم کې د خلکو د عـام قضـاوت او د دوی دعوو له منځه وړلو لپاره قاضي تعین کـړي، چـې پـه مـدني او جزایـي دعـوو کـې هـر

وخت قضاوت وکړي وروسته د قضا تقلید، د دې قاضي لپاره په دې ډول حالاتو کې عام تقلید دی، مګر په هغه صورت کې چې خلیفه یو قاضي د زمان او مکان له اړخه په معینو قیوداتو او یا دعوو د ډولونو په لحاظ او یا هم د خصوم د ډول په اساس تعین کړي، نو په دې صورت کې د قضاء تقلید د دې ډول قاضي لپاره خاص تقلید دی، هغه تقلید چې پر هغې باندې د قاضي تقلید خاص شوی دی هغه دی، چې فقهاوو په عرف کې په (تخصیص قضاء) باندې معروف دی او دا چې د قاضي پر دنده باندې قیدونه متنوع قیدونه دي؛ نو د قضاء په تخصیص باندې خاص تقلید بل شی دی، چې ډېر ډولونه لري، دلته یې په ترتیب سره تر بحث لاندې نیسو (۱۲: ۲۷).

## لومړی مطلب: د مکان له پلوه د محکمې تخصیص

له دې ډول څخه موخه د قاضي د صلاحیت محدودول دي، تر ټاکلي ځای پورې، چې له دې ټاکلي ځای څخه بېرون قاضي ولایت مالک نه شي کېدای، د مثال په ډول که چېرته د قاضي د قضاوت لپاره یوازې د بغداد د کرخ سیمه کې مقرر شي، نو د هغه قضایي ولایت بلې ساحې ته نه اوږدېږي (۲: ۵۷).

هغه څه چې دلته د لیدلو وړ دي هغه دا دي، چې د مساحت په لحاظ د ځای پراخوالی یا تنګوالی د مکان له حیثه د تخصیص المحکمه په صحت کې کټور نه دی، حتی که چیرې قاضي د کرخ په سیمه کې د یو معین ځای لپاره تعین شي دا ډول تقید صحیح دی، ځکه قضا لکه څنګه چې وویل شول هم عامه ده او هم خاصه ده، نو د تخصیص لپاره کوم حد نشته (۲: ۵۷).

## دویم مطلب: د زمان له مخې د قضاء تخصیص

د وخت له پلوه د قضاء تخصیص څخه هدف په مشخصو ورځو یا زماني نقطې پورې د قضاء د چارو خاص کول دي، د بېلګې په توګه د ننګرهار ولایت لپاره یو

قاضي وټاکل شي د یاد قاضي لپاره دا جواز لري، چې قضاء د وخت له مخې تخصیص کړي یعني دغه قاضي د اوونۍ شپږ ورځې په دا ډول تقسیم کړي، چې شنبه، یکشنبه او دوشنبې په ورځو کې به د ننګرهار ولایت د ښاریانو خصومتونه حل او فصل کوي او د اوونۍ په پاې ورځو کې لکه سه شنبه، چهار شنبه او پنجشنبه کې به د ننګرهار ولایت د ولسوالیو خلکو قضیو ته رسیده ګي کوي، چې له دې زاویې د قاضي صلاحیت تر وخت پورې مقید دی او دا چاره په اسلامي شریعت کې جواز لري (۲: ۵۷).

## درېیم مطلب: د اشخاصو له پلوه د قضاء تخصیص

له دې څخه موخه د قاضي د دندې مقید کول تر یوې مشخصې او ځانګړې ډلې پورې ده، مثال په توګه چې قاضي د هغه کسانو د قضاوت لپاره وټاکل شي کوم چې په بغداد کې استوګن دي او یا د هغه کسانو په قضایاو کې قضاوت وکړي کوم، چې په بغداد کې پېښېږي، نو په دې ډول حالاتو کې د قاضي صلاحیت نورو برخو او قضیو ته نه غزېږي او که چېرې له دې څخه بېرون کومه فیصله وکړي حکم یې نه نافذېږي (۲: ۵۷).

## څلورم مطلب: د خصومتونو له پلوه د قضاء تخصیص

دا تخصیص ډېر ډولونه لري کله کله د قاضي مسولیت له مدني تر جزایي قضیو پورې مقید کېږي او کله هم تر جنایي قضیو پورې پرته له نورو مقید کېږي، لکه قتل یا دا چې د مدني قضیو تر یو ډول پورې مقید کېږي، لکه د ځمکې تر دعوو پورې مقید یا د قرض یا یوازې تر شخصي احوالو پورې مقیدېږي یا هم د شخصي مسایلو تر یو ډول پورې مقید کېږي، لکه نکاح او طلاق او همدارنګه عوو په هغه ډول

پورې مقید وي چې قیمت یې له معین مبلغ څخه زیات نه وي لکه زر او همدارنګه تر هغې زیات یا هم کم(۲، ۵۸).

**پنځم مطلب: د ټاکلي خصومت له پلوه د قضاء تخصیص**

جواز لري، چې د قاضي دنده یا مسولیت تر یو معین خصوم یا هم تر یو معین خصومت پورې منحصر وي، نو د قاضي لپاره جواز نه لري، چې له دې خصومت پرته په نورو کې قضاوت او فیصلې وکړي د قاضي ولایت او مسولیت تر هغه پورې، چې د هغه په اطراف کې اختلاف پاتې وي قایم دی کله، چې قاضي خپل حکم صادر کړي، نو د هغه عهده پای ته رسېږي حتی تر دې پورې که چېرې د دې دعوې د اړخونو ترمنځ کوم بل خصومت منځته راشي د قاضي لپاره جواز نه لر ي، چې نوی خصومت د نوي آمر او نوي ولایت له اجازې پرته فیصله کړي (۲: ۵۸).

**شپږم: د مرور زمان له پلوه د قضاء تخصیص**

ځینې وخت قضاء د وخت په تېردلو سره تخصیص کېږي په دې معنی، چې خلیفه د قاضي مسولیت او ولایت په مدعي به باندې د وخت د نه تېرېدلو به برخه کې مقید کړی، نو قاضي په تېرو شوو قضیو او دعوو د مسولیت مالک نه دی کوم، چې خلیفه له لورې ورته وخت کې محدود شوی دی (۲: ۵۸).

د دې قید علت یا جواز والی دا دی، چې د وخت تېرېدلو په اعتبار سره دی کوم، چې د حق د پوره لاسته راوړلو لپاره قرینه ده او یا هم د مدعي به د حق په نه شتون باندې قرینه ده؛ ځکه د دې وخت په جریان کې یې غوښتنه نه ده کړې، نو په دې اساس هغو فقهاو، چې د عثماني خلافت په دولت کې موجود و د هغه دعوې په اړه چې (۱۵) کاله ورباندې تېر شوي وي د سلطان کړنې یې د قضاوت په نه کولو کې نقل کړې دي (۲: ۵۸).

## څلورم مبحث: د افغانستان په قوانینو کې د محکمو صلاحیتونه

د افغانستان په قوانینو کې د محکمو صلاحیتونه په درې ډوله وېشل شوي دي، حوزوي صلاحیت، موضوعي صلاحیت او تفویضي صلاحیت، چې په دې مطلب کې به درې واړه واکونه په تفصیل سره د بحث لاندې ونیسو.

### لومړی مطلب: د محکمې حوزوي واک یا صلاحیت

محکمو ته حوزوي واک په قضیو کې نظم راوستلو لامل ګرځي او زیات شمېر اسانتیاوې رامنځته کوي، نو هر کله چې د حوزوي واک موضوع مطرح شي، نو باید معلومه شي، چې کومه محکمه موضوع ته د رسېدنې صلاحیت لري، د واک تشکیل ډېری وخت په ابتدایه محکمو کې زیات مطرح کېږي؛ ځکه د هر ولایت په ولسوالیو کې ابتدایه محکمې وجود لري، په افغانستان کې، هره محکمه خپله موضوعي او حوزوي صلاحیتونه لري. د محکمو حوزوي صلاحیت د ولسوالۍ، ولایت یا حوزې په سطحه د محکمې له واک څخه عبارت دی، چې په یوه جعرافیوي محدوده کې یې لري (٦: ٢٨٩).

یا په بل عبارت حوزوي صلاحیت هغې محدودې او قلمرو ته ویل کېږي، چې محکمه په هغې کې دعوو ته عام او تام صلاحیت لري (٧: ١٣١).

همدا شان حوزوي واک د محکمې هغه صلاحیت دی، چې د هغې په وسیله محکمه یوه ټاکلې محدوده کې ټولو اړونده دعوو ته د رسیده ګۍ صلاحیت لري (٧: ١٣٢).

د پورته تعریفونو په نظر کې نیولو سره کولای شو د محکمو حوزوي واک لپاره داسې یو نسبتاً جامع تعریف، چې ټول فروعات او جزیات په ځان کې راونغاړي په دې ډول وکړو.

د محکمو حوزوي واک عبارت له هغه واک څخه دی، چې يوه محکمه يې په خپله اړنده قضايي ساحه کې ټولو هغو قضيو ته د رسيده ګئ او څېړنې په برخه کې لري، چې قانون د هغې په قضايي حوزه کې شاملې کړې وي او دا يې د دغې محکمې مسوليت، دنده او مکلفيت ګڼلی وي.

د بېلګې په توګه د يو جرم يا يوه مدني قضيه د ننګرهار ولايت د سرخ رود ولسوالۍ د قلمرو په داخل کې منځته راځي، نو په دغه وخت کې دغسې يوې موضوع ته، چې د سرخ رود ولسوالۍ قضايي حوزې پورې تړلې ده، نو دلته د حوزوي واک پر بنسټ د سرخ رود ولسوالۍ ابتدايه محکمه واکمنه محکمه ده او اړوند قضيې ته رسيده ګي کوي، څو د دې قضيې هر اړخيزه څېړنه وکړي او په اړه يې حکم هم صادر کړي، نو په دغه صورت کې د ننګرهار ولايت بله ولسوالي مثلا بهسود ولسوالي ابتدايه محکمه دا حق نه لري، چې دغې قضيې ته د سرخ رود ولسوالۍ په مربوطاتو کې منځته راغلې رسيده ګي وکړي، نو دلته يوازينۍ با صلاحيته محکمه، چې پيښې ته د رسيده ګئ صلاحيت لري هغه د سرخ رود ولسوالۍ ده، نو دغه ډول واک يا صلاحيت ته د محکمو حوزوي صلاحيت ويل کيږي.

د افغانستان د اسلامي امارت د ۱۴۳۵ هـ، ق د عدلي محکمو اداري اصولنامې، د عدلي حقوقي محکمو اجراآتو اصولنامې او د محکمو د لايحې له مخې د قضايه قوې په صلاحيت کې په ټولو هغه دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقيقي يا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي او مدعي عليه په حيث د قانون د حکمونو سره سم د محکمې پر وړاندې اقامه شي او هم هيڅ قانون نه شي کولی په هيڅ حال کې چې کومه قضيه يا ساحه په څه ډول چې په پورته اصولنامو او لايحې کې تحديد شوې ده د قضايه قوې څخه وباسي. د عدلي محکمو اداري اصولنامې د

پنځمې مادې مطابق د قضايه قوې په واک کې د هغه ټولو دعوو څېړنه شامله ده، چې دوی ته وړاندې کېږي، په دې اړه د يادې اصولنامې پنځمه ماده داسې صراحت لري: «عدلي محکمې هغه دعوې، چې دوی ته رسېږي د صلاحيت لرلو په شرط حل و فصل کوي (۱۶: ۵ ماده).

اما د پخواني نظام د ۱۳۹۲ کال د قضايه قوې د تشکيل او واک قانون اتمه ماده کې نوموړې موضوع ته په دې شکل اشاره کړې ده: «قضايه قوې په واک کې د ټولو هغو دعوو څېړل شامل دي، چې د دولت په شمول د حقيقي يا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي يا د مدعي عليه په توګه د قانون د حکمونو مطابق د محکمې پر وړاندې اقامه کېږي (۱۱: ۸ ماده).

**تبصره:** د اسلامي امارت د عدلي محکمې اداري اصولنامې او د پخواني نظام د ۱۳۹۲ کال د قضايه قوې د تشکيل او واک قانون له مخې داسې څرګندېږي چې دواړه قوانين د دعوو حل و فصل د محکمو صلاحيت بولي له محکمو پرته بل هيڅ ارګان دعوو ته د رسيده ګۍ صلاحي نه لري، نو ويلای شو، چې دعوو ته د رسيده‌ګۍ په برخه کې د ۱۳۹۲ کال د قضايه قوې د تشکيل او واک قانون د اسلامي امارت د ۱۴۳۵ هـ ق کال د عدلي محکمو د اداري اصولنامې متابعت او پيروي کړې ده.

همدا شان د عدلي محکمو د اداري اصولنامې د (۱۱) مادې له مخې جزايي دعوه د پېښې په محل او حقوقي دعوه د مدعي عليه د استوګنې په محل کې حل و فصل کېږي، که چېرې مدعي عليه د استوکنې څو ځايونه ولري د ده پر خلاف مدني دعوه په هغه محکمه کې څېړل کېږي، چې مدعي عليه د استدعا په وخت کې د هغې په قضايي حوزه کې استوګنه لري.

د پخواني نظام د ۱۳۶۹ کال د مدني محاکماتو د اصولو قانون (۸۱) ماده د حوزوي واک په هکله داسې صراحت لري:

۱. مدني دعوې د مدعي علیه د استوګنې په سیمه کې یوې خواته کېږي.

۲. که مدعي علیه د استوګنې څو ځایونه ولري، د ده پر خلاف مدني دعوه په هغه محکمه کې څېړل کېږي، چې مدعي علیه د استدعا په وخت کې د هغې په قضایي حوزه کې استوګنه ولري» (۹: ۸۱).

دا راز د مذکوره قانون درېیمه ماده په دې هلکه داسې صراحت لري: «په هغه صورت کې چې مېړوښه ښځه مدعي علیه وي، د دعوې څېړل د هغې مېړه د استوګنې د سیمې د محکمې واک کې دي» (۹: ۸۱).

**تبصره:** نو ویلا شو، چې د ۱۳۶۹ کال مدني محاکماتو اصول قانون پوره یو فصل چې د دغه قانون دویم فصل دی د نهه اویایمې مادې څخه نیولې تر سلمې مادې پورې د مدني قضیو د څېړنې واک ته ځانګړی شوی دی په دې اساس د ۱۳۹۲ کال د قضایه قوې د تشکیل او واک قانون او د ۱۳۶۹ کال د مدني محاکماتو اصولو قانون په څرګند ډول د محکمو د حوزي واک په اړه احکام ذکر کړي دي؛ مګر د اسلامي امارت د عدلي محکمې اداري اصولنامې او د عدلي حقوقي محکمو د اجراآتو اصولنامه کې په څرګند ډول د محکمو د حوزوي واک په اړه صراحت نشته اما د یادو اصولنامو له احکامو داسې استنتاط کېدای شي، چې په محل پورې د قضاء تخصیص د محکمو د حوزوي واک سره مترادف دی، نو په دې اساس ویلای شو، چې د محکمو د حوزوي واک په اړه د پخوانیو قوانینو او اسلامي امارت د اصولنامو ترمنځ کوم د اختلاف ټکی نشته .

## دویم مطلب: د محکمې موضوعي صلاحیت

د دې لپاره چې د شخړې اړخونو او په قضیه کې ګډونوالو په خپلو حقوقو او وجایبو باندې ښه پوهه ترلاسه کړې وي او په قضایي غونډه کې یو عادلانه چلند ترسره شوی وي، نو محکمه د قضیو په څېړلو کې د واک د بنسټ او مبدا له مخې د شخړو حل و فصل کولو واک او سرچینه ده، نو لکه څرنګه مو، چې د محکمې د حوزوي واک څخه مخکې یادونه وکړه، نو په دې برخه کې به د محکمو د موضوعي واک یا صلاحیت څخه هم یادونه وکړو (۸: ۱۱۳).

لکه څرنګه چې پوهېږو د تعدد موضوعات ډېر زیات دي او یوازې یوه محکمه یا یو دیوان ټولو موضوعاتو ته له یوې خوا رسیده ګي نه شي کولی او له بلې خوا د قضاتو لپاره هم دا ډېره سخته ده، چې ټولو موضوعاتو باندې حاکمیت ولري او که احیانا داسې وشي، چې ټول موضوعات یوې محکمې ته محول شي، نو په داسې شکل به یوې محکمې له خوا ټولو موضوعاتو ته رسیده ګي ناممکنه وي او که ممکن هم وي، نو له کړاو، سختۍ او معطل به خالي هم نه وي، نو په همدې خاطر چې قضیو ته په خپل وخت رسیده ګي وشي، نو محکمو کې مختلف دیوانونه رامنځته شوي دي، چې هر دیوان ته موضوعي صلاحیتونه ورکول شوي دي، نو د هرې موضوع لپاره د جلا دیوان ټاکل دا معنی لري، چې هر دیوان جلاجلا موضوعاتو ته رسیده ګي وکړي همدغه اصل ته په کتو د محکمو دغه ډول موضوعي وېش ته د محکمو موضوعي واک او صلاحیت ویل کېږي. د محکمې حوزوي واک عبارت له هغه واک څخه دی، چې محکمه د هغو موضوعاتو د څېړنې او رسیده ګۍ صلاحیت ولري کوم چې د هغې په موخه د قانون پیشبینۍ له مخې جوړه شوې ده او یا دا چې

د يوې قضيې د څېړلو صلاحيت ورته د قانون پر بنسټ تفويض او سپارل شوی دی (۸: ۱۱۳).

يا په بل عبارت د محكمو موضوعي صلاحيت هغه صلاحيت ته ويل كېږي، چې د هغې پر اساس يوې خاصې موضوع ته د رسيده ګۍ صلاحيت لري (۷: ۱۲۲).

د بېلګې په توګه ابتدايه محكمه تجارتي، مدني، جزايي او نورو موضوعاتو ته د رسيده ګۍ صلاحيت لري، خو په مركز كې تجارتي ابتدايه محكمه بيا يوازې تجارتي موضوعاتو ته رسيده ګي او واک لري. دا چې جزا ديوان يوازې جزايي او جنايي موضوعاتو ته د رسيده ګۍ واک او صلاحيت لري او بس دغه ديوان نه شي كولای، چې مدني منازعات حل و فصل كړي او دارنګه اطفالو او ښځو تخلفاتو ته د رسيده ګۍ ديوان نه شي كولی، چې تجارتي موضوعات حل و فصل كړي يا مدني ديوان نه شي كولی چې جنايي موضوعات حل و فصل كړي، نو هرې موضوع لپاره ځانګړی ديوان په نظر كې نيول شوی، څو كارونه منظم او سهولت رامنځته شي، نو دغه ډول واک او صلاحيت ته د محكمو موضوعي واک او صلاحيت ويل كېږي.

**دريیم مطلب: د محكمو تفويضي صلاحيت**

تفويضي صلاحيت د محكمو د حوزوي صلاحيت او موضوعي صلاحيت د قاعدې خلاف دی، د سترې محكمې عالي شورا صلاحيت لري، چې بر خلاف د محكمو موضوعي او حوزوي صلاحيت، پېښې او قضيې له يوې محكمې څخه بلې محكمې ته تبديل كړي، چې دغه تفويضي صلاحيتونه اكثره وخت د امنيتي اوضاع او يا نورو قانوني معاذيرو له كبله ستره محكمه د يوې محكمې د واک څخه د يوې موضوع څېړنه بلې محكمې ته د څېړنې په غرض حواله كوي (۱۷: ۵۷ ماده).

د اسلامي امارت د محکمو د لايحې ۵۷ مادې لـه مخـې د تميـز رياسـت صـلاحيت لري، چې يوې محکمې څخه بلې محکمې تـه د دعـوې صـلاحيت تفـويض کـړي، ذکر شوې ماده داسې صراحت لـري: ((لـه يـو محکمـې څخـه بلـې محکمـې تـه د دعوې د صلاحيت تبديل هم له تميز سره دی)) (۱۷: ۵۷ ماده).

په دې اساس ويلای شو، چې د اسلامي امارت د محکمو لايحې تفويضي صلاحيت ته اشاره کړې ده او دا يې د سترې محکمې له صلاحيتونو څخه ګڼلی دی.

## څلورم مطلب: په موضوعي او حوزوي واکونو کې استثنات

د دې يادونه اړينه ده، چـې د موضـوعي او حـوزوي واک ترڅنـګ ځينـو اسـتثنايي حالاتو کې د شخړو د بررسۍ او رسيده ګۍ په اړه محـاکم واکونـه لـري د بېلګـې پـه توګه د بندي مېړه پر خلاف د بند په سبب د تفريق دعـوې د څېړنـو واک د قـانون د حکمونو سره سم د مېړه د بند ځای د محکې له واک څخه دی (۶: ۳۱).

او هم په هغه صورت کې د مېړوښې ښځې مدعي عليه د دعوې څېړل د هغې د مېړه د استوګنځي د سيمې د محکمې په واک کې دي، همدارنګـه پـه هغـه صـورت کـې چې نجلۍ د واده سن ته رسېدلې يا د محکمـې پـه واک کـې ده همدارنګـه پـه هغـه صورت کې چې نجلۍ د واده سن ته رسېدلې يا د مدعي عليه بشپړه حقـوقي اهليـت څخه برخمن وي د دعوې څېړل د ده د پلار او يا د هغو شرعي محارمو د استوګنځي د محکمې له واک څخه دی، د هغې د اعاشې او پالنې متکفل وي. پـه دې ډول کـه مدعي عليه د مدعي د استوګنې په سيمه کې کم تر کمه يو کال اوسېدلی وي واکمنه محکمه د مدعي د استوګنځي محکمه ده (۶: ۳۲).

په هغه صورت کې، چـې د يـوې ټـاکلې قـانوني معـاملې د سرتـه رسـولو لپـاره کـوم استوګنځی غوره کېږي له معاملې څخه د را پيدا شوې دعوې د څېړلـو لپـاره واکمنـه

محکمه د غوره شوي استوګنځي محکمه ده او د وېش یا ترکې د دعواو څېړل د هغه ښاري ناحیوي، ولسوالۍ د محکمې واک او صلاحیت څخه دی، چې د وېش یا ترکې ورېد هغه په حوزه کې قرار ولري. که چېرته د نکاح دعوې د څېړلو په وخت کې د مدعي علیه د استوګنځي په باب توپیر رامنځته شي محکمه د مدعی علیها د استوکنځي د ټاکلو په باب د دواړه خواو د ښځګنو په نظر کې نیول سره لازم تجویز نیسي (٦: ٣٢).

**پنځم مبحث: د درې ګونو محکمو صلاحیتونه**

دا چې مخکې مو د محکمو د درې ګونو صلاحیتونو (حوزوي، موضوعي او تفویضي) څخه یادونه وکړه دلته په دې بحث کې د درې ګونو محکمو له صلاحیتونو څخه بحث کوو، چې درې ګوني محاکم کوم ډول صلاحیتونه لري؟

د افغانستان قضایي سیستم د درې ګونو محکمو (ابتدایه محکمه، استیناف محکمه او سترې محکمې) څخه ترکیب شوی، چې په دې اړه د اسلامي امارت د عدلي حقوقي محکمو د اجراآتو اصولنامې ۱۸۳ ماده داسې صراحت لري: «افغانستان نظر اسلامي اصولو ته، چې قضا د تخصیص، تقیید او تجزیې قابلیت په محل، زمانه، حادثه او موضوع پورې لري، د حقوقي او جزایي دعوو د حل و فصل لپاره یې درې مرجع تشکیل کړي دي، ابتدایه محکمه مرافعه محکمه، د تمیز ریاست» (۱۴: ۱۸۳).

همدا شان د پخواني نظام د (۱۳۹۲) کال د قضایه قوې د تشکیل او واک قانون په پنځمه ماده کې د قضایه قوې جوړښت ته په دې ډول اشاره شوې ده. «قضایه قوه له سترې محکمې، د استیناف او ابتدایه محکمو څخه جوړه شوې ده(۱۱: ۵ ماده).

هر یوه محکمه یې بېلا بېل ډول صلاحیتونه لري، چې په ترتیب سره د هرې محکمې صلاحیت څخه په لاندې ډول یادونه کوو.

**تبصره:** د قضايه قوې د تشکيل په اړه د اسلامي امارت د ۱۴۳۵ هـ ق کال د عدلي حقوقي محکمو د اجراآتو اصولنامې او همدا شان د پخواني نظام د ۱۳۹۲ کال د قضايه قوې د تشيکل او واک قانون ترمنځ کوم توپير نشته، اصولنامې او قانون دواړه قضايه قوه په درې برخو ويشلي، چې ستره محکمه، استيناف محکمې او ابتدائيه محکمو څخه تشکيل شوې ده.

**لومړی مطلب: د سترې محکمې صلاحيتونه**

د اسلامي امارت د محکمو لايحې له مخې ستره محکمه يوه لوړه قضايي مرجع ده او د قضايه قوې په سر کې ځای لري له رييس، غړو، تحقيق شعبې او اداري مسول څخه تشکيل شوې ده، چې خپلې دندې او واکونه د اسلامي امارت د محکمو لايحې، عدلي محکمو اداري اصولنامې او د عدلي حقوقي محکمو د اجراآتو اصولنامې د حکمونو مطابق اعمالوي، تميز ديوان يو لړ واکونه او دندې لري، چې د پورته ذکر شوو اصولنامو لخوا تضمين شوي دي د يادې لايحې د ۵۴ مادې له مخې د تميز رييس لاندې دندې او واکونه لري.

۱- د علماء کرامو سره د چارو د بهبود په منظور ناسته ولاړه او د شفافيت تامين.

۲- د تميز د چارو څارنه او نظارت.

۳- د ابتدائيه او مرافعه محکمو د پريکړو نقض، ابرام، صحت او سقم.

۴- د پريکړو او فيصلو تدقيق.

۵- له يوې محکمې څخه بلې محکمې ته د دعوې د صلاحيت تفويض (۱۷: ۵۳ – ۵۷ مادې).

**دویم مطلب: د استیناف محکمې صلاحیتونه**

استیناف محکمه د ښکتنیو محکمو هغه پرېکړې او قرارونه د دویم ځل لپاره د ماهیت له اړخه څېړي، چې د طرفینو لخوا تر اعتراض لاندې راغلي وي که چېرته تر اعتراض لاندې پرېکړه او قرار له قانون سره سم صادر شوی وي د استیناف محکمه هغه تائیدوي او که چېرته د څېړنو په پایله کې د ښکتنیو محکمو په پرېکړو او قرارونو کې د قانون تطبیق او یا د قانون د احکامو په تاویل کې تېروتنه ثابته شي د استیناف محکمه نوموړی قرار او پرېکړه نقض یا باطلوي د استیناف محکمه نه شي کولی، چې په حقوقي موضوعاتو کې د ښکتنی محکمې قرار یا حکم تعدیل کړي او هغه عددي او املايي غلطي او نواقض، چې د موضوع په ماهیت کې تاثیر ونه لري تصحیح کېږي او اړونده قاضي مهر کوي (۱۱: ۵۶).

**استیناق محکمه د لاندې دیوانونو درلودونکي ده:**

د عامه حقوقو دیوان چې د عامه حقوقو څېړنه کوي، تجارتي دیوان چې د دې په صلاحیت کې ټولې تجارتي قضیې شاملې دي، عمومي جزا دیوان، چې دا دیوان ټولو هغو جنایتو ته رسیده ګي کوي، چې د قانون په اساس ورته راجع کېږي لکه، قتل، وهل او ټکول ، مدني او شخصیه احوالو دیوان، دا دیوان په مدني او کورنۍ قضیو ته رسیده ګي کوي، د عامه امنیت دیوان دا دیوان تر امنیت او عامه ګټو پورې اړوند جزایي قضیې څېړي (۱۱: ۵۳).

**درېیم مطلب: ابتدایه محکمې صلاحیتونه**

د هر ولایت استیناف محکمې په قضایي حوزه کې مختلف ډول ابتدایه محاکم شتون لري، لکه د ولسوالۍ ابتدایه محکمه، د ولایت مرکز ابتدایه محکمه، د اطفالو ابتدایه محکمه، تجارت ابتدایه محکمه او د احوال شخصیه ابتدایه محکمه، چې دا

هره ابتدایه محکمه بیا خپل، خپل دیوانونه لري او دیوان بیا اړونده موضوعاتو ته رسیده ګي کوي، چې له دغه ځایه د ابتدایه محکمو صلاحیت تشکیلوي لکه، اطفالو ابتدایه محکمه د اطفالو ټولو قضیو ته چې د ولایت په کچه باندې صورت نیسي د رسیده ګی صلاحیت لري (۱۱: ۶۲).

نو د ولایت د قضایي حوزې پورې اړنده ابتدایه محاکم د موضوعي او حوزوي واک په نظر کې نیولو سره ټولې هغه دعوې چې په وړاندې یې اقامه شوې وي په لومړي پړاو کې د درې تنو قاضیانو په واسطه څېړل کېږي. د ولایت مرکز د ابتدایه محکمې په سر کې یو رییس شتون لري چې د مربوطه دیوانونو د قضایي او اداري چارو لارښوونه او تنظیم مسولیت په غاړه لري او د ضرورت پر اساس د دیوانونو جلساتو کې هم ګډون کوي د ابتدایه محمکې د دیوانونو رییسان د اړونده دیوانونو د جلسو لارښونه کوي د ابتدایه محکمې عمومي رییس په عین حال کې د مرکز ابتدایه محکمې رییس مرستیال هم دی(۱۱، ۶۹).

**شپږم مبحث: د محکمو د صلاحیتونو مشابهتونه او توپیرونه**

په اسلامي شریعت او د افغانستان په قوانینو کې د محکمو صلاحیتونو ترمنځ هم مشابهتونه شتون لري او هم توپیرونه چې دلته ور باندې بحث کوو.

**لومړی مطلب: د اسلامي شریعت او اسلامي امارت د محکمو د لایحې له مخې د محکمو د واکونو پرتله**

په اسلامي شریعت کې د قاضي محدود صلاحیتونه نه دي ټاکل شوي او د قاضي د صلاحیتونو د تحدید دنده د خلیفه پورې تړلې ده، خلیفه یا ولي الامر د مسلمانانو د مصالحو په پام کې نیولو سره د مسلمان قاضي صلاحیتونه محدودوي (۴: ۸۱).

فقهاوو د قاضي د مسولیت معیار او د خلکو دعوو په لیدلو د عام تقلید او خاص تقلید اصطلاح کارولې ده، کله چې خلیفه په یو اقلیم کې د خلکو د عام قضاوت او د دوی دعوو له منځه وړلو لپاره قاضي وټاکي، چې په مدني او جزایي دعوو کې هر وخت قضاوت وکړي، وروسته د قضا تقلید د دې قاضي لپاره په دې ډول حالاتو کې عام تقلید دی، مګر په هغه صورت کې چې خلیفه یو قاضي د زمان او مکان له اړخه په معینو قیوداتو او یا د عوو د ډولونو په لحاظ او یا هم د خصوم د ډول پر اساس وټاکي، نو په دې صورت کې د قضا تقلید د دې ډول قاضي لپاره خاص تقلید دی، هغه تقلید، چې پر هغې باندې د قاضي تقلید خاص شوی دی، هغه دی چې فقهاو په عرف کې په (تخصیص المحکمه) باندې معروف دی او دا چې د قاضي پر دنده باندې قیدونه متنوع قیدونه دي نو د محکمې په تخصیص باندې خاص تقلید بل شی دی، چې ډېر ډولونه لري دلته یې په ترتیب سره تر بحث لاندې نیسو (۲: ۵۹).

**تبصره:** د اسلامي امارت د محکمو د صلاحیتونو په برخه کې د اسلامي شریعت پیروي کړې ده اما د چارو د تنظیم او بهبود په خاطر یې د محکمو لایحه، د عدلي محکمو د اجراآتو اصولنامه او د عدلي محکمو اداري اصولنامه تصویب کړې او د محکمو ټولې چارې د یادو لایحو او اصولنامې له مخې تنظیمېږي، همدا شان د محکمو د صلاحیتونو په برخه کې په اکثریت مواردو کې توافق لري، په ځینو جزي مواردو کې لکه د اصطلاحاتو په برخه او یا هم موضوع په ماهیت سره مشابه وي؛ مګر له شکلي اړخه سره جزوي تفاوت لري.

**دویم مطلب: د حدودو جرایمو ته د رسېدنې په برخه کې د محکمو صلاحیتونه**

حدود د شارع لخوا ټاکل شوي هغه ډول جرایم او مجازات دي، چې شریعت بیان کړي د تطبیق وړ دي او قاضي په کې د مداخلې صلاحیت نه لري، د افغانستان قوانینو هم د

حدودو جرایمو په برخه کې د اسلامي شریعت د حنفي فقهي احکامو پیروي کړې، د افغانستان د پخوانیو قوانینو له جملې د ۱۳۹۶ کال جزا کود په دویمه ماده کې یادې موضوع ته په دې ډول اشاره شوې ده، د حدود، قصاص او دیت جرمونه د اسلامي شریعت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم مجازات کیږي (۱۸: ۲).

نو پر دې اساس ویلی شو، چې د حدود جرایمو او مجازاتو ته د رسیده ګۍ په برخه کې د اسلامي شریعت او افغانستان په قوانینو کې د محکمو د صلاحیتونو ترمنځ اختلاف نشته په دې برخه کې قوانینو هم د اسلامي شریعت پیروي کړې ده.

**درېیم: تعزیري جرمونو ته د رسیده ګۍ په برخه کې د محکمو صلاحیتونه**

تعزیري جرمونو ته د رسېدنې په برخه کې د محکمو د صلاحیتونو په اړه د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو ترمنځ مشترک ټکی دا دی، چې دواړه تعزیري جرایمو او مجازاتو ته رسیده ګي د اولي الامر صلاحیت بولي، اما د تعزیري جرمونه او مجازات بیا په اسلامي شریعت کې د اولي الامر انحصاري صلاحیت دی او په دې برخه کې کوم ټاکلی طرزالعمل شتون نه لري، دې ډول جرایمو ته خلیفه کولای شي، قاضي ته مطلق صلاحیت تفویض کړي او یا هم نسبت سیمې، موضوعاتو او قضیو ته د قاضي صلاحیت مقید کړي، دا د شریعت تګلاره ده، چې د خلکو د مصلحتونو په نظر کې نیولو سره یې داسې روش ټاکلی دی، مګر د افغانستان په حقوقي نظام کې تعزیري جرمونو لپاره ځانګړی قانون (د جزا کود) په ۱۳۹۶ کال کې وضع شوی، چې د امکان تر حده ټول تعزیزي جرمونه او مجازات یې پیشبیني کړي دي او دغو ټولو جرایمو ته د رسیده ګۍ په برخه کې یې د محکمو او قاضیانو صلاحیتونه مشخص کړي، قاضي د ذکر شوي قانون د احکامو څخه د عدول صلاحیت نه لري، پر همدې اساس قاضي د یاد قانون د مندرجو موادو په تطبیق ملزم کړی دی (۱۸: ۲).

**پایله**

د دې څېړنې څخه لاندې پایلې ته رسېږو:

محکمه د هرې ټولنې لپاره یو مهم او ضروري امر دی او هره ټولنه پخوا اوس او په راتلونکي به هم ورته اشد ضرورت ولري، که هغه اسلامي ټولنه وي او که غیر اسلامي، په همدې اساس د اسلام مقدس دین په ډېر صراحت سره د محکمې په اهمیت او ارزښت باندې حکم کړی، الله تعالی فرمایي « وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ » (سورت مایده، ایت: ۴۹).

**ژباړه:** نو ای محمده (صلی الله علیه وسلم) ته د الله تعالی له نازل کړي قانون سره سم د دې خلکو د چارو فیصله وکړه.

د شریعت چوکاټ کې د قاضي صلاحیتونه نه دي ټاکل شوي او دا چاره یې د اسلامي ټولنې د ګټو په نظر کې نیولو سره د وخت ولي الامر یا خلیفه پورې تړلې ده. خلیفه یا ولي الامر د مسلمانانو د ګټو په نظر کې نیولو سره د مسلمان قاضي صلاحیتونه مشخص کوي، په لومړیو کې د قاضیانو واکونه ډېر کم و، خو د وخت په تېرېدو سره یې د صلاحیت لمن پراخه شوه. د پخواني نظام په قوانینو کې د محاکمو صلاحیتونه په درې ډوله وېشل شوي و، ځمکنی واک، موضوعي واک او تفویضي واک.

حدود هغه جرایم او مجازات دي، چې جرم او جزا یې دواړه شریعت ټاکلې وي په دې برخه کې محکمې صلاحیتونه نه لري، کوم شکل چې شریعت بیان کړي دي د تطبیق وړ دي او قاضي به په کې مداخله نه کوي او نه ورته د دې کار اجازه شته د افغانستان د پخواني نظام حقوقي اسنادو هم د حدودو جرایمو په برخه کې د اسلامي شریعت د حنفي فقهې احکامو څخه ملاتړ کړی دی. د پخواني نظام د حقوقي اسنادو له جملې د ۱۳۹۶ کال جزا کود په دویمه ماده کې یاده موضوع په دې ډول

بیان کړې ده، د حدود، قصاص او دیت جرمونه د اسلامي شریعیت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم مجازات کیږي، نو په دې اساس ویلی شو، چې د حدودو جرایمو او مجازاتو ته د رسیده ګۍ په برخه کې د اسلامي شریعت او افغانستان حقوقي اسنادو کې د محکمو د صلاحیتونو ترمنځ اختلاف نشته په دې برخه کې قوانینو هم د اسلامي شریعت پیروي کړې ده.

تعزیري جرمونه په شریعت کې نه دي مشخص شوي، د دې جرمونو او مجازاتو په اړه شریعت خلیفه ته اجازه ورکړې، چې د مسلمانانو د ګټو په نظر کې نیول سره تعزیر تعریف او مجازات ورته وټاکي، یادو جرایمو ته د رسیده ګۍ په برخه کې د محکمو د صلاحیتونو په اړه د اسلامي شریعت او افغانستان حقوقي اسنادو ترمنځ اشتراک ټکی دا دی، چې دواړو تعزیري جرایمو او مجازاتو ته رسیده ګي د اولي‌الامر صلاحیت بولي اما د تعزیري جرمونه او مجازات بیا په اسلامي شریعت کې د اولي‌الامر انحصاري صلاحیت دی او په دې برخه کې کوم ټاکلی طرزالعمل شتون نه لري او قاضیانو ته توصیه شوې. چې د خصومتونو د حل و فصل له حنفي فقهې مسایل استنباط کړي په دې ډول جرایمو کې خلیفه کولای شي قاضي ته مطلق صلاحیت تفویض کړي او یا هم نسبت محل، موضوعاتو او تعدد قضیو ته د قاضي صلاحیت تحدید کړي، دا د شریعت تګلاره ده، چې د خلکو د مصلحتونو په نظر کې نیولو سره یې داسې روش ټاکلی دی، مګر د افغانستان حقوقي اسنادو کې تعزیري جرمونو لپاره ځانګړی قانون (د جزا کود) په ۱۳۹۶ کال کې وضع شوی، چې د امکان تر حده ټول تعزیزي جرمونه او مجازات یې پیش بیني کړي دي او دغه ټولو جرایمو ته د رسیده ګۍ په برخه کې یې محکمو او قاضیانو ته حدود ټاکلي دي،

قاضي د ذکر شوي قانون د احکامو څخه د عدول صلاحیت نه لري پر همدې اساس قاضي د یاد قانون د مندرجو موادو په تطبیق ملزم کړی دی.

د اسلامي امارت د محاکمو د واکونو په برخه کې د اسلامي شریعت حنفي فقهې احکام مقدم ګڼلي او د قضایي چارو لپاره یې اساس همدا حنفي فقه ټاکلې ده او له احکامو څخه یې متابعت کړی دی، مګر د قضایي چارو تنظیم او بهبود په موخه یې د محکمو لایحه، د عدلي محکمو د اجراآتو اصولنامه او د عدلي محکمو اداري اصولنامه تصویب کړي، چې احکام یې ټول له حنفي فقهې اخیستل شوي او د محکمو ټولې چارې د همدغې لایحې او اصولنامو له مخې تنظیمېږي، د دې ترڅنګ، د محکمو د صلاحیتونو په برخه کې په ډېرو مواردو کې شریعت او افغانستان حقوقي اسناد توافق لري په ځینو جزوي مواردو کې لکه د مصطلحاتو په برخه او یا هم موضوع په ماهیت کې سره مشابه وي، مګر له شکلي اړخه سره تفاوت لري.

**مناقشه**

د محکمو صلاحیتونه یوه پراخه او پېچلې موضوع ده، په دې علمي مقاله کې هڅه شوې، چې د محکمو صلاحیتونه د اسلامي شریعت او د افغانستان د قوانینو له نظره په پرتلیز ډول روښانه شي. د محاکمو صلاحیتونه په اسلامي شریعت کې مشخص شوي نه دي، بلکې د مسلمانانو مصلحتونو په نظر کې نیولو سره یاده چاره یې د وخت خلیفه ته محول کړې ده، په دې اساس د وخت خلیفه یا امیر د محکمو د صلاحیتونو د وسعت او تحدید دنده په غاړه لري، نظر محل، موضوع او پېښې ته په کتو امیر کولای شي، چې د محکمو صلاحیتونه پراخ یا محدود کړي، د دې ترڅنګ د افغانستان پخوانیو قوانینو، چې اوس ملغی شوي دي د محکمو صلاحیتونه په دریو برخو وېشلي وو، د محاکمو حوزوي، موضوعي او تفویضي صلاحیتونه روښانه کړیدي.

د اسلامي امارت د محاكمو لايحې له مخې د محـاكمو عـالي اداره رامنځتـه كېـږي، چې غړي يې د امير المؤمنين لخوا ټاكـل كېـږي، د دې ادارې رئـيس او غـړي د محاكمو چارو د تنظيم دنـده پـر غـاړه لـري، همـدا شـان د عـدلي محكمـو د اداري اصونامې او د عدلي حقوقي محكمو د اجراآتو اصولنامې له احكامو څخه داسې پـه نظر راځي، چې د محاكمو صلاحيتونو ټاكلو اساس حنفي فقـه ده، يعنـې قاضـيان او محـاكم بـه خپلـې ټـولې چـارې د حنفـې فقهـې د احكـامو مطـابق مختـه وړي او د صلاحيتونو تفويض نسبت د قضيو تعدد، د پېښې محل او موضـوع تـه يـې د تميـز د ديوان صـلاحيت بللـى دى امـا پـه ټولـه كـې د محكمـو د صـلاحيتونو پـه شـمول د محاكمو ټولې چارې امير المؤمنين ته محول شوي دي.

په پخوانيو ليكنو كې د محكمو صلاحيتونو باندې بحث شوى دى، اما په تفصـيل او پرتليز ډول باندې ياده موضوع باندې كومه مقاله نده ليكل شوې، په دې علمي مقاله كې د ذكر شوې موضوع ټول اړخونه په تفصيل سره بيان شوي دي.

**پايله اخيستنه**

اسلامي امارت د محكمو چارو د تنظيم لپـاره يـوه لايحـه (د محـاكمو لايحـه) او دوه اصولنامې (د عدلي محكمو اداري اصولنامه او د عدلي حقـوقي محكمـو د اجراآتـو اصـولنامه) نافـذ كـړي دي، د ذكـر شـوو حقـوقي اسـنادو لـه مخـې د محكمـو د صلاحيتونو په برخه كې اسلامي امارت د حنفي فقهې د احكامو څخه پيـروي كـړې ده، همدا شان د پخواني نظام د ۱۳۶۹ كال د مدني محكمو اصولو قـانون او د ۱۳۹۲ كال د قضايه قوې د تشكيل او واک قانون د صلاحيتونو په برخه كې په ډېرى مواردو كې د شريعت او امارت له اصـولو سره مطابقـت لـري، پـه ځينـو مـواردو كـې لكـه د اصطلاحاتو په برخه او يا هم موضوع پـه ماهيـت كـې سره مشـابه وي، مگـر شـكلي

اړخه سره تفاوت لري، نو په پايله کې ويلای شو، چې د اسلامي شريعت او افغانستان د قوانينو له نظره څرګند او د ملاحظې وړ توپير نشته، بلکې په مطلق اکثريت سره امارتي حقوقي اسنادو د اسلامي شريعت څخه پيروي کړې ده.

**ماخذونه**


القران الكريم

١- نيازی، محمد مصطفی. (١٣٩٤ ه ش). د اسلام قضايي نظام، کابل: قرطبه خپرندويه ټولنه.

٢- زيدان، عبدالکريم. (١٣٩٥ ه ش). د قضاء نظام په اسلامي شريعت کې، ژباړن: ذاکرالله ذاکر، کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

٣- درانی، احمد ګل واثق. (١٣٩٩ه ش). نړيوال خصوصي حقوق، کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

٤- مقصودي، رضا. (١٣٩٣ ه ش) . مجله حقوقي بين المللي، نشريه تهران.

٥- علی رضا (١٣٩٩ ه ش). حقوق خصوصي بين المللي.

٦- علم ، محمد ظريف. (١٣٩٣ ه ش) اصول اجراات و محاکمات جزايي، کابل: ناشر انتشارات حامد رسالت.

٧- عبدالله، نظام الدين. (١٣٩٤ ه ش). حقوق بين المللي خصوصي، کابل: انتشارات سعيد.

٨- صافی، شمس الاسلام. (١٣٩٦ ه ش). د مدني محاکماتو اصول. مسلم خپرندويه ټولنه.

۹- د افغانستان د مدني محاكماتو د اصولو قانون. (۱۳٦۹ ه ش). زمري د مياشتې (۳۱) پرلپسې ګڼه (۷۲۲).

۱۰- د افغاننستان اساسي قانون. (۱۳۸۲ ه ش). رسمي جريده .

۱۱- د قضايه قوې د واک او تشكيل قانون. (۱۳۹۲هـ ش). رسمي جريده.

۱۲- علوي، مرتضی. (۱۴۰۰ه ش). تعارض محاكم و تعارض قوانين، ايران: انتشارات مشهد.

۱۳- دافغانستان مدني قانون. (۱۳۵۵ ه ش) . رسمي جريده.

۱۴- د اسلامي امارت د عدلي حقوقي محكمو د اجراآتو اصول نامه. (۱۴۳۵ هـ ق). عدليې وزارت.

۱۵- د اسلامي امارت د محكمو لايحه. (۱۴۳۵ هـ ش). عدليې وزارت.

۱٦- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت جزا كود. (۱۳۹٦هـ ش). رسمي جريده، عدليې وزارت.

# ABSTRACTS

**Rashidullah Shinwari & Habibullah Lawraand**
Political Sciences & International Relation Department, Faculty of Law and Political Sciences, Altaqwa Institute of Higher Education

# Legal conditions and challenges of membership in international and regional organizations

## Abstract

International organizations are a group of states that are established on the basis of a constitution (statute) and whose member states carry out their common goals and activities continuously within the framework of specific administrative structures. Regional organizations are also considered to be international organizations, but with such a difference that in international organizations, all countries of the world can become members of the organization by fulfilling the conditions, but in regional organizations, countries of a specific region or continent can become members of the relevant organization. Certain legal conditions have been imposed for membership in international and regional organizations, and in addition, there are some legal challenges to membership in such organizations.

The importance of this study is to understand the legal conditions and challenges of membership in international and regional organizations.

The purpose of this study is that countries that are interested in becoming members of international and regional organizations should fulfill the legal requirements for membership and take necessary measures to eliminate the legal challenges they will face in the future.

This study used a bibliographical and analytical method.

At the end of this study, we finally come to the conclusion that a number of legal requirements have been imposed for membership in international and regional organizations and countries that want to become members of such organizations must fulfill the necessary requirements of the organization, but in addition, there are a number of legal challenges to membership in such organizations.

**Key Words**: International organizations, regional organizations, legal requirements, legal challenges.

**Teaching Assistant Khushal Jawad**

Department of Law, Faculty of Law and Political Sciences, Al-Taqwa Institute of Higher Education

# The Necessity, Reasons, and Conditions for Drafting a Constitution from an Islamic Perspective

## Abstract

The gradual change of societies, the emergence of new states, the independence of states, and the impact of revolutions, coups, and internal wars, which lead to the fall of existing regimes and the formation of new ones, create a need for drafting a constitution under such circumstances.

The drafting of a constitution is essential to define the limits of political power of the state, protect the basic rights and freedoms of the citizens, prevent political chaos and the misuse of state power, and regulate and implement international relations.

For the purpose of this research, a Liberian approach has been used, with the aim of clarifying the reasons, necessity, and conditions for drafting a constitution from an Islamic perspective.

In the Holy Quran, only fixed, general, and broad principles are mentioned to govern state affairs. These are the foundations and rules that are applicable in every time and place. However, the detailed and specific rules, which require change with the change of time and place, are not elaborated upon in the Holy Quran. The Holy Quran has opted for silence on these details so that people of every time can organize them based on their own conditions, circumstances, and interests. For instance, the Holy Quran does not specify the form of government or the method of selecting the head of state or the ruling authority, but it emphasizes the fundamental and general principles that every Islamic system should consider and adapt to the people of any time. Therefore, within the framework of Islamic law, the drafting of a constitution, considering the concrete circumstances of the time, is seen as a necessary and urgent requirement for organizing and advancing the affairs of the Islamic system.

**Keywords**: Constitution, Drafting, Society, Conditions, Sharia

**Senior Teaching Assistant Noor Anwar Farooqi**
Department of Legal Sciences, Faculty of Law and Political science, Paktia University

# The Time-Lapse in Commercial Lawsuits in Light of Islamic Jurisprudence and Prevailing Legal Systems

## Abstract

A lawsuit is an argument, a speech, or a demand that is made before a ruler or a judge, whose purpose is to assert and defend one's own or another person's rights against another person. A commercial claim is any claim related to commercial matters. The commercial statute of limitations is defined as follows: It is the non-hearing of a claim after the passage of a specific and known period in a matter that has not been demanded. This subject is defined in most of the legal norms whose general meaning is almost the same.

The importance of this writing lies in the fact that, from the point of view of Islamic jurisprudence, claims are not heard over time. There is a consensus on this ruling, but there are different opinions about its duration. 33 years, 36 years or 30 years have been set. According to Islamic jurisprudence and Afghanistan's civil law and trade regulations, rights are not subject to expiration. That is, the rights (rights of God and right of worshipers) are not lost over time, but the lawsuit is not heard. There is no specific writing on this subject in the Pashto language, but its material is placed in various articles and laws, which are used as the main sources in this writing. The writing method is descriptive and descriptive. Afghanistan's Trade Code has established three types of time limits for commercial claims. (1) Three years. (2) One year. (3) Six months after the expiry of which the suit is not arguable. Egypt is similar to Afghanistan in terms of duration. In countries following the Roman-German legal system, such as France, the final period is (5) years, in Italy, the final period is (10) years, and in Turkey, the final period is (5) years. In common countries such as England and Australia, the final period is twelve years and in India, the final period is three years. After the expiry of the above period, the commercial case cannot be heard in the commercial courts.

As a result, it was proved that Islamic jurisprudence and legal systems have a single position regarding the relevant period. In Islamic jurisprudence, the right does not disappear over time, but in the legal systems, the right and the right fall over time.

**Habibur Rahman Sarbiland[1] and Irfanullah Stanakzai[2]**
[1] Department of Political Sciences & International Relations, Faculty of Law and Political Sciences, Rokhan Institute of Higher Education
[2] Department of General Economics Department, Faculty of Economics, Rokhan Institute of Higher Education

# The Legal Status of Commercial Electronic Contracts from the Perspective of National and International Law

## Abstract

An electronic contract is an agreement concluded through modern electronic means or conducted remotely between two parties without physical presence.

The significance of this research lies in the fact that electronic contracts provide considerable convenience to the contracting parties. As a result, both parties can finalize commercial agreements with minimal costs and in a short time. The primary objective of electronic contracts in the modern era is to facilitate contract execution within the shortest possible time.

The purpose of this study is to clarify the legal status of electronic contracts from the perspective of national and international law and to highlight the need for reforms in Afghanistan's commercial laws. This will pave the way for economic development by leveraging modern technology.

A library-based research methodology has been used for this study, gathering relevant materials and data from credible sources and references.

The research findings indicate that international legal frameworks have recognized the importance of electronic contracts and have established specific regulations for them. However, in Afghanistan, sufficient attention has not been given to this matter. By establishing an appropriate legal framework and implementing effective policies, we can enhance our economic situation through electronic contracts.

**Keywords**: Electronic, International Law, Commercial, Contract, National Law

**Muhammad Ibrahim Sekandary**

Legal Sciences Department, Faculty of Law and Political Science, Rokhan Institute of Higher Education

# Study of the principles governing legal systems

## Abstract

The legal system consists of collections that have similar stable elements, or it refers to those legal systems that share a similar structure. For example, the common law legal system is made up of the legal systems of England, the United States, Canada, Australia, Ireland, and India. Similarly, the Roman-German legal system is formed from the legal systems of France, Germany, Italy, Belgium, the Netherlands, Spain, and others. Certain principles govern these legal systems to clarify the number of legal systems and the reasons for their categorization.

The importance of studying this topic lies in the fact that it highlights the governing principles of legal systems and the reasons for the limited number of legal systems that exist in the world. This research aims to identify the governing principles of the world's legal systems and to clarify the benefits of these principles.

In this research, a bibliographic and analytical method was used, as relevant materials were available in books, journals, and reputable websites. I gathered materials from these sources and incorporated them into my analysis.

At the conclusion of this research, I reached the conclusion that there are several governing principles over the world's legal systems, which indicate that a limited number of legal systems exist globally. These principles include: historical background, legal logic, prevailing ideology, sources of law, and their status.

**Keywords**: historical background, governing principles, prevailing ideology, legal system, legal logic.

**Saifurrahman Tarahe**

Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Bayazid Rokhan Institute of Higher Education

# Analysis of Commercial Arbitration from the Perspective of Islamic Sharia and Legal Documents

## Abstract

Commercial arbitration is an approach to resolving commercial disputes outside formal courts, conducted by arbitrators or arbitration boards. Commercial arbitration is categorized based on geographical scope, the number of arbitrators, individual and organizational activities, and the nature of authority and compulsion. It can generally be divided into national and international, ad hoc and institutional, and voluntary and mandatory arbitration. Each type has its own unique effectiveness, making this research significant. The purpose of studying commercial arbitration is to introduce and promote this method, which not only saves time for traders but also provides them the option to choose the procedure and arbitrators. The decisions made by arbitrators are considered official and enforceable, just like court judgments, making this approach credible for disputing parties.

**Noorani Wafa**
Political Sciences & International Relations Department, Faculty of Law and Political Science, Rokhan Institute of Higher Education

# Different Models of Decision Making in Foreign Policy

## Abstract

Decision Making in Foreign Policy is a crucial and complex process undertaken by states to address issues, interests, and challenges related to foreign affairs. This process is carried out through policymaking and coordination among governmental institutions.

Foreign policy itself is an essential tool for safeguarding a country's national interests, which a state implements in other countries through diplomacy. Decision-making in foreign policy is considered one of the key topics within this realm. Therefore, studying this subject holds significant importance. Moreover, clarifying the decision-making models in foreign policy further emphasizes the relevance of this topic.

The objectives of this study include providing information about the various decision-making models in foreign policy and identifying the most suitable model among them. The methodology of this study is bibliographic in nature.

This approach was chosen because materials related to the subject could be found in various books, which were accessible to me.

As a result of this study, it was concluded that in the contemporary era, among all the models, the rational model is the most effective and appropriate. If this model were to be applied in Afghanistan, it would prove to be beneficial and in the best interest of society.

**Keywords**: Allison Model, Decision making, Foreign policy, Johnson and Mann Model

**Haibatullah Abid**
Rokhan Institute of Higher, Education Faculty of LLB, Department of Law

# Illa from the Perspective of Islamic Jurisprudence and the Afghan Civil Code

## Abstract

In linguistic terms, "Ilaa" refers to an absolute vow, where a husband abstains from sexual relations with his wife for a period of four months or more. During the pre-Islamic era, Ilaa was a form of divorce that neither granted the wife her marital rights nor allowed her to remarry, leaving her in a state of limbo. Allah, in His mercy and kindness towards his servants, established a four-month period to prevent the violation of women's rights.

In our society, Ilaa occurs as a result of certain disputes between spouses, often leaving women as victims in a suspended state—neither being divorced nor able to remarry. Many are unaware of the implications of Ilaa and what rulings may apply if it occurs, as well as the effects on their relationships. The primary reason for this confusion stems from people's lack of awareness and understanding of the rulings regarding Ilaa.

This research aims to clarify the rulings on Ilaa in both Islamic jurisprudence and Afghan civil law in a comparative manner. The objectives of this research include identifying Ilaa, explaining its rulings in Islamic jurisprudence, clarifying the laws surrounding Ilaa in Afghan civil law, and comparing the rulings in Islamic jurisprudence with those in Afghan civil law, highlighting points of similarity and difference.

To explore this topic, I adopted a bibliographic approach, as relevant materials were found in various books. I utilized several credible sources, including journals, newspapers, the internet, Al-Maktabah Al-Shamilah, and others, ultimately compiling a bibliography. Through this research, I concluded that while Ilaa existed during the pre-Islamic era, it lacked a defined time frame. With the advent of Islam, Allah specified a four-month period. If someone engages in Ilaa and fulfills it, according to Hanafi scholars, the wife is granted a final divorce (Talaq Bain). If he does not fulfill it and returns to her, he must perform an expiation (Kaffara), which can involve freeing a slave, feeding or clothing ten needy people, or fasting for three consecutive days. Additionally, the civil law does not address the rulings related to Ilaa, highlighting a gap in that legislation.

**Keywords**: ILaa, Islamic Jurisprudence, Afghanistan Civil Law, Hanafi Jurisprudence and the Majority of Jurists.

**Abdulbasit Elham**

Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Bayazid Rokhan Institute of Higher Education

# Competition for Energy in the World and Increasing Tensions in the Middle East

## Abstract

The tensions and unrest that have occurred in the Middle East, especially since 2012, have been driven by many factors, with the most important being competition over oil in this resource-rich region. The United States has sought to maintain its control over the region as a global superpower and, by supporting oil-rich countries, prevent the influence of other world powers such as Russia and China. The U.S. justifies its military presence in the region for various reasons, including supporting its allies and ensuring the security of oil shipments.

By intervening in Syria and supporting opponents of Bashar al-Assad, the U.S. aimed to eliminate this Iranian ally and gain control over the country's oil exports. However, this objective was thwarted by military intervention from Russia and Iran. The U.S. also sought to suppress the Arab Spring by supporting traditional allies, cracking down on opposition in Bahrain, and backing the Saudi-led coalition against the Houthis in Yemen.

Iran, in response, supported the Houthis and targeted Saudi Arabia's oil facilities, creating challenges for one of the world's major oil suppliers. Additionally, by attacking oil tankers carrying Western nations' oil, Iran sought to assert its role as a key regional power and prevent the U.S. from acting freely against its interests in the region. Countries like Russia and China have also used every opportunity to counter U.S. interests, seeking to expand their influence through Iran and by strengthening ties with countries like the UAE and Qatar.

Therefore, it can be concluded that the primary cause of increasing tensions in the region is global competition over energy.

**Keywords**: Competition, Energy, Increasing Tensions, Middle East, Global Powers, Global Security

**Muhammad Ibrahim Sekandary**

Department of Legal Sciences, Faculty of Law and Political Sciences, Rokhan Institute of Higher Education

# Research on the Abolition of Punishment Based on Amnesty

## Abstract

The dictionary defines forgiveness as the act of pardoning and forgiving. In a broader sense, it is the cancellation of a crime or punishment by an authorized entity. The importance of studying this topic lies in its ability to encourage individuals to engage in good deeds, helping them stay away from the prison environment and protect themselves from its negative influences. The objectives of this research are to clarify the relevant rulings on forgiveness and to elucidate its role in eliminating punishments. In this writing, I have utilized a descriptive method and gathered information related to the topic from reputable scientific books and sources, which I have appropriately cited in my work. At the conclusion of this research, I have reached the finding that forgiveness is accepted in Islamic law, which categorizes crimes into several types for the purpose of improvement: one type is crimes that are eligible for forgiveness, another type includes crimes for which forgiveness is granted before going to court, and the last type encompasses crimes where forgiveness is not granted. Forgiveness plays a role in the mitigation of punishments, which may result in the complete elimination, reduction, or transformation of one punishment into another. When comparing the opinions of both opponents and supporters of forgiveness, it becomes evident that the application of forgiveness is not contrary to justice.

**Keywords**: Forgiveness, Punishments, Private, Public, Justice

**Waliullah Hanifee**
Department of Legal Sciences, Faculty of Law and Political Sciences, Al-Taqwa Institute of Higher Education

# Jurisprudence of the courts in terms of Islamic Law and the Laws of Afghanistan

**Abstract**

Courts have special powers and authorities to resolve disputes. These powers are either within the limits of Sharia law or delegated by law. This study discusses the powers of courts from the perspective of Islamic Sharia law and the laws of Afghanistan in a comparative manner.

Determining the competent court for a case is very important in order to understand which court has jurisdiction to hear a case. Therefore, determining the competent or competent court for a case in terms of jurisdiction and subject matter is very important in itself.

The purpose of this study is to determine the jurisdiction of each court and the competent court, so that cases can be heard in a timely manner, proceedings are carried out in accordance with the law, and justice is ensured in the best possible manner.

This is a library study, in which I have collected information from reliable and trustworthy sources, I have used contemporary scientific discussions, principles, and approaches, and I have used a coding system to write the source.

In Islamic law, the limited powers of a judge are not specified, and the task of defining the powers of a judge is up to the Caliph. The Caliph determines the powers of a Muslim judge by taking into account the interests of Muslims. Similarly, the previous laws of Afghanistan gave special powers to the courts under the title of territorial, subject and delegated powers, which, in the light of these powers and authorities, can resolve and resolve claims and disputes. In addition, the draft of the courts of the Islamic Emirate has followed and followed Islamic law in terms of the powers of the courts.

**وسيق‌الله همدرد**

عمومي اقتصاد څانگه، اقتصاد پوهنځی، التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسه

## د افغانستان د صنعتي زونونو د ودې او معياري کېدلو لارې چارې

**لنډيز**

دا څېړنه د افغانستان د صنعتي زونونو د پراختيا پر وړاندې خنډونه ارزوي، چې په کې د زيربنايي اسانتياوو کمښت، اداري ستونزې او د پانگونې کمښت شامل دي. څېړنه د سروې گانې، د گټه اخيستوونکو د مرکې او موجودو راپورونو پر بنسټ داسې دوامداره اقتصادي ستراتېژۍ وړانديزوي، چې د صنعتي زونونو فعاليت او د پانگوالو جذب ته وده ورکوي، ترڅو دا زونونه د اقتصادي ودې او ثبات لپاره اغېزناک شي. په ياده څېړنه کې کيفي او کمّي دواړو ميتودونو څخه کار اخستل شوی، څو د صنعتي زونونو د پراختيا خنډونه وپېژني او د حل لپاره گټورې ستراتېژۍ وړاندې کړي. موندنې ښيي، چې د افغانستان صنعتي زونونه د اقتصادي ودې لپاره ستر بالقوه ظرفيت لري، خو ورسره د زيربنايي اسانتياوو کمښت، بې ثباته برېښنا، امنيتي ننگونې او ادارې ضعف جدي خنډونه دي. دا ستونزې نه يوازې پانگونه ټکنۍ کوي، بلکې د صنعتي زونونو توليدي او عملياتي ظرفيت ته هم زيان رسوي. څېړنه ښيي، چې موخه لروونکې پانگونه، د دولت او خصوصي سکتور ترمنځ اغېزناک مشارکت او هدفمنده اصلاحات کولی شي د افغانستان صنعتي زونونه له اوسنيو ستونزو وباسي. رڼه او باثباته اقتصادي پاليسي، نړيوالو سوداگريزو شريکانو سره همکاري او د عصري ټيکنالوژۍ تطبيق کولای شي د دې زونونو اقتصادي ظرفيت فعال کړي، څو د هېواد صنعتي سکتور پراخ شي، د يادو خنډونو د له منځه وړلو لپاره څېړنه ستراتېژيکې پانگونې، پياوړې دولتي او خصوصي مشارکتونه او د هدفمند اداري او اقتصادي اصلاحاتو پلي کېدل وړانديزوي. باثباته اقتصادي پالېسي، نړيوالې سوداگريزې همکارۍ او د پرمختللې ټيکنالوژۍ ادغام د افغانستان د صنعتي زونونو د بشپړ ظرفيت د فعالولو او د دوامداره اقتصادي ودې د تضمين لپاره حياتي ارزښت لري، د دې وړانديزونو پلي کېدل کولی شي د افغانستان په صنعتي سکتور کې موثريت، رقابتي ظرفيت، دوامداره او اوږدمهاله اقتصادي ثبات رامنځته کړي.

**کليدي کلمې:** صنعتي زونونه، افغانستان، اقتصادي خنډونه، دوامداره اقتصادي ستراتېژي

دغه مخ لاسي خالي پرېښودل شوی دی

Salehy, S. M., Aimaq, M. B., & Sakaye, A. Q. (2021). The codification and ranking of development strategies of iron and steel industries in Afghanistan, with regards to inputs requirements and use of the SWOT technique, combining Shannon entropy and PROMETHEE methods. *EPRA International Journal*.

Singh, K., & Kumar, A. M. (2008). A strategy for improving the technology transfer system in Afghanistan through ATMA model using participatory rural appraisal (PRA) approach. *SSRN*.

UNCTAD. (2020). *World investment report 2020: International production beyond the pandemic*. United Nations Conference on Trade and Development. Retrieved from https://unctad.org

UNIDO. (2015). *Industrial parks as a tool for sustainable development: Best practices and challenges*. Vienna: United Nations Industrial Development Organization.

World Bank. (2021). *Afghanistan development update: Navigating the crisis*. Washington, DC: World Bank. Retrieved from https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan

`Zeng, D. Z. (2016). *Global experiences with special economic zones: Focus on China and Africa*. Washington, DC: World Bank.

## References

Ahmadzai, S., & McKinna, A. (2018). Afghanistan electrical energy and trans-boundary water systems analyses: Challenges and opportunities. *Energy Reports*.

Asian Development Bank (ADB). (2020). *Energy outlook for Afghanistan*. Retrieved from https://www.adb.org

Farole, T., & Akinci, G. (2011). *Special economic zones: Progress, emerging challenges, and future directions*. Washington, DC: World Bank.

Gebre-Egziabher, T. (2021). Industrial park development in Ethiopia: Lessons for developing countries. *African Development Review, 33*(2), 145–160.

Gidado, K., & Karimi, S. (2012). Factors influencing construction productivity in Afghanistan. *Journal of Infrastructure Systems*.

Kumar, S., & Singh, R. (2021). Infrastructure development and industrial growth in India: Lessons for developing nations. *Journal of Economic Development*, *46*(3), 75–89.

Lambert, J., Karvetski, C. W., Spencer, D. K., Sotirin, B., Liberi, D., Zaghloul, H., Koogler, J. B., Hunter, S. L., Goran, W., Ditmer, R. D., & Linkov, I. (2012). Prioritizing infrastructure investments in Afghanistan with multiagency stakeholders and deep uncertainty of emergent conditions. *Journal of Infrastructure Systems, 18*(3), 155–166.

Mahmoodi, S. M. (2008). Integrated water resources management for rural development and environmental protection in Afghanistan. *Journal of Developments in Sustainable Agriculture, 3*(1), 9–19.

Ministry of Commerce and Industry (MoCI). (2017). *Afghanistan's industrial parks report*. Kabul: Ministry of Commerce and Industry.

Mukamana, D., & Bryceson, D. F. (2019). Women's empowerment through industrial zone employment in Rwanda. *Development in Practice, 29*(6), 789–800.

Oral, H. V., Kakar, A. E., & Saygin, H. (2021). Feasible industrial sustainable development strategies for the Herat Province of Afghanistan. *Technology in Society*, *65*, 101603.

Rotberg, R. (2007). *Building a new Afghanistan*. Central Asia and the Caucasus.

**Environmental Standards**

Priority: Low

Rationale: Establishing and enforcing environmental regulations is important for ensuring sustainable industrial practices that minimize ecological impact. While this is crucial for long-term sustainability, it may require more time and resources to implement effectively.

**Promotion of Local Industries**

Priority: Low

Rationale: Supporting local industries through incentives and subsidies, particularly in sectors where Afghanistan has a competitive advantage, can stimulate economic growth. However, this requires careful planning and resources to ensure that support is effective and sustainable.

**Regional Cooperation**

Priority: Low

Rationale: Engaging in regional economic partnerships can enhance trade relations and access to larger markets, providing Afghan industries with more opportunities for growth. While beneficial, establishing such partnerships may take time and diplomatic effort.

implementation efficiency, leading to more successful outcomes in infrastructure and service delivery.

**Skill Development Programs**

Priority: Medium

Rationale: Implementing training and education initiatives to equip the workforce with necessary technical and managerial skills is vital for enhancing productivity and competitiveness. A skilled workforce is essential for attracting industries and ensuring sustainable growth.

**Access to Finance**

Priority: Medium

Rationale: Improving access to financing for small and medium enterprises (SMEs) through microfinance institutions and credit facilities enables them to invest in equipment and technology. Financial support is crucial for fostering entrepreneurship and innovation within industrial zones.

**Market Access and Trade Facilitation**

Priority: Medium

Rationale: Enhancing trade logistics and reducing barriers to export and import processes will ensure that Afghan products can reach international markets effectively. Improved market access is essential for increasing the competitiveness of Afghan industries on a global scale.

**Investment in Technology**

Priority: Medium

